Ansari Memorial Series
Surah Al-Kahf Quartet

# اوسمهاله نړۍ او جوج مأجوج
# د اسلام په رڼا کي

# An Islamic View of Gog and Magog in the Modern World

IMRAN N. HOSEIN

خپرونکی:www.imranhosein.org

ژباړن: ابو اسمعیل
د ځلمو پاڅون ټولنه

© عمران حسین ۲۰۰۹

# سورة الکهف د کتابونو څلوریزه

اول ټوک : سورة الکهف: ژباړه او اړوند تفسير

دوهم ټوک: سورة الکهف او اوسنۍزمانه

دريم ټوک: اوسمهاله نړۍ او جوج مأجوج –د اسلام په رڼا کې

څلورم ټوک: کوټه مسيح دجال

کهل گئے یاجوج او ماجوج کے لشکر تمام
چشم مسلم دیکھ لے تفسیر حرف ینسلون

(بانگ دره – ظریفانه:۲۳ )

”راپرېښودل شوې ټولې ډلې د یاجوجو او مأجوجو... د مسلمان بصیرت باید د ینسلون په تفسیر غور وکړي (یعنې د قرآن کریم د سورة الانبیآء ۹۵م او ۹۶م آیتچې د ینسلون په کلمه پاې مومي)“

داکتر محمد اقبال ته یې ډالۍ کوم چا چې په ۱۹۱۷ء کال کې د اروپايي صلیبیانو له خوا د یروشلم (بیت المقدس) د نیولو پر ضد په اردو شاعرۍ که د پورتني له بصیرت څخه ډک شعر په لیکلو سره خپل غبرګون وښود.

﴿ وَ حَرَامٌ عَلَى قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونْ ۞ حَتَّى اِذَا فُتِحَتْ يَأْجَوجُ وَ مأْجُوجُ وَ هُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ ﴾

او بنديز دی په يو ښارګوټي (يروشلم) باندې، کوم چې مونږ ويجاړ کړيو (او خلک يې د هغه ځايه ويستل شوي وو) چېدوی (يعنې خلک يې) بيرته نشي راستنيدلی (چې دا ښارګوټی بيرته خپل کړي) . تر هغې پورې چې جوج مأجوج راخوشېکړی شي او دوی له هرې لورې راخپاره شي. (او په دی ډول د ټولی نړۍ واک تر لاسه کړي او د جوج مأجوجو نړيوال نظام ټينګ کړي)

(قرآن کريم، سورة الانبياء، ۲۱:۹۵-۹۶) (د ليکونکی تشريح په ليندۍ کې ليکل شوي)

# فهرست

انصاریپادګاري د کتابونو لړۍ

سریزه

پیلیزهدکتور تمامادي

لومړی فصل:           په اوسنۍ زمانهکې د قیامت د ورځېد نښنو اهمیت

ښکاریدنه او واقعیت د یو بل ضد دی

آیا دا ټولې پیښې تصادفي دي؟

اسلامي فرقه پالنې ته غبرګون

شیعه فرقه

احمدیفرقه

وهابي فرقه

تبلیغي جماعت (جماعة التبلیغ)

اسلامي عصریت

اشراف پرست فرقه پاله صوفیزم

دوهم فصل:           څیړندود

قرآن پر حدیثو قضاوت کوي او نه د دې برعکس

د مانایز غونډال (سیستم) پیدا کولو ته اړتیا ده

هغه څیړندود چې د باندینیو مالوماتو د شننې او تطبیق له لارې د قرآن تفسیر کوي

جوج مأجوج په نورو مقدسو کتابونو کې

دریم فصل:           د نمونپوهنې (اصطلاحاتو) تشریح

د مادي کایناتوپای

د تاریخ پای

د آخرې کړۍ د مضمون کنجې

وعد الآخرة (وروستۍ خبرداری)

څلورم فصل:           د جوج مأجوجوخاکه

قرآن کریم د جوج مأجوجو موضوع معرفي کوي

جوج مأجوج د انسانانو څخه دي

دوی دوه مخې خلک دي چې د چټک خوځون توان لري
دوی د فوق العاده پوځي ځواک خاوندان دي
دوی ځواک د تيري لپاره په کار اچوي
دوی د يو قوم لپاره بيرته خپل ښارګوټي ته ستنيدنه شونې کوي
دوی بشريت پخپل بيدينه غوجل کې تړي
د ستورو جنګ نښلولو توان لري
په خاصه توګه به عرب د خپل تيري نښنه وګرځوي
آيا جوج مأجوج به د عيسى÷ بيرته راتګ او دجال د وژلو نه وروسته راولاړ شي؟
د پريمانه اوبو ښناک
جوج مأجوج او د ګليلي (تبريه) سمندرګی
دوی به د بشريت اکثريت له ځانه سره دوزخ ته يوسي پس دوی اصلاً بيدينه او ګناهګار خلک دي
د ځ ترګولو سره تړاو لري

پينځم فصل: د جوج مأجوجو هويت

جوجفرنګي-امريکي-اسرائيلي ټلواله ده او مأجوج روسيه ده
ونسټين چرچل جوج مأجوج پيژني

شپږم فصل: آيا جوج مأجوج نړۍ ته راخوشې شوي دي؟

د ديوال لټون
اوسمهاله مرموزه نړۍ
يهودي—عيسوي ټلواله
حديث د جوج مأجوجو راخوشې کيدنه په ډاګه کوي
د ځمکې او د ګليلي سمندرګي اوبه
د حديث له مخې د جوج مأجوجو او بيت المقدس تر منځ تړاو
اقبال، انصاري او سيد نورسي

اووم فصل: د جوج مأجوجو د راخوشېکيدو اغيزې

نړۍ ته د جوج مأجوجو د راخوشې کيدو پراوونه

اتم فصل: پايليزه

# انصاري يادګاري لړۍ

انصاري يادګاري لړۍ د نامتو اسلامي عالم، فيلسوف او صوفي شيخ، مولانا دکتور محمد فضل الرحمن انصاري (۱۹۱۴-۱۹۷۴) په وياړ خپره شوي ده. د دي لړۍ خپريدنېپه ۱۹۹۷ کې د هغه د وفات د ۲۵مې کاليزې لمانځلو په وياړ پيل شوې ده.

مولانا انصاري اسلامي عالم، استاذ او يو روحاني لارښود واو ټول عمريېپه يوه ملحده نړۍ کې د اسلام سپيڅلیمقصد له پاره هلې ځلې کړي دي. د دغې سپيڅلي مقصد په هلو ځلو کېهغه د اسلام په اړه د ويناو لپاره ۱۹۵۰ نه تر ۱۹۷۰ کالونو کې څو ځله د نړۍ ګردچاپېره سفرونه ترسره کړي. هغه به کراچۍ کې خپل نوي کور څخه (چې د هند نه يې په ۱۹۴۷ءکې تازه جوړ شوي پاکستان ته هجرت کړيو) د غرب په لور روان شو او بيا به څو مياشتې وروسته کور ته د شرق له لورې راستون شو.

مولانا انصاري د هند د عليګړ اسلامي پوهنتون څخهد عقايدو اوفلسفې زده کړې تر سره کړې وې. د هغه اسلامي فلسفي او روحاني فکر د اسلامي پوهاند، دکتور محمد اقبال، څخه ريښه اخستې وه. دکتور محمد اقبال داسلامي پوهنې غوره اثر ”The Reconstruction of Religious Thought in Islam“ليکونکی دی.مولانا انصاريېه خپله غوره ليکنه ”The Qur’anic Foundations and Structure of Muslim Society“(چې دوه جلده دی) کې د اقبال غږ يعنې د مذهبي فکر بيارغونې، ته يو ځواب هملیکلی دی.

هغه خپله روحاني روزنه خپل استاذ مولانا محمد عبدلعليم صديقي نه ترلاسه کړه چې يو اسلامي پوهاند، صوفي شيخ او ګرځنده مبلغو. د ټولو نه غوره دا چې هغه خپله صوفيانه پوهنپوهه (epistemology) د دواړو اقبال او مولانا صديقي نه تر لاسه کړه او بيا يې خپلو زده کونکو ته ور په برخه کړه. د صوفيانه پوهنپوهې له مخې کله چې حق غوره شي (په دې مانا چې اسلام ومنل شي) او بيا د الله تعالی په وړاندې په خپل ژوند کې په صدق او مينېسره عملي شي، نو بياحق په زړه کېځايپيدا کړي (اسلام د ايمان په شکل کېزرغونيږي). په يو حديث القدسي که ذکر شوېچې الله تعالی فرمايلي”زما ځمکه او آسمانونه دومره کوچني دي چې ما نشي ځايولای، خو زما د يو ايمانداره بنده زړه ما ځايولای شي.“دا حديث ښکاره په زړه د حق د ننوتلو اغيزې په ډاګه کوي.

کله چې حق په زړه کې ځای پيدا کړي، نو بيا يوهالهي رڼا (نورالله) هم په زړه کې ځای ومومي او بيا دا نور د ايمانداره انسان د ليدنې او د زړه دننهد روحانيبصيرتقوت ته اجازه ورکړي تر څو د ظاهري بڼې نه هاخوا ورتير د چارو باطني حقيقت ته ورسيږي. په زړه کې د حق د پراښيدو دې پړاو کې مؤمن بياپه دوه سترګو ګوري – باندنۍ او دننۍ (دجال، کوڼه مسيح، يواځې په يوه سترګه ګوري – په باندنۍ ). هغه

مؤمن کومچې'جهاد في الله' (یعنې د الله لپاره مبارزه) پیلوینو بیا د هغه ' ایمان' د 'احسان' تر درجې رسیږي. دې ته 'تصوف' هم ویل کیږي خو بهتره د 'الاحسان' په نوم پیژندل کیږي.

یواځې د یو مؤمن د زړه باطني رڼا په واسطه پرله پسې رابرسیره کیدونکېالهي نښې (آیات الله) پیژندل کیدای شي، او په دې ډول اوسنی نړۍ سړی هم مطالعه کولای شي او هم په سمه توګهپرې پوهیدلای شي. هغه څوک چې د اوسمهاله نړۍ حقیقت تعقیبوې په دې پوهیږي چېدا اوسنی دور د"فتن" دور دی، یعنې آخر وخت یا د القیامة دور دی (کوم چې لومړی د تاریخ په پای او د اسلام د بري په شکل اوج ته رسیږي او ورپسې د نړۍ خپلې پای ته رسیدو او د یوې نوې نړۍ د جوړیدو په شکل).

مولانا انصاريپه کراچۍ کې د عالمیاسلامي زده کړو مرکز جوړولو د پارهد خپل ژوند اخري لس کلونه (۱۹۶۴ – ۱۹۷۴) وقف کړیوو. هغه د یو نوي نسل اسلامي عالمانو د روزنې لپاره هلې ځلې کولې تر څو داسې عالمان وروزي چې په روحاني او فکري ډول د قرآن او احادیثو څخه په استفاده اوسني له رمزه ډک دور باندې پوه اوسي او بیا یې هیبتناکه ستونځو ته مناسب غبرګون څرګند کړي.

د هغه هڅو ډیریعالمان برسیره کړل لکه دکتور وفي محمد او عمران ن. حسین (ترینیداد، لویدیځ هند څخه)، دکتور ابوالفضل محسن ابراهیم، مرحوم دکتور عباس قاسم، محمد علي خان او نور (دربن، سویلې افریقې څخه)، صدیق احمد ناصر، روف زمان او محمد صفي (ګویانا، سویلې امریکا څخه)، علي مصطفی (سورینام، سویلي امریکا څخه)، بشیر احمد کینو (ماریشس څخه) او داسې ډیر نور چېد پاکستان کراچۍ ښارکېد عالمیه د اسلامي زده کړو مرکز څخه فارغ شوي دي.

انصاري یادګاري لړۍ کې دالاندې کتابونه شامل دي چې ټول د مولانا یو شاګرد لیکلي دي:

- بیت المقدس په قرآن کې– د یروشلم برخلیک په اړه اسلامي الواک
- سورة الکهف –ژباړه او اړوند تفسیر
- سورة الکهف او اوسنی دور
- ابراهیمي دین او د اسرائیل دولت – د قرآن څخه الواک
- په اوسني دور کې د قیامت نښې
- په اسلام که د سود د مخنیوي اهمیت
- خوب لیدل په اسلام کې– زړه او حقیقت ته یوه کړکۍ
- خلافت، حجاز او سعودي-وهابي دولت
- د رمضان د روژو، اسرا او معراج ستراتیژکی اهمیت
- یو جماعت – یو امیر: د فتن په زمانهکې د مسلمانانو د ټولنې سازمان

- اوسمهاله نړۍ او جوج مأجوج – د اسلام په رڼا کې

د کتابونو دا لړۍ،چې د هغې ونې ځینې ثمر په ډاګه کوي کومه چې مولانا په خپل لاس نیال کړې وه، د اوسنۍ نړۍ حقیقت ته د رسیدو هڅو ته وقف ده تر څو نړۍ په بشپړه توګهتشریح کړي او بې سارېستونځو ته یې غبرګون وښايي.

دري نوي کتابونه په دې وروستیو کې د لړۍ برخه وګرځیدل. د هغوی د جملې څخه دوه د سورة الکهف په اړه دي، چېد دې ځانګړي سورت باره کې د یوې وړاندیز شوې د کتابونو د څلوریزې برخه ده. دریم نوی کتاب "په اوسنی دور کې د قیامت نښو" مضمون ته اړوند د لیکنو د یو ټولګي څخه ترتیب شوی دی. ستاسې لاس کېد جوج مأجوجو په اړه دا کتاب د سورة الکهف لړۍ کې دریم کتاب دی او "کوټه مسیح دجال"ته اړوند یو وړاندیز شوی کتاب به دې لړۍ کې څلورم او وروستی کتاب وي.

دا لړۍ به د دې غوره عالم د ژوندون، لاسته راوړنو او فکرونو باره کې د هغه د ژوندلیک نه پرته نیمګړې وي. په دغه ژوندلیک باندې کار د مخکې نه پیل شوی دی او هیله لرو چې دا کار به ژر تر ژره بشپړ شي انشاءالله.

مولانا انصاري خپله هم د خپل شیخ، مولانا محمدعبدلعلیم صدیقي په ویاړ پاکستان کې عالمیه د اسلامي زده کړو مرکز جوړ کړیو او سربېره پر دې یې عالمیه یادګاري د کتابونو لړۍ خپره کړیوه. انصارییادګاري د کتابونو لړۍ د دې غوره دستور سره سم یوه عاجزه هڅه ده.

# سریزه

ما د جوج مأجوجو په اړه په خپله څېړنېد ۱۹۹۰ع لسیزې لومړیو کلونو کې‌لاس پورې کړ. هغه وخت زه په نیویارک کې اوسیدم. په دې موضوع زما ورپسې علنی ویناګانو د نړۍ د بیلابیلو برخو مسلمانانو اوریدونکو په زړونو کې یوهڅانګړیلیوالتیاراوپاروله.“بیت المقدس په قرآن کې“په نوم د لیکونکې کتاب کې د جوج مأجوجو څېړکیکېوړاندې شوې شواهدو او دلایلو ډیری د دغه کتاب لوستونکې په دی قانع کړل چې مونږ اوس په یوه داسې نړۍ کې ژوند کوو چېواکې یې د جوج مأجوجو په لاس کې دي. دوی په دې هم قانع شول چې هغه ښارګوټیچې د قرآن کریم د سورة الانبیاء په ۹۵-۹۶ آیتونو کې یاد شوی بل کوم نه بلکه خپله یروشلم (بیت المقدس) دی، او په دې توګه د جوج مأجوج (او دجال) موضوع دا روښانوي چې ولې د “اسلام پر ضد“ دغه بدمرغه پر له پسې غوړیدونکی جنګ روان دی،چېډیری مسلمانان پکې وژل کیږي او تباه کیږي. په نتیجه کې لوستونکي د اسرائیل مرموزه د ټولواکنۍ پلانونو باندې هم پوه شول او اوس د جوج ماجوجو د منګولو څخه د خپلو ځانو او کورنیو د خلاصولو په هلو ځلو کې بوخت دي. دغه ناوړه منګولې به هر ۱۰۰۰ کسانو څخه ۹۹۹ د دوزخ په لورې روان کړي.

زما د پوره هڅو سره سره، بیا هم په وار وار زه د خپلو باعلمه همېړو، د اسلام پوهاندو په وړاندې پاتې راغلی یمتر څودوی قانع کړم چې جوج مأجوج نړۍ ته راخپاره شوي دي. زه د زړه له کومې هیله لرم چې دا کتاب بهپه دې هلکه یو څه بدلون رامنځته کړي انشاءالله.

واړه ستاینې او مننې الله تعالی لره دیچېداعاجز او لاربنود کتاب په نوم د “اوسمهاله نړۍ او جوج مأج — د اسلام په رڼا کې“یې سر ته رسولی، چې د قرآن د سورة الکهف په اړه د کتابونو څلوریزه کې دریم کتاب دی. مخکیني دوه کتابونه د “سوره الکهف: ژباړه او اړوند تفسیر“او “سورة الکهف او اوسنی زمانه“په نوم دي. څلورم او آخري کتاب به د کوټه مسیح دجالمضمون ته وقف وي انشاءالله.

دا په خپله د اسلام د سپیڅلي دین یوه معجزه ده چې دا کتابونه دې په سویلی امریکا کې وینزویلا ته څېرمه یو کوچني کاریبی ټاپو کې ولیکل شي او لیکونکی دېداسې څوک وي د چا نیکونه چې څو نسله وړاندې د هند څخه دغلته د انګریزانو د ګنیو د کښت لپاره د مزدورانو په ډول راوستل شوي وو.

زه د دکتور تمام ادي، د قرآن مفسر چې د ۱۹۸۶ راهیسې په امریکا کې اوسیږي، څخه د کتاب لیکلو په دوران کې د هغه ارزښتناکه لارښونو، سپارښتنو او کومک څخه د زړه له کومې مننه کوم. زه د هغه څخه بیا هم مننه کوم چې دې ته تیار شوچې دې کتاب ته پیلیزه ولیکي، کومه کې چې هغه داسې الواک څرګند کړي چې تر ډیره حده زما خپل نظر سره سمون خوري.زه د هغه د قرآن مانایېزه پوهنه،چې په لاندې ځلانده ډول لیکل شوې پیلیزه کېیې مونږ ته یوه بیلګه راښایي، تاییدوم چې په اوسمهاله اسلامي نړۍ کې یوه ارزښتناکه سرمایه ده.هغه په دمشق کې یوه داسې کورنۍ کې زیږیدلی دی چې ښایې خپله ریښه یې د حضرت عمر ؓد خیلڅخه اخستې وي. په حیث د یو محاسبوی ژېپوهاند او په کمپیوتر ساینس کې

دوکتوره لرونکی، ژبپوهنه او عربي ژبې سره ليوالتيا هغه ته په ميراث کېپاتې وه او په قرآن کې د عربي ژبې کارونې په اړه د خپلو څېړنو په ترڅ کې هغه يوه نوې د ژبې نظريه را برسيره کړه.هغه "قرآن او د عيسی ÷ بيرته راتګ"په مضمون يوه ليکنې باندې ژر کار پيل کولو ته هو کړې.

محمد عالمګير، دکتور عمران چوهدري او دکتور هاشم زغلول ټولو ډېره مهرباني کړېچې د کتاب په لاسليکنه تير شوي، تيروتنېيې سمې کړي او ورسرهارزښتناکه سپارښتنېيهم کړي. لهعربي نړۍ څخه طارق جمال او د هغه خپلواک فلم جوړونکو ډله هم په لاسليکنه تيره شوې او ارزښتناکه وړانديزونه يې کړيدي او همدارنګه د سلمان الحق او د هغه د پوهنتون د زده کونکو ډلې. زما ګرانې ميرمنې عايشې، چا چې ما سره بيحده زغم نه کار اخستی، هم په دې کار کې کومک کړی. د ټولو لپاره د مهربانه الله تعالی څخه خوشالي غواړم. آمين!

د دې کتاب د ليکلو د لګښت ذمه واري د افريقې د ملاويهيواد، رابعه ابوبکر حسين جاخورا او ابوبکر حسين جاخورا لخوا په غاړه اخستل شوې ده. مهربانه څښتندې په دواړو ورحميږي. آمين!

عمران ن. حسين
صفر ۱۴۳۰
د کاريبی ترينيداد ټاپو

# پیلیزه

## دکتور تمام ادي

زمونږ په وړاندېښن سبا په نړیواله کچه د تباهۍ انځور راښکل کېږي. ډېره اړینه ده چې مونږ د دې تباهۍ په جوړښت ځان پوه کړو او پدې ځان خبر کړو چې په ضد یېباید څه ډول ګامونه اوچت شي. مذهبي عالمان په سیالۍ سره خلکو ته د دې پوښتنې ځواب رسول غواړي. کوم مذهب چې خلکو ته تر ټولو ګټور ځواب رسولو کې بریالی شی نو هماغه به د رښتیا پلټونکو خلکو په زړونوکېځای پیدا کړي.

اسلامي عالمان په دې سیالۍ کې په لوی تاوان کې دي ځکه چېدوید نړیوالې تباهۍ د ټولو نه لومړي شکمنو ته د جرم د ځای څخه د غیاب ثبوت ور په لاس کړی دي. د دغه اسلامي عالمانو په اند جوج مأجوج، یو ورانکاری ځواک چې هرې لورې ته خپریدل یېمخکې نه ویل شوي، لا تر اوسه هم د یو دیوال شا ته بندیان دي.

دا عقیده مسلمانان د هغی احمق سړي پشان ښايي د چا کور چې د هغه شا و خواه ته رانړېږي ځکه چې دیوالونه یې وینو وهلیوي. خو بیا هم هغه هره شېپه د الله تعالی شکر اوباسیچې خسک پلټونکي د هغه په کور کې وینې نه دي پیدا کړي.

الله - د قرآن د ساتلو ژمنه کړېده. خو د تفسیر او یا د حدیثو (د نبي آخرالزمانﷺویناګانو یا کارونو) د ساتلو ژمنه یې نه ده کړې. د جوج مأجوجو په اړه د غلطو مفکورو دوه سرچینې وجود لري:

١. د سهووداخلول او په تفسیر کې غورځونې
٢. د غلطو احادیثو قبلول او یا د احادیثو داسې غلط تعبیر چې د قرآن کریم سره په ټکر کې واقع شي.

دا دوهمه ستونځه له منځه وړلای شو که چیرې دا قاعده ټینګه کړو چې د ټولو احادیثو بنسټ باید قرآن کریم وي. ابن تیمیه / د قرآن او حدیثو یو لوی عالم و. هغه د قرآن حافظ و او بیشماره احادیث یې په یاده زده وو، او په یو مضمون پورې تړلي ټول احادیث او آیتونه به یې سمدستي له یاده ویل. هغه د پاس ذکر شوې قاعدې پخلی په خپله فتوی کې کړی او وايیچې هر هغه درست حدیث چې د هغه زده دی د هغې ملاتړ لپارهکولای شیچې یو یا زیات د قرآن کریم داسې آیتونه ذکر کړي چې د دغه ځانګړي حدیث اساس پرې ایښودل شوی وي. رسول اللهﷺ به یو حدیث بیان کړ (مثلاً یوه پریکړه، قضاوت او یا سپارښتنه) او بیا به یې د هغې ملاتړ لپاره د قرآن یو آیت ذکر کړ. اصحاب کرامو ن به هم د همداسې کاردود څخه کار اخیست.

په بل طرف په تفسیر کې د جوج مأجوجو په اړه نیمګړتیاوې او غورځونې دومره په لویه کچه دي چې مونږ اوس یو داسې تفسیر هم نه شو پیدا کولایچې ورکې په دې امکان باندېچې ګواکې جوج ماجوج راخوشېشوي دي، لږ شان بحث هم شوی وي. تر څو دا معلومه کړو چې قرآن کریم په ربښتیا د جوج مأجوجو په اړه څه وایي نو باید د صفر نه شروع وکړو. شیخ عمران حسین همدا لار خپله کړیده.

په دې کتاب کې شیخ عمران حسین عالمان ننګولي دي تر څو دغه عقیدې ته چې جوج مأجوج لا تر اوسه بند دي، یوه نوي کتنه وکړي. هغه په ثبوت رسوي چې– سره د دېچې یو حدیث یې ملاتړ کوي – دغه عقیده د قرآن سره په مخالفت کې ده. هغه په دې اړه یوه قانع کونکې قضیه وړاندې کویچې جوج مأجوج له پخواه راهیسېخوشې شوي دي. هغه دا کار د اوسمهاله او تاریخي حقایقو څیړلو او بیا یې د قرآن آیتونو سره د وصلولو له لارې سر ته رسوي.

د تیرو ۲۵ کلو راهیسې ما د قرآن د مانا جوړښت (د قرآن مانا پوهنې) په اړه خپلواکېڅیړنې ترسره کړیدي. زه چې کومو نتیجو ته رسیدلی یم هغه د شیخ عمران حسین د څیړندود، چې په دریم فصل کې ذکر شوی، ملاتړکوي. د نړۍ د سترو پیښو قضاوت باید د قرآن کریم د یوې خاصې شننې په کومک ترسره شیچې تأویل ورته ویل کیږي. تأویل د قیاسي دلایلو په کار اچونه ده تر څو د قرآن ممکنه مانا د تاریخي او سیاسي حقایقو سره په درست ډول ونښلول شي. د یو عالم لکه د عمران حسین، ارزښتناکه د تأویل بصیرت نه یوائې د هغه د مانا او حقایقو دقیقېڅیړنې نتیجه وي بلکه دا د الله له طرفه د یو خاص رڼا (نور) له کبله هم په لاس راځي، چېیو کس ترې کله نا کله برخمن کیږي. بله دا چې شیخ حسین په دېکې بیخي په حقه دی چېځینې وخت باید سړی د تشبیهي یا مجازي تأویل څخه کار واخلي، په خاصه توګه د روحانیمسئلو په حالت کې کله چېهادي حقایق وجود ونلري.

په لاندې برخو کې به زه د تأویل او د قرآن د مانا اصولو باندې رڼا واچوم. بیا به زه دغه اصول په کار راولم تر څو د جوج مأجوج او د هغوی د چال چلند په اړه د قرآن کریم د آیتونو نوی تأویل وکړم. زما او د شیخ عمران حسین د دغو آیتونو تأویل د یو بل سره تر ډیره برخههمغږي لري. دا دواړه تأویلونه ښاییچې کله مونږ د قرآن آیتونه په کار راوړو تر څو واقعیت پورې تړلي حقایقو سمولی او ناسمواليترینه معلوم کړو، نو مونږ باید دې نتیجې ته ورسیږو چې جوج مأجوج لا پخواه راخوشېشوي دي.

## تأویل: د قرآن کریم د علم المعاني اصول

که چیرې څوک غواړي چې د قرآن کریم په ژبه سم پوه شي نو باید دا یاد ولري چې د عربي ژبې جوړښت او پنځونه د الله تعالی لخوا ده او نه د عربانو لخوا. له همدې کبله الله تعالیپه دې ژبه کې یوه داسې لیکنه کښلای شیچې هیڅ کوم یو عرب دې ته ورته لیکنه کې نه شي بریالی کیدای، حتی د یو کوچنی سورة په اندازه هم نه.

الله تعالی چې په کوم ډول عربي په قرآن کریم کې کارولې ده هغه اکثره د عربانو د عربي ژبې د استعمال سره ډیر توپیر لري. عربان اکثره په خپله مورنۍ ژبه کې سهوه کیږي او ډیری وخت د عربي اصطلاحاتو څخه غلط مفهوم اخلي. تر دې حده چېد عربي غوره شاعران، قاموس لیکونکي او مفسرین هم اکثره په عربي ژبه کې غلط مفهوم اخلي او په غلط ډول یېپه کار راوړي. خو د دې برعکس د الله تعالی د عربي ژبې کارونه بشپړه، څرګنده او روښانه ده. (وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِينٌ ، قرآن کریم، النحل ۱۰۳ آیت)

نو څکه د قرآن کریمعلم المعاني یعنې د قرآن مانا پوهنه، باید خپله په قرآن باندې تکیه ولري.ما د څو کالود څیړنېوروسته د قرآن مانا پوهنې په اړه یوه نظریه کشف کړیده. ما اوس اوس لوستې چېډکتور فضل الرحمن انصاري/ (د شیخ حسین استاذ) په دې باور وچې قرآن کریم د مانا یو نظام لري چې په ثابت ډول ټول آیتونه د یو بل سره تړي او هم یې شرح او تعبیرکې په کار راځي. زما په اند هم داهمداسې ده.

یوه ګوښه او جلا اصطلاح پخپل ځان کې مبهمه وي (یعنېکیدایشي ډیرې مانا ولرې). د مثال په توګه ضَرَبَ د وهلو، دلیل ویلو، تپلو، سفر کولو او داسې نورو عملونو مانا لري. هره یوه له دې ماناګانو څخه اکثره د یو فرمول په څیر کاریدلای شي تر څو د هر ورځني حالت بیانولوکېتږې کومک واخستلای شي مثلا اووهه ډبره په خپله امساء سره ، ملایکو خپل مخونه اووهل. دا دوه اړخیزه نرمي (یعنې ډیري مانا لرل او هره مانا د ډیرو مقاصدو لپاره په کار راوړل) د انساني عقل بنسټ جوړوي او دا په هره ژبه کې شتون لري. دا عقل ته موقع ورکوي تر څو د څیړنې او پلتنې له لارې نوي انکشافات وکړي. دا هغه اختیار دی چې الله تعالی آدم÷ ته په برخه کړیو او د دې اختیار له کبله الله تعالی ملایکو ته امر وکړ چې آدم÷ ته د درنښت له مخې سجده وکړي.

د یوې اصطلاح لکه د ضَرَبَ نه د ګټې اخستلو لپاره باید دوه شیان شوني شي:

۱. اصطلاح باید په یوهقرینه یا عبارتکې دننه ځای پرځایشي تر څو د ماناګانو ډیروالی محدود شي. راځئ‌چې اوس دا اصطلاح (ضَرَبَ) په یوه جمله یعنې قرینهکېپه کار راولو. د مثال په توګه وَضَرَبَ لَنَا مَثَلاً .... (هغه مونږ ته د دلیل لپاره یو مثال وړاندې کړ.... ، قرآن کریم، سورة یس، ۳۶:۷۸). عبارت اکثره یوه کلمه د یو څو کمشمیره ماناګانو او یا صرف یوې مانا پورې محدودوې ( لکه په پورتني مثال کې دلیل وړاندې کول). خو په دېمرحلهکې صرف یوه مانا یو ډیر پراخه فرمول وي او بیشماره ممکنه کارونېکیدای شي ولري (په پورتني مثال کېنامعلومه مقصد لپاره دلیل وړاندې کول). اصطلاحپه دې حالت کېاکثره ډیره مبهمه وي چې کومه ګټه ترې واخستلی شي.

۲.د مانا لرونکي فرمول او د واقعیت تر منځ باید تړاو پیدا شي (یعنې تأویل شي). د عبارت څخه اخستل شوي مانا لرونکي فرمول ته د یو واقعي حالت سره تړاو ورکول امکان لري خو

که چیرې د الله رضا وي پکې. د پورتني آیت پاتې برخه داسې ده''وَ نَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ مَنْ يُحْيِ الْعِظَامَ وَ هِيَ رَمِيمٌ''(ژباړه: خو هغه خپل پیدایښت هیر کړ او ویویل"څوک کولای شي چې خاورې شوي هډوکي بیرته راژوندي کړي؟"). کله چې یو مانا لرونکی فرمول په دې ډول د یو حقیقي حالت سره تړاو پیدا کړي نو بیا ګټور ثابتیږي او یو مطلب ترینه اخستل کیږي. مونږ کولای شو چېله دې فرمول څخه اوس ګټه واخلو او واقعیت باندې ځان پوه کړو (یو څوک چې خپل پیدایښت یې هیر کړیو تشبیهي دلیل وړاندې کوي چې څنګه خاورې شوي هډوکي بیرته راژوندي کیدای شي) او بیا یې مقابل کې خپل غبرګون وښایو (په قیاس ځان پوه کړو او وګورو چې ناچله دی). د مانا لرونکي فرمول (اصطلاح) او واقعیت تر منځ دغې اړیکې ته تأویل ویل کیږي.

مانا لرونکی فرمول اکثره د قیاسي تأویلاجازه ورکوي یعنې واقعیت یو داسېڅهپورې وصلویچې فرمول سره ورتوالی ولري. دا د قیاسي استدلال بنسټ جوړوي چې د فقهې او تفکر تر ټولو مهم توکی دی. یو مانالرونکی فرمول د مختلفو واقعي حالتونو لپاره کیدای شي بیلا بیل تأویل ولري. دا دې پورې اړه لري چې د الله تعالی لخوا کوم ډول لاربښونه مونږ ته نصیب کیږي.

په ځانګړو حالتونو کې او نظر عبارت ته، مجازي تأویلکیدای شي یواځنۍ درسته لاره وي. یعنې داسې یو څه سره تړاو ورکول چې په ظاهرهد فرمول سره سمون خوري خو بیخي یو شان واقعیتونلري. خوبونه او روحاني مانالرونکي فرمولونه اکثره صرف مجازیمانا لري. روحاني واقعیت د توکیز واقعیت سره توپیر لري. سربیره پر دې،مجازي تأویل څکه اړین ګڼل کیږي چېد دې دنیا واقعیت غولونکی او ناقص دی (متاع الغرور: د فریب سامان). واقعیتیواځې په آخرت کې مکمل او حقیقي دی.

خوالله تعالی ځینې وخت د مانا لرونکي اصطلاح یا فرمول او دواقعیت تر منځ تړاو مونږ څخه چور پټ ساتي. د سورة الکهف د۱۱م آیت (فَضَرَبْنَا عَلَىٰ آذَانِهِمْ فِي الْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا)ژباړه داسې کیږي "نو بیا مونږ (یعنې الله تعالی) هغوی د ضَرَبَ کولو له لیارې د څو کالونو لپاره په غار کې ویده کړل، یعنېد هغوی غوږونو سره د یو ناڅرګند کار اجرا کولو له لیارې. د دې مانایز فرمول تأویل هیڅ ممکن نه دی. مونږ د دې واقعیت په اړهچې الله تعالی د هغوی غوږونو سره څه وکړل کوم معلومات نه لرو. مونږ د مانایزې اصطلاح (ضَرَبْنَا عَلَى آذَانِهِمْ، مونږ "اووهل" یا "مهر مو کړل" یا "څه مو کیښودل" د هغویپه غوږونو) او د دې واقعیت چې الله تعالی د هغوی غوږونو سره څه وکړل، تر منځ کوم تړاؤ نه شو پیدا کولای. داسې آیتونو ته متشابه آیتونهویل کیږي (یعنې زمونږ واقعیت سره ناقصه ورتوالی لري). یواځې الله تعالی د داسېآیتونو په تأویل پوهیږي. کله چې بیلارې کس د داسې آیتونو مانا پسې ګرځي نو هغه بیا د آخرت په اړه د تأویل دا غر او هغه غر ولي، او په نتیجه کې پېغیبپوهه مفکورې او د دروغو پیغمبرې منځته راوړي.

تولیمهمې اصطلاح په یو یا زیاتو عبارتونو (هغه آیتونه چې دا اصطلاح په کې وجود ولري) کې ځای پرځای شوي دي او په دې توګه د مانا خوښونې یې محدودې شوي دي. په دې ډول مونږ کولای شو چې د مانایز فرمول او واقعي حالت تر منځ تړاو هم پیدا کړو. تأویل بیا په داسې حالت کې ممکن وګرځي. وروسته "فساد څه شی دی؟" د سرلیک لاندي پورته ذکر شوې کړنلار لا روښانیږي.

که چیرې یو آیت کوم ډول (قیاسي یا مجازي) تأویل ولري نو بیا داسې آیت ته "محکم" آیتویل کیږي چې لفظي مانا یې د قرآن کریم د سورة آلاعمران د ۷م آیت له مخې"ګلک یا ټینګ کړل شوی"بیان شویده. د یو محکم آیت مانایزه فرمول اکثره قیاسي تأویل ته اجازه ورکوي او له دې کبلهقیاسي استدلال ته هم. خو په ځینې محکم آیتونو کې بیا یواځېمجازي تأویل شونی وي.

محکم آیتونه د قرآن کریم بنسټ جوړوي (یعنې ام الکتاب دی). دا د الله تعالی لخوا د قرآن کریم د ساتلو د ژمنې یوه برخه ده. دا د قرآن کریم چوکاټ او مانایزه سستم جوړوي چې د قرآن د اړینو قوانینو او پیامونو ساتنه او څارنه کوي. الله تعالی نه یواځې عالمانو څخه بلکه مونږ ټولو نه امید لري چې مونږ د محکم آیتونو تأویل ترسره کړو یعنې د الله تعالی په کومک (توفیق)، د الله د نور په واسطه او تر خپلې عقلي وسې پورې دا آیتونه خپل واقعیت پورې وتړو، تر څو الله تعالی چې څه نازل کړي (حکم بما انزل الله) د هغې څخه د کتو اخستو سره د واقعیت قضاوت وکړو. دا نه یواځې هغه څه چې د فقه په کتابونو کې دي بلکه د واقعیت هر اړخ پورې اړه لري.

لکه څنګه چې ډیری عالمانو یادونه کړې، سیاسي او ټولنیزومسئلوکې د قرآن کریم د محکمو آیتونو پلي کولو ته د بني امیه د وخت راپدیخوا مسلمانو واکمنانو په زیړ نظر کتلي.همدا رنګ تفسیرونه هم امکان لري چې د چارواکو او واکمنو له طرفه سانسور شوي وي.

که چیرېووایو چې جوج مأجوج د اسلام نه لږ وختوړاندېخوشې شوي دي، نو آیا هغوی به ډیر ژر په مسلمانانو هم زوروړ شوي نه وای؟ پیغمبر <ویلي چې حضرت عمر ط د اوسپنې د یو ور (یا پولې) پشان د مسلمانانو او د ډارونکې موجونو پشان فتنو (سختو ازموینو، جوج مأجوجو) تر منځ ولاړ دی او دا چې دا ور به ړنګ شي او هیڅ کله به بیا بند نه شي. آیا دا امکان نه لري چې جوج مأجوجو دا پوله له منځه وړي وي (یعنې عمر طیې په شهادت رسولای وي)؟ آیا هغویپه اسلامي ادبیاتو او زده کړو کې د جوج مأجوجو په اړه بحث به نه وي سانسور کړی؟ لکه څنګه چې صیهونستیانو په امریکایي رسنیو کېد هغوی نوم اخستنه د یهود دښمنی په نوم بولي او بیخي سانسور کړیږې ده؟

# جوج مأجوج: یو ورانکاری قوم چې د یواځېني زبرځواک کرځیدو توان لري

د ذوالقرنين سلطنت يو بې سياله زبرځواک وچېبېکچهوسايل او سامان  يېدرلود.

إِنَّا مَكَّنَّا لَهُ فِي الْأَرْضِ وَآتَيْنَاهُ مِن كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا(سورة الكهف، ۱۸:۸۴)
"بیشکه چې مونږ د هغه ځواک په ځمکه کې ټينګ کړ او د هر شي وسایل مو ور په برخه کړل."

ده تر هغه وخت پورې چې څومره څرګنده نړۍ وه، يعنې د ليرې پروت لويديځ څخه نيولې تر ليرې پروت ختيځه پورې ټول ملتونهيپلاندې کړي وو. تيرى کونکي يې ځپل او نيک عملو ته يې انعام ورکاوه (د سورة كهف ۸۵م تر ۹۱م آيتونه). هغه يو داسې ځايچې د دوه ديوال پشان غرونو تر منځو (اَلسَدَّيْن، سورة الكهف ۹۳م آيت)ته چې کلهورنږدې شو، نو د هغې ځای اوسیدونکو ترینه د مرستې غوښتنه وکړه.

﴿قَالُوا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلَىٰ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا﴾

"هغویوویل، ای ذوالقرنینه بیشکه چې [قوم د] جوج مأجوجو په زمکهد ورانکاری مرتکبین دي [يا په نړيواله کچه ورانکاري دي مُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ]. آيا مونږ تا لره باج [يا جزيه] درکړو ترڅو ته هغه څه چې زمونږ او د هغوی تر منځ دي [دغه دوه د ديوال پشان غرونه، اَلْسَدَّيْن، کوم چې په منځ کې يوه دره لري نو د دواړو ترمنځکامل ديوال وجود نلري] په يو [کامل] ديوال [سَدًّا، يوه پوله چې منځ کې لار ونلري] بدل (تَجْعَلَ)کړې؟" (سورة الكهف،۱۸:۹۴)

فکر دا پيدا کيږي چې ولې ذوالقرنيند جوج مأجوجو قوم هم لاندېنه کړ او لکه د نورو ظالمانو خلکو پشانیېدوی هم ونځپل؟ په ځاې يې، هغه دې ته تيار شو تر څو دغه غرونه په يو بشپړ ديوال بدل کړي (سورة الكهف، ۱۸:۹۵). دې څخه صرف يو مطلب اخستل کيږي هغه دا چې ذوالقرنين په دې پوهیده چې دا د الله تعالی خوښه ده چې د جوج مأجوجو قوم د نورو انسانانو لخوا نشي نابود کيدای، حتی د ذوالقرنينغوندې يو زبرځواک په لاس هم نه چې هر ډول وسايل يېدرلودل. دا په دې مانا چې جوج مأجوج د دې توان لري چېډ ځمکې په سر يوازينۍ زبرځواک وګرځي. شيخ عمران حسين په څلورم فصل کې د جوج مأجوجو خاکه بيانولو په ترڅکې د هغويمدا رازڅرنګوالی بيانکړی دی.

## الردم: د جوج مأجوجو ديوال د دوه غرونو او د دوی تر منځ د يوې درې يا تنګې، کومچې ذوالقرنين پيوند کړې وه، څخه جوړ دی.

جوج مأجوج به د دغو دوه دنګو او دیوال ته ورته غرونو تر منځ یواځینی دره کې تلل راتلل او د غره نه هاخواه خپلو ګاونډیانو باندېیې بریدونه ترسره کول.

دغه مظلومو خلکو ذوالقرنین نه غوښتنه وکړه تر څو هغه څه چېد دوی او د جوج مأجوجو تر منځ دي (بَيْنَنَا وَ بَيْنَهُميعنې دغه غرلړیچې په منځ کې د یو چاود پشان دره لري) په یو سراسر دیوال یا پولېباندې (الْسَدَّ، سورة الکهف، ۱۸:۹۴) بدله کړي (تَجْعَلَ). هغه په ځواب کېوابې"أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا،""زه به پیوند کړم (أَجْعَلْ....رَدْمًا) هغه څه چې ستاسو او د هغوی تر منځ دي"(سورة الکهف، ۱۸:۹۵). ذوالقرنین د هغې درې خوله داسې بنده کړه چې دیوال یې د تودي اوسپنې معدن څخه جوړ کړ او دپاسه یېپرې ویلې شوي مس واړول. د جوج مأجوجو دیوال د دوه غرونو څخه جوړ دی چې په منځ کې یو چاود لري کوم چې ذوالقرنین پیوند کړیو (الردم).

که د چا پیوند شوی پیزار په پښو وي نو مونږ وایو چې د هغهرَدْمًا (پیوند شوی) په پښو دی. که دا ګومان وکړو چې د رَدْمًا اصطلاح یواځې پیوندولو ته اشاره کوي نو دا به غلطه وي. ګرامري نیمګړتیا له کبله ما او نورو څخه دا سهوه سرزد شویده. د پورتنی څرګندونې په اړه له دې څخه غوره تأویل شونی دی.

په پنځم فصل کې، شیخ عمران حسین د سورة الکهف د ۹۳م – ۹۵م آیتونو د تأویل په اساس د الردم جغرافیایې موقعیت په ګوته کوي. دغه دوه دیوال پشان غرونه د ققفاز د غرلړی ختیځه او لویدیځه برخه ده چې دواړه یوې تنګې درې،چې د دریال تنګي په نوم یادیږي، د یو بل څخه جلا کړي دي. د ققفاز غرلړی په لویدیځ کې د تورې بحیرې څخه نیولې په ختیځ کې د خزار بحیري (کیسپین سمندرګي) پوریغځیدلې ده.

# د اسلام نه وړاندې په پوله کې یو ستر چاود پیدا شو –د کیسپین د بحیرې د اوبو کمیدو له کبله یوه غونډی لرونکي کڅیزه سیمه رابرسیره شوه

الله تعالی فرمایېچې جوج مأجوج په دې دیوال په هغه وخت کې نه ختلای شو او نه یې سوری کولای شو تر څو بلې خوا ترې ووځي. (فَمَا اسْطَاعُوا أَن يَظْهَرُوهُ وَمَا اسْتَطَاعُوا لَهُ نَقْبًا، سورة الکهف، ۱۸:۹۷).ذوالقرنین په دې پوه وچې دغه پوله یا دیوال یواځې یوه موقتي پناه ده. هغه د الله په حکم بیا دا اعلان وکړ، "دا [الردم، دغه پیوند شوی غر] زما د څښتن تعالی لخوا ترحم دی، خو کله چې زما د څښتن تعالی ژمنه پوره شي، نو بیا به یې هغه په دَكَّاءَ بدل کړي [دَكَّاءَیعنې یوه غونډی لرونکې سیمه یا نړیدلی، ویجاړ شوی]"

قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّيۖ فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُ دَكَّاءَ(سورة الکهف، ۱۸:۹۸)

الله تعالی خپلو ټولو پیغمبرانو سره ژمنه کړې وه چې یو وروستی پیغمبر به د یو ستر وروستي قانون (قرآن کریم) سره راځي. په ځینې مقدسو کتابونو کې (لکه تورات کې) دې ته د"ژمنې"نوم ورکړ شوی. هغه ژمنه چې ذوالقرنین ورته اشاره کوي اسلام دی. د کیسپین د بحیرې د اوبو د کمیدو له کبله د قفقاز د غره ختیځ لور ته یوه غونډۍ لرونکې کڅېزه سیمهد اسلامي پیغمبرﷺ د زیږیدنې نه یو څو لسیزې وړاندې د ۵۵۰ع کال شاوخوا ته رابرسیره شوه. جوج مأجوجو به د اسلام د ظهور نه وړاندېله دې لارې په فارس باندې بریدونه کول. حضرت عمر ﷛ له همدېلارې د جوج مأجوجو په ضد وسلوال عملیات پیل کړي وو.

په ډیرو احادیثو کېد دې خبرې پخلی شوی چې هغه ژمنه چې په تورات کې ذکر شوې هغه اسلام دی. لکه هغه حدیث (ویل اللعرب...) چې دا ترې جوتیږيچې د جوج مأجوجو په ردم (دیوال یا پوله) کې لاره جوړه شوې او تر ټولو د مخه عربان د خطر سره مخامخ دي. د نبي محمدﷺلپاره تر ټولو بیرونکی شی د دې لارې پراختیا وه: ۹۰ واحده، امکاني ۹۰ فرسخ (یو فرسخ برابر دی د ۵.۳ میل سره). دا دومره پراخه لار ده چېله دې لارې د جوجو مأجوجو سترو لښکرو په عربانو باندې یرغلکولای شو. هغه پیشګوېي رښتیا شوې ده. وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ(سورة الكهف،۱۸:۹۹)ژباړه: او په هغه ورځ [کله چې په دیوال کې لار جوړه شي] مونږ به دوی پرېږدو تر څو دوی د موجونو غونډې په یو بل کې ننوځي (یعنېبه یو بل کې ادغام وکړي).

سربیره پر دې، د جوجو مأجوجو په اړه ویل شوېچېدوی به د هرېلوړې رابښکته شي (مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُون ، سورة الانبياء، ۲۱:۹۶). په دې تړاو دې آیت کې د لوړېلپاره د (حَدَبٍ) اصطلاح کارول د دې امر ملاتړ کوې چې د (دَكَّاء)کلمه دې د یوې غونډۍ لرونکې سیمې په توګه مانا شي.

د بحیرې تر غاړه دغې پراخې لارې د هغې پیوند اهمیت له منځه ویوړ. پیوند بیا وروسته نړیدلی او د دریال تنګی خلاص شوی دی.

د حدیثو د اصطلاحاتو پر بنا، مسلمانانو جوج او مأجوج د اَلْتُرک (ترکانو) په نوم یادول چې دا نوم ورته د ترک په نوم د خپل نیکه څخه ورپاتېو. دا البته د اوسنی زمانې ترکان نه دي او باید ورسره انجړ نشي.

## د جوج مأجوجو زمانه

کله چې الله تعالی خبرداری ورکوي چې"او په هغه ورځ به مونږ پرېږدو تر څو دوی د موجونو پشان یو بل کې ادغام وکړي (وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ، سورة الكهف، ۱۸:۹۹)" نو د "هغه ورځ"نه د الله تعالی څه مراد دی؟

د الله تعالی یوه "ورځ" یعنې یوه الهي ورځ، ۲۴ ساعته نه وي، بلکه یو عصر وي چې زر یا زیات قمري کالونه اوږدوالی لري. نورې ورځې هم شته چېځانګړي اوږدوالي لري، خو په عمومي ډول یوه الهي ورځ ۱۰۰۰ قمري کاله وي، یعنې یوه زریزه (وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ، سورة الحج، ۲۲:۴۷).په دریم فصل کې شیخ عمران حسین بیلابیلبالهي ورځېڅېړلې دي.په قرآن کښیواځې ۳ ډولهځانګړیالهي ورځې یادې شوې دي:

۱. یوه الهي ورځ چې پنځوس زره کاله اوږده ده کومه کې چې ملایکې د الله تعالی حضور ته حاضرېږي (سورة المعارج، ۷۰:۴). په دغه ورځ چې کومې پیښنې منځته راځي په سورة المعارج کې بیان شوې دي. سربیره په نورو پیښنو، انسانان به بیا راژوندي شي او کافران به د دوزخ په لور ولیږدول شي. د ځینې مفسرینو په اند دا یوم القیامة ده.

۲. یوه اداري دوره چې دوه الهي ورځې ده: یوه اداري زریزه په کومه کې چې الله تعالی د ملایکو څخه کار اخلي تر څو د آسمان څخه زمکې ته فرمانونه ولیږي او اجرا یې کړي. ورپسېیوه محاسبوې زریزه چې دا ملایکې بیا د الله تعالی حضور ته د دغو فرمانونو د اجراکیدو راپور ورکوي تر څو خلکو سره د هغو له مخې حساب کتاب وشي. يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ(سورة السجده، ۳۲:۵).

د اسلام ظهور او د جوج مأجوجوخوشې کېدل (۵۵۰ء) دواړه د یوې الهي ورځې په کښېز کښمنځته راغلي دي. دا به غلطه نه وي که ووایو چې دا یوه اداري زریزه وه. که همداسې وي نو بیا ویلی شو چې دا زریزه ۵ پیړۍ وړاندېپای ته رسیدلې ده او اوس مونږ د یوې محاسبوې زریزې په نیمایي برخهکښشتون لرو. اداري زریزه ۱۴۶۰ لمري کاله یا ۱۵۰۵ قمري کاله وړاندې پیل شوې وه. یواځې الله تعالی پوهیږي چې قیامت به کله راځي. کیدای شي چې د محاسبوی زریزې په پایکې راشي، یا کیدای شي له دې څخه هم وروسته.

## جوج مأجوج اوس یواځنی زبرځواک دی، خو دوی به هلاک شي

زیاتره بشریت د جوج مأجوجو سره ادغام کېدو نه وروسته د ۱۵۰۰ کالو په دوران کې یا خو د هغوی ژونددود خپل کړی او یا ورسره یوه خوله دي. دا ډیره مشکله ده چې د جوج مأجوجو اصلي غړي او هغه خلک چې د هغوی ژونددود یې خپل کړی، نن سبا سره بیل کړو. دا د هغه حدیث اساس دی چېوایي په دوزخ کې به د هر زرو نه ۹۹۹ د جوج مأجوجو څخه وي.

جوج مأجوج د هرې لورې نه په راګوځيدو لا د پخوا څخه بوخت دي، او په دېتوګه د ځواک هره لوړه څوکې د دوی سره ده (مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ، سورة الانبياء، ۲۱:۹۶). دوېپه نړۍ کې اوس د يواځيني زبرځواک څښتنان دي. دا زبرځواک يو بېانصافه تمدن نه پرته بل څه نه دی (قَرْيَةٍظَالِمَةٍ) او لکه د نورو بې انصافه تمدنونو پشان به دا هم د قيامت د ورځې نه مخکې ويجاړ شي (سورة الحج ۴۵-۴۸ آيتونه).

جوج مأجوج په عربي ژبه کې د خپل نوم، ياجوج و مأجوج، په مانا خبر دي. دا دوه اصطلاحات د يوې کلمې ريښې (أجج) څخه راوتلي معروف او مجهول شکلونه دي. په قرآن کريم کې نور هغه آيتونهچې دا ريښه پکې کارول شوې ده، هلته د أُجَاجٌ کلمه د مالګينې اوبو خوند د سېزلو سره تشبيه کوي. نو ويلی شو چې جوج مأجوج هغه څوک دي چې نور سيزي (يأجوج) او بيا پخپله هم سوزي (مأجوج).

الله تعالی به ولې جوج مأجوج او د بشريت اکثريتچېدوی ته ورته ژوندلاره يې خپله کړې وي، د دوزخ اور کې په سوزيدو محکوم کړي.څرنګه کولای شو چې د جوج مأجوجو ژوندلاره وپېژنو او بيا ترينه ځان وژغورو. لاندې برخې به انشاءالله د قرآن کريم د محکم آيتونو څخه ځوابونه رابرسيره کړي.

## فساد څه شی دی؟

جوج مأجوج د مَفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ (سورة الكهف، ۱۸:۹۴) په صفتبلل شوي دي. ما دا عبارت داسې ژباړلی دی: په زمکه د تباهۍ مرتکبين. راځۍچې دقيقه کتنه ورته وکړو. مُفْسِدُون د مُفْسِدْ جمع حالت دی.د دې مانا دا ده چې"وکړي چې په شريکه يو کار کوي". په دې حالت کې دا د وکړو يو ټولګي ته اشاره کوي د کومو ټولګيز کسب يا ژونددود چې د يوې ځانګړې ورانکارۍ، چې فساد نوميږيلامل ګرځي. دا دواړه کلمې، فَسَاد او مُفْسِدُون، د يوې ريښې، فسد، څخه وتلي مصدرونه دي. نو بيا فساد کوم ډول ورانی دی؟

الله تعالی د قرآن کريم په ډېرو آيتونو کې د دغې ريښې، فسد، څخه وتلي کلمې (لکه يُفْسِدُونَ، يُفْسِدُ،يُفْسِدَ، تُفْسِدُو،اَلْمُفْسِدِيْن او نورې) د يو خاص چال چلند واضحه کولو لپاره کارولې دي. لاندې يو څو آيتونه د مثال په توګه وړاندې شوي چې د فساد اصطلاح په ډاګه کوي. پام وکړۍچېد فعل جمع حالت ټولنيز يا اجتماعي کړنې بيانوي. همداسې د اَلْ آدات او ځينې ګرامري جوړښتونه، بشپړوالي او ځيلمې ته اشاره ده. دا همداسې مانا لري لکه کله چې وايو "دا ټول" يا "هر يو".

۱. مذهبي فساد: يعنې‌الله تعالی سره د ژمنې کولو وروسته د هغې څخه په سپين سترګۍد خلکو سرغړونه (الَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِن بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ، سورة البقره، ۲:۲۷). سخت

دریځه او په عقیده ټینګ ولاړ خلک په منظمه توګه د خپل مقدس کتاب د قوانینو څخه چې کله سرغړونه وکړي، نو فساد ورتهویل کیږي. دا ډول چال چلند د دغه اولس د آخرت ژوند تباه کوي.

۲. د کورنۍ اړیکو فساد: په منظم ډول تولې کورنۍ اړیکې تار تارول (مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ، سورة البقره، ۲:۲۷). دا په دې مانا چې میرمن د خاوند څخه جلا کول، اولاد د مور او پلار څخه، ورونه د یو بل څخه او داسې نور.

۳. د ټولوژنې فساد: په لویه کچه وژنه (يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَچې په لفظي توګه "ټولې وینې تویوي" ژباړه کیږي، سورة البقره، ۲:۳۰).

۴. د کرکیلې فساد: په منظمه توګه د فصلونو ویجاړول او یا یې زیانمنول (لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ، سورة البقره ۲:۲۰۵). په داسې فساد کې د کرکیلې بشپړ نظامونه ابترول، ارثي (ژنتیکي) بدلونونه او یا تخمونه زهرجنول ټول شامل دي.

۵. د نسل فساد: په منظم ډول انساني تولید ابترول او یا د کوچنیانو ټولوژنه (لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ، سورة البقره، ۲:۲۰۵).

۶. اقتصادي فساد: یو تجارتي سستم چې ځواکمن لاس لاندې خلکو ته یا خو اجوره نه ورکوي او یا د خپل حق نه کمه اجوره ورکوي (فَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا، سورة الاعراف، ۷:۸۵).

۷. د لواطت فساد: په ټولنه کې د همجنسپرستۍ منښت (أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنكَرَ ۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ۞قَالَ رَبِّ انصُرْنِي عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِينَ ، سورة العنکبوت، ۲۹:۲۹-۳۰). د داسې فساد په نتیجه کې د همجنسو تر منځ نکاح منځته راځي او د ریښتینې نکاح اهمیت له منځه ځي.

نو ویلی شو چې فساد قصداً او په منظم ډول د ټولوژنې او یا د ژوند کلیدي بنسټونو د ابترولو له لارې د انساني ژوند تباهۍ ته وایې، چې د آخرت ژوند هم پکښشامل دی. جوج مأجوج په قرآن کریم کې د مُفْسِدُونَ په نوم یاد شوي دي خو کوم ځانګړي ډول فساد سره نه دي تړل شوي. نو دویداسې یوه ډله ده

چېرېلېز کسب یا ژوندلارهیبي د ټولو ډولونو فسادونو د پیداکیدو او پلي کیدو سبب ګرځي. دوی بیشکه د الله تعالی د قهر او په دوزخ کې د سوزیدو جوګه دي. دوی هغه ډول خلک دي چا ته چې په سورة الفاتحة کې الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ ویل شوي (یعنې هغه خلک چې د الله عزوجل قهر یې ګټلی).

د کتاب په اول فصل کې شیخ عمران حسین په نړیواله کچه‌برسیره شوي ګڼ شمیر فسادونه راپیژني. په اووم فصل کې بیا په تیرو څو پیړیو کې د ټولوژنې فساد زیاتیدو ته اشاره کوي چې دا بې له کومه شکه د جوج مأجوجو لاسته راوړنه ده. خو پوښتنه دا ده چېدوی څرنګه په بشریت داسې بیرونکې ډلیزه او انفرادې تګلاره تپلې ده؟

## د جوج مأجوجو خاکې او د دوی د لاس لاندېفسادي ډلې

د سورة البقره په پیل کې الله تعالی داسې یو خلک راپیژنیچې په ډلیزه توګه فساد خپروي. الله د هغوی د باطلې دندې پریکړه لیک، د هغوی عجیبه عقیدې، د فعالیت طرز، د هغویتشکیلاتي جوړښت او حتی د هغوی پټ مشران په ډاګه کوي. دا آیتونه په اصل کې جوج مأجوجو او د هغوی لاس لاندې فسادي ډلو په اړه نازل شوي دي.

١. د دروغو مذهبي څېره: دا ډله په ډیر چل ول په الله او په ورځ د آخرت د ایمان لرلو پلمه کوي (وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ۞يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّا أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ، سورة البقره ٨-٩ او ١۴م آیتونه).

٢. غیر عادي عقیدې: دا ډله د عامو وګړو ساده عقیدې د کبر او ویاړ له کبله نه مني او "احمقان"یې بولي (وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوا أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ، سورة البقره، ٢:١٣).

٣. عقلي کوږوالی: د دېډلې غړي عقلي او روحي ناروغی (یعنې ناروغه زړونه) لري کومې چې الله تعالی لا پسې ورزیاتوي (فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا، سورة البقره، ١٠م آیت). په دې کې باطل منطق، عجیبه دودونه او جنسي بیلاری شاملې دي.

۴. د یوې مثبتې دندې پریکړه لیک: دا ډله په دروغو دعوه کوي چې په ټولنه کې یوه مثبته او رغنده دنده لري (وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ۞أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ، سورة البقره، ١١-١٢م آیتونه).

۵. پټې غونډې او دسیسې: د ډلې جګپوړه غړي د خپلو لاربنوونکو سره باقاعده غونډې لري تر څو هغوی ته خپله وفاداري څرګنده کړي او خپل فعالیتونه وڅیړي (وَإِذَا خَلَوْا إِلَىٰ شَيَاطِينِهِمْ قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ، سورة البقره، ۱۴:۲). سربیره پر دې آیت د سورة البقره ۷۶م آیت او د سورة آلعمران ۱۱۹ او ۱۲۰م آیتونهوګورئ.

۶. جګپوړه لاربنوونکیې شیطانان دي: د ډلې مشران غړي هغه جګپوړه لاربنوونکو ته راپور ورکوي کوم چې د الله تعالی د وینا له مخې شیطانان بنودل شوي دي (وَإِذَا خَلَوْا إِلَىٰ شَيَاطِينِهِمْ قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ، سورة البقره، ۲:۱۴). دا په قرآن کریم کې د شیطان اوله یادونه ده او دلته شیطان د جمع په حالت کې یاد شوی دی. په راروانو دوؤ برخو کې به زه دا وڅیړم چې دا شیطانان څوک دي او دوی څنګه هغه فسادي ډلې ګوماري، تحریکوي او لاربنوونه یې کوي کومې‌چې د جوج مأجوجو له پاره کار کوي.

په اول فصل کې شیخ عمران حسین یو متمرکز پولي او اقتصادي فساد ته اشاره کوي چې‌پواځې د پاس ذکر شوي سازمان یعنې جوج مأجوج لاسته راوړنه کیدای شي. په څلورم فصل کې شیخ حسین بیا د جوج مأجوجو پیژندنه کوي او پورته ذکر شوي خواصو ته ورته د دوی خوي بوی بیانوي.

## شیطانان: اغیزمن لاربنوونکي چې خوږه او غولونکې ژبه لري

سربیره پر شیطان (ابلیس، د پیریانو پلار)، ستر غولونکی (الغرور)، الله تعالی د پیغمبرانو مخالفت لپاره د انسانانو او پیریانو څخه هم شیطانان ګومارلي (وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا، سورة الانعام، ۶:۱۱۲). دا شیطانان یو بلته طلایي وینا کوي (زُخْرُفَالْقَوْلِ) او یو بل ته ډاډ ورکوي (يُوحِي، پټه یا غیر مستقیمه وینا) چې بیا ترینه د فریب او غولولو (الغُرُورًا) لپاره کار اخلي. هغه خلکچې په آخرت ایمان نه لري، د هغوی خبرو ته به غوږ کیږدي، باور به پرې وکړي او بیا به د هغوی پشان ګناهونه پیل کړي.

# د فساد دا طرح کونکي څوک دي؟

د جوج مأجوجو او د ملکرو فسادي ډلو جګپوړه مشران د بنیاسرائیلو څخه دي.

د پټو فسادي ډلو په یوه بله تشریح کې، د دوی جګپوړه غړو او جګپوړه لاربښوونکو په اړه ویل شوي چېدوی هم د یوې ډلې پورې اړه لري ("کله چېدوی د یو بل سره کوري"وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوا أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ، سورة البقره، ۲:۷۶). دا ډله کومه یوه ده؟

په دغه ځانګړي عبارتکې یوې ډلې ته کوته نیول شوې چې د اسلام د ردولو لپاره دسیسې جوړوي، سره له دېچې په تورات کې د اسلام د پیغمبر ﷺ په اړه څرګندې نښې ښودل شوي دي. دا ډله د بنیاسرائیلو څخه ده چېد دوی د فساد نه ډک چلند د وختونو تیریدو سره بدل نه شو (سورة البقره، ۴۰-۷۳) او نه به په راتلونکې کې بدل شي (زړونه یې د ډېرو کرځول شوي، هیڅ کله به په قرآن کریم ایمان رانوړي، سورة البقره، ۷۴-۷۵). د دوی د دسیسو څخه ډک چلند د غوا په پیښه کې هم روښانه شوی دی (البقره -۷۳ ۶۷ آیتونه). الله تعالی دوی ته امر وکړ چې یوه غوا قرباني کړي او د مظلوم بدن دیې په غوښو اووهل شي. مظلوم د لږ وخت لپاره بیرته راژوندی شو او خپل قاتلانیې په کوته کړل (قَتَلْتُمنَفْسً، تاسی [جمع] یو کس وواژه). د بنیاسرائیلو ګرده ټولنه پر دغه وژنه د پردې اچولو دسیسه کې شریکه وه (وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ، او الله تعالی به ښکاره کړي هغه څه چېتاسییې پټوی).

په قران کریم کې بنیاسرائیل د یهود (الیهود) یا اهل الکتاب په نامه هم یاد شوي. دا وروستی نوم د عیسویانو لپاره هم کارول شوی دی. ځینې وخت د قرآن کریم د قرینې نه معلومیږي چې کومه ټولنه یاده شوې (عیسویان که یهودیان)، خو ټولنه ځینې وختونه څرګنده شوې نه ده او په دې توګه دواړو ته اشاره وي.

الله تعالی فرمایېچې د اهل الکتاب څخه یوې ډلې (د دې نه مطلب یا خو ټول یهودیان دي او یا یې یوه ډله ده) تورات ته شا کړه او پر ځای یې د شیطانانو پیریانو خبرې خپلې کړې (وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ، سورة البقره، ۱۰۱-۱۰۲). دا د شیطانانو او پیریانو خبرېامکان لري په تالمود کې شتون ولري، چې د یهودیانو یو مقدس کتاب دی.

سربیره پر دې، الله تعالی مونږ تا راښاییچې ټول یهودان (الیهود) په کډه ډېر زیار اوباسي (يَسْعَوْنَ، جمع حالت) تر څو فساد خپور کړي (وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا، سورة المائده، ۵:۶۴). په دیکې مذهبي فساد او نور ټول ډولونه فساد شامل دي. نیک عمله اهل کتاب (نیک عمله یهودیان)، چېپه دې ډله کې نه راځي، هغه یهودیان دي چې قرآن کریم مني (سورة آلعمران، ۱۱۳-۱۱۵:۳).

د پورتنیو دلایلو په اساس، زه دې نتیجې ته رسیدلی یم چې هغه انساني شیطانان چې جوج مأجوجو او فسادي ډلو ته لاربښونه کوي حتماً د بني اسرائیلو څخه دي او دوی د پیریانو شیطانانو د لاربښوونو پیروي کوي.

په تیرو برخو کې ما د قرآن کریم د آیتونو په اساس د جوج او مأجوجو تر منځ تړاو روښانه کړ. دا تړاو د قرآن کریم هغه آیتونو باندې بحث لپاره خورا مهم دی چې جوج مأجوج پکې ذکر شوي دي.

## جوج مأجوجو بني اسرائیل خپل ښارګوټي (یروشلم) ته ستانه کړي دي

د سورة الانبیاء، ۹۵-۹۷ آیتونو کې الله تعالی د یو ښار یادونه کړېچې د جوج مأجوجو سره تړاو لري.

﴿وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ۝حَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ۝وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ أَبْصَارُ الَّذِينَ كَفَرُوا يَا وَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا بَلْ كُنَّا ظَالِمِينَ﴾

دغه ښار ویجاړ کړی شوی و او دا آیتونه بیانوي چې د خلکو د بیرته راستنیدو مخه یې نیول شوې تر څو دا لاندیني څو شرایط نه وي پوره:

۱. د جوج مأجوجو خوشې کېدل
۲. د جوج مأجوجو ټولې نړۍ کې خپریدل

(مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُون) لږ تر لږه دا لاندیني تحلیلونه لري:

ا) جوج مأجوج د هرې شاهي او واکمني کورنۍ سره ګډ او خلط شوي او پکې اولادونه لري.
ب) جوج مأجوج ټولو سازمانونو کې ورننوتي (حَدَبیعنې جګ جوړښت، سازمان).
ج) جوج مأجوج د هرې لوړې څخه راخوشېشوي دي (بریدونه کوي او یا هر ځای جنګ نښلوي).

له دې حالتونو څخه معلومیږي چې جوج مأجوج به د ویجاړ شوي ښار خلکو سره په بیرته ستنیدو کې کومک کوي. په شپږم فصل کې شیخ عمران حسین دا آیتونه د یروشلم (بیت المقدس) تاریخ سره تړي. هغه دې حقیقت ته ګوته نیسي چې بني اسرائیل په ربښتیا سره په تیره پیړۍ کې یروشلم کې یو ځل بیا میشته شوي دي وروسته له هغېچې دا ښار ډیر پخوا ویجاړ شوی و او دوی ترینه ویستل شوي وو. دا آیتونه د

اسرائیل د ریاست جوړیدنه او د بني اسرائیلو خپل پخواني ښار ته ستنیدل روښانوي. د شیخ حسین دغه استدلال چې دا کار یوائې د جوج مأجوجو لاسته راوړنه کیدای شي، بیخي سم دی.

دغه حقیقت چې د جوج مأجوجو مشري د بنیاسرائیلو په لاس کې ده، د دغه لاسته راوړنې محرک روښانوي. کوم وخت چې جوج مأجوج په خپله دنده کې بریالي شي نو هغه محال به د ربښتینې ژمنې وخت (الوعد الحق، آخر وخت) رانژدي وي. دا په دې مانا چېد عیسی÷ د بیرته راتګ وخت به نژدې شي. عیسی÷ د بني اسرائیلو له خوا رد شوی و او هغوی هڅه کړیوه چې په دار یې وځړوي. هغه خلک چې د عیسی÷ په ربښتیني تبلیغ یې ایمان نه دردرلود، به دغه وخت خلاصېسترګې د حقیقت په ننداره شي (شَاخِصَةٌ أَبْصَارُ الَّذِينَ، سورة الانبیاء، ۹۷م آیت) او پوه به شیچې اوس اوبه له ورخه تیرې دي او ناوړه برخلیک د دوی په برخه دی.

لاندېني آیتونه د شیخ عمران حسین د هغه استدلالپخلی کوي چېوایېغه ښار چې قرآن کریمکې ذکر شوی بل کوم نه بلکه خپله یروشلم (بیت المقدس) دی. الله تعالی فرمایېچې بني اسرائیل به دوه ځلې په نړۍ کې واکمنی ته رسیږي او بیا به فساد خپروي (سورة الاسراء، ۸ - ۱۷:۴). اوله واکمني تیره شوې (وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا، دغه ژمنه سر ته رسیدلې). زما په اند موږ اوس د بني اسرائیلو دوهمه واکمنیپه سترګو وینو (وَعْدُ الْآخِرَةِپه دغه آیت کېد "وروستی یا آخرې ژمنې[واکمنی ته رسیدنې]" مانا لري. په یو وروسته آیت کې بیا پیشګوېي شوېچې کله وروستیواکمني منځته راشي (هماغه اصطلاح یعنېوَعْدَالْآخِرَةِ کارول شوې)، نو بني اسرائیل به د نړۍ د ګوټ ګوټ څخه یروشلم ته راټول کړی شي (فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا، سورة الاسراء، ۱۷:۱۰۴).

## دجال (کوږه مسیح)، د جوج مأجوجو لارښوونکی

ما پورته دا ثابته کړهچې د جوج مأجوجو جګپوړه مشران د بني اسرائیلو څخه دي، او د دوی مقدس کتابد شیطانانو پیریانو د خبرو نه جوړ دی. د دوی سرلښکر هم باید له بني اسرائیلو څخه واوسي. حدیث د دېپخلی کوي او یو یهودي شخصیت ته ګوته نیسي چې د المسیح الدجال (الدجال د دروغجن، فریبکار یا غولونکي مانا لري) په نامه یادیږي او اشاره یېکوږه مسیح ته ده (اصلی مسیح یعنې عیسی ؛ یهودیانو رد کړیو). نبي کریمغپه ګومان درلودچېامکان لري دجال د ابن سیاد، چې د مدینې منورې یو یهودي وکړی و،په شکل ظهور کړی وي. حدیث بیا دا هم وایېچې دجال په عین وخت کې په یو بل شکل کې په یو

تاپو کېهم وجود درلود. ظاهره ده چې دجال په مختلفو مرحلو او څېرو کې ظاهرېږي. شیخ عمران حسین په خپل کتاب "بیت المقدس په قرآن کې" د دجال مختلفې مرحلې بیان کړې دي.

## جوج مأجوج په مذهبي فرقو کې ورننوتې

ابن مسعود ط (مشهور صحابي) په قرآن کریم کې د فسادي ډلو د تشریح په اساس، د مسلمانانو فرقې د "اسلام یهودیان"په نامه بللې وې. د هغه مطلب له دې څخه دا وچېدوی هم د یهودیانو د لاس لاندې فسادي ډلو پشان خاصیتونه څرګندول. د حدیث له مخې ټولې فرقې به په دوزخ کې ځای ولري. یواځې هغه ډلهبه ژغورل کیږیچې د قرآن کریم او حدیثو پیروي کوي.

په اول فصل کې شیخ حسین اسلامي فرقو ته نوې کتنه کوي اودوی ننګوي چې د جوج مأجوجو په اړه درست دریځ پیدا کړي. ځینې عیسوي، هندو، بودایي، بیدینه او ډیر څښتنې (مشرکان) فرقې هم د فسادي ډلو پشان خاصیتونه لري.

طبعاً دا فرقې تر ټولو ځواکمنې فسادي ډلې یعنې جوج مأجوجو سره ملګرتیا کوي. دم محال کیدای شي د دې فرقو مشران د دجال سره په همغږی کې بوخت وي.

ښایي الله تعالی ځکه مسلمانان یهودیان او عیسویان د ملګرو یا د ساتندویو (اولیآء) په حیث نیولو څخه منع کړي دي. الله تعالی خبرداری راکوي چېدوییواځې د یو بل ساتندوي او ملګري دي (بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ، سورة المآئده، ۵:۵۱). شیخ حسین په خاصه توګه دې ټکي ته اشاره کوي چې داروپایي یهودیانو او عیسویانو تر منځ یووالی پخپله د جوج مأجوجو راڅرګندیدل دي.

## پایلې

شیخ حسین د جوج مأجوجو د راخوشې کېدو روحاني، ټولنیزې او سیاسي پایلو باندې ژور فکر کوي. زما په اند تر ټولو مهمه پوښتنه دا ده: څه وکړو تر څو د اغیزمنو شیطاني لاربښوونکو مشرانو د خوړو خبرو تر تاثیر لاندې رانشو او په ظاهره غوره دندو کې د ګډون څخه، چې په اصل کې زیانمنه فسادي دندې دې، ځانونه وژغورو. سورة الکهف کېږي ځواب شته: د ښارونو څخه باید ووځو. یو حدیث هم د دېتګلارې سپارښتنه کوي. په اووم فصل کې شیخ حسین د "اسلامي باندې" ورانديز کړی دی.

د امت (نړیوالپاسلامي ټولنې) ټولنیزپیوستون او استحکام لا پخوا ویجاړ شوی دی. اسلامي خلافت بیا تر هغې نشي راژوندی کیدای تر څو چې د نړۍ واکې د جوج مأجوجو په لاس کې وي. د سورة الصف ۱ نه تر ۱۴م پورې آیتونو کې د نړۍ تاریخ او راتلونکو پیښنو ته یوه کتنه شوې ده. د بني اسرائیلو هغه شان کوږمغزي غړي چې موسی او عیسی‡سره یې‌هم خیانت کړیوو، به بیځایه هڅهوکړي چې‌الهي رڼا له منځه

رسول الله ٥ فرمایلي "دا نړۍ د یو داسې لباس په مثال ده چې سر تا سره څیرې وي او صرف د یو تار په واسطه نښتې وي او کوم چې ډیر ژر پرې کیدونکی وي."
(سنن بیحاقي)

یوسي. دوی به خپل کوټه مسیح یعنې دجال، د عیسی÷ په ځای وړاندې کړي. د جوج مأجوجو څخه جوړ، د دوی ځواکونو ټوله نړۍ نیولې. خو امام مهدي÷ به د دوی پر ضد آخري جنګ پیلوي او عیسی÷ به یې ختموي او په نړۍ به د اسلام مطابق واکمني کوي.

تمام ادي
صفر ۱۴۳۰

# لومړی فصل

## په اوسنۍ زمانه کې د قیامت د ورځې د نښنو اهمیت

د "آخرې ورځې نښو"او یادقیقاً د"آخرې کړۍ" د موضوع پوهنه، کومهکیچې دجال او جوج مأجوج هم ځای لري، د یو څو لاملونو له مخې خورا مهمه ده. تر ټولو مهمه دا چې کله اسلامي عالمان د دې پوهې په توسط د اوسنۍ مختلسې او مخ په ړنګیدو نړۍ ستراتیژکي، سیاسي، اقتصادي، مذهبي او روحاني حقیقت

روښانولو ته مخه کوي نو دوی په عین وخت کېد خپلو ټولو سیالګرو نیمګړتیاوې هم په ډاګه کوي، که هغه مذهبي سیالان وي او که مدني یا خپل منځي وي او که بهرني.

که د ځانګړو موضوعګانو لکه د عیسی÷ بیرته راتګ، دجال او د جوج مأجوج، په اړه د لیکوالنظر په صحیح توګه د تیرې ورځې برتانوي سلطه او د نن ورځې امریکایي سلطه روښانوي او د راتلونکې ورځې یهودي سلطه اټکلوي نو بیا پخپله خبره ولاړ انتقاد کونکو، که هغه یهودي، عیسایي، مسلمان او یا نور وي،لخوا په ګډه زما د نظر تردیدول به پرته له احمقتوب څخه بل څه نه وي. "بیت المقدس په قرآن کې"په نوم کتاب په ۲۰۰۲ کې چاپ شوی او سره د دېچې دا کتاب ډیر مشهور دی، زه د دې کتاب اساسي موضوع ته اړوند یو عالمانه تردید ته لا تر اوسه سترګې په لار یم.

په نړۍ کې د نویو پیښو رابرسیره کېدنه د"بیت المقدس په قرآن کې" او "اوسمهاله نړۍ او جوج مأجوج —د اسلام په رڼا کې"په نوم د کتابونو تصدیق کوي. هیله ده چېانتقادکونکي به دېمنلو ته وهڅیږېچې عیسی÷ به یوه ورځ بیرته راځي او دا هم ومني چې دجال،کوټه مسیح او جوج مأجوج لا پخواه راهیسې نړۍ ته راخوشې شوي دي او دوی اوس د نړۍ په چارو کې برلاسي عاملین دي.

د جوج مأجوج د موضوعېبساری اهمیت له دې څخه هم په ډاګه دی چې ددېموضوع اساس په قرآن کې وجود لري، حال دا چې د "دجال"کلمه په قرآن کې هیڅ نه ده یاده شوې (که څه هم د قرآن کریم ځینې عبارتونه په غیر مستقیم ډولورسره تړاو لري). د دې موضوع په واسطه باید اسلامیعالمان هڅه وکړي تر څو د نړۍ د پوهاندو پام د "آخری ورځې سترو نښو"ته په داسې حال کېچې دغه نښې اوسنۍ زمانهباندې ستره اغیزه لري، راوګرځوي.

# ظاهره او واقعیت د یو بل ضد دي

د اوسنۍ نړۍ حقیقت څه رنګ دی؟ زمونږ لومړی ځواب دا دی چېظاهره او واقعیت د یو بل ضد دي، او په داسې حال کېچېداسې خلک شتون لریچې د دجال پشان په یوه سترګه (باندینۍ) ګوري او وایيچې اوسنۍ نړۍ تر ټولو غوره ده، بل خوا ته بیا د سورة الکهف د خضر÷ پشان خلک دي څوکچې په دواړو سترګو (باندینۍ او دننۍ) ګوري او اوسنۍ نړۍ تر ټولو بده بولي.

نبي کریم ﷺ په یو حدیث کېچې په صحیح مسلم کې ثبت دی، جوته کړېچې دجال به د دوو شیانو سره راځي، چې"یو سیند او یو اور" دی، خو د هغه"سیند" به په حقیقت کې یو "اور" وي، او د هغه"اور" به "د سیند یخې اوبه وي". ډیری خلکو، په شمول د نامتو اسلامي عالمانو، په دېدروغو باور وکړچې دا د "امریکا ځینې ګرکه"وهڅېد امریکې دښمنان یې د سخت دریځه اسلام په لمسونپه دې وېارولچې په امریکه

د ۱۱م سټمبر بریدونه پلان کړي او بیا پیلي کړي. داسې خلک تیروتل ځکه چېدوی قضاوت د ظاهرې په بنسټ وکړ او د پیښې اصلي لاملونو حقیقت ته یې کتنه ونکړه. د دغې بدمرغۍ ورځې نه نیولې تر نهپورې، اکثره داسې خلک د تش په نامه "اسلامي ترهګرۍ" پر ضد د غربي نړۍ بې انصافه جنګ ملاتړ کوي، ځکه چېدوی هم دا وایيچې هو ځینې مسلمانان سخت دریځه دي او داسې کارونه کوي اګرکه دا ټول دروغ دي او د اسلام په ضد د جنګ له پاره یوه بانه او زمینه سازي ده. خو دا تش په نامه مسلمانان په دې نه پوهیږي او د خپلې ناپوهۍ له کبله په غیرمستقیم ډول د غربي نړۍ ملاتړ کوي.

د 'ترهګر یا تروریست'(یعنې هغه څوک چې د غربي/اسرائیلي ظلم پر ضد غبرګون ښايي)افسانوي تعریف دې خلکو ته تر هغېروښانه نه شو تر څو چېهغې کندې نه د بیرته راوتلو وخت تیر وچېدوی پکې غورځیدلي وو. دوید قرآن کریم په سورة الحجرات کې بیان شوي دېالهي خبرداري ته هیڅ پام ونکړ:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ﴾

"ای هغو خلکوچې ایمان یې راوړی، کله چې یو فاسق تاسی ته د یو خبر سره راشي، نو معلومهکړۍ رښتیا، داسې نه چېتاسی نا پامۍ کې نورو خلکو ته زیان ورسوۍ او بیا وروسته په خپلو کړو پښېمانه یاست (په چا د دروغو تهمت لګولو په سبب)" (قرآن کریم، سورة الحجرات، ۴۹:۶)

هغه څوک چې د ۱۱م سټمبر په رسمي جوتونې وغولیدل، باید خبر شي چېپه امریکا د بریدونو مرتکبینو د دغې پیښې څخه مخکې او وروسته ډیر دې ته ورته عملونه سر ته رسولي، د مثال په توګه په لندن، مدرید، بمبي او داسې نورو ښارو کې د ترهګرۍ پیښې. او تر څو چېدوی د دجال او جوج مأجوجو په هکله زده کړو په کومک د داسې پیښو حقیقت باندې پوه نشي، داسې خلک به بیا هم همداسې غولیږي او بیا هم!

دا زما د دغو موضوعګانو په اړهپوهنه وهچې زه یې د غولیدو څخه وژغورلم.د ۱۱م سټمبر د بریدونو په وخت د څو ورځو دننه دننه زه د دېدروغجنېد ترهګرۍ پیښې او دې ته ورته یوې بلې پیښې تر منځ تړاو کشف کولو کې بریالی شوم. دا بله پیښه د ۱۹۱۴ په دوبي کې منځته راغلې وه او د لومړي نړیوال جنګ لامل ګرځیدلې وه. 'پر امریکا برید ته یو مسلمان غبرګون'په نوم لیکنه د ۱۱م سټمبر نه وروسته د دریو میاشتو دننه خپره شوهچېپکې دا خبره لیکل شوې وه"زه په دې باور لرم چې هغه خلکچې بالاخره په ټوله نړۍ د حکومت کولو په لټه کې دي، د دې ترهګرې پیښې پړه په غاړه لري، او دا چېاسرائیلي موساد او ملګرو یې ورته د ۱۱م سټمبر دغه دنده پلان کړې او سرته رسولې ده".

'اسلامیسفرنامه' ۷ کاله وروسته ددغې ننګونې سره چاپ شوه: "زه د ۱۱م سټمبر په سحر د امریکې په کینیډي هوايي ډګر کېومچې کله امریکايي سي آی ای او اسرائیلي موساد په شریکه ښکته منهاټن کېورلګ

ټریډ سنټر باندې برید وکړ او رنګ یې کړ. بیا یې په دروغو د دغې ترهګرۍ عمل پړه په عربانو او مسلمانانو واچوله. د یهودي-عیسایي مرموزه او بې دینه ټلواله چې د اروپایي-یهودي ریاست، اسرائیل، په سپارښتنه په نړۍ واکمنه ده، کیدای شي زما دا دعوه رد کړیچې دا عمل د سي آی ای او موساد لخوا ترسره شوی دی. دوی به همدا رنګ غبرګون ښکاره کوي او دا به وایېچې د امریکې حکومت په عربانو او مسلمانانو پړه اچولو کې په حقه دی. په داسې حالکې زه دوی ته او نورو هغو خلکو ته چې ددویغوندې نظر لري بلنه ورکوم چېراځۍ په ګډه غوښتنه وکړو چې د الله تعالی او پیغمبرانو لعنت دې وي پر هغه چا ځوکچېپه دېاملهکې په دروغو په نورو پړه اچوي او پرې تهمت لګوي".

## آیا دا ټولې پیښې تصادفي دي؟

د 'قیامت د ورځې د نښو' موضوع کې پوهنه یو مومن ته دا توان ورکوي چې د اوسنۍ نړۍ مرموزه او عجیبه پیښو په حقیقت پوه شي او بیا ورته مناسب غبرګون څرګند کړي. دغه پوهنهلاندې ذکر شوې پیښې روښانولیشي:

- اوسمهاله نړیوالتوب (Globalization)چې ټول بشریت په یوې بیدینهاو خسا نړیواله ټولنه کېجذبوي.
- د یونړیوالحکومت او نړیوالې سیاسي دکتاتورۍ برسیره کیدنهچېدولتي خپلواکې تر پښو لاندې کوي.
- یو نړیوال اقتصاد چې بنسټ یې په سود ایښودل شوی او کوم چې یو لور تهتلپاتېغریبي او بللور ته تلپاتېشتمني زیږوي.
- ژمنه سر ته نه رسوونکو کاغذي اسعارو (پیسو) څخه جوړ یو درغلګر او ناچله نړیوال پولي نظام کوم چې دا امکان برابروي چې د بې ارزښته (کاغذ) څخه شتمني جوړه شي او بیا د نورو په زیان ځینې وګړي د دې نظام له لارې ځانونه بیشانه شتمن کړي. سربیره پر دې، کله چې پیسې خپل خیالي ارزښت له لاسه ورکړي نو په سببیې ډېر زیانمن او یو څو شتمن شي.
- په نږدې راتلونکې کې د واحدې نړیوالې بریښنایي پیسې په بنسټ د یو نوي نړیوال پولي نظام جوړیدنهچې واکې به یې د اسرائیلي دولت لاس لاندې یو نړیوال بانکي نظام په لاس کېوي.
- د ښځو او نارینوو تر منځ د برابرۍ د پلویانو اوښتونچې'شپه' (چې د ښځې مانا ورکوې یا سمبول یې دی) په 'ورځ' بدلوي او په دې ډول د کورنۍ د دړې وړې کیدو سبب ګرځي.

- د سات تیرۍ او سپورت سترې میلې د مثال په توګه د اولمپیک لوبې، د فوتبال او کرکټ نړیوالې اتلولۍ، د مس ورلډ او مس یونیورس په نوم د ښځو دښایست سیالۍ، د امریکا د ولسمشرۍ ټاکنې چې دا ټولې په ډېره هوښیارۍ او چالاکۍ سره جوړې شوې پام غلطونې دې چې په ډېره ښه توګه د اوسنۍ نړۍ د بدمرغه اصلیت څخه د خلکو پام بلې خوا ته اړوي.
- تلویزون (په شمول د اسلامي کیبل) چې حقیقت ګډوډوي او د هغو خلکو ماغزه مینځي څوک چېهر څه چې د تلویزون په پرده ګوري مني یې. اسلامي کیبل (اسلامي کانالونه) په ډېره هوښیارۍ صرف ۵ فیصده زهر خلکو ته پیچکاري کوي.

رښتیا خو دا ده چې دا موضوع قانع کونکي شواهد وړاندې کوي د کومو په توسط چې یو لوستونکی بیا د رښتیني او باطله دین تر منځ توپیر کولای شي او په همدې ډول په یو رښتیني مذهب کې دننه باطلې فرقې پېژندلای شي. د باطلو عقیدو او فرقو تر منځ دغه نیمګړتیا مشترکه ده چېدوی پورته ذکر شوو پیښو پشان د نړۍ پرله پسې راتلونکې پیښې په سمه توګه نشي تشریح کولای.

آیا دا ټولې پیښې د تصادف له کبله منځته راغلي؟ که نه، نو بیا داسې څه شته چېپه دې پیښو رڼا واچوي؟ زمونږ استدلال دا دی چېپواځې'په اوسني دور کې د قیامت د ورځې نښې'دې عجیبه پیښو باندې رڼا اچولایشي، او 'بیت المقدس په قرآن کې'په نوم کتاب کې مو دغې موضوع ته یوهاساسي کتنه کړیده. الله تعالی فرمایلي چې پر یو ویجاړ شوي ښار بېښدیز لګولایو، چې ددغه ښار وګړي تر هغې دا ښار بیرته نشي خپلولای تر څو چې جوج مأجوج راخوشې او پر هر لور خپاره شوي نه وي (قرآن کریم، الانبیاء، ۲۱:۹۵-۹۶). په اوسنۍزمانهکې د قیامت د ورځې د نښو تفسیر او تعبیرلپاره د دغې ښار په ګوته کول د بنسټ حیثیت لري، او دا چې دا ښار بل کوم یو نه بلکه د یروشلم ښار دی. (د قرآن کریم ځینې آیتونو د تفسیر او مانا لپاره زما د کارتوکې په هکله یوه اړینه څرګندونه په دوهم فصل کې ولولۍ چې د څېړندود په هکله لیکل شوی دی).

د اوسنۍزمانې حقیقت دا دی چېکوټه مسیح، دجال د ځمکې په سر د خپلې دندې اوج ته رسیدو، یعنې د رښتیني مسیح په شکل ظهور، ته نژدې شوی. یهودیان یروشلم ته لا پخوا بیرته ستانه شوي او بیرته پېنیولی. په هغه مقدسه خاوره کې یو دروغجن دولت، اسرائیل، وختیګومارل شوی او ځواک یې د وخت تیریدو سره (او د جوج مأجوجو لاس لاندې ملګرو ملتونو د امنیت شورا کې د امریکا لخوا د بیشماره ویټو په کومک پالل کیدو له کبله)تر دې حده زیات شویچې ډېر ژر به د امریکا په ځای د نړۍ زبرځواک شي. د اسرائیل یو "ځوان"، "هډور" او "مشکونډۍ" واکمن به ډېر ژر اعلان وکړي چې هغه مسیح دی. خو په اصل کې به هغه دجال،کوټه مسیح یا ضد عیسی وي او هغه د خپلې دندې په لړ کې تر دې پړاوه پرمختګ هیڅ کله نشو کولای که چیرېد خپلو پیاده سرتیرو یعنې جوج مأجوجو کومک ورسره نه وای.

د لیکونکي دغه اساسي نظریه چې'په اوسني دور کې د قیامت د ورځې نښې' ماناکوې او تشریح یې کوي، باید د خپلې ریښتینولۍ لپاره وازمایل شي او نه کومه بله څو کاله مخکې وړاندې شوې ځانګړې او بې اهمیته څرګندونه. اسلام حق دی او حق باید د واقعیت شننه وکړي. نو له دې کبله لوستونکي باید حیران نشي که چیرې مونږ په دې فصل او دې کتاب کې دې مرکزي موضوع ته بیا بیا راستانه شو. د دې وجه به دا وي چې لوستونکي باید پوه کړو چې ریښتینېپوهنهداسېیو نظر پورې کلکه نه نښلي کومچېپه وار وار د پرمختلونکي او بدلیدونکي واقعیت صحیح تفسیر کېپاتې راغلی وي.

د دغې موضوع په اړه غیر عادي علمي چوپتیا او ورسره بې کیفیته کتابونه چې اوسني دور کې چاپ شوي دي، جایزه شکونه رابرسیره کوي. دکتور تمام ادي، د قران ژبپوه، د لیکونکي سره د لیکونو د تبادلې په ترڅکې پر دغه موضوع د څرګندونو په وخت جوج مأجوجو ته خاص پام ګرځولی دی. د هغه په اند حقایقو کې قصدي لاسوهنه شوې تر څو د دې موضوع صحیح پوهې او تفسیر په لار کې خنډونه کیښودل شي. هغه لیکي:

"فکر کوم چې ماسره به موافق وياست چې اسلامي ادبيات، په شمول د تفاسيرو او پر حديثوتبصرې، سراسر تر اغيزې لاندې او سانسور شوي تر څو په دغه حقيقت،چې جوج مأجوج د رسول اللهﷺد ژوندانه په وخت خوشې شوي، يا خو پرده واچول شي او يا بله بڼه ورکړلشي."

دکتور ادي د دې کتاب پیلیزه کې زیاتوي چې:"په بل طرف په تفسیرونوکېجوج مأجوجوته اړونده نیمګړتیاوې او غورځونې دومره په لویه کچه دي چې مونږ اوس یو داسې تفسیر هم نه شو پیدا کولایچېدې امکان باندېچې ګواکې جوج ماجوج راخوشې شوي دې، پکېلږ شان بحث هم شوی وي. تر څو دا معلومه کړو چې قرآن په ریښتیا سره د جوج مأجوجو په اړه څه وایي نو باید د صفر نه شروع وکړو."

دا کتاب ستاسې پام ریښتیني مسیح، عیسی ابن مریم÷او د هغه اعجازي راستنیدو ته را اړوي لکه څنګه چېرسول اللهﷺیې په اړه پیشګویې کړیده او دا چې همدا به د آخر وخت 'تر ټولو ستره نښه' وي (القرآن، سورة الزخرف، ۴۳:۶۱). دا د تاریخ په اوږدو کې تر ټولو ستره راتلونکې پیښه ده او اوس دومره نژدې شوې ده چېامکان لري هغه کوچنیان چې اوس په ښوونځې کې دي، دا پیښه تر سترګو کړي.

دې موضوع ته اړوند دنبي کریمﷺاحادیث روښانویچې د ریښتیني مسیح د راتلو نه مخکېکوټه مسیح،دجال باید لومړی نړۍ ته راڅرګند شي او خپله دنده باید تر سره کړي یعنې د مسیحیتدعوه وکړي. منطقي پایله دا وایيچې دجال به د یروشلم څخه په نړۍ د واکمنۍ هڅه کوي (د اسرائیل باطل دولت څخه) او بیا به دا اعلان کوي چې" زه مسیح یم". یواځې په دغه وخت به عیسی÷، ریښتینی مسیح نړۍ ته راستنیږي تر څو دجال نه پرده لیرې کړي، مخه یې ونیسي او بیا یې نابود کړي. لکه څنګه چې حدیثونو کې راغلي، وروسته له دې به هغه الله تعالی نه غوښتنه وکړيچې الله تعالی د جوج مأجوجو نړیوال شیطاني نظام ته د پای ټکی کیږدي.

د مانا کولو دغه غونډال(systemofmeaning) دی چې مونږ په دې توانوي چې دجال ته ګوته ونیسو چې د جوج مأجوجو د نړیوال نظام اصلي طرح کوونکی دی او د دې نظام له لارې په ټوله نړۍ د واکمنۍ خپله دنده ترسره کولو لپاره ځان ته لاره هواروي. دجال د منځنیو پیړیو په وخت هم هڅه کړې وهچې د صلیبي جنګونو له لارې د فلسطین واک تر لاسه کړي، د اسرائیل دولت ځایپهځای کړي او بیا یهودي سلطه قایمه کړي یعنې یو نړیوال اسرائیلیدکتاتوري په ټول بشریت وتپي. هغه د اسلامي خلافت،چې هغه وخت یې وجود درلود، په شتوالیکې دې دنده کې بریالی نشو. هغه خپل خلک (جوج مأجوج) د خپلې هرې ستونځې هوارولو لپاره تل په کار اچولي. (د تفصیل لپاره 'بیت المقدس په قرآن کې' او 'سورة الکهف او اوسنۍ زمانه'وګورۍ).

په 'سورة الکهف او اوسنۍ زمانه' نومې کتاب کېمو مخکې هم دا خبره ذکر کړېچې دا سورة 'د آخرې ګړۍ نښو' په تفسیر کې د کنجي حیثیت لري. نبي محمدﷺمسلمانانو ته نصیحت کړیچې ددجال د فتنو او فسادونو څخه د ځان ژغورلو لپاره د سورة الکهف لومړي لس آیتونه تلاوت کړي، او په همدې سورة کې د جوج مأجوجو موضوع لومړي ځل لپاره معرفي او بیان شویده.

دا ډیره د پام وړخبره ده چې دا سورة د یو داسې آیت سره پیلیږي چې یو ځانګړي قوم ته زمونږ پام راګرځوي څوک چېپه دېباور دیچې الله تعالی (نعوذبالله) یو ځوی لري:

﴿وَيُنذِرَ الَّذِيْنَ قَالُو اتَّخَذَ اللهُ وَلَدًا﴾

"او هغو خلکو ته اخطار ورکړي څوک چېوایي الله تعالی یو کس د ځوی په صفت نیولی."(قرآن کریم، سورة الکهف، ۱۸:۴)

دا سورة بیا وړاندې د یو څو ځلمیو کیسه بیانوي چې په زړونو کې یې ایمان درلود (او د مثال په توګه د ګیرو پریښودو څخه نه ډاریدل) او د خپلو دښمنانو چې د اسلام سره په جنګ کې وو، له ویرې تیښتې ته مجبوره شوي وو. دغه دښمنانو د الله تعالی په ځای د نورو خدایانو عبادت کاوه. اوسنۍ نړۍ چې دې هم د اسلام پر ضد جنګ روان کړی، د همدا شان خلکو څخه جوړه ده. دا د دجال قوم دی او دوی تنګې او لیواله مسلمان ځلمي نیسي او بیا یې د ګوانتانامو پشان مرکزونو کې دولتي ترهګرۍ او شکنجو لاندې راولي. د سورة الکهف ځلمي په یوه سمڅه کې پناه واخلي. دوی دا کار د خپلو ایمانونو د ساتلو لپاره وکړي. دوی بیا الله تعالی څخه د کومک سوال وکړي. الله تعالی دوی په خوب ویده کړي او دوی هلته د ۳۰۰ کالو لپاره په خوب ویده پراته وي. الهي مداخله دوی د زیان څخه وژغوري. سورة الکهف وړاندې بیا د دې کیسې او د فتنو او ستونځو څخه ډکې یوې راتلونکې زمانې (د فتن دور) په اړه الهیخبرداري (وعد) تر منځ یوه اړیکه ټینګوي. کله چې دا وخت راورسیږي نو بیا به د آخرې ګړۍ (الساعة) د نښو یوه پرله پسې سپړنه تر سترګو کیږي.

﴿وَكَذَٰلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوا أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَأَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَا.... ﴾

ژباړه: "او په دېتوګه مونږ د دوی کیسې څخه خلک خبر کړل، تر څو دوی (یعنې بشریت) په دې پوه شي (هر کله چې دا موضوع څېړل کیږي) چې د الله تعالی ژمنه (د یو دور په اړه چې د فتنو او ستونځو څخه به ډک وي) ربښتینې ده، او دا چېآخره ګړی به بې له شک او شبهې راځي..." (قرآن کریم، سورة الکهف، ۱۸:۲۱)

الله تعالی او د هغه پیغمبر،نبي محمدﷺد فتن کوم دور په اړه چې خبرداری ورکړی هغه وختي رارسیدلی دی! د نړۍ مسلمانان د 'ترهګرۍ پر ضد جنګ'په بانه اوس په نښه دي او ترور کیږي، چېپه سورة الکهف کې ذکر شوي د 'اسلام پر ضد د جنګ'یو ځل بیا پیښیدنه ده. لوستونکي باید له دې کیسې څخه پند واخلي او پوه شي چېد دې جنګ واقعیت په اصل کې د 'آخرې ګړۍ یوه نښه'ده. دا سورة د دجال د هغه قومپیژندنه کې هم مونږ سره کومک کوي چې د اسلام پر ضد یې جنګ تود کړی او رابښایي چه دا د جوج مأجوجو ډله ده. دویداسې یو خلک دي چېوايي الله تعالی ځانته یو څوک د ځوی په صفت نیولای!

مسلمانان مجبوره دي چې د خپل ایمان له ساتلو سره د اسلام په ضد جنګ څخه روغ رمټ وتلو لپاره د سورة الکهف ځلمیو ته ورته تګلاره خپله کړي. د هغوی د اسلام په ضد جنګ ته غبرګون دا ووچېدویدغه شیطاني توپان ته مخامخ په جنګ ورنغلل. د دې په ځایدوی یو ستراتیژکي شاتګ وکړ او په یوه سمڅه کېیې پناه واخسته.

د نن ورځې د اسلام په ضد جنګ به تر هغې لا پسې تودیږي تر څو چې په ټوله نړۍ د اسرائیل یوه شیطاني،سیاسي، اقتصادي، مالي او بې له کومه شکه یوه پوځیدکتاتوري نه وي تپل شوي. خو اسرائیل باید لومړی یو ستر جنګ یا جنګونه پیل کړي. دا جنګ د امریکا او هند له خوا په ګډه د پاکستان په اتومي کوټونو بریدونو او تر څنګ یېد ایران په اتومي مرکزونو د اسرائیل بریدونو بڼه کېدای شي ولري. دا شونې ده چېپه دې جنګ کې اتومې وسلې وکارول شي. د ممبي په ښار د ترهګرۍ عملیات، چېد دې کتاب پای ته رسیدو په وخت منځته راغلل، په اصل کې په پاکستان د برید لپاره لاره هوارول وو تر څو دا هیواد د اتومې وسلو لرونکو هیوادونو د ډلې څخه وویستل شي.

مسلمانانبه داسې وخت کې دومره زور او زیاتې لاندې راوستل شيچېدوی به ستراتیژکي شاتګ ته مجبوره شي، تر څو د ښارونو څخه لیرې ځایونو کې د پناه اخستو له لارې د جوج مأجوجو بدمرغه توپان څخه ځانونه وساتي. رسول اللهﷺ کټ مټ همداسې یو وخت اټکل کړیو کله چېیې دا نصیحت وکړ:

د ابوسعید الخدری څخه روایت دی چې رسول الله ﷺفرمایلي، "داسې یو وخت به راشي چې د مسلمان تر ټولو ښه اساسه به د هغه میږیوي، کومې چې به د غرو څوکو او هغه ځایونو ته بیایې چیرته چې باران اوري، تر څو د خپل دین سره د ستونځو او فتنو څخه تیښته وکړي."(صحیح بخاري)

يواځې دا شان وروسته پاتې ټولنو کې دا شوني ده چې دومره خپلواکي وجود ولرېچېږاتلونکې کې بيا داسې مسلمان ځلمي وروزل شي د چا د ملا تيرونه چېفولاد څخه جوړ وي. يواځېداسې مسلمانان به د ظلم مخنيوی وکړی شي. او يواځېدوی به د يو بدمرغه مسيحياسرائيلي دکتاتوری سره د سولې ټېير ته سر تيټ نکړي کومېچې په بيګناه مسلمانانو ظلم روان کړی او د خپل ظلم په وينو سرې ولجې يې کلکې نيولي، په خاصه توګه په مقدسه خاوره (فلسطين) کې.

هر هغه مذهب يا مفکورهچې د ريښتينولۍ دعوه کوي بايد د داسې عجيبه پيښنو اصليت بيانولو توان ولري لکه د نن زمانېنړيوال سياسي، اقتصادي، مالي او پوځيدکتاتوري چې په ټول بشريت تپل شوې ده. دا دکتاتوري د اسرائيل د دولت مرموزه کردار سره چې په نړۍ کېيې لوبوي، ښکاره اړيکه لري. د دا رنګ پيښنو جوتولوکېپاتې راتلل د ريښتينولۍ دعوه که باطله نه نو لږ تر لږه شکمنه حتماً ثابتوي. دا ځکه چې دا برسيره کيدونکې پيښې په چټکۍ سره د مذهبونو، عقيدو او ډلو تر منځ سياليو کې يوې نتيجې ته رسيدو لور ته کش کوي. زمونږ په استدلال دا پيښې بايد د 'آخرې کړۍ د نښو' په حيث وپيژندل شي.

هندويزم، يهوديت، بدايزم، عيسويت، اسلام او مرموزه اروپاييهودي-عيسوي يووالی،چا چې اوسمهاله غربي بيدينهتمدن زيږولی، ټول د يو بل سره په سيالۍ د ريښتينولۍ دعوه کوي او تر ټولو آخر نومول شوی په دې هکله تر ټولو لوړغږی دی. نو بيا دوی په نړۍ کېرابرسيره کيدونکې ددې عجيبه پيښنو کوم ډول تعبير کوي؟

څوارلس سوه کاله وړاندې، رسول اللهﷺ، چې ليک او لوست يې هم زده نه و او چا چې دوه ځله دمشق ته د تجارتي سفرونو نه علاوه کله د عربستان نه قدم هم بهر نه و ايښی، د راتلونکې وخت د ډيرو عجيبه پيښنو په اړه له مخکې نه خبرداری راکړی. د رسول الله ﷺ د وينا له مخې دا پيښېبه د 'آخرې کړۍ نښې' وي. رسول اللهﷺ د مثال په توګه فرمايلي چې:

- "ښځې به نارينووته ورته جامې اغوندي". ښځې نن سبا کورتۍ او پتلون او حتی نيکټايې اغوندي چې نارينه جامه ده، او بانه کويچې دا د کار جامه ده. يوې ښځېچې د ترينيداد په هلټن هوټل کې (چې د مسلمانانو لخوا چلول کيږي) څوارلس کاله کار کړی او د ښه کار له کبله ستايلې شوې هم وه، په دې نژديو کې د سپيو پالنې باندې وګومارل شوه ځکه چې هغې يوې نوې کاري جامې ته نه وکړه چېنارينؤ ته ورته جامه وه. ښځې اوس 'شين جينز'هم اغوندې چې کټ مټ د نارينه پتلون نقل دی. دوی دغه کار د عصري ښځينه اوښتونله کبله کوي چې د دجال له خوا جوړه شوې دسيسه ده. دجال ښځېبه دې غولولې دي چې د ميندو او ميرمنو په حيث خپلې اساسې دندو ته شا واړوي او پهځايې د نارينؤ کارونو ته لاس واچوي. پايلهيې دا شوهچېډيری کوچنيان داسې ميندې لري چې کله وي او کله نه، او دا د دوی لپاره يو غمجنه تجربه ده. ځينېښځې بيا ځکه نارينه جامې اغوندي چې ځانونه د نارينؤ پشان ښکاره کړي او نورې ښځې ځان خواه ته راکاږي او په دې توګه د ښځو

ترمنځهمنوړیزه اړیکو لپاره موقع برابریږي.

- "ښځې به په جامه کې وي خو بیا به هم بربنډې وي". په جامه کې لغړتوب د هغو ښځو لپاره اوس عادي خبره ده کومې چې د دجال ښځینه اوښتون د اغیزې لاندې راغلي دي. لومړی د زنګانه نه ښکته پنډۍ لوڅې شوې. بیا د لمنې کړښه په پورته کیدو شوه تر دې چې د زنګانه نه پورته ورسیده او د محرمو زیرجامو ښکاره کیدواندیښنه پیدا شوه. د تنګو جامو اغوستنې د تصور لپاره څه پرینښودل او ټولې زنانه شتمنۍ یې په ډاګه کړې. د لمبا لپاره تنګې او ریښو پشان جامې خو بیخي د لغړتوب سره کوم توپیر نه لري. د دا راز ښځینه بې سترۍ طبیعي پایله دا وه چې یو جنسي انقلاب منځته راغیچې جنسي اړیکې یې لکه د لمر شغلو په شان یو عادي شی وګرځولې. نکاح او د نکاح سره تړلې ژمنې د دا ډول آزادو نوړیزه اړیکو مخکې یو خنډ جوړ و. له دې کبله د نکاح او واده عنعنه باندېداسې بریدونه ښخ شول چې اوس دا د ورکیدو په حال کې ده. جنسي ازادۍ او په نکاح بریدونو، په خپل وار د کورنۍ په تاسیس کې ویجاړونه وکړه او بالاخره به د ټولنې د ړنګیندنې لامل وګرځي. هر هغه څوک چې د هغه څه نه چې الله تعالی ترینه ممانعت کړی مخ اړوي، الله تعالی دې د هغه د زړه رڼا کې لا ډیروالی راولي. آمین.

- "نارینه به ښځو ته ورته لباس کې وي". څوک چېریره ولري هغه نشي کولای د ښځو جامه واغوندي. د نارینؤ له مخونو څخه د ږیرو ورکیدل په اوسني غربي تمدنکې لاپخوا راهیسې دود دی، او د نارینو باقي نرۍ باندیبې هم خپله اغیزه کړې. دا دود دجال پورې تړلې د دې حیرانونکې وینا رښتیاکیدنې ته لار برابروي. سعودي 'د ګیرې پورې ریشخند' د اسلام په زړه، عربستانکې رابرسیره شو او د الازهر، چې د اسلامي زده کړو غوره مرکز دی، د پوهنتون شیخانو غاښ ماتونکی ځواب ورکړ او ګیرې یې سوچه وخریلې. دا بیخي معلومه خبره ده چې یو سړی به څکه د ښځو پشان ځان سمبالوي تر څو نور سړي ځان لور ته راکاږي. له دې کبله د همجنسپرستۍ زیاتوالی به د قیامت د نښو څخه یوه نښه وي. د غرب تش په نامهدیموکراتیکې نړۍ لا مخکې نه په ښوونځیو باندې خپله بیشرمه همجنسپرسته تګلاره ورتپلې ده. یو کانادایې مسلمان زما پام داسېیو عمل ته راړولیچې په ټول بشریت او په مسلمانانو پلی کیدونکی دی. هغه وایې"مونږ د کانادا په کولمبیا ایالت کې یوې سترې ستونځې سره مخامخ یو. دولت دوه همجنسپرسته سړي (چې دواړه د ښځې او میړه په څیر ژوند کوي)په دې کومارلي چې د ښوونځیو درسي نصاب کې بدلون راولي. دې دواړو ته چې خپله اولاد نشي راوړلی، د دې حق ورکړل شوای چېپاتې ٪۹۹ هغو خلکوباندېچېکولای شي اولاد راوړي او یا مخکې نه اولاد لري، واکمن اوسي. نوی نصاب غوښتنه کوي چې د وړکتون څخه نیولې تر ۱۲م ټولګي پورې ټول شاګردان په دې تدریس شي چې

همجنسپرستي د اخلاقو او د اجتماع له مخې روا کار دی. هیڅ یو ښوونکی او یا د ښوونځي اداره د سرغړونې اجازه نه لري. کوچنیانو ته به دا درسچېدوی د خپلو میندو او پلرونو اخلاقي ارزښتنو ته ګوته نیولای شي، ورګول کیږي. خو هیڅ کوم شاګرد یا مور او پلار یې د همجنسپرستو ارزښتونو ته د ګوتې نیولو اجازه نلري. دولت ټینګار کوي چې د نصاب د بدلون په مخالفت کې هیڅ ډول مذهبي دلایل د منلو وړ نه دي. راروان کال به دې نه هم ناوړه وي ځکه چې شخصي ښوونځي هم باید وروسته له دې دغه بدل شوی نصاب خپل کړي. اسلامي مکتبونه مجبوره دي چې دا کار وکړي که نه نو محکمه به شي". له دې څخه مالومیږي چېجنسي اړیکو کې او په ټولنه کې د نارینه او ښځینه کردار او خویونو بیاجوړونه او بدلونونه، تر څو د ټولنې څېره بدله شي، د دجال لخوا پنځول شوېد عصري ښځینه اوښـتونیوه حتمي او ضروري پایله ده.

- "خلک به د خرو پشان برملا جماع کوي".د بې حیا لغړو فلمونو ډیروالی په انټرنیت کېد یاهو او هوټمیل د ویبپاڼو په اعلانونو کې، په کیبل تلویزونکې او د ښار بازار ویدیو کسـتونو په دکانونو کې د تصادف له کبله منځته نه دی راغلی. بلکه دا د دې حدیث ربښتیاکیدنه ده. دا حدیث زیاتوي چېداسې وخت به راشي چې خلک به د دجال د اغیزې لاندې برملا جماع د پټې جماع په نسبت غوره ګڼي. په ټولوګړیز پارکونو کې او یا موټرونو کې جماع د بیدیهاروپاېي غربي ښارونوکې لا پخوا نه رواج ده. ډیر وخت به ورته نه وي پاتېچې بمبي، دوبی، کراچی، جکارته، انقره او داسې نور ښارونه هم لغړتوب کې ډوب شي او د دې ځایونو ځلمي هم په دغه مشغولا بوخت شي.

لوسـتونکي باید دغه تحریک په اړه لږ فکر وکړي کوم کېچې اول د ریتاړو پشان جامې یوې نوې پدیدې، چې د عورت په ډاګه ربول دي مثلاً د فوتبال سیالیو په وخت، ته لاره برابروي او بیا بالآخره برملا جماع په ټولنه کې روا کار ګڼل کیږي. شاید د جنسي انقلاب دغه ضمني لاسته راوړنه چې شهواني نه خړوبیدونکې تنده او نوړې روږدیدنه منځته راوړي، د دا رنګ برملا جماع لامل اوسي. دا هم شونې ده چې د خوراک او څښاک توکو کې شیطاني ژنتیکي (ارثې) لاسوهنه او هرموني درمل (لکه ویاګرا) د داسې بیقابو جنسي هوس لامل اوسي.

- "یوه زرپیرلې مینځه به خپله څښتنه زیږوي". له دې حدیث څخه دا څرګندیږي چېد تاریخ په پاېکې به د غلامۍ یوه نوېښه رابرسیره شي چې د تلپاتې غریبۍ په جال کېد بندیوانو ښځو نسونه به د ماشومانو راوړلو کارخانې وګرځول شي تر څو هغه شتمنښځېچې د دجال ښځینه اوښتون له کبله شنډې شوې وي، تربنه ګټه پورته کړي. د سود په بنسټ جوړ شوي

اقتصاد چې بانکې د سود په بدل کې پورول کیږي او جعلي، فریبکاره اوبې ارزښته کاغذي پیسوچې تل خپل ارزښت له لاسه ورکوې، لا پخوا راهیسېډیری وکړي په تلپاتې غریبۍ کې کېر کړي دي او دا غریبي لا پسې زیاتیږې. او په بله خواه یې سرمایه دار برسیره کړي چې شتمنیبیتلپاتې او ورځ تر بلې زیاتیږې. دا سودي اقتصاد په اوسني غربي تمدنکې زیږیدلی او ټول بشریت یې په خپلو زهرجنو منګلو کې کېر کړی دی. سربیره پر دې، د دجال ښځینه پاڅوند دې لامل ګرځي چې ښځې شنډې شي ځکه چېدوی هڅه کویچې د نارینؤ کردار خپل کړي او د دې لپاره دوی هڅه کویچې تر تیر عمره د حمل څخه ځان اوساتې تر هغېچې پرې بیخي ناوخته شي او بیا دوی مجبوره شي چې پردی نس کرایه کړي. دې کرایه شوې میندو ته د ماشوم د پیدا کېدو وروسته د خپلو خدماتو عوض ورکول کیږي او هغه یو ځل بیا خپل د غلامۍ ژوند ته ستنه شي حال دا چې کومه لور چې پیدا کړې هغه د بادارانو قطار کې ودریږي چېپه دې غلامانو واکمن وي، نو ځکه واییچې یوه زرپیرلې مینځه خپله څښتنه زیږوي.

- "لوڅ پوڅ پښې ابله شپونکي به د دنګو ودانیو په جوړولو کې د یو بل سره سیالي کوي". ټولې نړۍ لا د پخوا نه د منهاټن د دنګو ودانیو په څیر آبادې پیل کړې ده. دوی دا کار ځکه کوېچېد دوی په فکر دنګې ودانۍ د پرمختګ او د ویاړ علامه ده. نو ځکه خو یې په کوالامپور کې د 'پتروناس'، په سیول کې د 'سونګدو انچیون' (Songdu Inchon) او د دوبۍ 'برج خلیفه' پشان دنګ تعمیرونه ودان کړي تر څو په خپل فکر نورې نړۍ ته دا ثابته کړي چې غیر غربي خلک هم اوس د عصریاروپایې او غربي نړۍ پشان د 'پرمختلو ټولنو' له شمیره دي او اوس هغه وروسته پاتې او غریب خلک نه دي چې پخوا وو. حال دا چېد داسې خلکو عقلي لوړتیا د لوڅو پوڅو پښې ابله شپونکیو په درجه ده. په عربي نړۍ کې د رسول اللهﷺ د وخت کوچیان، چېځینې وخت د 'لوڅ پوڅ پښې ابله شپونکیو' په نامه هم یادیدل، اوس په کویت، عماراتو، دوبۍ او سعودي عربو کې د یو بل سره د دنګو ودانیو په جوړولو کې سیالیکوي چې ټکي په ټکي د دې حدیث رښتیا کېدنه ده.

- "تر ټولو خراب خلک به مشران وي" او"د یوې قبیلې تر ټولو ناوړه غړی به د قبیلې مشر شي. خلک به د مشرۍ احترام له کبله نه بلکه په دې خاطر د هغه اطاعت کوي چې کوم زیان ورته ونرسوي." دا کار د نړۍ هر ګوټ کې وخته ترسره شوی دی. بیا هم، دا کار په دومره لویه او جارې کچه یو ځای کې هم نه دی پلی شوی لکه څومره چې په امریکا کېپلی شوی.

- رسول اللهﷺ فرمايي"زه وينم چې حرج ستاسې د کورونو په چتونو لکه د باران وريږي."هغوی (اصحابو کرامو) وپوښتل "حرج څه شی دی؟" هغويﷺپه ځواب کښوفرمايل"قتل او ډلوژنه". هغويﷺبيا زياتويچې آخر وخت کې د قتل او ډلوژنې دا زياتوالی به دومره ناټاکلی او بې هدفه وي چې"څوک چې وژل کيږي هغه به نه پوهيږي چې ولې ووژل شو، او څوک چې وژنه کوي هغه به نه پوهيږي چې ولې يې وژنم."رسول الله ﷺ زياتوي چې"هره نوي ورځ به د تيرې په پرتله بدتره وي." ناوړه جرمونه په ټوله نړۍ کې دومره زيات شوي چې هيڅ کوم دولت يې مخنيوی نه شيکولای. خو دا اوسنی غربي تهذيب او په خاصه توګه، امريکهپه دولتي سطح او د دولت لخوا هڅول شوي قتل او ډلوژنه کې په ناوړه ډول تر ټولو وړاندې ده.

د دې پورته پيشګويو نه علاوه، 'آخرې کړۍ د نښو' په تړاو د نورو ډېرو پيښو پيشګوئي شوې، خو تر ټولو مهمې هغه دي چې د يروشلم او د فلسطين سره تړاو لري. رسول اللهﷺد مثال په توګه د رښتيني مسيح، عيسی ابن مريم÷ د کرامت نه ډک بيرته راتګ په اړهپيشګوئي کړې ده:

د ابوهريرهؓڅخه روايت دی: چې رسول اللهﷺ فرمايلي، "قسم په هغه چا چې زما روح يې په واک کې دی، بيشکه چې د مريم ځوی (عيسی÷) به ډېر ژر ستاسې منځ کې راکوځ شي او د انسانانو تر منځ به په انصاف قضاوت کوي (د يو واکمن په حيث)، هغه به صليب مات کړي او خنځيران به اووژني او جزيه به له منځه يوسي (جزيه يعنې هغه خراج چې يو محکوم قوم يې په جنګ کې ماتې خوړلو نه وروسته قابض قوم ته ورکوي). پيسې به دومره زياتې وي چې هيڅوک به يې نورې نه غواړي او د الله تعالی په وړاندې يوه سجده به د ټولې نړۍ او د نړۍ هر څه نه بهتره وي". ابو هريرهؓ زياتوي "که غواړۍ نو دا آيت تلاوت کړۍ: د اهل کتاب (عيسويانو او يهوديانو) څخه به هيڅ څوک داسې نه وي چې د هغه (يعنې عيسی÷، د رښتينی مسيح، پيغمبر او د يو انسان په حيث) د مرګ څخه مخکيېرې ايمان رانوړي. او په ورځ د قيامت به هغه د دوی په خلاف ګواهي ورکوي". (سورة النساء، ۴:۱۵۹)

اوس د عجيبو پيښو څيړنې ته راځو، چېسپړيدنه يېلا روانه ده، او دا ټولې پيښې بيت المقدس سره تړاو لري. دا داسې پيښې دې چې د آخرې کړۍ د نښو په اړه د رسول الله ﷺويناګانو ته د کتنې پرته نشي تشريح کيدای او په خاصه توګه هغه ويناګانې چې د 'دجال د ډلې'يعنې د جوج مأجوجو په هکله دي.

- د وسله والو جګړو په نتيجه کې د فلسطين تش په نامه 'آزادي' چېد دې جګړو پيل د اروپايي عيسويانو له خوا د 'مقدسو جنګونو'يعنېصليبي جنګونو په وخت شوی و. دا 'مقدسې جګړې' ۱۰۰۰ کاله وروسته په ۱۹۱۷ع کال کې هغه وخت پای ته ورسيدې کله چې

انګریز فوځ د عثماني خلافت پوځونو ته ماتې ورکړه. کله چې انګریز جنرال الانبي، (Allenby) یروشلم ته د ۱۹۱۷ کال د اکتوبر په میاشت کې ورننوت نو اعلان یې وکړ چې"نن صلیبي جګړو اختتام وموند". حال دا چې په حقیقت کې په دغه ورځ فلسطین 'محکوم' او د غلامۍ په ځنځیرونو وتړل شو او نه چې'آزاد' شو. د اسلام او مسلمانانو په ضد د اروپایانو مقدسې جګړېیعنېصلیبي جنګونه لا تر نن ورځې دوام لري. د انګریزانو، امریکایانو او اسرائیل له خوا په ګډه د عراق او افغانستان مستقیم وسلوال نیواک او په صومالیه، سعودي عرب، پاکستان، لبنان، اردن، مصر او داسې نور ملکونو غیر مستقیم اشغال د روانو صلیبیجګړو مثالونه دي.

- د بنیاسرائیلي یهودیانوفلسطین ته د نیواک په نیت بېرته ستنیدنه (دا یهودیان د اروپایي خزار یهودیانو سره توپیر لري کوم چې د ابراهیم ﷺ له پښته نه دي).دوه زره کاله وړاندېدوی له دغه سپیڅلې خاورې شړل شوي وو او د الهیامر له مخېپرې بندیز ووچې دوی دې دا خاوره یو ځل بیاخپله کړي. دا بندیز تر هغې مودې وتر څو چې آخر وخت نه و رارسیدلی او جوج مأجوج نه وو خوشې شوي. خو د خاورې د نیواک او بېرته خپلولو په ترځ کېدوی د یو ناروا او بربریت نه ډک ظلم په جال کې راګیر شولچېدوییې د دې خاورې اوسیدونکو یعنې غیر یهودي بیګناه فلسطیني وګړو باندې کوي.

- په فلسطینکې د اسرائیل دولت رغیدنه. د اسرائیلپاکه پاچاهي، چې داود او سلیمان† یې بنسټ ایښی و، دوه زره کاله وړاندې د الهي فرمان له مخې ویجاړه شوه. د هغې مقدس اسرائیل بنسټ په دینداری، رښتینوواله او انصاف ایښودل شوی و. د هغې ځای اوس یو پلمه ګر اسرائیل نیولی چې بنسټ یې په بیدینی، دروغو، ټګمارۍ، زورواکۍ او لا زیاتیدونکې تیرې ایښودل شوی دی.

- د تجاوزې جګړو او ورسره د سیاسي او اقتصادي تیریو په کومک، غربي تمدن کې د دري نړیوالو واکمنیو رابرسیره کېدنه. اوله واکمنید برتانوي سلطې (PaxBritannica) په نوم وه،یعنېاوسنۍ زمانېکې د برتانیې نړیواله واکمني وه. له دې وروسته امریکې سلطه (PaxAmericana) راغله، یعنېامریکا د دوهمې نړیوالې واکمنۍ څښتنه شوه. او په آخر کې نړۍ د دریمې او په نژدې وخت کې راتلونکې دیهودي سلطې (PaxJudaica) په انتظار ده. یو پلمه ګر اسرائیلي دولتبه دریمه او آخره نړیواله واکمني اوس تر ګوتو کړي. نړۍ ددوه نړیوالو جنګونو سرې تودې تیرې کړې تر څو امریکا له برتانیېڅخه نړیواله واکمني تر لاسه کړه. همدا راز نړۍ اوس تر ټولو ستر جنګ د پیلیدو په ننداره دهچې د اسرائیل دولت (د امریکا، برتانیې، ناټو او نورو په کومک) لاس پرېپورېکړیدی او هدف یې دا دی چېبالاخره د امریکا څخه د نړۍ مشري واخلي. کله چې دا کار تر سره شي نو دا دروغ به بیخي رسوا شي چې ګواکېاسرائیل د یهودیانو لپاره د یو وطن پیدا کولو په خاطر جوړ شوی دی. حال دا چې اروپا

۱۰۰۰ کاله کوښښ کړی تر څو بیت المقدس ونیسي او په ټوله نړۍ د واکمنی په غرضد یو پلمه کړ اسرائیل بنسټ په کې کیږدي.

تر ټولو ستر جنګ به په لومړي قدم کې د پاکستان او ایران د هستوي جنګ کولو وړتیا له منځه وړلو هڅه وکړي او دا به په خپل وار د عربانو د تباهۍ لپاره لاره هواره کړي (اووم فصل وګورۍ). د پاکستان شمال، ټول ایران او ورسره افغانستان او عراق د لرغوني خراسان پولې دي کوم ځای نه چې د رسول الله ﷺد حدیث له مخې یو اسلامي لښکر راوتونکی دی. دا لښکر به د بیت المقدسلور ته د خپل منزل په ترڅ کې هرې مظلومې او محکومې سیمې تهخپلواکي په برخه کړي. کله چېاسرائیل په خپل ستر جنګ لاس پورې کړي نو نه یواځېبه سویز کانال لاندې کړي بلکه د خلیج فارس د تیلو په زیرمو به هم منګولې خښې کړي. د دې تر څنګ قصدي د تیلو په بیه کې د لوړوالي او ورسره د ډالرو ارزښتکې پرله پسې کموالي په سبب به اسرائیل د نړۍ د اقتصاد واګې په خپل لاس کې واخلي او ورسره به د امریکا څخه د نړۍ واکمني هم تر ګوتو کړي.

د امریکایې ډالرو سقوط یا له منځه تلل د اسرائیل لپاره اساسي ارزښت لري ځکه چې دا کار به د ټولې نړۍ کاغذي پیسې هم له ځانه سره له منځه یوسي. داسې حال کې به الیکترونیکي پیسې د کاغذي پیسو ځای ونیسیچې واک او اختیار به یې ټول د یهودیانو تر لاس لاندې نړیوال بانکی نظام په لاس کې وي او یو نوی اقتصادي نظام به منځته راشي چې د اسعاروپېتبدلون او لیږد رالیږد به پکې ممکن نه وي. هره راکړه ورکړه به ځان پسې یوه بریښنایې څرک پرېږدي او د ترهګرۍ په ضد قوانین به اسرائیل ته په دغه اقتصادي نظام اختیار ورکړي. بالاخره به اسرائیل په ټول بشریت خپل ناوړه دجالیدکتاتوري وروتپي. کله چېاسرائیل د نړۍ واکمن شي نو د غرب لامذهبه عالمان او ورسره نړیوال سیاسي او اقتصادي خواص به د مسیح (دجال) په تایید عجیب او غریب روښان فکره بازینګرې پیل کړي. دوی به مجبوره وي چېداسې وکړي ځکه چې د بیت المقدس څخه په نړۍ مسلط یو واکمن به دا اعلان وکړي چېزه مسیح یم! په حقیقت کې به هغه دجال وي یعنېکوټه مسیح او یا ضد عیسی هم ورته ویلی شو.

- په دې روانه ډرامه کې هغه دوه لوبغاړي چې پورتنۍ ټولې لاسته راوړنې یې تر سره کړي، اروپایې عیسویان او یهودیان دي. دوی خپلې تیرې دښمنۍ او تربګنۍ یو خوا ته کیښودې او یو عجیبهاروپایې عیسوي-یهودي ټلواله یې جوړه کړه. دغېټلوالې بیا وروسته د اوسني عصر غربي تمدن وزیږاوه. دي بیدینه او خسا تمدن، کوم کېچې یو سړی د بل سړي سره نکاح

کولای شي، ټوله نړۍ د خپل علمي او تخنیکي انقلاب له کبله ګوته په خوله کړي ده. دا تمدن نړۍ ته پرله پسې نوي رنګونه او بدلونونه ورکوي.

داسې څه به وي چې مونږ ته د اروپايي عیسویانو او یهودیانو تر منځ پخلاینه روښانه کړي؟ کومې پخلاینېچېد اروپايي عیسوي-یهودي ټلوالې او ملګرتیا لپاره لاره هواره کړیده. عیسویانو خو یهودیان تلپه دې تورن کړي چېد عیسویانو خدای یعنې عیسیعليه السلامیې په دار ځړولی. یقیناً قرآن کریم هم د یهودیانو دغه دعوه او په بریتو لاس راکاړنه بیان کړې ده:

﴿وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ ......... ﴾

او د دوی وینا (غوره) چې بیشکه وژلی دی مونږ مسیح عیسی، ځوی د مریم چې رسول د الله دی ..... (مګر یهودیانو هیڅ کله عیسی عليه السلام د پیغمبر او میسح په حیث ندی منلی، نو ښایهغوی طنزیه انداز کې دا لاپیوهلي).(القرآن، النساء، ۱۵۷)

د پردې شا ته یو څه حتماً شته چې د عیسویانو او یهودیانو تر منځ نه یواځېد دوی پخلاینه، ملګرتیا او ټلواله روښانوي بلکه په ډاګه یو بل د'ائتلافي'یا د 'ائتلافي ځواکونو' په نامهد بللو علت هم جوتوي. په دېکې هیڅ شک نشته چې په دوهم نړیوال جنګ کې د نازیانو لخوا د یهودیانو قتل عام (Jewishholocaust)په دې کې یو مهم رول لوبولی تر څو عیسویان د تلپاتې ملامتیا احساس لاندې راولي او په دې توګه دا تاریخي د پخلاینې بهیر تکمیل او بشپړ کړي. له دې څخه دا هم روښانیږي چې هغه خلک چې په غربي تمدن کې د چارو واکې په لاس کې لري ولې تل د دغه تش په نامه قتل عام په هکله دومره حساس دي او تل یې د هغو خلکوپه خولو مهر لګولیځوکچې د '۶ میلونو یهودیانو' عدد ته د شک په سترګه ګوري. د دوی دا عجیبه چلند د دې تاریخي انتقاد اعتبار او یا نه اعتبار پورې کومه اړه نلري. بلکه دوی تش نه غواړي چې ددغه دوه قومونو تر منځ چې کومه نوې خپلولي او ټلواله جوړه شوې، هغه کمزورې یا منحلشي.

په اروپا کې برسیره شوېدې نوې او عجیبې ټلوالې د یو بې ساري علمي او تخنیکي انقلاب بنسټ کیښود او ټوله نړۍ یې ګوته په خوله کړه. دې تخنیکي انقلاب دوی ته بې ساری قوت وربه برخه کړ. دې ټلوالې بیا دا نوی ځواک د نړۍ د غیر اروپايي هیوادونو په ضد د یرغل، اشغال، ظلم، لاندې کولو او تر ښکیلاک لاندې راوستلو لپاره په کار واچاوه. او په دې ډول تاریخ کېاول ځل لپاره دوه قومونو په ګډه ټوله نړۍ د تسلط لاندې راوسته. د ظلم او استعمار دا ناوړه بهیر د نورو په پرتله د عربانو او مسلمانانو په خلاف خاص تند و خو د خلکو غولولو لپاره د 'تمدنونو ټکر' نوم پرې کیښودل شو. ریښتیا خو دا ده چې دا ظلم تر اوسه پورې دوام لري د مثال په توګه په افغانستان، صومالیه، شمال لویدیځ پاکستان، لبنان، عراق، ایران او داسې نورو ځایونو کې چیرته چې مسلمانان د ظلم په ضد غبږ پورته کوي. خو د دې روان صلیبي ټکر

یو خوا ته بیګناه مظلوم ولاړ دیعنې اسلامي تمدن او بلې خوا ته یې تش په نامه عیسوي-یهودي تمدن دی چاچې د اسرائیل په استاذیتوب،د یو بې انصافه مقدس جنګ پیلولو قسم خوړلی دی.

چې کله مناسب وخت راورسید نو د اروپا عجیبې عیسوي-یهودي ټلوالې په ډیر چل ول د غیر اروپایي مستعمرو څخه پښې سپکې کړې خو دا کار یې دغه مستعمرو کې خپل تاسیسات ځاییهځای کولو څخه وروسته وکړ. د دا رنګه تاسیساتو له لاربدوی په غیر مستقیم ډول، یعنې د ګوډاګیانو په لاس په دغه مستعمرو خپل مقدس جنګ تر اوسه جاري ساتلی.

یو له دا رنګه تاسیساتو څخه عصري سیکولر (بیدینه) دولت دیچې بنسټ یې په شرک (یعنې کفر) ایښودل شوی. د اروپایي عیسویانو او د یهودیانو د تمدن بنسټ پخوا په الله تعالی د ایمان، د هغه ټوالواکي او بړواکي منلو باندې قایم و. اروپایي عیسویت د خپلو پاچاهانو مقدسه وظیفه منله یعنې چې په ځمکه د خدای نماینده دیاو د روم د کلیسا لخوا ورته پاچاهي ورکول کیده. خو د عجیب او غریب انقلابي بدلون په نتیجه کې دا تمدن د ابراهیم الطّیِّلا څښتن، د ټولواک په حیث د منلو څخه لاس په سر شو. دوی نور د الله تعالی ټولواکې منلو او د الله تعالی قوانین تر ټولو لوړ ګڼلو ته تیار نه وو.د دې په بدل کې سیکولر (بیدینه) دولت اوس ټولواک وګڼل شو او دا سوچه شرک دی. د سیکولر دولت واک او قوانین اوس تر ټولو لوړ وګرځول شول او دا هم شرک دی. دولت ته دا حق ورکړل شو چې هغه څه چې الله تعالی حرام (غیرقانونی او ممنوع) ګرځولي هغه حلال (قانوني او روا) وګرځوي او بیا همداسې‌یې‌ترسره هم کړل او دا هم شرک و.

یهودي تمدن، په بل طرف، د اسرائیل هغه مقدس ریاست په بنیاد جوړ و کوم چې داودالطّیِّلا او سلیمانالطّیِّلا ایښی و. مقدس اسرائیل الله تعالی د ټولواک په حیث پیژند او د هغه واک او قوانین یې تر ټولو لوړ ګڼل. دا رنګ ریاستی مفکوره اروپایي یهودیانو بیا هغه وخت ترکه کړه کله چېدوی هم کفریه عصري سیکولر دولت نه غیږ چاپیره کړه. په قرآن کریم کې ډیری داسې آیتونه راغلي، د مثال په توګه الکهف ۲۶، بني اسرائیل ۱۱۱، الفرقان ۲، چې دا په ډاګه کوي چې ټولواکې یواځې الله تعالی لره ده او هغه یې د چا سره نه شریکوي.

کله چې ټول بشریت د عصري سیکولر دولت په چوکاټ کې راګیر شو، نو بیا یهودي-عیسوي ټلوالې د سیکولر دولتونو ټول نظام د ملګرو ملتونو په بند کې بندیوان کړ. دوید ملګرو ملتونو سازمان د پیل څخهداسې جوړ کړیوچېد دوی د کنترول څخه بهر نه وي او په خپل وار بیا راتلونکې کې د باقي نړۍ په کنترول او بدلون کېترې کار واخلي.

د دجال او جوج مأجوجو موضوع چې د آخر وخت د نښو څخه ده، دا پورتنۍ ټولې مسئلې روښانوي.

د هغو تاسیساتو څخه یو د بې ارزښتو کاغذي پیسو پولي نظام هم و، کوم چې په ډیر چل او مکارۍ سره جوړ او په پخوانۍ مستعمرو وتپل شو. دا جعلي او سوچه ټګمار پولي نظام بیا د نړۍ هغو خلکو لوټلو لپاره په کار راوستل شو کومو چېړد دوی د واکمنۍ په ضد غبرګون ښکاره کاوه. نو په نتیجه کېښېځیني مسلمانان د دجال په 'اور'کې پریوتل، او په عین حال کې نورو یې د سیند 'یخې اوبه' څښنلې. د مسلمانامت څخه د هغو ټولنو خلک لکه صومالیې، بنګله دیش او اندونیزیا، چې د دجال په خلاف یې مقاومت ښوده، په غربت او اړیانۍ کېراګیر شول او حال دا چې هغه چالاکه تش په نامه مسلمانان خواص لا پسې شتمن شول کومچې د غرب لاسپوڅي هیوادونو څخه وو او تل یې د اسلام د دښمنانو ګټې په نظر کې ساتلې وې.

برتانوي سټرلنګ پوند هغه وخت نړیواله پیسه وګرځیده کله چېبرتانیې د اوسنۍ زمانې لومړي زبرځواک په حیث میدان ته راودانګل. په پیسو کنترول او ورسره دبرتانیې د نړۍ اقتصادي پلازمینه ګرځیدنې، د انګریزانو لپاره په نړۍ واکمن کیدو لپاره یو ستراتیژیکیکردار ولوباوه. امریکه بیا د برتانیې په ځای د نړۍ زبرځواک وګرځیده او په نتیجه کېیې امریکایي دالر د سټرلنګ پوند په ځای نړیواله پیسه وګرځیده. همدا رازامریکې لپاره په پیسو کنترول او د نړۍ اقتصادي پلازمینه کیدو همدا شان ستراتیژکي کردار ولوباوه تر څو په ټوله نړۍ خپله ملکې وتپي.

د 'آخرې ګړۍ نښو' په هکله د رسول اللهﷺد ویناګانو منطقي څیړنه دا څرګندویچې د امریکې په ځای به یو دریم او وروستی زبرځواک رابرسیره شي. خو د دې کار شونې کیدو لپاره باید یو بل پولي نظام منځته راشي تر څو د هغه اقتصادي نظام ځای ونیسي کوم چې د امریکایي دالرو په بنسټ ولاړ دی. دا به هم هغه شان پیښه وي لکه څنګه چېله دې نه مخکې اوسني پولي نظام د سټرلنګ پوند په بنسټ جوړ شوي نظام ځای ونیوه.

یو نوی پولي نظام به منځته راشي چې د بېاسعارو الیکترونیکې پیسو په بنیاد به جوړ وي او دا چې نظارت به یې د یو مرکزي نړیوال بانکي سستم له خوا اجرا کیږي. هغه څوک چې په دغه بانکي سستم کنترول ولري، هغوی به دا بې سارې او نادره کنترول بیا د اسرائیل د پټو پلانونو په مخ بیولو لپاره په کار راولي. په نتیجه کې به اسرائیل د امریکې په ځای د دریم او آخري زبرځواک په حیث راڅرګند شي. د اسرائیل د پیسو، 'شیکیل' ارزښت په چټکۍ سره پورته روان دی او امریکایي دالر د سقوط په لور روان دی. حتی د ایورو پیاوړې پیسې هم د اسرائیلي شیکیل سره په سیالۍ کې پاتې راغلې او د ۲۰۰۸ عیسوي کال راهیسېښایي دا د نړۍ تر ټولو ثابته پیسه وي. اسرائیلیان خپله هم دا حقیقت اوس په ویښو سترګو ویني چې د شیکیل پیاوړتیا د اسرائیلد نړۍ پلازمینه ګرځیدو هیلې لپاره یوه ښه فال دی.

د جوج مأجوجو او د دجال موضوع ته پام کولو پرته پولي فساد او د هغه پولي نظام تدریجي پرمختګ چې د اسرائیل په ټوله نړۍ واکمنۍ سره سم به خپل اوج ته ورسیږي، امکان نلري.

یو بل د هغه تاسیساتو څخه چې په تخلیه شوې مستعمرو کېځای په ځای شو، اوسنی سیکولر د پوهنې او روزنې سستم دی چې مرکز یېعصري سیکولر پوهنتون دی. د ټول کاینات او د واقعیت غیردیني تعبیر او شننه د پوهنې د بیدینه کیدو نتیجه ده کوم کېچې د 'آخرې کړی د نښو'موضوع د خلکو د پام او آګاهی څخه بهر شوه. اوسنی سیکولر بشریت نور د قیامت د ورځې په شتوالي باور نلري او همدا راز د 'آخرې کړی‌د نښو' موضوعېې معنی شوې ده.

قرآن کریم کې د بشریت دا رنګ سیکولر مازغه مینځلو ته غبرګون ښودل شوی دی. دا غبرګون په سورة الکهف کېځای په ځای دی چېهاغه سورة دی چې د جوج مأجوجوموضوعیېلومړي ځل لپاره راپېژندلې ده. دا سورة د قیامت او آخرت په اړه د بیدینه شویو انسانانو افسانوي مفکورې هم تشریح کوي. د یو شتمن وګړي کیسه کیږي چې څنګه هغه خپل مال او دولت دومره فاسد کړیوچې بیا یې ځان'یو څوک' باله، په تیره د هغه غریب سړي په پرتله چې د غریبی او اریانی په سبب یې'هیڅوک' نه باله. شتمن وګړی د قیامت په اړه وایي: "او نه زه ګومان کوم په قیامت چېقایم به شي کله. خو خامخا که چیرته زه د خپل څښتن وړاندې راوستلی شم، نو حتماً به ما ته په عوضکې له دې څخه هم یو څه غوره په لاس راشي!" (سورة الکهف، ۳۶م آیت). (سورة الفصلت ۵۰، السباء ۳، هم وګوری).

د 'آخر وخت' او د 'نښو' موضوع (چې د عیسی‌عليه السلام‌راتګ، دجال او جوج مأجوج پکې ذکر شوي)هغه مومنانچې په ورځ د قیامت باور لري او بې ایمانه خلکچې د'قیامت ورځ'پورې ملنډې وهي او وایيچې ژر دې راشي، د یو بل څخه جلا کوي. رښتیا ده چې قرآن کریم لا پخوا دا روښانه کړېچې اکثره خلک به قیامت باندې باورڅخه بالاخره لاس په سر شي."بیره کوي (د ریشخند له کبله) په راتلو د دغه (قیامت) کې هغه کسان چې نلري ایمان په دې (قیامت) باندې، او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی، په ویره کې دي له دې (قیامت) څخه، او پوهیږي چې دا حق دی. ای، بیشکه، هغه کسان چېاختلاف کوي په (راتللو د) قیامت کښې خامخا دوی په لیرې ګمراهی کې دي." (القرآن، الشوری، ۴۲:۱۸)."بیشکه چې ورځ د قیامت خامخا راتلونکې ده نشته هیڅ شک په دېکې، خو اکثره د خلکو څخه نه راوړي ایمان په دې. "(القرآن، الغافر،۵۹:۴۰).

اروپایي سیکولرزم او توکیزوالي (ماده پرستی) په شریکه دسیسه جوړه کړه تر څو په دین باور له منځه یوسي او ورسره د قیامت په ورځ هم ایمان له منځه لاړ شي. دغه تش په نامه تخلیه شوې مستعمرو کې بیا په قلارهداسې بدلون راوستل شو چې بالاخره د اروپا سره ضم یوه نړیواله بیدینه ټولنه جوړه کړي. لکه څنګه چېټول بشریت په یوه بیدینه نړیواله ټولنه باندې بدلولو لپاره د نړیوالتوبیعنې globalization پروسه د خپل هدف په لور مخ پر وړاندې روانه ده، په ترڅ کېیې غیر اروپایي وګړي د دیني ژوندلارې څخه بیلارې شول او پر ځاییې د دغه بیدینه، خسا او کفریه غربي ژوندلار پیښې او تقلید پیل کړ. دا د

اروپاییهودي-عیسوي ټلوالې لپاره یو ستره لاسته راوړنه وه. دا ټلواله هماغه ده چې د عصري سیکولر غربي تمدن بنسټ یې ایښی دی.

خو د دغې تمدن اصلی ارمان یو داسې څه پورې تړلی وچې ارزښتیې د ټول بشریت د تسخیر او د بشریت په یوه بیدینه نړیواله ټولنهکېد راجذبولو څخه هم زیات و. اروپاییهودي-عیسوي ټلوالې اصلي ارمان داوچې ارض المقدس (فلسطین) د یهودیانو لپاره آزاد کړي، او بیا یهودیان ارض المقدس ته د نیواک په نیت راستانه کړي او دغلته د اسرائیل دولت ورغوي، او بیا د اسرائیل د دولت دومره حمایت او ملاتړ وکړي تر څو یېچې د نړۍ د زبرځواک حیثیت نه وي خپل کړی.

'په اوسني دور کې د قیامت د ورځې د نښو' څرګندونه په حق باندې د اسلام د دعوې پخلی کوي ځکه چېیواځې اسلام کې د هغو پوښتنو ځواب موندل کیږي چې د یهودیانو او عیسویانو تر منځ پخلاینې او ورپسې د عصري بیدینه غربي تمدن جوړیدنې په هکله رابرسیره کیږي. دا دجال او جوج مأجوجو ته اړوندهپوهنه ده چېیهودي-عیسوي ټلواله باندې رڼا اچوي. دا د فلسطین سره د اروپایې تمدن بیکچه لیوالتیا هم روښانوي.

په حق باندې د اسلام دعوه له دې څخه هم په اثبات رسیږيچې اسلام د هغو پیښو مخکې له مخکې اټکل کولو توان لري کومې چې لا منځته نه دي راغلي، په خاصه توګه هغه پیښې چې د اسرائیل د دولت سره تړاو لري. قرآن کریم په زغرده دا اعلان کوي چې د هر شي د تشریح توان لري (قرآن کریم، سورة النحل، ۱۶:۸۹).

# اسلامي فرقه پالنې ته غبرګون

نن سبا ډیری خلک خپلې فرقه پالهډنډورې وهلو سره دعوه کوي چې ګواکېیواځې همدوي ربښتیني او په سمه لار روان مسلمانان دي. دوی د خپلو حریفانو د رسوا کولو څخه هم خوند اخلي او نور ټول ګمراهان بولي، او تل د بېهانا او اندکو مسئلو په سر سره نښتي وي. دا کتاب دا رنګه فرقه پاله تربګنی او د دې بیلابیلو فرقو په حق باندې افسانوي دعوې ته پام راګرځوي او دا فرقې ننګوي چېپه 'اوسنی زمانه کې د آخر وخت نښو'، دجال او د جوج مأجوجو موضوعګانو ته اړونده علمي څیړنې او آثار وپنځوي.

ځینې لوستونکي امکان لري د اسلامي فرقه پالنې په اړه مالومات ونلري، نو په داسې حال کې لږ تر لږه یو څو فرقو په اړه معلومات دلته بیانول اړین دي. او بیا ځینې لوستونکیکیدای شي د اسلامي فرقو د پیژندګلوۍ په اړه تلوسه ولري چې دا څوک دي. څرنګه چې رسول الله ﷺ لا پخوا د اسلامي فرقه پالنې په

اړه پیشګویي کړې ده او مسلمانانیې خبردار کړي چې د دا رنګه فرقو څخه ځانونه لیرېوساتي، نو مسلمانان یو معیار ته اړتیا لري تر څو داسې فرقیې په کومک وپیژني. د 'آخر وخت نښې' او دې نښو ته د غبرګون څرګندولو صحیح کړنلار داسې معیار ثابتیدای شي. د دجال او ورسره د جوج مأجوجوموضوعې له کوم شکه د 'آخر وخت په نښو'کېځای لري، نو اسلامي فرقه پالنې ته د غبرګون ښودلو لپاره دا موضوع مناسبه ده.

## شیعه فرقه

اسلامي فرقه پالنه هغه وخت راپیدا شوه کله چې د رسول الله ﷺ د مړینې څخه یو څو لسیزې وروسته شیعه فرقه وزیږیده. د شیعه فرقې لپاره تر ټولو خوښه عقیده هغه ده چېواېي د رسول الله ﷺ د اولاد څخه به یو تن یعنې امام مهدي راولاړ شي او د هغه د مشرتابه او لارښونې لاندې به مسلمانان په هغه کافرو برى ومومي څوک چې د اسلام سره په جنګ جدل کې به بوخت وي. رسول الله ﷺ په خپله پیشګوېۍ کې په روښانه ډول په ډاګه کړیده چېهمداسې به کیږي او دواړه شیعه او سني په دغه خبره کلک باور لري. خو شیعه بیا په دې باور دي چې د امام مهدي ظهور دا خبره په ثبوت رسوي چېدوی په اسلام کې د نورو فرقو په پرتله حق په جانب دي.

خو بیا رسول الله ﷺ په روښانه توګه د امام مهدي د ظهور وخت په داسې وخت کېښودلیچې هغه به د ریښتیني مسیح،عیسى ابن مریمعليه السلامد راتګ سره همزمان وي.

"څنګه حالت به وي ستاسې (یعنې څومره نیکمرغه وخت به وي تاسی لپاره) کله چې د مریم ځویعليه السلامستاسې منځ کې راښکته شي او ستاسې امام (امام مهدي) به هم له تاسی څخه وي" (صحیح بخاري)

د پورتنۍ وړاندوینې او دا چې د مسلمانانو امام (حاکم) به د مسلمانانو څخه وي، څخه څرګندیږي چېد دې وخت راتلو نه یو څه وړاندې به غیر مسلم په مسلمانانو واکمن وي. په بله وینا مسلمان امت به په خپل ځان د واکمنی څخه محرومه وي. ګومان داسې دی چې د خلافت د ړنګیدو وروسته په ټوله سُني نړۍ په غیر مستقیم ډول د اروپایي یهودي-عیسوي واکمنو باداري ده. دوی دغه تش په نامه مسلمان (سُني) دولتونه داسېد غاړه ایښودنې حالت ته مجبوره کړلچې په پایله کې دا دولتونه د غرب لاسپوڅي دولتونه وګرځیدل. نن سبا دا بیخي ناشونې ده چې یوه سُني ټولنه دې د هغوی د منګلو څخه ځان خلاصه کړي او یو آزاد او خپلواک دولت دي ورغوي تر څو د یهودي-عیسوي سیاسي او اقتصادي کنترول او اغیزې څخه خلاصون ترلاسه کړي.

په بل طرف، شیعه ایران ادعا کوي چې د اسلامي انقلابد بریپه نتیجه کې دغه دولت د غیر مسلمو واکمنو د کنترول او اغیزې د دایرې څخه بهر شوی دی. تر هغېچې شیعه ایران د غرب په خلاف پښې ټینګې کړې وي (امام خمینی امریکې ته د "عظیم شیطان" نامه ورکړې وه) او ورسره یو بااعتباره او آزاد دولت ولري، تر هغې به شیعه په دې فکر وي چې یو جایز امام یا حاکم په دوی واکمني کوي. د امام مهدي او عیسیعليه السلام بیرته راتګ په اړه د پورتني حدیث په رڼا کې د شیعه ګانود حق په جانب اوسیدو د دعوې اغیزې باید پوره څرګندې وي.

پورتنی حدیث دا هم روښانوي چې د امام مهدي ظهور تر هغېمنځته نشي راتللی تر څو چې د عیسیعليه السلام د راتګ وخت نه وي رانژدې شوی. خو بیا د عیسیعليه السلام بیرته راتګ تر هغې ممکن نه دی تر څو چې دجال په خپله دنده کې نه وي بریالی شوی چې د رښتیني مسیح په حیث ځان څرګند کړي. او بیا دجال تر هغې خپله دنده نشي ترسره کولای تر څو چې ارض المقدس د یهودیانو لپاره نه وي آزاد شوی او اسرائیلي یهودیان د ارض المقدس بیرته خپلولو په نیت نه وي راستانه شوي.

قرآن کریم د سورة الانبیاء په ۹۴-۹۵م آیتونو کې هم دا بیان کړیچې هغه "ښارکوټي" ته بیرته ورتګ د کوم ځای نه چېدوی شړل شوي وو (زموږ په نظر دا ښارکوټی یروشلم دی) به هله منځته راځي کله چې دا دوه شرایط پوره شي:

- جوج مأجوج راخوشې شي او
- دوی په هر لور خپاره شي

اوس چې یهودیان بیرته ارض المقدس ته بیرته ستانه شوي دي او دا ځایپې خپل کړی دی، نو دا باید روښانه وي چې شیعه تر هغې دا دعوه نشي کولايچېدوی د اسلام رښتیني استاذي دي تر څو چېدوی د جوج مأجوجو او د دجال موضوع په اړه د خپلې خبرتیا او پوهې څرګندونه ونکړي. په داسې حال کېچې دجال او جوج مأجوج په ټوله نړۍ اغیزه لري، نړۍ د اهل تشیعه له خوا پدغه موضوع کومې علمي څرګندونې ته لا تر اوسه سترګې په لار ده. په بله وینا دوی تر اوسه کوم ډول غبرګون نه دی څرګند کړیچې دا وښاییچې ګواکېیواځې همدوي رښتیني مسلمانان دي.

## احمدیه فرقه

د اوسمهاله اسلامي نړۍ د بیلارې فرقو په قطار کې تر ټولو نامتو ډله هغه ده چې په مرمزه توګه د اوسني سیکولر غربي تمدن او د اسرائیل دولت په نظرکې تر ټولو غوره ډله دهیعنې د احمدیانو فرقه. د دې خطرناکې او په څرګند ډول بیلارې ډلې یوه د یادونې وړ ځانګړتیادا ده چېد دې فرقې بنسټوال، مرزا غلام احمد، په صحیح توګه د اوسني غربي تمدن په قومونو کې جوج مأجوج په نښه کړي وو. په دېکې

شک نشته چېدغې د دروغو پیغمبر ځینې نورو مسئلو کې هم په تعجب سره صحیح نظر درلود. خو سره د دېچې هغه اوسني غربي ملتونو څخه پرده لیرې کوله، غورځنګ پېتل د هغوی پلویتوب مونده. مرزا غلام احمد په ډېره تېکی د 'قیامت د نښو' مضمون ککړ کړ او دجال یې د جوج مأجوجو په حیث وپېژند.

مرزا غلام احمد همدا رنګ نړۍ هغه وخت حیرانه کړه کله چېیوه بله باطله دعوه یې وکړه چېګواکې هغه حدیث چې د رښتیني مسیح یعنې د عیسیعليه السلام د بیرته راتګ په اړه وړاند وینهپکې شوې، د هغه په ذات کې بشپړ شوی دی. که څه هم هغه د رښتیني مسیح په اړه د دې حدیث حقیقت منلو، خو د هغه په اند عیسیعليه السلام کشمیر کې په حق رسیدلی، هلته خښ دی او خپله بیرته نه راځي. بلکه ،د هغه په اند، رسول اللهﷺپه اصل کې مرزا غلام احمد ته اشاره وه کله یېچې دا وینا کوله. مرزا غلام احمد دا باطله دعوه په داسې حال کې کوله چې په ډېره بیشرمۍ یې دي حقیقت نه سترګې پټولې چې هغه خو د یوې پنجابۍ مور ځوی و او رسول اللهﷺ په ډاګه دا ویلي چېراتلونکی رښتینی مسیح به د سپین پایڅې مریم ځوی وي.

"…. په همدې وخت کې به الله تعالی مسیح، د مریم ځوی راولیږي. هغه به د دمشق ختیځ لور ته ولاړ سپین مینار باندې راکوځ شي، چې دوه په زعفرانو تت شان رنګ شوې جامې به یې په تن وي او لاسونه به یې د دوه ملایکو په وزرو ایښي وي. کله چې هغه خپل سر ښکته کړي، نو د خولو مشکنې به ترې وغورځیږي، او کله چېسر پورته کړي، د ملغلرو په شان مشکنې به ترې وشیندل شي. هر کافر چې د هغه د بدن وږم بوی کړي نو هلاک به شي او د هغه ساه به تر هغه ځایه رسیږي تر کوم ځایه پورېچې د هغه دید کار کوي …." (صحیح مسلم)

په یو بل حدیث کېچې دا هم د همدې ستر راتګ په اړه دی، رسول اللهﷺ عیسیعليه السلام په نوم ذکر کړی:
"حذیفه بن أُسید غفاري څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ هغه وخت ناڅاپه زموږ لور ته راغی کله چې موږ خپل منځ کې یو بحث کې مشغول وو. هغهﷺ وپوښتل "په څه شي بحث کوئ؟"هغوی (صحابه کرامو) وویل، "موږ د آخرې کړۍ په اړه بحث کوو". نو بیا رسول اللهﷺ وفرمایل:"دا به تر هغې نه راځي تر څو چېتاسی ته لس نښې نه وي ښکاره شوي" او بیا یې (دې ته اړوند) یادونه وکړه د'لوږي'، 'دجال' ، 'ځناور' ، 'د لمر د لویدیځ له لورې راختل' ، 'عیسیعليه السلام د مریم ځوی' ، 'جوج مأجوج' ، 'دري ځایه د ځمکې غرقیدل، یو په ختیځ کې، یو په لویدیځ کې او یو په عربستان کېچې په پایله کې به یې یو اور د یمن له لورې راووځي او خلک به خپلد غونډې ځای ته وځغلول شي' ." (صحیح مسلم)

د احمدیانو دې دعوې چېګواکېدوی د رښتیني اسلام استازیتوب کوي باید احمدي عالمان دې ته هڅولي وایچې په ۲۰۰۲ کال کې چاپ شوي 'بیت المقدس په قرآن کې' په نوم کتاب ته خپل غبرګون وښایي.

## وهابي فرقه

د عجیبو او بیلارې فرقو له شمیره یوه هغه ډله ده چې په مرموزه توګه د عربستان د نجد سیمې څخه راڅرګنده شوه او نور ټول مسلمان سیالان په مشرکانو حسابوي، او بیا د دې نورو ټولو ډلو قتل واجب بولي. د دې نجدې وهابي ډلې غړو د سعودي قبیلې سره تړون وکړ تر څو اول د نجد، او بیا د اسلام د زړه حیثیت لرونکې د عربستان د حجاز د سیمې واکمني تر لاسه کړي. دوی د حجاز د سیمې کنترول ځکه ترلاسه کول غوښتل تر څو د هغه څه نه یې پاکه کړي چېدوی شرک باله او ربښتینی دین بیرته په ځای کړي. کله چېدوی واکمنۍ ته ورسیدل نو بیا یې زرګونه بیګناه مسلمانان په قتل ورسول.

د سعودي-وهابي تړون اصلي مقصد هغه وخت رابرسیره شو کله چې دواړوسعودي قبیلې او وهابي ډلې په شریکه په عربو کې د انګریز او امریکې لاسپوڅي سعودي دولت جوړولو دسیسه وپنځوله او په ډیر جرأت یې ورته د 'سعودي عرب' نوم ورکړ.د دغه لاسپوڅي دولت د هستولو په لړ کېدوی دارالاسلام او خلافت رنګ کړ چې رسول اللهﷺ یې په خپل لاس بنسټ ایښی و. دوی دجال تیر ویستل ځکه چېد دوی خیانت له اسلام سرهد جوج مأجوجو لپاره لاره هواره کړه تر څو خپله هغه مرموزه دنده تر سره کړي چې د قرآن کریم د سورة الانبیاء په ۹۵-۹۴م آیتونو کې بیان شوې ده.سعودي-د دې په ځایچېهغو خلکو سره د وروروليٰ پیوستون وکړي څوک چې د اسلام په سپیڅلي دین ایمان لري، وهابي ټلواله د اروپايي مرموزې یهودي-عیسوي ټلوالې سره یو ځای شوه.

د اسلام د زړه د خرڅون د دې سترې ماملې بشپړیدنه او رسمي کیدنهد یهودي-عیسوي ټلوالې لپاره دومره ډیره د ارزښت څخه ډکه وه چې یو امریکايي ولسمشر په خپله یوبحري بیړۍ کې سفر وکړ تر څو د سعودي عرب د پاچا سره شخصاً لیدنه کتنه وکړي. امریکايي بیړۍ مرفي USS Murphy په پټه شاه عبدلعزیز ابن سعود د جدې د بندر څخه دمصر په سویز کانال کې د مرة الکبری بحیرې ( Great Bitter Lake) ته ویوړ چیرته چې بله امریکايي بیړۍ کوینسي (USS Quincy) کېد امریکا ولسمشر روزویلت (Roosevelt) ورته منتظر و.دواړه مشرانو د ۱۹۴۵ کال د فبرورۍ په ۱۴مه نیټه یو بل سره وکتل او خپل تړون پیلاسلیک کړ. سعودي-وهابي ټلوالې یواځې ۳ کاله وروسته د دغې تړون تریخ ثمر تر خولې کړ کله چې د اسرائیل دولت منځته راغی او امریکا لومړی دولت وچې په ویاړپیاسرائیل په رسمیت وپیژند.

دا حقیقت چې د ۱۹۴۸ بدمرغې پیښې نه وروسته سعودي-امریکايي تړون او اتحاد نه یواځېپاتې شوی بلکه پرمختګ پیکړی،راښایيچېوهابي فرقه د اسلام سره په خیانت کې خوشحاله ده.

تر څو چېسعودي-وهابي ټلوالې د اروپايیهودي-عیسوي اتحاد سره خپله د غلام او بادار اړیکه ټینګه کړیوه نو تر هغېپورې یو مسلمان او یا د مسلمانانو یو جماعت لپاره دا شونې نه وه چېد دوی په حجاز، حرمین او حج

باندېواکمني له منځه يوسي. منطقي پايله يې دا وه چې دې نوې فرقې چې يو لور ته د ربښتيني اسلام د استاذيتوب دعوه کوي، بل لور ته يې يهودي-عيسوي اتحاد لپاره په ټوله اسلامي نړۍ د واکمنۍ ورټيا ترلاسه کولو کې کليدي رول ولوباوه. (د نور تفصيل لپاره 'خلافت، حجاز او سعودي-وهابي دولت' په نوم کتاب وګورۍ، www.imranhosein.orgنه يې ترلاسه کړۍ).

رسول اللهﷺ په ښکاره د دې خيانت په اړه وړاند وينه کړې،دا حديث په صحيح بخاريکې ذکر شوی او د نجد سيمې په اړه داسې فرمايل شوي"د دېځای څخه به زلزلې، ازمېښتونه او فتنې او د شيطان قرن (زمانه) رابرسيره کيږي" (سعودي قبيله او د وهابي فرقې مشران دواړه د نجد سيمې څخه راوتلي دي). د اسلام په پيل کې د نجد جغرافيايي موقعيت په اړه ډېر اختلاف و. ځينو ويلچې نجد په عراق کې موقعيت لري. د وخت تيريدو سره کافي ثبوتونه او شواهد مخې ته راغليچې دا څرګنده کړي چې د رسول اللهﷺ پيشګويي په ربښتيا سره بشپړه شويده. د عراق مسلمانان په ډېره ميړانه د امريکايي-اسرائيلي اشغال څخه د خپلې سيمې د ازادولو لپاره يوه غښتلې وسله واله مبارزهکې بوخت دي، په داسې حال کېچې د سعودي عرب نجدي مذهبي او سياسي مشرانو د همدغو ظالمانو سره خپل شيطاني اتحاد ته په ډېر ديانت او غلامۍ سره دوام ورکړی.

اوسمهاله زمانه کې د وهابي مذهبي مفکورې يوه عجيبه ځانګړتيا دا ده چېدوی د قرآن کريم د آيتونو او احاديثو ټکي په ټکي (تحت اللفظي) مانا کړنې باندې ټينګار کوي، په تيره هغه احاديث او آيتونه چې د 'آخري کړۍ د نښو'پورې اړه لري. نتيجه يې دا چې وهابي عالمان (د يو څو نه پرته) د خپل دا رنګ څيړندود په سبب ديني مجازاتو او تشبيهاتو باندې د سر خلاصيدنې او بيا ترينه سمه مانا اخستنې څخه معذوره پاتې دي او همدا علت دی چېدوی د دجال او جوج مأجوجو په حقيقت نه رسيږي. بل لور ته که وګورو نو شيعه مذهبي عالمان په قرآن کريم او احاديثو کې موجود متشابهاتو څخه مانا اخستنې ته د هغوی په پرتله زيات چمتو دي. نو هيله ده چې دې کتاب کې موجود داسې مانا اخستنې په هکله دوی زيات منونکي ثابت شي.

## تبليغي جماعت (جماعت التبليغ)

د هند څخه يوې بلې عجيبې او مرموزې فرقې ځان پورې تړلي خلکو ته د تبليغيانو نامه ورکړه. د اسلامي نړۍ بيلا بيلو برخو کې د هغوی دغه طريقه چې خلکو ته ورشي او يواځې د رسول اللهﷺ غير ستراتيژکي سنتو ټينګولو ته يې راوبلي، خورا بريالۍ شوه. د دې فرقې ډيری غړي مخلص مسلمانان دي او د سوچه منقيانو ژوند تيروي. نو دا ډېره عجيبه ده چې ددغې غير سياسي فرقې غړي هغه وخت خپل غوږونه بندوي کله چېداسې څه خبرې اتري يا بحث روان وي کوم چې د امريکې دغه باطلې دعوې ته د شک په سترګه ګوري چېکواکې دا مسلمانان او عربان ووچې په امريکه يې د ۱۱ ستمبر بريدونه ترسره کړي وو.

رسول اللهﷺ ډېر په روښانه ډول واضحه کړېچې مسلمانان د ظلم په خلاف باید یو بل شان غبرګون ښکاره کړي. هغهﷺ د دجال په اړه وایي:
د النواس ابن سمعان څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ (د دجال په اړه) فرمایلي: "..... که چیرېهغه داسې وخت کې راشي چې زه مو لا منځ کې یم نو زه به ستاسې لخوا هغه سره دلایل ووایم (یعنې زه به په استدلال سره هغه ته غبرګون ښکاره کړم)، خو که چیرته هغه داسې وخت کې راشي چې زه مو منځ کې نور نه یم نو له تاسیڅخه هر کس باید په خپله استدلال وکړي...."(صحیح مسلم)

د دې فرقې غړو خپلې فرقه پالنې سره لومړی خیانتدا وکړ چې د الله تعالی په مسجدونو یې خپل انحصاري کنټرول ټینګ کړ او بیا یې د خپل کنټرول لاندې مسجدونو کې په ډېره سرزوری نورې ډلې د تبلیغ او علم خپرولو څخه منع کړې. دوی تل په ځیل او سرزوری په دې ټینګار کړېچې په مسجدونو کې علم خپرول یواځېد دوی دنده ده. دې ډلې یوه بله پخپله د خپلو سترګو پټولو پالیسي اختیار کړې ده او هغه دا چېدوی د اوسمهاله بیدینه غربي تمدن لخوا په مسلمانانو سیاسي، اقتصادي او نور ډول ظلمونو ته هیڅ ډول غبرګون نه ښکاره کوي. دا د دې فرقې غلط ځیړندود ندی چې تبلیغي عالمان یې د جوج مأجوجو او د دجال حقیقت ته رسیدو نه پاتې کړي بلکه د دېموضوع پرېښودنه د دوی اصول او پالیسي ده او خوشې یو سرخوږی ورته ښکاري.

د دې مرموزه فرقې په اړه د اسلام د دښمنانو په زړونو کې یواځینی اندیښنهښایي دا وي چې دې فرقې ته داسې(لکه د مالکم ایکس MalcolmX پشان) مسلمانان ورننوتلای شي کوم چې ستراتیژکي سنت په کار اچوي او بیا د اروپاییهودي-عیسوي ټلوالې لخوا د اسلام په ضد بې انصافه جنګ، د هغوی نژادپالنې او په نړۍ کې زیاتي ته په میړانه غاښ ماتونکی ځواب ورکړي.
خو نړۍ لا سترګې په لار ده او تر اوسه یې د تبلیغي جماعت لخوا په 'اوسني دور کې د قیامت د ورځې د نښو' په اړه کوم عالمانه آثار لا نه دي ترلاسه کړي.

## اسلامي عصریتIslamicModernism

دا د دین څخه لیرې پاتې مسلمانانو یوه فرقه ده چېد سیکولر غربي تمدن علمي او تخنیکي لاسته راوړنو او د سیاسي او فوځي قوت څخه بېډېر د تاثیر لاندېراغلې ده. دوی د غربي تمدن لاسته راوړنې او قوت په دې مانا بولي چېګواکې غربي تمدن په حق ولاړ تمدن دی. ځینې بیا وایيچې عصري غربي تمدن اصل کې په اسلام کې خپله سرچینه لري او اسلام کېچې څه غوره څیزونه دي هغه ټول پکې راټول شوي دي. د دې فرقې پیل د خلافت نه وروسته په ترکیه کې وشو.

اسلامي عصریت غواړي چېاسلامي نړۍ دومره عصري شيچې مسلمانان پکې په اسانه د غرب ژوندلاره خپله کړي چې د سیاسي شرک، اقتصادي ربا (سود)، بنځینه پاځون او نورو فتنو څخه ډکه ژوندلاره ده. د اسلامي عصریت غړي اکثره د اسرائیل د دولت سره موافقې ته رسیږي او بیا ورسره د ملګرتیا او اتحاد اړیکې ټینګوي. معاصرې ترکیې همدا کار وکړ او پاکستان کې د مشرف معاصر رژیم هم دا رنګ هڅه وکړه. نور اسلامي معاصرین په فلسطین کېد روانو ظلمونو په ضد غږ نه اوچتولو کې خپله ګټه ګوري. دوی د اسرائیل د شتوالي اخلاقي او قانوي مشروعیت مني. دوی سره د دې دا مشروعیت مني چېاسرائیل د خپلبې انصافه او بدمرغه منځته راتلو راپدېخوا او خپل په وینو رنګ شتوالیپه دورانکېدوامداره ظلمونه ترسره کړي دي. ځینې معاصرین بیا د اسلام او د احمدیه فرقې تر منځ شخړه کې اسلام باندې نیوکې کوي. نور یې ځانونه دومره غربیان بولي چې کله دوی په امریکه، برتانیه، استرالیا، کانادا او یا نورو هیوادونو کې اوسیږي نو دوی هغه امریکایي او برتانوي پوځونو ته چې په افغانستان او عراق کې په ناوړه اشغال بوخت دي، 'زمونږ' پوځونه وايي. د دوی مثال د سپنجونو دی، هر څه چېد غرب لخوا په لاس ورشي په ځانونوکېیې جذبوي. دوی په اسانه له دې څخه پېژندل کیږي چېدوی تل په جهاد بد وايي او څوک یېچې کوي هغوی تورنوي چېدوی جهادیان دي. دوی د ځینې ځانګړو اصطلاحاتو څخه هم کار اخلي لکه "اسلام پلو"، "اسلامزم"، "اسلامي پرده اچونه"، "اسلامي بنسټ پالنه" او "ملایانو" ته کنځلې کوي. په آکسفورډ کې تربیه شوې بینظیر بهټو د اسلامي عصریت یوه بنه نمونه وه.

دوی تل چمتو ناست وي چې مسلمانانو ته د تروریزم په خلاف نصیحت وکړي خو په داسې کولو سره دا معاصر اصل کې دغه باطله مفکوره وړاندې کوي چېکواکې د ۱۱ سپتمبر پشان د تروریزم د پیښو پړه په مسلمانانو ده. دوی په غیر شعوري توګه د یهودي-عیسوي اتحاد تکلارې لپاره لاره هواروي. د نړۍ تر ټولو ناوړه ترهګر دولت چې مثال یې په تاریخ کې نشته، د دوی لخوا هیڅ کله ونه غندل شو، ځکه چې که چیرېدویاسرائیل، امریکه، برتانیه او یا اروپا ته ګوته ونیسي چېدوی تر ټولو ستر ترهګر دي او په غزه او فلسطین کېیې ټولوژنې ترسره کړي او بیا د فلسطین مظلومو مسلمانانو سره کومک ته غاړه کیږدي نو بیا د دوی دغه عصري دریځ او د غرب سره اتحاد د ړنګېدوخطر سره مخ کیږي. دوید دې په ځای خپلې سترګې او غوږونه بندوي او حتی د هغو امریکایانو سره هم نه همغږه کیږي کومچې د ۱۱م سپتمبر بریدونو په اړه د امریکایي دولت لخوا وړاندې شوي څرګندونې په کانو ولي او سوچه دروغ یې بولي.

دا بیلاریې 'اسلامي عصریت پلویان'دومره ظرفیت نلري چېپه دې پوه شي چې که څه هم دواړو تمدنونو د یو بل څخه څه نا څه ګټه پورته کړیده خو د اوسني غربي تمدن بنسټ سوچه د اسلامي مفکورې سره تضاد لري. د اسلام دین په ربښتیا اوسوچه اخلاقي ارزښتونو ولاړ دین دی او د کاینات په اړه یوه روحاني مفکوره لري چې هغه د ښکاریدونکې مادې نړۍ څخه پورته مفکوره ده. حال دا چې د اسلام په سیالۍ کې راولاړ دا خسا او لامذهبه تمدن هر ډول حقیقت څخه ډډه کوي پرته له مادي حقیقت څخه، او بر له پسې له ځانه سیکولر (بیدینه) ارزښتونه جوړوي کوم کېچېد مثال په توګه همجنسپرستي او د ښځو ترمنځ

همجنسپرستي کوم ډول اخلاقي جرم نه دی. یو لور ته واقع د رښتیا او بل لور ته د لامذهبۍ، خساتوب، اخلاقي پرزيدنې او مادیت پرستۍ تر منځ کومه همغږي ناشونې ده خو د اسلامي عصریت د هلو ځلو اصلي مقصد دا دی چېداسې یوه همغږي دېمنځته راشي.

دا لیکونکی په دې پوه دی چې د غربي سیکولر تمدن اصلي طرح کونکی دجال دی او لکه څنګه چې د دجال په تندي باندې د کافر کلمه لیکل شوېهمداسېد دې تمدن په مخ د کفر کلمه مهر شوې ده.

اسلامي عصریت په ډیر ټینګار سره په اوسمهاله غربکې ځان ځای په ځای کولو کې بوخت دی په تیره د امریکې او برتانیې په شان هیوادوکې. خو دې غورځنګ په اسلامي نړۍ کې هم خپل ناوړه سر راپورته کړی لکه په ملایزیا کې منځته راغلې اوسنیو پېښو څخه چې څرګندیږي. صدراعظم احمد عبدالله د اسلامي عصریت یو نوی اتل دی او د اسلام هاداري IslamHadari په نوم یو غورځنګ یې پیل کړیدی.

د دې ټولو بیلاربېلفرقو تر منځ یو شی مشترک دی هغه دا چې دا ټولې 'اوسني دور کې د قیامت د ورځې د نښو' په اړه لیکلو څخه ډډه کوي. دوی همدا رنګ د نورې اسلامي نړۍ په شمول،متاسفانه هیڅ کله هڅه نده کړې چې د هغه دیوال لټه کې شي چې ذوالقرنین جوړ کړیو او کوم چې باید اوس هم ولاړ وي ځکه چېد دوی په اند جوج مأجوج خو لا تر اوسه نړۍ ته نه دي راخوشې شوي.

دا ټولې فرقې یو بل شی هم مشترک لري او هغه دا چې هغه مسلمانانو ته په بده سترګه ګوري کوم چې د الاحسان د رښتینې لارې په تکل کې دی او سره د دې حقیقته چېد دې لارې او هڅې په پایله کې نورالله (د الله تعالی له طرفه رڼا) تر لاسه کیدای شي او دا سړي ته دا وړتیا ورکوي چې په دواړو سترګو وګوري (باطني او بهرنۍ) حال دا چې دجال د دروغو مسیح او د هغه بیشماره مریدان تش په یوه سترګه ګوري (بهرنۍ سترګه). نړۍ لا تر اوسه اسلامي عصریت ته هم سترګې په لار ده تر څو دوی په 'اوسمهاله دور کې د قیامت د ورځې نښو' په اړه کومه علمي څیړنه او لیکنه وړاندې کړي.

## اشراف پرست فرقه پاله صوفیزم

په آخره کې باید د اوسمهاله زمانې ځینې خواص پلوه صوفیان ذکر کړو کوم چې ځانونه د اسلامي روحانیت څښتنان بولي او په زغرده د دې خبرې دعوه هم کوي. خو عجیبه ده چې بیا هم د پورته ذکر شویو مسئلو په اړه ړانده کاڼه دي او یا خو یې په مرموزه توګه چوپتیا غوره کړې ده. نه خو دوېپه دې حقیقت رسیدلي چې په سعودي-امریکې پاچاهۍ کې حج د اسلام دښمنانو لاس ته ورغلی دی او هغه پخوانۍ سموالی اوس نلري، او نه په دېچې اوسمهاله کاغذي پیسې او ورسره ژر د کاغذي پیسو ځای نیونکې بریښنایي پیسې سوچه جعلي، ټګمارې او له دې علته حرامې دي.دوی نه خو په دې پوهیږي چې د اوسمهاله سیکولر

دولتونو په ټاکنو کې رابې ورکول سوچه شرک دی او نه د تش په نامه شرعي مالي او اقتصادي سستم ټکماري پیژندلای شي. مثلا د مرابحه راکړې ورکړې سستم چې په نامه خو ورته د اسلامي مالیاتي نظام یوه بڼه ویل کیږي خو د پردي شا ته د سود راکړه ورکړه ده. خو د صوفیانو تر ټولو ستره نیمګړتیا داده چې د غرب د سیاسي او اقتصادي زیاتیو څخه ځان خلاصولو په هلو ځلو کېدوی د باقي اسلامي نړۍ سره هیڅ ډول ګډون نه کولو هوډ کړی، حتی تر دېچې قلم یې هم چوپ دی. ډیرید دې تش په نامه صوفیانو څخه ځانونه په شفقت لرونکي خواصو مسلمانانو کې شمیري او نوریې په شوق د فرقه پالنې په سیالیو کې بوخت دي.

ربښتیني اسلامي عالمان اوسمهاله عجیبه نړۍ په سمه توګه او د د قرآن کریم او احادیثو په رڼا کې د تشریح کولو وړتیا ښودلو سره به نه یواځې دا جوته کړیچې اسلام حق او ربښتینی دین دی بلکه د دا شان خواص پرستو او فرقه پاله عالمانو څخه به هم ځانونه جلا کړي. په'اوسمهاله زمانه کې د قیامت د ورځې د نښو' مضمون تشریح کولو په ذریعه به اسلامي عالمان یوه داسې روښانه ډیوه بله کړي چې ټول هغه مسلمانان به ترې ګټه پورته کړي څوک چېد بیلابیلو اسلامي فرقو تر منځ توپیر کولو او د دې فرقو په حق د دعوې قضاوت په لټه کې دي او بله دا چېدوی به سمه لاره غوره کړي.

په آخره کې باید د لوستونکو پام دې ته راوګرځوو چې د قیامت ډیرې نښې په ارض المقدس (فلسطین) کې روانو او زیاتیدونکو ظلمونو سره نیغ تړاو لري. د ربښتیني مسلمانانو او د دوی جعلي فرقه پاله سیالانو تر منځ توپیر له دې څخه ښه څرګندیږي چې کومه ډله د هغه خسا او بیدینه ظالمانو کلک مخالفت کوي څوک چې اوس د اسرائیل د دولت په استاذیتوب په نړۍ واکمني کوي. د مسلمانانو څخه په سمه لار ټولنه (جماعة) به هغه وي چا ته چې الله تعالی په قرآن کریم او احادیثو کې موجود د قیامت د ورځې د نښو د سم تعبیر کولو توان ورپه برخه کړی وي. دا نښې نن سبا په ارض المقدس کې رابرسیره کیږي لګیا دي او د دې سم تعبیر د سم غبرګون لپاره اړین دی. دا ټولنه به هغه وي چې په میړانه میدان ته راودانګي تر څو بالاخره په ارض المقدس کېحق او انصاف په باطل، بې انصافۍ او بربري ظلم باندې بریالی شي.

# دوهم فصل

# څېړندود

رسول الله ﷺ څرګندونه کړېچې د'لمر لویدیځ څخه راختل'د قیامت د نښو څخه یوه نښېهوي. دا ځانګړې 'نښه' یو څو پوښتنې راپورته کوي د مثال په توګه:

> د قرآن کریم د علم خاوندانو په نزد همغږي نه یواځې د تدریس یوشانتوب منځته راوړي بلکه د دې اصول تایید هم کوي چې د قرآن کریم ټول آیتونه د یو بل سره تړاو لري او د یو واضح غونډال برخې دي او په دې توګه په قرآن کریم کې د یو مانایز غونډال شتون په څرګنده توګه په ثبوت رسیږي او د قرآن کریم همغږي د دې غونډال څخه د کتې اخستو په برخه کې هم پکار راځي."
>
> (Ansari, FR: 'Qur'anic Foundations and Structure of Muslim Society',www.fazlurrahmanansari.org, Volume 1, p. 192)

- آیا دا لمر چې د لویدیځ څخه به راپورته کیږي هماغه لمر به وي کوم چې تل د ختیځ څخه راختلای دی، او که نه دا به کوم بل لمر وي؟
- آیا لمر به واقعاً د لویدیځ څخه یوه ورځ راپورته شي او که دلته دیني سمبولي ژبه کارول شوېچې تعبیر یې باید ولټول شي؟
- آیا دغه فکر چې لمر به د لویدیځ څخه راخیژي، به بالاخره کومه بصرې غولیدنه وي؟
- آیا د لمر د لویدیځ څخه راپورته کیدلو 'نښه' به په یو وخت بیلابیل تطبیقات ولري چې ټول به په ځای وي؟کیدای شي دا په یو وخت یو سمبولي څیره ولري او یو تش په نامه د لویدیځ څخه لمر ختلو ته اشاره وي، لکه څنګه چې د لیکونکي نظر دی، او بیا هغه وخت واقعي لمر د لویدیځ څخه راپورته شي کله چې توکیز کاینات په غیرالارض یعنې په یوه بله ځمکه بدل شي؟ (قران کریم، سورة الابراهیم، ۱۴:۴۸)

خلک پېډیره بیړهد دېوړاندوینې هر هغه تاویل څخه صرف نظر کوېچېعلاوه د هغه لمر نه چې قرآن کریم کې یې یادونه راغلې، د یو بل لمر د شتون امکان پکې بنودل شوی وي. دا به زمونږ لپاره د غولیدنې مثال ولري. له همدې کبله خلکد دېوړاندوینېداسې پوره کیدل هم نه منیچېکیدای شي دا د یوې بصري غولیدنې بنه ولري.

قرآن کريم واضحه کړېچې لمر د ختيځ څخه راپورته کيږي (البقره، ۲:۲۵۸) او دا يوه داسېښنداره ده چې هره ورځ او د نړۍ هر کوټ څخه د سر په سترګو ليدل کيږي. قرآن کريم چې کوم لمر ته اشاره کوي هغه بيشکه همدغه لمر دی چې هره ورځ زمونږ په سر ځليږي. قرآن کريم بيا د سورة الروم په ۳۰م آيت کې دا هم وايېچې د الله تعالی تخليق بدلون نلري، چې ترينه دا مانا اخستلای شو چې لمر بايد تل د ختيځ څخه پورته شي او بيخي د لويديځ څخه نشي راختلای.

ابراهيمؑ د يو پاچا سره يواځې د يو ښښتن عبادت کولو په اړه په لانجه کېوو او داسې يوه ننګونه يې ورته وکړه: "دا زما ښښتن دی چې لمر د ختيځ څخه راپورته کوي. ته يې د لويديځ څخه راپورته کړه!" د قرآن کريم کريم آيتونه په لاندې ډول دي:

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ ۖ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾

"آيا نه ياستتاسی خبر د هغه کس (پاچا) نه چېجګړهکې و ابراهيم سره د هغه د ښښتن په اړهله دې کبله چېالله تعالی هغه (پاچا) ته پاچاهي ورپه برخه کړېوه؟ نو ابراهيم وويل:"زما رب هغه دی چې ژوندي کوي او مړه کوي." (پاچا) وويل: "زه (هم) ژوندی کوم او مرګ ورکوم!" ابراهيم وويل"بيشکه الله تعالی لمر د ختيځ څخه راولي؛ ته يې راوله له لويديځ څخه!" نو حيران (او شرمنده) شو هغه څوک چې کفر يې کاوه: او الله نه ورکوي هدايت قوم د ظالمانو ته." (القرآن، البقره، ۲:۲۵۸)

سره له دېچې قرآن کريم په روښانه ډول څرګندوي چې:

- الله تعالی لمر د ختيځ له لوري راپورته کوي، او
- د الله تعالی تخليق بدليږي نه

يو حديث شتون لريچې په عامه ډول داسې تعبير يې کيږي چېکواکې هغه لمر (چې قرآن کريم کې ذکر شوی) به واقعاً د لويديځ له لوري يوه ورځ راپورته شي، او دا مفکوره عامه ده چې دي حديث کې ذکر شوې له لويديځه لمر راختل به هماغه وي کومه چې د قيامت د نښو څخه يوه نښه ده او د کومې چې رسول اللهﷺورلندوييڼه کړېده:

د ابوذرؓ څخه روايت دی چې زه يو ورځ مسجد ته هغه وخت ننوتم چې رسول اللهﷺ هلته ناست و. کله چې لمر ډوب شو، نو رسول اللهﷺ وفرمايل، "ای ابو ذره! ته پوهيږې چې دا (لمر) چيرته ځي؟" ما

وويل، "الله تعالی او رسول ﷺ يې غوره پوهيږي." هغه وفرمايل، "دا ځي او د سجدې اجازه غواړي، او ورکول کيږي، او (يوه ورځ) به ورته ګواکې امر وشي چې بيرته ستون شه له کومې چې راغلی يې، بيا به دا د لويديځ څخه راپورته شي." بيا رسول الله ﷺ تلاوت کړ،وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا (سورة يس، ۳۶:۳۸)"او لمر ځي پخپلې ټاکلې لارې باندې،"او دا د عبدالله (رض) څخه هم روايت دی. (صحيح بخاري)

## قرآن مجيد په احاديثو قضاوت کوي او نه د دې برعکس

پورتنۍ ستونځې ته زمونږ د ځيړندود له مخې لومړی غبرګون بايد دا وي چې د قرآن کريم او د حديث ټکي په ټکي مانا اخستني تر منځ که يو واقعي ټکر نه وي نو لږ تر لږه ظاهري ټکر په ګوته کړو، او ظاهري ټکر تر دې حده دی چې‌وايي د لويديځه لمر راختل به د عيسیؑ د راتګ نه وړاندېمنځته راځي. او بيا د داسې ټکر په حالت کې بايد يواځې قرآن کريم ته ترجيح ورکړو په نسبت د حديث څخه د داسې ناسمې مانا اخستنې. دا رنګ ځيړندود، چې‌اسلامي عالم مولانا دکتور انصاري ښه روښانه کړی، څرګندوي چې”دا د قرآن کريم دنده ده چې د احاديثو قضاوت وکړي او نه د دې برعکس“
(Qur'anicFoundations and Structure of Muslim Society Volume 1, p xxiv).

مونږ دا منو چې‌لمر د نړۍ د پای په وخت له لويديځ څخه راختلای شي ځکه چې الله تعالی فرمايلي په دغه وخت به په ځمکه او آسمانونو کې يو تبديلمنځته راشي (سورة ابراهيم، ۱۴:۴۸). خو د نړۍ د پای په وخت ټکي په ټکي د لويديځ څخه د لمر راختل د تاريخ د پای سره هيڅ تړاو نلري، او د تاريخ د پای ستره نښه د عيسیؑ بيرته راتګ دی. (د 'نړۍ د پای' او د 'تاريخ د پای' تر منځ توپير لپاره دريم فصل وګورئ). پايله دا چې‌داسې ټکي په ټکي د لويديځ څخه د لمر راختل د آخرې ګړۍ لس سترو نښو کېځای موندلو لپاره مناسبه نښه نده. او بيا دا چې‌داسې ټکي په ټکي د لويديځ څخه د لمر راختل يواځې په ځمکه او آسمانونو کې د 'تبديل' په وخت امکان لري او له دې څخه مخکې ناشونې ده چې‌داسې وشي ځکه چې الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي چې د الله تعالی تخليق نه بدليږي!

مونږ ته نتيجتاً دا جوتيږي چې 'لمر د لويديځ څخه راختلو' ښه تشبيهي څرنګوالی لري او ټينګار لرو چې تعبير يې بايد پيدا کړو. زمونږ په نظر د اوسمهاله او بيدينه غربي تمدن راڅرګنديدنه او برياليتوب سره د خپل علمي او تخنيکي انقلاب او په نړۍ ورځ تر بلې زياتيدونکی برلاسی، اصل کې د غرب څخه د تش په نوم لمر راختلو سمبولي تعبير دی چې دا د قيامت د ښو څخه يوه ستره ښه ده. والله اعلم!

که چیرې د 'د لویدیځ څخه د لمر راختل'تشبیهي بڼه لري نو امکان لري چېنورې د 'قیامت نښې'هم تشبیهي بڼه ولري، نو موږ یو ځېږندود ته اړه لرو چې په کومک یې قرآن کریم او احادیثو کې موجود تشبیهاتو څخه مانا واخلو.

قرآن کریم روښانه کړېچې آیتونوکښېي محکمات او متشابهات شامل دي:

﴿هُوَ الَّذِي أَنزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُّحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ ۖ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ ۗ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ ۗ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ﴾

"الله هغه څوک دی چې نازل کړیېي دی په تا (محمدﷺ) باندې کتاب، چېله دې نه دي آیتونه محکمات (ښکاره مانا لرونکي) چې دا اصل د کتاب دی– او نور چېمتشابهات دي (چې مانا یې پټه ده). نو هغه کسان چې په زړونو د دویکې کوږوالی دی پس پیروي کوي دوی د هغو (کلماتو) چې متشابه وي له دې (قرآن) څخه او لټه کوي د فتنې او د مانا د دې. حال دا چې نه پوهیږي په مانا د دې مګر الله او هغه خلک چې پاخه دي په علم کې او وایېچې ایمان مو راوړی په دې(دواړه متشابهات او محکمات) ټول له طرفه د رب زموږ دی. او پند نه اخلي (له دې) مګر هغه چې خاوندان د عقلونو دي." (سورة آلعمران، ۳:۷)

ځینې خلکو په پورتني آیت کې په خپل سر د ' وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ' څخه وروسته وقف لازم (م) (یعنې حتمي اودریدل) داخل کړی دی. د دې نقطې ایښودلو په نتیجه کېدوید دې آیت نه داسې مانا اخلي چېکواکښې له الله تعالی څخه بل هیڅوک د قرآن کریم د متشابهات آیتونو په مانا نه پوهیږي. داسې به د هغو آیتونو په اړه درسته وي چې د قیامت د ورځې د ټاکل کیدو په اړه وي او یاداسې نور او د دې علم صرف الله تعالی سره دی، خو نور داسې آیتونه شته چې د هغوی څخه د علم خاوندان مانا اخستلای شي او د دې اجازه هم لري. نو دارنګ آیتونو کې د وقف لازم نقطه داخلول ناسم کار دی.

په قرآن کریم کېد متشابهاتو آیتونوازلولوالهي منظور څه کیدای شي؟ زما په نظر او والله اعلم چې مقصد یې دا دی چېالهي حکمت پرله پسې ځان داسې څرګند کړي تر څو مومنان په سمه توګه د هغو لوړپوړه عالمانو چې د داسې آیتونو تعبیر کولای شي، او د بیلارې عالمانو تر منځ توپیر وکړای شي. یو د داسې بیلارې عالمانو څخه مرزا غلام احمد و چا چې د متشابهاتو آیتونو باطل تعبیر وکړ او فتنه یې رامنځته کړه. نو څرګندیږي چېد عالمانو لخوا د قرآن کریم صحیح تعبیر او مانا د الهي فیض یوه نمونه ده او بله کټه یې دا چېد دې په کومک باطلې فرقې په ګوته کیدای شي او مومنان به ترینه ځانونه لیرې ساتي.

## ماناېز غونډال (systemofmeaning) پیدا کولو ته اړتیا ده

د علم خاوندان باید د متشابهاتو آیتونو مطلب څخه د سم تعبیر اخستلو لپاره د داسې څېړندود څخه کار واخلي کوم چې دا ظاهروي چې قرآني لاربښوونې (چې په هرهموضوع وي) په بشپړه توګه د الله عزوجل له طرفه دي. له همدې کبله په پورتني آیت کېواییچې د علم خاوندان داسېوایيچې كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا "دا ټول (کتاب، او یا یوېموضوعپورې تړلې ټولېالهي لاربښوونې) زمونږ د رب له طرفه دی". نو ویلی شو چې په 'جز' پوهیدل به هله ممکن وي کله چې په 'کُل' سر خلاص شي (یعنې دواړه محکمات او متشابهات آیتونو باندې).

واقعاً چې قرآن کریم په خپله هم یوه پاملرنه وړاندې کړیده چېمونږ کوم خطر سره مخامخېږو که چیرې د داسې نیمګړي څیړندود څخه کار واخلو چې ټوله توجه د قرآن کریم یو ځانګړي آیت او یا یو جلا حدیث ته وګرځوو او بیا ترینه د مطلب راویستلو کوشش وکړو. دا پاملرنه هغه آیتونو کېځای په ځای ده چیرته چې ملایکو ته الهي اعلان کیږي چې یو خلیفه به ځمکې تهولیږدول شي (البقره ۲:۳۰). قرآن کریم بیا مونږ ته خبر راکوي چې الله عزوجل ملایکو ته امر وکړ چې آدمعليه السلام ته سجده وکړی او هغوی ټولو سجده وکړهپرته له ابلیس نه. د قرآن کریم آیت داسې دی:

﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ﴾

"او کله چېوویل مونږ ملایکو ته، "سجده وکړی آدم ته!" – پس سجده وکړه دوی مګر (سجده ونکړه) ابلیس، انکار یې وکړ او لوییې وکړه او و دی له کافرانو څخه". (قرآن کریم، البقره، 2:34)

بیشکه چې د الله تعالی له طرفه د دې جملې په لطیف جوړښت او د کلمو په خوښنه کې ستر حکمت موجود دی چې د هغې امر خبر راکوي چې ملایکو ته وشو چې آدمعليه السلام ته سجده وکړی.

د عربي ژبې کلمه 'اِلاَّ' ډیرې مانا لري د مثال په توګه، 'تر څو'، پرته'، 'بې له'، 'صرف'، 'تر هغې نه'، 'بیخي نه'، 'خو'، 'خو...نه'، 'په بل طرف .... ونکړ...'، شرطیه 'که نه' او داسې نور. یو نیمګړی څیړندود چې صرف یو ځانګړي آیت (او په نورو حالتونو کې یو ځانګړي حدیث) ته ټوله توجه ګرځوي او یو ماناېز سستم ته مراجعه نکوي، په دې ځانګړي حالت کې د اِلاَّ څخه د 'استثنا' مانا اخستلای شي، او په همدې ډول دې نتیجې ته رسیدای شي چې د امر په وخت ابلیس د ملایکو څخه و. د خپلې

سرغړونې له کبله هغه دغه ځای ته ورسیدهچې یو پرزیدلی ملایک ترې جوړ شو (لکه څنګه چېعیسویان فکر کوي). په دې ځانګړي آیت کې هیڅ داسې کومه اشاره نشته چې ګواکې هغه یو ملک نه و!

خو، په بل طرف کله چې دا مضمون د یو څیړندود (اصول التفسیر) له مخې وڅیړل شي کوم چې د موضوع ټولوالی یا مانایز غونډال په نظر کې ساتي، نو د دې غلطې نتیجې ناسموالی سمدستي راڅرګندیږي. ملایک خپله خوښه او اختیار نلري.دوی د 'واک' خاوندان نه دي او کله چې د الله تعالی امر ورته وشي نو هرومرو یې سر ته رسوي. په دېکې کومه استثنا نشته! (سورة النحل ۵۰م آیت او الانبیاء ۲۷م آیت وګورئ). که ابلیس چیرته ملک و نوپرته له دې به ورسره هیڅ بله کومه چاره نه وای چې امر ومني. هغه به هرومرو آدم‍عليه السلام ته سجده کوله. د هغه د سجدې څخه انکار کولو څخه څرګندیږي چې دلته 'خپلې خوښې' او 'اختیار' شتوندرلود، او پس دا معلومه شوه چې ابلیس ملک نه و. په ربښتیا سره په قرآن کریم کې بیا یو بل ځای ملایکو ته د دېالهي امر تکرار شوی:

﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ كَانَ مِنَ الْجِنِّ﴾

"او کله چېوویل مونږ ملایکو ته سجده وکړئ آدم ته پس سجده وکړه دوی مګر (سجده ونکړه) ابلیس، و هغه دپیریانو (د ذات) څخه". (قرآن کریم، سورة الکهف، ۱۸:۵۰)

دا هیڅ شونې نه ده چې ابلیس اول د ملایکو څخه و او بیا وروسته پرزیدلی ملایک ترې جوړ شو او وریسې ترینه پیری جوړ شو، ځکه چې د الله عزوجل تخلیق نه بدلیږي. لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ(سورة الروم، ۳۰:۳۰).

مونږ دې پایلې ته رسیږو چې د سورة البقره د ۳۴م آیت په لطیف جوړښت کې د الله تعالی ستر حکمت پټ دی تر څو د قرآن کریم زده کړې لپاره صحیح څیړندود لور ته زمونږ پام راوګرځوي، یعنې هیڅ کله باید یو ځانګړی آیت یا حدیث په جلا ډول ونڅیړو، پکار ده چېڅیلمه (مجموع) وڅیړو او بیا ترینه یوه مانا ترلاسه کړو.

مولانا دکتور انصاري دې د مجموع پوهنې ته د 'مانایز غونډال' نوم ورکړای او دا د یوې موضوع څیلمه په یو همغږي او بشپړ 'کُل' کې پیري. هغه لیکي:

"نو د باقاعده کېڅ نه علاوه، د قرآن کریم د مختلفو برخو تر منځ همغږي مونږ د نظري آګاهۍ (شعور) لور ته رابولي، کوم چې پخپله د قرآن د ځانګړتیاو څخه ده، سره د دېچې د دیني شعور منطق پکې ډیر لمانځل شوی دی. د قرآن کریم د علم خاوندانو په نزد همغږي نه یواځې د تدریس یوشانتوب منځته راوړي بلکه د

دې اصول تاييد هم کوي چې د قرآن کريم ټول آيتونه د يو بل سره تړاو لري او د يو واضح غونډال برخې دې او په دې توګه په قرآن کريم کې د يو مانايز غونډال شتون په څرګنده توګه په ثبوت رسيږي او د قرآن کريم همغږي د دې غونډال څخه د کتبې اخستو په برخه کې هم پکار راځي."

(Ansari, FR: 'Qur'anic Foundations and Structure of Muslim Society',www.fazlurrahmanansari.org, Volume 1, p. 192)

د ټول قرآن کريم مانايز غونډال باندې پوهيدل تر هغېامکان نلري تر څو چېسړی د علم په لاره کې ډيرې او اوږدې سړې تودې تيري نکړي او تر څو يو باطني روحاني حس ونلري؛ او دا تر هغې ممکنه نه ده تر څو د الله تعالی نور په زړه کې نه وي موجود. پس د پوهې کنجي د الله تعالی سره ده او خپل هغه بندګانو ته يې ورکوي چا ته چې الله تعالی خپل نور او د قرآن کريم د ځينې آيتونو څخه د مطلب اخستلو وړتيا وروبخښي. کله چېداسې يوه تشريح يا تفسير بيا خلکو ته وړاندې شي نو طبعاً د حق درجه مومي او دا مهمه نه ده چې لومړی ځل وې چېداسې يوه تشريح د امت مخې ته وړاندې کيږي.

په اوسمهاله زمانه کې ډير لږ تعداد اسلامي عالمان شايد د ټول قرآن په مانايز غونډال کې پوره پوهنه ولري او دا ليکونکی د هغو عالمانو څخه ندی چې دومره پوهنه ولري. مونږ تش د دې کتاب د مضمون په اړه په قرآن کريم کې موجود مانايز غونډال باندې سرخلاصيدنه کې د ستونځو سره مخامخ يو.

زمونږ د تحقيق طرز (څيړندود) مونږ دې ته مجبوروي چې هغه مانايز غونډال پيدا کړو چې د 'قيامت د ورځې د نښو'موضوع ته اړوند د ټولو مالوماتو مجموعه سره راټوله کړي او په يو همغږه او کامل کُل کېيې واچوي. مانايز غونډال به په خپل وار مونږ ته دا موقع راکړي چې ټول هغه احاديث په ګوته کړو چې زمونږ د دېموضوع په اړه د قرآن کريم او احاديثو څخه راخستل شوې د مالوماتو د مجموعې سره يا خو ټکر خوري او يا په ظاهره داسې بريښي چې ټکر ورسره خوري. څرنګه چې قرآن کريم دا واضحه کړېچې په متن کې به يې ډيريغلطی، اختلاف او تضادونه موجود وو که چيرې دا کتاب د الله تعالی نه علاوه د بل چا لخوا ليکل شوی وای، نو پايله دا چېپه متن کې هيڅ کوم ډول تضاد (باطني يا ظاهري) وجود نلري.

زمونږ طريقه بايد داسې بڼه ولري چې په تدريجي ډول دا موضوعچې د قرآن کريم څخه اخستل شوې، پراخه کړو او بيا پکې هغه احاديث دننه کړو چې د 'آخرې ګړۍ نښو' په اړه دي او د قرآن کريم سره همغږي لري. ورپسېداسې احاديث او يا د احاديثو داسې تعبير چې د قرآن کريم سره تضاد ولري، بايد د پراخه مانايز غونډال څخه دباندې پريښودل شي.

نور هغه کسان چېد پورته ذکر شوي څيړندود په پرتله کوم بل څيړندود څخه کار اخستل غواړي او څوک چېداسې احاديث (او يا تعبير يې) پريښودل نغواړي، ښايي زمونږ په پرتله کومې بلې نتيجې ته ورسيږي.

د جوج مأجوجو د موضوع څېړنې په ترڅ کې همداسې يو حديث موږ په ګوته کړی دی يعنې هغه حديث چې په عامه توګه داسې تعبيرېږي چېګواکې جوج مأجوج به صرف وروسته‌له هغې راخوشېشيچې کله عيسیؑ بيرته راستون شي او کله چې هغه دجال اووژني:

"…. پدغه حالت کې به الله تعالی عيسیؑ ته داوحې وکړي: ما په خپلو بندګانو کېداسې بندګان پيدا کړيدي چې هيڅوک د هغوی سره د جنګ توان نلري؛ خپل خلک په سلامتيا غره ته يوسه، فَيَبعَثُ اللهُ يَأجُوجَ وَمَأجُوجَ (او بيا به الله تعالی راوليږي يا راولاړ کړي جوج مأجوج) او دوی به په هر لور خپاره شي او يا به هر د ګټې ځای اونيسي. د دوی مخکينۍ ډله به د بحيره تبريه (د ګليليسمندرګی) په غاړه تيره شي، له دې څخه به اوبه وڅښي، او کله چېد دوی وروستۍ ډله هلته تيرېږي، نو وابي به: 'يو وخت دلته اوبه وې…."' (صحيح مسلم)

يواځېپه دې جلا حديث باندې متمرکز کيدو او د دا راز نيمګړه څېړندود له کبله ډېر خلک دې نتيجې ته رسيدلي دي چې الله تعالی به جوج مأجوج يواځې او يواځې د عيسیؑ د راستنيدو او د دجال د وژلو نه وروسته راخوشې کوي (يعنې د ذوالقرنين ديوال به صرف هغه وخت رانړيږي). خو دا حديث د فَيَبعَثُ کلمه کاروليچې مانا يې'ليږل' او يا 'راولاړول' ده. حديث کې د 'خوشې کيدو' کلمه نده کارول شوې.

په بل طرف، داسې څېړندود چې د موضوع مانايز غونډال په کار اچوي، ليکونکی دې نتيجې ته رسوليچې د جوج مأجوجوخوشې کيدنه د نبی کريمﷺد ژوند په وخت پيل شويده او د ذوالقرنين ديوال هماغه وخت نړيدلی دی. د دوی تدريجي خوشې کيدنه د هماغې وخت نه روانه او تر اوسه د ټولګيو په شکل کې دوام لري. د دوی تدريجي خوشې کيدنه د تاريخ په مختلفو مرحلو کې واقع شوېچې د عيسیؑد بيرتګ راتګ سره تړاو لري او وروستۍ راوتنه بهيې هغه وخت وي کله چې د ګليليسمندرګی وچ شي. نړۍ به دغه وخت د جوج او مأجوجو تر منځ يو وروستۍ جګړه نناره کړي چېميدان به يې ارض المقدس او يا شا او خوا ته سيمه يې. که داسې نه وي نو بل به داسې څه وي چې لانديني پيښو باندې رڼا واچوي:

- د يهوديانو بيرته خپلولو په نيت د بيت المقدس 'ښارګوټي' ته ستنيدل او دغلتهيعنې ارض المقدس کې د اسرائيلد دولت رغيدنه
- د ګليلي سمندرګي (بحيره تبريه) د اوبو کچهدومره ښکته شوېچې دا سمندرګی نن سبا کې په اوچيدو دی
- د ذوالقرنين د اوسپنيز ديوال هيڅ کوم ډول فزيکي نښه نښانه نشته چېګواکې دا تر اوسه روغولاړ دی

- صحیح بخاري او صحیح مسلم کې بیشماره داسې احادیث شتون لریچې د هغه غیرعادي خوب ذکر کوي چې نبی کریمﷺ لیدلی وچېدا ورته ښودل شویووچې د "ذوالقرنین لخوا جوړ شوي دیوال کې یو سوری جوړ کړی شوی دی" او دا په دې مانا چې د هغه دیوال نړیدل او د جوج مأجوجو خوشې کېدل له هماغه وخت څخه پیل شویوو.
- نړیوال فساد او ورسره د اسلام په ضد جنګ او د مسلمانانو لاپسې زیاتیدونکې ټولوژنه او اسارت چې ټوله اسلامي نړۍ پکې اوس راګیره ده او ورسره هغه غیراسلامي هیوادونه هم راګیر دي کوم چې د نړیوالې واکمنۍ په خلاف د مقاومت جرات کوي.

## هغه څیړندود چې د باندینیو مالوماتو د شننې او تطبیق له لارې د قرآن تفسیر کوي

زموږ څیړندود دا الهي حکمت هم روښانوي چې د قرآن کریم د ځینې آیتونو مانا یواځېد داسې مالوماتو د شننې له لارې لاسته راتلای شي، کوم چې خپله په قرآن کریم کې نه وي موجود او باید د بهرنیو سرچینو څخه راواخستل شي. د دېغوره مثال د سورة آلعمران هغه آیت دی کوم کېچې الله عزوجل فرمایلي چې لومړی کور چې د انسانانو لپاره جوړ شو هغه په سپیڅلې بکه کېو ... (قرآن کریم، سورة آلعمران، ۳:۹۶). ټول عالمان په دې اتفاق لري چې بکه د مکې مکرمې لرغونی نوم دی. دې آیت کې لرغونی نوم ذکر شوی دی که څه هم نورو آیتونو کې بیا د 'مکه' کلمه کارول شوې ده (سورة الفتح ۴۸:۲۴). ولېالله تعالی په دغه آیت کې دا لرغونی نوم، بکه، ذکر کړی حال دا چې نورو ځایونو کې بیا د مکه کلمه یاده شوې؟

د دې پوښتنې ځواب د بایبل د لوستلو نه پرته په لاس نه راځي. که موږ انجیل او تورات مطالعه کړو نو ښایې د لاندې ذکر شویو پیښو ذکر ډېر په مرموزه توګه پکې نشتوالی لري:

- عربستان ته د ابراهیم÷ځینې سفرونه
- بي بي هاجره او اسمعیل÷ دواړه په یوه شاړه دښته کې پریښودل شوي وو
- د عربستان په هغه شاړه دره کې د زمزم چینه
- د عربستان په هغه شاړه دره کې د لومړي مسجد جوړیدل
- ابراهیم÷او اسمعیل÷په دغه ځای یوه ودانۍ جوړه کړه
- ابراهیم÷د الله تعالی کور ته حج قایم کړل

- د قرباني کوچنی اسمعیل÷و
- د قرباني هغه آزمايښت به عربستان کې پيښ شوی و

خو بيا هم د بايبل (انجيل او تورات) په متن کې د بکه کلمه لاتر اوسه ساتل شويده (لانديې ولولي).
ښايې بکه کلمې ته د هغو خلکو توجه نه وي اوړيدلي چا چې ستره ګناه کړيده او مقدس کتابونو يې خپله
بيا ليکلي تر څو دا پورتنی ټولې پيښې يا خو انجړې کړي او يا يې‌سوچه ترينه ليرې کړي. ښايې د الله تعالی
رضا همداسې وه چې دا کلمه يې تر اوسه ساتلې ده. دا خورا روښانه ده چې په قرآن کريم کې د لرغوني
نوم، بکه، يادونه د الهي هوډ له مخې وه تر څو په لاسوهل شوي انجيل او تورات کې تراوسه موجود د
حق شواهدو ته زمونږ پام راوګرځوي او په دې طريقه لاسوهل شوي متن څخه پرده پورته کړي:

۸۴مه مذهبي سندره (نوې نړيواله ژباړه)

۱ څومره ښکلی دی ستا د استوګنې‌ځای
ای ستره ښتنه!

۲ زما روح ځوريږي، حتی رنځوريږي
د خپل ښتن دربارونو پسې
زما زړه او زما بدن آه او زاري کوي
ژوندي ښتن پسې

۳حتی چنچڼې هم يو کور موندلی
او توتکۍ ځان لره يوه ځاله
چيرېچې کوچنيان ولري
ستا د محراب تر څنګه
ای ستره ښتنه، زما شاه زما خدايه

Psalm 84 (New International Version)

1 How lovely is **your dwelling place,**
O LORD Almighty!

2 My soul yearns, even faints,
for the courts of the LORD;
my heart and my flesh cry out
for the living God.

3 Even the sparrow has found a home,
and the swallow a nest for herself,
where she may have her young—
a place near your altar,
O LORD Almighty, my King and my God.

۴رحمت پرې شوی څوک چې ستا کور کې اوسي
هغوی تل ستا ستاينه کوي
صلوة

۵ رحمت شوی په هغو چې په تا کې خپل قوت مومي
څوک چې د حج سرهپه زړه کې مينه لري

4 Blessed are those who dwell in **your house;**
They are ever praising you.
Selah

5 Blessed are those whose strength is in you,
Who have set their hearts on pilgrimage.
6 As they pass through the Valley of **Baca,**
they make it a place of **springs;**
The autumn rains also cover it with pools.

۶ د بکه درې ښخه د تیریدو په ترڅ کې
دوی ترینه د چینو سیمه جوړوي
د خزان بارانونه یې هم په ډنډونو پټوي

په پورتنۍ مذهبي سندرهکې څرګند شواهد موجود دي چې د 'بکه دره'، 'چینه' ، 'ډند' ، 'حج' ، 'ستا کور'، 'ستا د استوګنځای' کلمې په مکه مکرمه کې کعبې شریفې یا بیت الله (د الله کور) او د زمزم چینې ته اشاره کوي. زمزم چینه هغه وخت راپیدا شوې وه کله چېبي بي حاجره د اسمعیل÷ لپاره د اوبو په لټه کې وه.

د سورة آلعمران د ۹۶م آیت په اړه د پورتنۍ تشریح په ترڅ کې یو څیړندود (اصول التفسیر) منځته راځي ترڅو د دې آیت په پوره مانا باندې سړی پوه شي. یواځېد داسې باندینیو مالوماتو د څیړنې په نتیجه کېداسې مانا ته رسیدل امکان پیدا کوي. دا باید مهمه نه وي چې آیا دا مالومات د قرآن کریم د نزول په وخت هم موجود وو او که دا مالومات د قرآن کریم د نزول څخه وروسته د تاریخ په اوږدو کې رابرسیره شوي دي. آخر قرآن کریم خپله دا اعلاموي چېداسې 'الهي نښې' به بالآخره راڅرګندې شيچې د قرآن کریم حقانیت به په ډاګه کړي:

﴿سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾

"ژر ده چې څرګندې به کړو (پوه به کړو) دویلره نښې (د قدرت) خپل چې په آفاقو (د کایناتو) کې دي او په نفسونو د دویکې دي (په شمول د تاریخ په اوږدو کې رابرسیره کېدونکې پیښنو) تر هغېچېروښانه شیدوی ته چې بیشکه دغه قرآن حق دی. آیا نه دی کافي (د هغوی لپاره چې پوه شي) چې ستا رب په هر شي شاهد دی." (قرآن کریم، الفصلت، ۴۱:۵۳)

زمونږ په استدلال د قیامت نښې همدا راز یوهموضوع دهچې دېموضوع ته اړوند د قرآن کریم ځینې آیتونه تر هغې پوره نه روښانېږي تر څو چې د تاریخ په ترڅ کېځینې پیښنې نه وي رابرسیره شوې. شایددا راز تر ټولو سترهپیښنه د یهودیانو ارض المقدس ته د ستنیدلو پیښنه ده تر څو دوی دا سیمه بیرته خپله کړي او د اسرائیل دولت هلته ورغوي. دې ته ورته‌د نورو پیښنو ځیرکې څیړنې په نتیجه کې د قیامت د نښو موضوع ته اړوند د قرآن کریم ځینې آیتونه روښانیږي.

آخر کې باید ووایم چې زمونږ څېړنه باید د جوج مأجوج په اړه تیرو مقدسو کتابونو ته د رجوع څخه ډډه وکړي او یواځې د قرآن او احادیثو په رڼا کې دا مضمون وڅیړل شي. دا کار باید موضوع ساده ساتلو په خاطر وکړو او دا چېددې کتاب د ارزونې په ترڅ کېلوستونکي د کوم غیرضروري ستونځو سره مخامخ نشي.

## جوج مأجوج په نورو مقدسو کتابونو کې

د دېموضوع د څېړلو په ترڅ کې د تیرو مقدسو کتابونو څخه د اضافي مالوماتو راخستنه صرف او صرف باید هغه وخت وشي کله چې یو څوک په دې پوره مطمین شي چې هغه د قرآن کریم د تشریح او د احادیثو په کومک دي موضوعکې کاملهپوهنه لري.داسېاضافي مالومات چې په انجیل او تورات او ورسره د هندوانو کتابونو مثلا کالکي پورانا کې وجود لري (کوم کېچې د کوکا او ویکوکا یادونه شوې او دوی به کالکي سره جګړه کوي)، باید په ډیر احتیاط ولوستل او شننه یې وکړای شي تر څو دا مالومه شي چې دا د قرآن او احادیثو څخه اخستل شوي مانایز غونډال سره تفاهم لري او که تضاد. یواځې هغه وخت بیا د دې مالوماتو تصدیق او تردید امکان پیدا کوي او یواځې هغه وخت بیا دا مالومات په دې مضمون اضافي رڼا اچولای شي.

# دریم فصل

## د نمونپوهنې یا اصطلاحاتو(Terminology) تشریح

د دې یو ښه مثال هغه خورا مهم آیت دی چې 'یو څوک' یا 'یو شی' په ګوته کوي چې د الساعة 'علم' (پوهنه) به وي. دا 'یو څوک' او یا 'یو شی' د آخرې ګړی د موضوع د سپړلو لپاره ربښتینې کنجي ده او دا په دې خاطر چې د الساعة راتګ ترینه معلوم شي

د جوج مأجوجو موضوع په الساعة (آخرې ګړۍ) کېځای لري او دا اصطلاح پخپله بیا نورو اړوندو اصطلاحاتو سره تړاو لري، کومېچې باید لومړی تشریح شي له دې نه مخکېچې مونږ په اوسمهاله زمانه کې جوج مأجوج په ډاګه کړو. نو راځئ‌چې اول دغه اصطلاحاتو سره ځان اشنا کړو او د دوی تر منځ توپیرونه وپېژنو.

په قرآن کریم کې د یوم القیامة کلمه عموماً د بیا راژوندي کېدو ورځې (یوم البعث) ته اشاره کوي خو دا کلمه د حساب کتاب ورځې (یوم الدین) لپاره هم کارول شویده. خو د بیا ژوندي کېدو او حساب کتاب پیښېدو څخه مخکې باید لومړی مادي کایناتپاې وموي چې الساعة، یا آخره ګړۍ‌هم ورته ویل کیږي. الساعة، یوم البعث، یوم القیامة، یوم الدین او داسې نورې کلمې بیا د یوې بلې اصطلاح مختلفې مرحلې دي، چې ورته یوم الآخر یا وروستۍ ورځ وایي.

د الساعة (آخرې ګړۍ) سره د مادي کاینات د ختمیدو نهمخکې د الله تعالی لخوا امر شوی چې په نړۍ کې باید یو تعداد نښې راڅرګندې شي. دې نښو ته د علمات الساعة (د آخرې ګړۍ نښې) نوم ورکړ شوی او عموماً داسې فکر کیږي چې سترې او کوچنۍ نښې لري.

تش په نامه (د لیکونکي په نزد دا معمولي پیښې نه دي) وړو نښو کې هغه نښې دي چې وايي"ښځې به پټې وي خو بیا به هم بربنډې وي"، "ښځې به سړیو ته ورتهکالي اغوندي او سړي به ښځو ته ورته"، "خلک به د خرو پشان په ډاګه جماع کوي"، "تر ټولو خراب خلک به مشران شي"، "د یو قوم تر ټولو خراب سړی به د قوم مشر شي او خلک به یې د ډار له کبله اطاعت کوي" او داسې نورې نښې. خو عموماً داسې فکر کیږي چې سترې نښې هغه دې چې په لاندې حدیث کې راغلې دي.

"حذیفه بن اُسید غِفاری څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ هغه وخت ناڅاپه زمونږ لور ته راغی کله چې مونږ خپل منځ کې یو بحث کې مشغول وو. هغه وپوښتل "په څه شي بحث کوئ؟"هغوی (صحابه کرامو) وویل، "مونږ د آخرې ګړۍ په اړه بحث کوو". نو بیا رسول الله ﷺ وفرمایل:"دا به تر هغې نه راځي تر څو چېټاسی ته لس نښې نه وي ښکاره شوي" او بیا یې (دې ته اړوند) یادونه وکړه د'لوګي'، 'دجال' ، 'ځناور (دابة الارض)' ، 'د لمر د لویدیځ له لورې راختل' ، 'عیسی عليه السلام د مریم ځوی' ، 'جوج مأجوج

‘ ، ’دري ځایه د ځمکې غرقیدل، یو په ختیځ کې، یو په لویدیځ کې او یو په عربستان کېچې په پایله کې به یې یو اور د یمن له لورې راوځي او خلک به خپل د غونډې ځای ته وځغلول شي‘ .“(صحیح مسلم)

لوستونکي باید پام وکړي چې هیڅ داسې شواهد نشته چې رسول اللهﷺد دې لسو نښو یادونهزماني تسلسل سره سم په ترتیب کړیده، یعنې دا نښې به په هغه ترتیب نه پیښیږي په کوم ترتیب چېیادې شوې دي. نو پس دا چې‘جوج مأجوج‘د ‘عیسی÷ د بیرته راتګ‘ څخه وروسته یادولدا مانا نلريچېګواکېدوی به په ربښتیا هم نړۍ ته د عیسی÷د راستنیدو نه وروسته راخوشې کیږي.

بیا رسول اللهﷺ یو ربښتینی خوب هم لیدلی و کوم کېچې دا ورته وښودل شو چې هغه دیوال کېچې ذوالقرنین جوړ کړیو، یو سوری کنستل شوی دی او دا په دې مانا چې د الله تعالی په امر د جوج مأجوجو خوشې کېدنه پیل شوې ده.

"ام المؤمنین زینب بنت جحشؓ ویلي: ...یو ځل رسول اللهﷺ له خوبه په داسې حالتکې رابیدار شو چې مخ مبارک یې تک سور و او دا کلمې یې په خوله وې: نشته بل معبود لایق د عبادت مګر الله. عربانو لره تباهي ده په سبب د هغه شر چېدوی ته رانژدې شوی دی. نن د دې په اندازه یو سوری د یأجوج او مأجوج په دیوال کې کنستل شوی دی. بیا رسول اللهﷺ د خپلې شهادت او غتې ګوتې په واسطه یوه دایره جوړه کړه او د سوري اندازه یې وښوده." (صحیح بخاري او صحیح مسلم)

”د زینب بنت جحشؓ څخه روایت دی: یوه ورځ رسول اللهﷺ د ډار په حالت کې رانوت او ویېفرمایل: هیڅوک د عبادت لیاقت نلري مګرالله! تباهي ده عربانو لره د هغه ستر شر څخه چې رارسیدلی دی (عربانو ته). نن دېته ورته یو سوری د جوج مأجوجو په دیوال کېکنستل شوی دی. رسول اللهﷺ بیا د شهادت او غتې ګوتې په واسطه یوه دایره جوړه کړه. زینب بنت جحشؓ زیاتوي: ما وپوښتل: یا رسول الله! آیا مونږ به تباه شو سره د دېچې مونږ کې به پرهیزګاره خلک موجود وي؟ رسول اللهﷺ وویل: هو (یعنې همداسې به کیږي) کله چې خباثت زیات شي (یعنې شر، ناوړه اعمال، فحاشي وغیره په نړۍ غلبه ومومي).“ (له دې څخه په عربانو نه یواځې سیاسي، اقتصادي او پوځي ظلم څرګندیږي بلکه دا چې په هر ګنده او فحش طریقه چې وي دویبهبدنامهکړی شي) (صحیح بخاري)

نبي کریمﷺیو ځل خپلې دوه ګوتې اوچتې کړېوې او د یوم القیامة په اړه یې دا فرمایلي وو:

”زه او یوم القیامة د دې دوؤ په شان یو (بیا هغه خپله د شهادت او منځنۍ ګوته ښکاره کړه).“ (صحیح مسلم)

پورتنیو دوه پیښنو څخه دا څرګندیږي چې وروستۍ زمانه د رسول اللهﷺ د ژوند په وخت پیل شوې ده او په الساعة او یوم القیامة به پای ته رسیږي. له دې څخه دا هم څرګندیږي چې د الساعة (آخري ګړۍ) نورې نښې به د آخري پیغمبرﷺ د راتګ څخه وروسته په تدریجي توګه رابرسیره کیږي. لیکونکي استدلال کړیپه خپل کتاب په نوم د'بیت المقدس په قرآن کې'، چې د المسیح الدجالخوشې کیدنه هم د رسول اللهﷺ د ژوند په وخت واقع شوې وه.

قرآن کریم ځو ځو ځله ګواښنه کړېچې بشریت به د الله تعالی په امر د ډیرو ازمیښـتونو څخه تیریږي تر څو دا مالومه شي چې آیا دوی په الله عزوجل ایمان لري او که نه. دې ازمیښـتونو ته په قرآن کریم کې د 'فتنه' نوم ورکړل شویدی:

وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ

"وویریږئ له هغې فتنې (فساد او ازمیښـتونو) څخه چې نه به رسیږي ستاسې څخه یواځېهغو خلکو ته چې ظلم یېکړی وي، (بلکه عمومي به وي)؛ او پوه شئ‌چې بیشکه الله سخت دی په عذاب کې." (قرآن کریم، الانفال، ۸:۲۵)

خو الله تعالی نورې ګواښـنې هم کړي چې د 'وعد' په نوم یادیږي یعنې‌الهیوړاندوییښېچې د ځانګړو راتلونکو پیښنو په شکل یې د فتنو د راتګ خبرداریورکړی. د مثال په توګه قرآن کریم ډیر په ډارونکې لهجه یهودیانو ته ګواښـنه کړېچېدوی به یو خاص ازمیښت سره مخامخیږي او هغه داچې الله تعالی به د دوی په ضد داسې خلک راپورته کړي چېدوی به تر ورځې د قیامت سخت ترین عذاب سره مخامخوي:

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَن يَسُومُهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ ۗ إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ الْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ

او (یاد کړه) هغه وخت چې خبر ورکړایو رب ستا چې بیشکه راولاړ به کړو هرومرو په دوی (یهودیانو) تر ورځې د قیامت پورې هغه څوک چې رسوي به دوی لره سخت ترین عذاب: بیشکه ستا رب چابک دی په عذاب (ورکولو) کې– او (هم) بیشکه هغه ښه بخښونکی او ډیر رحم والا دی. (قرآن کریم، الاعراف، ۷:۱۶۷)

د جوج مأجوجو نه پرته نور څوک نشي کيدايچې د الله په امر دا رازراپاځيدنه ولري، او د دويلخوا يهوديانو ته د عذاب ورکولو دنده به د قيامت تر ورځې روانه وي.

الساعة يا آخره کړۍ د وخت يوه دوره ده چې پيل او پاې لري او د دې تر منځ به د پيښو يوه لړۍ روانه وي چې نتيجه به يې د تاريخ د بهير ختميدنه وي يعنې هغه تاريخ به خاتمه ومومي چې مونږ ورسره اشنا يو. د تاريخ دا خاتمه، چې د نړۍ د خاتمې څخه به وړاندې منځتهراځي، به د تاريخ په اوږدو کې روانه د حق او باطل تر منځ د جګړې اوج ننداره کړياو دا چې بالاخره حق به پهځپلو ټولو سيالانو وروستى او قطعي برى ترلاسه کړي. الساعة به بيا د مادي کاينات د خاتمې سره سر ته ورسيږي او د مادي کاينات ختميدل به داسې وي چې غرونه به د وړۍ پشان وګرځول شي چې يو خوا بل خوا الوځول کيږي او مړي به له خپلو قبرونه څخه بيرته راژوندي شي. قرآن کريم ګواښنه کړېچې هغه پيښه به په رښتيا يوه هيبتناکه واقعه وي چې د ماديکاينات د خاتمې سبب به ګرځي:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ

اى خلکو! وويريږىتاسى له رب خپل څخه، بيشکه زلزله د آخرې کړۍ به يو شى وي ډير ستر! (قرآن کريم، سورة الحج، ٢٢:١)

کله چې د مادي کاينات دپايپه وخت الساعة خپل اوج ته ورسيږي، نو د حساب کتاب د ورځې په پيښنو کې به د يوم القيامة سفرد خپل اوج په لور روان وي. دغه وخت به هر يو انسان بيرته راپاځول شي او حساب کتاب ته به وړاندې شي. د دې ورځې په اړه دا هم ويل شويچې هغه ورځ ده کله چې په حق ولاړه ژوندلاره به په خپلو سيالانو ژوندلارو برى ومومي.

لکه څنګه چې په قرآن کريم کېيادونه شوې، د حساب کتاب د ورځې د پيښنو څخه يوه هغه ده چې د ميزان تلې ته به انسانان وړاندې شي تر څو ايمان او د عمل غوره والى يې وتلل شي. هر چا ته به د خپلو اعمالو کتاب په لاس کې ورکړل شي او امر به ورته وشي چې خپل کتاب ولولي. په آخره کې به هر يو ته امر وشي چې د جنت په لور يو پول نه تير شي خو ورلاندې به د دوزخ اور وي. دا پول به ډير نرى وي او دا ځاى به دومره تپه تياره وي چې هغه څوک چې له ځانه سره (باطني) رڼا ونلري، که هغه خپل لاسونه خپل مخ ته نژدې هم ونيسي نو کتلاى به يې نشي. الله تعالى د کتلو لپاره رڼا د هغو خلکو زړونو ته وربخښي څوک چې په الله ايمان لري او چې صالح عملونه ولري. دا رڼا په بازار کې نه خرڅيږي!

بې له الله تعالی بل هيڅ څوک نه پوهيږي چې الساعة به کله راځي (يعني د الساعة د شروع نه نيولې کوم وخت چې تاريخ اوج ته رسيږي، او د الساعة تر پاېپورې کوم وخت چې مادي کاينات خاتمه مومي، بيا ژوندي کېدل منځته راځي او حساب کتاب کيږي):

يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي ۖ لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَا إِلَّا هُوَ ۚ ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً ۗ يَسْأَلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ اللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ

"پوښتنه کوي دوی له تا نه (ای رسول الله) د آخرې ګړی په هکله: "کله به قايمه شي دا؟" (ټکي په ټکي، کله به دا لنګر واچوي او رابښکته به شي، لکه د يوې کشتۍ پشان) ووايه: "بيشکه علم د دې په اړه زما رب سره دی، هيڅوک نشي ښکاره کولای وخت د دې مګر هغه، دروند به وي دا په آسمانونو او په ځمکه باندې. در به نشي دا (آخره ګړی) په تاسې مګر يو ناڅاپه." پوښتنه به وکړي دوی له تا نه (ای رسول الله) - ګواکې ته پوره علم لرونکی يې په اړه د دې! ووايه "بيشکه علم د دې په اړه صرف الله سره دی؛ خو زياتره خلک نه پوهيږي." (قرآن کريم، سورة الاعراف، ۷:۱۸۷)

او نه څوک په دې پوهيږي چې د تاريخ د پای او د مادي کاينات د خاتمې تر منځ به څومره اوږده او يا لنډه موده تيريږي. امکان لري دا زمانه څو سوه کاله اوږدوالی ولري. خو د اسلام دين د مادي کاينات د خاتمې په اړه يوه تشريح وړاندې کړيده او ورسره يې د آخرې ګړی نښې هم ښودلي دي او ورسره پيځيني نور ځانګړي مالومات هم راکړي دي چېپه کومک يې موږ لپاره دا شوني ده چې په الساعة کې د هغه ګړی راتګ اټکل کړو کومه چې به د تاريخ پای وګرځي – او دا د دې کتاب موضوع ده.

## د ماديکاينات خاتمه

قرآن کريم روښانه کړيده چې مادي کاينات به هله خاتمه مومي کله چې دا په يو بل نوي او مختلف شيباندې بدل کړی شي:

يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ ۖ وَبَرَزُوا لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ

"يوه ورځ بدله به کړی شي ځمکه په يوې بلې ځمکې، او همدا رنګه (بدل به کړی شي) آسمانونه، او خلک به د الله حضور ته وړاندېکړی شي چې يو دی، غالب دی." (قرآن کريم، سورة ابراهيم، ۱۴:۴۸)

دغه وخت به ټول انسانان د يو نوي ژوند لپاره بېرته راپورته کړی شي:

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ يُنَبِّئُكُمْ إِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ إِنَّكُمْ لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ

"او وايي هغه کسان چې کفر کوي آيا وښايو موږ تاسيلره يو سړی چې خبرداری درکوي تاسی ته چې کله تاسی ذره ذره شی په کامل ذره ذره کېدو سره، بيشکه تاسی به (پيدا کړی شی) په يو نوي پيدايښت کې؟" (قرآن کريم، سورة السبا، ۳۴:۷)

قرآن کريم زياتوي چې په دغه ورځ به ځمکه خبرې وکړي او ټول رازونه به افشا شي:

يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا

"په دغې ورځ بيانوي به هغه (ځمکه) ټول خپل احوال." (قرآن کريم، سورة الزلزال، ۹۹:۴)

هغه 'څاروي'چې د راديو، تلويزيون، اخبارونو او فرنګي، امريکايي او اسرائيلي دولتونو لخوا ويل شوي دروغو باندې باور لريچې هغه څوک ووچې په امريکايې د ۱۱م سېټمبر بريدونه سر ته رسولي وو (هغه خلک چېېه دې دروغويې باور کړی ورځ په ورځ راکميږي)، هغوی به د ډيرې سختې حيرانتيا سره مخامخ شي په دغه ورځ کله چې ځمکه خبرې وکړي او د دغو بريدونو اصلي مجرمانو ته ګوته ونيسي، او همداسې د نورو پيښو لکه د لندن، مدريد، بمبيوغيره بريدونو عاملينو ته،يعنې‌اسرائيلي موساد، امريکايي سي آی ای او نور ملاتړي يې. کله چې ځمکه خبرې وکړې هغه ورځ به هغه بې ګناه مسلمانان هيڅ حيرانتيا څرګنده نکړي څوک چې په نښه شوي، وژل شوي، ترور شوي، په ګوانتانامو او ابوغريب او داسې نورو د زياتې مرکزونو کې شکنجه شوي وي او د پورته ياد شوي تروروستي بريدونو په نتيجه کې د پيل شوې جګړو په ترڅ کېېه شهادت رسيدلي وي. او نه به هله حيران شي کله چې په اروپا کې د تش په نامه ۶ ميلونه يهوديانو د قتل عام اصلي او پوره کيسه واورول شي.

## هغه شيبه چېډ مادي کاينات د خاتمې کړی په بشريت ناڅاپه راشي:

وَلِلَّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَمَا أَمْرُ السَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

"او خاص الله لره دی علم د غیبو د آسمانونو او ځمکې. او نه دی امر د آخرې ګړی (په سرعت کې) مګر په مثل د سترګو د رپ او دا له دې څخه هم نژدې دی: او بیشکه الله په هر څیز بنه قادر دی." (قرآن کریم، سورة النحل، ۱۶:۷۷)

رسول اللهﷺ د دغې ګړی یوناڅاپي توب په لاندیني حدیث کې تشریح کړی دی:

"ګړی به راشي کله چې دوه کسان خپل مخ ته یو څادر خپور کړي (چې څه راکړه ورکړه وکړي) نه خو به دوی څه خرڅ کړي، او نه به څادر راټول کړي (دې نه مخکېچې ګړی پرې راشي)؛ او ګړی به راشي کله چې یو کس خپله اوښه ولوشي او شیده یوسي خو هغه به ونڅښلی شي (دې نه مخکېچې ګړی پرې راشي)؛ او ګړی به راشي کله چې یو سړی خپله د اوبو ذخیره سموي (د خپلو څارویو اوبه کولو لپاره) خو هغه به ونکړای شي چې ترسره یې کړي (دې نه مخکېچې ګړی پرې راشي)؛ او ګړی به راشي چې کله یو کس یوه (د خوراک) لمړی خپلې خولې ته پورته کړي خو د خوړلو موقع به ورسره نه وي (دې نه مخکېچې ګړی پرې راشي)." (صحیح بخاري)

د ابو هریرهؓ څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ ویلي:" آخره ګړی به (دومره ناڅاپه) راشي چې یو کس به خپله اوښه لوشي او شیدې به د لوښي غاړې ته نه وي رسیدلې چې آخره ګړی به راورسیږي او دوه کسان به د جامو راکړه ورکړه کې بوخت وي خو د دویمعامله به سرته نه وي رسیدلې چې آخره ګړی به راورسیږي، او یو کس به د خپلو څارویو لپاره د اوبو د ذخیرې په سمولو بوخت وي خو هغه به لا سمه کړې نه وي چې آخره ګړی به راورسیږي." (صحیح مسلم)

## د تاریخ پای

د اسلام په رڼا کې د تاریخ پای هغه وخت منځته راځي کله چې د حق په بنیاد جوړ شوی دین او یا اندیوهنه (ایډیالوژی) په خپلو ټولو سیالانو مذهبونو او اندیوهنو باندې وروستی او بشپړ بری ترلاسه کړي او ورسره دا هم ممه ده چېپه حق ولاړ دین یا ایډیالوژۍ کې دننه بیا اصلي او حقیقي بنهیې په خپلو نورو سیالانو فرقو هم برلاسې شي. قرآن کریم کې دا آیت دریځلې تکرار شوی کوم چې په روښانه توګه داسې د تاریخ پای ته اشاره کوي:

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ

"هغه (الله) هغه څوک دی چې لیږلی یې دی رسول (محمدﷺ) خپل (په دنده) د هدایت، او (خپرولو) د حق دین تر څو (بالاخره د تاریخ په پاېکې) هغه (الله) دا (دین) غالبه کړي په (باطله) دینونو ټولو باندې، که هر څومره بده کڼي مشرکان دا (غلبه)." (قرآن کریم، سورة التوبة، ۹:۳۳ – سورة الصف، ۶۱:۹)

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا

"هغه (الله) هغه څوک دی چې لیږلی یې دی رسول (محمدﷺ) خپل (په دنده) د هدایت، او (خپرولو) د حق دین تر څو (بالاخره) هغه (الله) دا (دین) غالبه کړي په (باطله) دینونو ټولو باندې، او کفایت دی په الله باندېچې (په حق) ګواه اوسي" (قرآن کریم، سورة الفتح، ۴۸:۲۸)

په حق دعوه لرونکو ایدیالوژیو له شمیره تر ټولو ډېره د ننداریٍ وړ او اصرار کونکې ایدیالوژي هغه وخت وپېژندل شوه کله چې اوسمهال غربي سیکولر تمدن وزیږید. د دې تمدن زیږیدو سره یو' لمر' په ډېر برم د 'غرب' له لوري په نړۍ راپورته شو او یوه ټینګه ډندوره یې وغږوله چې په حق هره دعوه وروسته له دې څخه نوره بیځي بیکاره او برطرفه ده. ربښتیا وه هغه څه چې آرنولډ توینبي ویلي: "غربي تمدن بې له دې په بل هیڅ شي اکتفا نکوي تر څو چې ټول بشریت په یوه واحده ستره ټولنه کې سره راټول نکړي او تر څو چې په هوا، ځمکه او بحرکې په هر څه باندېد دوی واک نه وي ټینګ شوی..."
(Arnold Toynbee,Civilization on Trial, p.186)

نه یواځې دا تمدن په دې بریالی شوی دی چې په ټوله نړۍ مسلط شي بلکه ورسره، دې تمدن دا بیشرمه او زړوره دعوه هم کړېده چېدوی تاریخ پاې ته راوست. د فرانسس فوکویاما (FrancisFukuyama) په رنګ غربي فیلسوفان استدلال کوي چې دا تمدن د تاریخ د بهیر اوج او د تاریخ د پاې حیثیت لري ځکه چېداسې امکانات نه ښکاري چې ګواکې کوم شی به په ټول بشریت او په شمول د اسلام په ټولو سیالانو،د دې تمدن تسلط ته کوم ګواښ وراندې کړي او یا به یېځای ونیسي.

خو، فوکویاما د تاریخ حقیقي بهیر څخه بیخي بیخبره و، دا بهیر به د ربښتیني مسیح، عیسی ابن مریم÷ د بیرته راتګ سره اوج ته رسیږي.

حال دا چې لیکونکی دا اعتراف کوي چې ډېر په تعجب او حیرانتیا د غربي لمر پورته کېدو دغه بې ساریتماشه ننداره کوي، خو بیا هم هغه دېباندې پوه دی چې دا یوه باطله او غولونکې لمر پورته کېدنه ده او

دا چې بیشکه دا د رسول اللهﷺ د قیامت د ورځې د نښو په اړه د پیشګویانو څخه د یوې بشپړیدنه ده، یعنېچې'لمر به د لویدیځ څخه یوه ورځ راپورته شي'. د قرآن کریم دا پورتنۍ آیت چې دري ځله تکرار شوی دی، مونږ لپاره یو الهي اطمنان دی چې تاریخ به په بل ډول پایې ته رسیږي. د اسلام په برخلیک کې دا لیکل شوېچې اسلام به د تاریخ پایکې په اوسمهال غربي سیکولر تمدن او په ټولو نورو سیالانو بریالی وي.

د دې (تاریخ د پایې) مضمون په اړه د اسلام نظر د قرآن کریم په آیتونو او د رسول اللهﷺ په پیشګویانو کې نور هم واضحه شوی دی، او له مخې یې د حق په باطل باندې وروستی بری او وریسې د تاریخ پایې په هغه وخت کې ښودل شوې کله چې ربښتینی مسیح، عیسی ابن مریم÷ بیرته راستون شي او امام المهدي راښکاره شي. له یروشلم څخه به دوی په شریکه په نړۍ باانصافه واکمني کوي او داواکمني به د حق (اسلام) په ټولو سیالانوباندې د بري استاذیتوب هم کوي. اسلام کې دغه شیبه د الساعة (آخرې ګړۍ) پورې مربوط نښو کې تر ټولو سترې او نهایي نښې حیثیت لري او رسول اللهﷺچې کومې ۱۰ سترې نښې یادې کړي دي هغه د دې ځانګړې آخرې ګړۍ سره تړاو لري.

څرنګه چې د ربښتیني مسیح، عیسی÷ بیرته راتګ به په حق باندې د اسلام دعوه په ثبوت ورسوي نو امکان لري چې د همدغه وخت څخه الساعة (آخره ګړۍ) پیل شي. والله اعلم! خو آخره ګړۍ به تر هغې روانه وي تر څو چې مادي کاینات نه وي ختم شوي. ټولې هغه نښې چې د عیسی÷ د راتګ نه مخکې پیښیږي هغه به د الساعة د رانژدې کیدو علامې وي.

ځینې دې نښو څخه بیخي ښکاره دي. یو نندازیز مثال یې په قرآن کریم کېیاد شوی دی. د مکې کفارو رسول اللهﷺ ته ننګونه وکړه چې که ته چیرې په ربښتیا پیغمبر یې نو دا سپوږمۍ په منځ نیمه کړه، بیا به مونږ په تا ایمان راوړو. رسول اللهﷺیې په ځواب کې الله تعالی ته دعا وکړه چې دا معجزه ورته ښکاره کړي او بیا سپوږمۍ په منځ نیمه شوه. نیمه برخه یې د صفا په غونډۍ ښکاره شوه او بله برخه یې د کیکان په غره. قرآن کریم دې پیښې ته اشاره کړې او دا یې څرګنده کړېچې دا معجزه په دې مانا ده چې الساعة یا آخره ګړۍ اوس رانژدې شوې ده:

اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ

"رانژدې شوه آخره ګړۍ او څیرې دوه ټوټې شوه سپوږمۍ!" (قرآن کریم، سورة القمر، ۵۴:۱)

## د آخرې ګړۍ د موضوع کنجي

خو قرآن کریم د الساعة او د الساعة نښو ته اړوند مالومات په داسې آیتونو کې هم وړاندې کړېدي چې باید مانا يې راوويستل شي. او هغه خلک چې فتنه پيدا کول غواړي دې ته ورته آيتونو څخه د غلطېانا اخستلو کې خپل ټول کوښښونه کوي. دوی څکه دا کار کوي چې هغه خلک بيلارې کړي کوم چېد دوی په باطله تعبيرونو تیر اوځي. د دې يو ښه مثال هغه خورا مهم آیت دی چې'یو څوک' یا 'یو شی' په ګوته کوي چې د الساعة 'علم' (پوهنه) به وي. دا 'یو څوک' او یا 'یو شی' د آخرې ګړۍ د موضوع د سپړلو لپاره ربښتيني کنجي ده او دا په دې خاطر چې د الساعة راتګ ترینه معلوم شي او د دې'علم' څخه مونږ د خپلې موضوع پورې مربوط د مانایز غونډال خسته راوباسو:

وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ

"او بیشکه هغه (یا هغه شی) خامخا نښه ده لپاره د ګړۍ (یعنې آخرې ګړۍ) پس هيڅ شک مه کوۍ تاسی په دې (قيامت) کې او متابعت وکړۍ زما: دغه لاره ده سمه برابره." (قرآن کریم، سورة الزخرف، ۴۳:۶۱)

د قرآن مجيد زیاتره مفسرين د هُ (هغه) ضمیر څخه دا مانا اخلي چې دا عيسی÷ او د هغه بېرته راتګ ته اشاره ده. خو ځينې اوسمهاله مفسرينو (مثلاً محمد اسد) ځانونه په خپله تیرویستي او دا فکر کوي چې عيسی÷ مړ دی. پس دوی د هغه بېرته راتګ باندې ايمان نلري. (زمونږ اراده ده چې دا موضوع په خپل راروان کتاب An Islamic View of the Return of Jesusکې په تفصيل سره وڅيړو). د دوی په فکر په پورتني آیت کې دا ضمير خپله قرآن کریم ته اشاره کوي او نه عيسی÷ ته.

د عربي ژبې له مخې دا ضميردې دري واړو ته کیدای شي اشاره وي، يعنې خپله عيسی÷ ته، د عيسی÷قضيې ته او خپله قرآن کریم ته. خو د متن له مخېويلی شو چې دلته دا حتماً خپله عيسی÷ ته اشاره ده. د عيسی÷ راتګ او د هغې څخه مخکې د دجال راښکاریدنه داسې پيښې دي چې مونږ به دې نتيجې ته ورسوي چې الساعة رانژدې شوې ده. نه خو به د عيسی÷ قضيه (يعنې د عيسی÷په اړه اسباق او مباحثات) او نه قرآن کریم مونږ ته داپه ډاګه کويچې الساعة يا آخره ګړۍ رارسيدلې ده. الله تعالی څو څو ځله مونږ ته په قرآن کریم کې خبر راکړايچې بې د الله نه هيڅوک نه پوهيږي چې آخره ګړۍ به کله راځي. نو بيا قرآن کریم مونږ ته دا نه په ډاګه کويچې آخره ګړۍ به کوم وخت راځي.د عيسی÷ بېرته راتګ او ترینه وړاندې د دجال راوتنه مونږ ته صرف دا په ډاګه کولای شي چې آخره ګړۍ اوس رانژدې شوې ده. دا دوه پيښې نه يواځې نښې يا اشارې دې، بلکه د الساعة د وخت په اړه ربښتيني پوهنه ('علم') دی.

دا آیت چې کوم عبارتکیبیان شوی که د هغې ژوره شننه وکړو نو د دې تعبیر تایید به وکړي چې د هُ ضمیر په پورتني آیت کې د عیسی ÷ ذات ته اشاره ده. دا آیت چې کوم عبارتکې راغلی هغه په لاندې ډول دی. لوستونکي باید په عبارتکې د ضمیرونو کارونې ته خاص پام وکړي:

وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ

"او کله چې د مریم د ځوی ذکر د مثال په توګه ورکړل شي (ای رسول الله) ستا قوم د هغه په اړه خندا شورماشور پورته کړي (په دواړو بیلګو کې ضمیر د عیسی ÷ ذات ته او یا د هغه قضیې ته اشاره کوي)." (قرآن کریم، الزخرف، ۴۳:۵۷)

وَقَالُوا أَآلِهَتُنَا خَيْرٌ أَمْ هُوَ ۚ مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًا ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ

"او وایيدوی آیا غوره دي معبودان زموږ او که هغه؟ (هغه ضمیر دلته په ډاګه عیسی ÷ ته اشاره ده) نه ده وړاندې کړې دوی دغه پرتله مګر خاص تاسره د جګړې لپاره: هو دوی قوم دی یو جګړه کونکی." (قرآن کریم، الزخرف، ۴۳:۵۸)

إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ

"بیشکه نه وهغه (ضمیر ښکاره عیسی ÷ ته اشاره کوي) مګر یو بنده چې انعام کړیو موږ په هغه (ضمیر ښکاره عیسی ÷ ته اشاره کوي) او ګرځولی مو وهغه (ضمیر ښکاره عیسی ÷ ته اشاره کوي) یو مثال لپاره د بني اسرائیلو." (قرآن کریم، الزخرف، ۴۳:۵۹)

وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنكُم مَّلَائِكَةً فِي الْأَرْضِ يَخْلُفُونَ

"او که چیري موږ اراده کړیوه نو بیشکه له تاسي څخه به مو ځیني فرښتې ګرځولې وې چې په ځمکه یو د بل ځایناستی جوړې شوې وې." (قرآن کریم، الزخرف، ۴۳:۶۰)

وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ

"او بیشکه هغه (ضمیر ښکاره د عیسی÷ ذات او قضیې ته اشاره ده) بیشکه نښه ده لپاره د ګړی (یعنې آخرې ګړی) پس هیڅ شک مه کوئ تاسی په دې (ضمیر ښځینه ښه لري نو دا آخرې ګړی ته اشاره ده) کې او متابعت وکړی زما: دغه (یوائې) لاره ده سمه برابره." (قرآن کریم، سورة الزخرف، ۴۳:۶۱)

وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطَانُ ۖ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ

"او مه پرېږدی شیطان چې خنډ شي تاسی لره (د دې موضوع حقانیت منلو کې) – بیشکه هغه دښمن دی ستاسې لپاره ښکاره!" (قرآن کریم، الزخرف، ۴۳:۶۲)

وَلَمَّا جَاءَ عِيسَىٰ بِالْبَيِّنَاتِ قَالَ قَدْ جِئْتُكُم بِالْحِكْمَةِ وَلِأُبَيِّنَ لَكُم بَعْضَ الَّذِي تَخْتَلِفُونَ فِيهِ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ

"او کله چې راغی عیسی د حق ښکاره دلایلو سره، هغه (ضمیر عیسی÷ ته اشاره کوي) وویل: زه اوس تاسی ته د حکمت سره راغلی یم لپاره د دېچې بیان کړم تاسی ته ځینې شیان چېتاسیپکې اختلاف کوئ: پس وویرېږی د الله نه او اطاعت وکړی زما." (قرآن کریم، الزخرف، ۴۳:۶۳)

إِنَّ اللَّهَ هُوَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ

"بیشکه الله تعالی زما رب دی او رب دی ستاسې هم، پس عبادت وکړیوائې د هغه. دا لاره ده سمه برابره." (قرآن کریم، الزخرف، ۴۳:۶۴)

فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِن بَيْنِهِمْ ۖ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ أَلِيمٍ

"خو اختلاف پیدا کړ هغه ډلو (د عیسی÷ نه وروسته د هغه د قوم بیلا بیلو فرقو ته اشاره ده) په خپلو منځو کې. پس افسوس هلاکت دی لپاره د هغه کسانو چې ظلم یې کړیدی له عذابه د ورځې دردناکې!" (قرآن کریم، الرخرف، ۴۳:۶۵)

د رسول اللهﷺ پیشګویانې موږ ته اشاره راکوي چې کله عیسی÷ راستون شي نو نتیجتاً به دغه شیبه کې ټول هغه حجابونه لیرې شي چېتر دغه وخته بهیږي د آخرې ګړی د نښو د موضوع پیژندنه او ورباندې

پوهيدنه پته کړي وي او دا به ښکاره کړي چې الساعة (آخره ګړۍ) رارسيدلې ده. لاندېني حديث ته مو پام راګرځوم:

"…. په همدې وخت کې به الله تعالی مسيح، د مريم ځوی راوليږي. هغه به د دمشق ختيځ لور ته ولاړ سپين منار باندې راکوځ شي، چې دوه په زعفرانو تت شان رنګ شوې جامې به يې په تن وي او لاسونه به يې د دوه ملايکو په وزرو ايښي وي. کله چې هغه خپل سر ښکته کړي، نو د خولو مشکنې به ترې وغورځيږي، او کله چې سر پورته کړي، د ملغلرو په شان مشکنې به ترينه وشيندل شي. هر کافر چې د هغه د بدن وږم بوی کړي نو هلاک به شي او د هغه ساه به تر هغه ځايه رسيږي تر کوم ځايه پورېچې د هغه ديد کار کوي …." (صحيح مسلم)

[د ليکونکي په نظر دا ډيره د تعجب وړ او د سرګردانی خبره ده چې دعيسی‏عليه السلام د راستنيدو ځای به د بيت المقدس په ځای دمشق وي، والله اعلم]

"قسم په هغه چا چې زما روح يې په واک کې دی، بيشکه چې د مريم ځوی (عيسی ؑ) به ډير ژر ستاسې منځ کې راکوځ شي د يو انصافداره قضاوت کونکي په حيث، هغه به صليب مات کړي او خنځيران به اوو‌ژني او جزيه به له منځه يوسي.شتمني به دومره زياته ويچې هيڅوک به خيرات نه قبلوي او د الله تعالی په وړاندې يوه سجده به د ټولې نړۍ او د نړۍ هر څه نه غورهوي". (صحيح بخاري)

د پورتني حديث څخه ښکاره ده چې د ربښتيني مسيح، عيسی ابن مريم÷ د راتګ سره به د ټول بشريت سترګې وغړيږي او دې منلو ته به اړ شي چې اسلام حق دين دی. د سورة الزخرف ددغه پورتني (۶۱م) آيت مناسبې او سمې پوهنې بايدعقيدوي مخالفين په دې قانع کړي وايچې د آخرې ګړۍ ټولې نښې په يوه نه يوه لاره عيسی‏عليه السلام او د هغه بيرته راتګ سره تړاو لري. په بله مانا دا چېډ دې موضوع مانايز غونډال ټول په دېراتلونکې پيښې باندې ودان شوی دی.

د عيسی‏عليه السلام راتګ او د مادي کاينات د خاتمې شيبه دواړه داسې پيښې دي چې يو ناڅاپه به راځي:

وَلِلَّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَمَا أَمْرُ السَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

"او خاص الله لره دی علم د غیبو د آسمانونو او د ځمکې. او نه دی امر د آخرې کړی (په سرعت کې) مګر په مثل د سترګو د رپ او دا له دې څخه هم نژدې دی: او بیشکه الله په هر څیز بنه قادر دی. "(قرآن کریم، سورة النحل، ۱۶:۷۷)

قرآن کریم د عیسیؑ د بیرته راتګ شیبې په اړه یوه خورا مهمه څرګندونه کړې. داسې‌ویل شوي چې هر یهودي او عیسایي (کومو چې د اسلام حق دین رد کړی او جنګ یې ورسره اعلان کړی) چې‌عیسی÷ سره مخامخ شي او بیا ومري تر څو خپلو کړو په هکله ځواب ووايي (ځکه چې عیسیؑ به پدوي ګواهیوایې)لهدوی څخه به هیڅوکداسې‌پاتې نشي چې د مرګ نه مخکې په هغه ایمان رانوړي (چې هغه ربښتینی مسیح او د الله رسول دی).

وَإِن مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا

"او نشته هیڅوک د اهل کتاب څخه مګر بیشکه چې ایمان به راوړي دوی په هغه (عیسی) باندېد (هغه د) مرګ نهمخکې او په ورځ د قیامت به هغه ددوی‌په خلافګواهي ورکوي." (قرآن کریم، سورة النساء، ۴:۱۵۹)

قرآن کریم مخکې له مخکې خبر راکوي‌چې هر یهودي او عیسایي به د مرګ نه مخکې په 'هغه' یا 'دې' باندې ایمان راوړي. خو دا آیت زیاتوي چې سره د دې‌چې‌دوی به ایمان راوړي 'هغه' یا 'دا' به په ورځ د قیامت د دوی په خلافګواهي ورکوي.

د دې‌آیت د تفسیر په اړه د اکثریت رایې دا ده چې د عیسی÷ د راتګ په وخت چې هر یهودي یا عیسایي هغه سره مخامخېږي نو په هغه به ایمان راوړي لکه څنګه چې مسلمانان پرې ایمان لري یعنې‌چې ربښتینی مسیح او د الله رسول دی. دې لیکونکي یو ځل د امریکا نیوجرسي ښار کې د یهودو یو جومات کې دننه د یهودیانو یوې سترې غونډې ته وینا کوله او دوی‌ې ددغه راتلونکي برخلیک څخه خبر کړل چې په قرآن کریم کې‌بیادونه شوې. دوی پدغه خبر ډېر حیران او پریشانه شول او د وینا څخه وروسته ترینه چاپېره شول او د وضاحت غوښتنه یې وکړه ځکه چېد دوی په اند دا برخلیک د انصاف څخه لیرې خبره وه. "ولې باید مونږ داسې څه باندې ایمان راوړو چې مونږ لا پخوا رد کړی؟" په ځواب کې مو ورته وویلچې هغه ورځ به د دوی له سترګو څخه پردې لیرې شي او دوی به هم د هغه حق په لټه کې شي کوم چېدوی رد کړیو او ټول عمر یې ردلی و.

که چا د عیسی÷ د بیرته راتګ څخه مخکې ایمان نه وي راوړای او وروسته له دې څخه د ایمان راوړلو اعلان کوي نوداسې د ایمان اعتراف به کومه ګټه ونلري ځکه چې دا به عیسویان او یهودان د خپلو بدو اعمالو او ناوړه کړو د عواقبو څخه ونژغورلای شي. زمونږ په نظر دغه شیبه به دا اعلان خپور شیچې الساعة (آخره کړۍ) نوره پیل شویده، والله اعلم. نو کولای شو چې دا روښانه کړو چې د قرآن کریم دا څرګندونه چې عیسی÷ د الساعة 'علم' دی، دې ته اشاره ده چې د هغه راتګ سره سمه الساعة به هم رارسیدلې وي.

قرآن کریم په دې توګه یوه ستره علامه څرګنده کړي چېد عیسویانو او یهودیانو د مرګ نه مخکې دې آګاهۍ ته رسیدو نه مخکې به منځته راځیچېدوی تر اوسه په حق دین او د الله په نیکو بندګانو باندې بیځایه او بې انصافه جنګ روان کړیو او پس دوی به اوس د خپلو کړو بدو عواقبو سره مخامخیږي. همدا ډول کار هغه وخت شوی و کله چې فرعون د غرقیدو په حال کېو. د مرګ په وخت د هغه د سترګو څخه پردې لیرې شوي او په حقیقت پوه شو. هغه سره بله یوه لاره هم نه بې له دېچې حق ومني کوم چې اوس ورته ډیر روښان او عیان و. خو اوس وخت ترې تیر وچې حق قبول کړي او د یو مومن په مرګ ومري. په ځاییې، فرعون د دوزخ اور ته وسپارل شو.

الله تعالی داسې مقرره کړه چې د هغه بدن داسې وساتل شي چې د (پیدا کیدو نه وروسته) راتلونکو نسلونو لپاره د عبرت یوه نښه وګرځي. له دې نښې څخه به دا عبرت اخستل کیږي چې هر څوک چې د هغه پشان ژوند تیروي (یعنې حق نه مني او په مومنانو زیاتی کوي)، هغوی به د فرعون پشان مرګ سره مخ کیږي. هغه یهودیان او عیسویان چې اوس د اسلام سره په جنګ کې دي او په مسلمانانو ظلم کوي او یا د دې جنګ او ظلم ملاتړ کوي، هغوی به د عیسی÷ د راتګ نه وروسته کټ مټ همدا ډول مرګ سره مخامخ کیږي:

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً ۚ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ

"پس نن ورځ مونږ (فیصله کړیچې) ساتو به بدن (جسد) ستا، تر څو وګرځې ته (کله چې بیا رابرسیره شې) لپاره د هغه چا چې وروسته له تا راځي یوه نښه د عبرت (یعنېهغه چا ته چې ستا پشان ژوند کوي او ستا پشان مرګ به مومي): او بیشکه چې ډیر له خلکو څخه په اړه د نښو زمونږ غافلان دي." (قرآن کریم، سورة یونس، ۱۰:۹۲)

د اوسمهاله نړۍ حقیقت ته رسیدو لپاره اړینه ده چې مونږ پام وکړو چې الله تعالی د فرعون بدن بالکل همامغه وخت (۱۸۸۱-۱۸۸۹ع) رابرسیره کړ کوم وختچې (۱۸۹۷ع کال کې) اروپا کې د صیهونیزم غورځنګ وزیږید او داروپایي یهودي-عیسوي اتحاد آخره کړۍ په دغه مرموزه سلسله کې د ورځای کیدو

په مرحله کې وه. د فرعون بدن کټ مټ همٰاغه وخت رابرسیره شو کوم وخت چې د دجال دنده په وروستۍ مرحله کې داخلیدونکې وه تر څو فلسطین د مسلمانانو د واک څخه خلاص کړي او یو تش په نامه مقدس اسرائیلي دولت هلته ورغوي. پس د فرعون د بدن رابرسیره کیدنه نه یواځې د هغه الهي پیشګوېۍ ربښتیا کیدنه ده بلکه د الساعة (آخرې کړۍ) د نښو څخه هم یوه نښه ده.

## وعدالآخرة (وروستی خبرداری)

قرآن کریم یوې پیښې ته اشاره کړې چې دا به وعدالآخرة وي (یعنې وروستی خبرداری له دې نه مخکې چې الساعة یا آخره کړۍ په بشریت راشي). دا وروستی خبرداری به هغه وخت ورکول کیږي کله چې د الله په امر، یهودیان بیرته ارض المقدس ته راستانه شي.

وَقُلْنَا مِن بَعْدِهِ لِبَنِي إِسْرَائِيلَ اسْكُنُوا الْأَرْضَ فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ الْآخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا

او ومو ویل وروسته له دې نه بنیاسرائیلو ته: اوسیږئ به تاسی په ځمکه (شیندل شوي او خپاره واره) – خو کله چې وروستۍ خبرتیا (د آخرې کړۍ د رارسیدو په اړه) راشي، نو مونږ به راولو تاسی لره بیرته (ارض المقدس ته) ګډوډ (د نړۍ مختلفو برخو څخه) (قرآن کریم، الاسرا، ۱۷:۱۰۴)

دوه زره کاله وروسته له هغې نه چېیهودیان د الله په امر د ارض المقدس نه وشړل شول، د دوېیبرته میشته کیدنه تر هغې شونې نه وه تر څو چې جوج مأجوجو په دې مسئله کې ټاکنده رول نه و لوبولی. دا د قرآن کریم هغه آیت څخه پوره روښانیږي چې په سورة الانبیاء کې راغلی:

وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَحَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ

"او بندیز دی په یو ښارګوټي (یروشلم) باندې، کوم چې مونږ ویجاړ کړیو (او خلک یې د هغه ځایه ویستل شوي وو) چېدوی (یعنې خلک یې) بیرته نشي راستنیدلی (چې دا ښارګوټی بیرته خپل کړي). تر هغې پورېچې جوج مأجوج راخوشې شي او دوی له هرې لوړې راخپاره شي. (او په دی ډول د ټولی نړۍ واک تر لاسه کړي او د جوج مأجوجو نړیوال نظام ټینګ کړي)." (قرآن کریم، سورة الانبیاء، ۹۶-۲۱:۹۵)

دا باید روښانه وي چې د آخرې ګړی ټولې نښې، په شمول د جوج مأجوجو د خوشې کېدو، باید د الساعة (آخرې ګړی) د پیل کېدو څخه مخکې پیښې شي یعنې د آخرې ګړی واقعي پیل کېدو او د عیسی÷ د بیرته راتګ د شیبې څخه وړاندې. کومه نښه چې د هغه بیرته راتګ څخه وروسته پیښیږې، هغه نشي کیدایچې د آخرې ګړی د نښو څخه وي ځکه چې د هغه راتګ سره به آخره ګړی وخته رارسیدلې وي او په داسې ډول به پیل شوې وي چې بیخي واضحه به وي. ورسره دې ته هم پام وکړیچې د یهودیانو ارض المقدس ته بیرته ستنیدنه، چې په قرآن کریم کې‌یې پیشګوییې شوې او چې د 'وعدالآخرة' نوم ورکړ شوی، د جوج مأجوجو د خوشې کېدو نه پرته شونې نه وه، لکه څنګه چې د پورتني آیت څخه څرګندیږي.

دې کتاب کې‌وړاندې شوي بیشماره شواهدو او پریکنده دلایلو په ضمن کې، چې ټول دا په ثبوت رسوي چې جوج مأجوج وخته نړی ته خوشې شوي، قدرمن لوستونکي باید د رسول اللهﷺ دغه پیشګوییی ته ژوره کتنه وکړي چې په صحیح بخاریکې ذکر شویده.

"خلک به د جوج مأجوجو د خوشې کېدو څخه وروسته هم حج او عمرې ته روان وي." رسول اللهﷺ زیاتوي چې"الساعة به تر هغې نه راځي تر څو چې حج نه وي ترک شوی (یعنې حج پریښودلی شي او یا د اعتبار وړ حج له منځه لاړ شي)."

په بله وینا د رسول اللهﷺ د وینا له مخې الساعة تر هغې نشي راتلی تر څو چې حج نه وي پریښودل شوی او یا اعتبار یې نه وي ختم شوی (لکه څنګه چې د عربو د جاهلیت په وخت یې اعتبار نه و) خو جوج مأجوج به له داسې پیښیدو څخه وړاندې خوشې شوي وي. نو ډیره روښانه ده چې د جوج مأجوجو خوشې کیدنه د الساعة د راتګ څخه وړاندې پیښه ده او نه وروسته.

ددغه تړاو له مخې دا کتاب په صحیح مسلم او نورو ځایونو کې راغلي د یو جلا حدیث صحیحتوب او یا تعبیر ته یې د شک په سترګه ګوري، د حدیث څخه دا مانا اخستل کیږي چې ګواکې جوج مأجوج به حتماً وروسته له دې څخه راخوشې کیږي کله چې عیسی÷ بیرته راشي او کله چې هغه دجال، جعلي مسیح لره اووژني:

"…. پدغه حالت کې به الله تعالی عیسی÷ ته دغه وحې وکړي: ما په خپلو بندګانو کې‌داسې بندګان پیدا کړیدي چې هیڅ څوک د هغوی سره د جنګ توان نلري؛ خپل خلک په سلامتیا غره ته یوسه، فَيَبعَثُ اللّهُ يَأجُوجَ وَمَأجُوجَ (او بیا به الله تعالی راولیږي یا راولاړ کړي جوج مأجوج) او دوی به په هر لور خپاره شي او یا به هر د ګټې ځای اونیسي. د دوی مخکینی ډله به د بحیره تبریه (د ګلیلیسمندرګی) په غاړه

تیره شي، له دې څخه به اوبه وڅښي، او کله چې دوی وروستۍ ډله دلته تیرېږي، نو وايي به: 'یو وخت دلته اوبه وې....'' (صحیح مسلم)

مونږ به دې موضوع ته په (شپږم) فصل کې بیا کتنه وکړو چې دې پوښتنې ته ځواب ورکوي چې 'آیا جوج مأجوج نړۍ ته راخوشې شوي دي؟'، پام باید وشي چې دلته د ادراک تضاد منځته راځي که مونږ دا باور وکړو چې جوج مأجوج به خامخا د عیسیؑ د بیرته راتګ څخه وروسته خوشې کیږي او کله چې دې بیرته راتګ دا اعلامیه هم خپره کړې ویچې آخره کړۍ رارسیدلې ده. دا باور به د حقایقو له مخې هم د تضاد سره مخامخ شي ځکه چې بحیره تبریه (د ګلیلي سمندرګوټی) اوس د اوچیدو په حالت کې ده او تر اوسه هیڅا هم د اوسپنو د تختو څخه جوړ هغه دیوال پیدا نکړچې د جوج مأجوجو ایسارولو لپاره جوړ شوی و او کوم چیباېداوس هم ولاړ وي که چیرته دا ووایو چې جوج مأجوج لا نړۍ ته نه دي راخوشې شوي. دا کتاب دا هم روښانوي چېداسې ناسم باور به نه یواځې په دې موضوع د رسول اللهﷺ ساده او روښانه څرګندونو سره چې په متواترو احادیثو کې ذکر شوي بلکه د قرآن کریم او احادیثو څخه اخذ کړی شوي مانایز غونډال سره هم په ټکر کې واقع شي.

# څلورم فصل

## د جوج مأجوجو خاکه (هډوانه)

لکه څنګه چې قرآن کریم څرګنده کړې چې عیسیؑ د الساعة د 'علم' حیثیت لري، زمونږ په نظر له دې څخه دا ښوونه راوځي چې د هغه بیرته راتګ به د الساعة د نښو پایلوبه وي. ورسره دا هم چې د جوج مأجوجو د پېژندنې ټولې برخې نه یواځې باید د یو بل سره تړاو ولري بلکه دا هم چې د عیسیؑ د راتګ سره هم باید تړاو ولري. کله چې مونږ د هغوي د پېژندنې کومه برخه په ګوته کړو، دا باید مونږ د هغوي نورو منډونو (د پښنو خاپونو) ته لارښوونه وکړي او همداسې دا سلسله باید روانه وي تر څو چې دغې پایلوبې ته ورسیږو. په ضمن کې باید دي ته هم پام وکړو چې که چیرې مونږ د جوج مأجوج د پېژندنې کومه برخه پیدا کړو چې په قرآن کریم کې ذکر شوې وي نو باید

دې کتاب کې مونږ جوج مأجوجو ته اړوندځینې‌سوالونو ته د ځواب موندلو هڅه کړې، د مثال په توګه:

- جوج مأجوج څوک دي؟
- آیا هغوی د الله په امر نړۍ ته راخوشې شوي دي؟
- په نړۍ به د هغوی د خوشې کیدو کومې اغیزې څرګندې شي؟
- آیا مونږ هغوی په ګوته کولای شو؟
- د جوج مأجوجوپاې به څنګه وي؟

په دې فصل کې به مونږ صرف لومړۍ پوښتنې ته ځواب ورکړو.

وړاندې مونږ یو حدیث ذکر کړ کوم کېچې نبی کریمﷺ د یو څو صحابه کرامو سره مخ شو چې ناست وو او یوه موضوع یې څیړله او رسول اللهﷺ ترینه د بحث د موضوع په اړه پوښتنه وکړه. کله چې ورته په ځواب کېوویل شو چې د الساعة (آخرې ګړۍ) د نښو په موضوع یې‌خبرې کولې نو رسول اللهﷺداسېیوه څرګندونه وکړهچې یواځې د الله تعالی یو ربښتینی پیغمبر یې‌کولای شي، لَا تَقُومُالسَّاعَةُ حَتَّى ... (یعنې آخره ګړۍ به نه راځي تر څو چې..) لس نښې نه وي ښکاره شوې. د لس نښو له شمیره یوه نښه د جوج مأجوج وه.

ددغې پیغمبري څرګندونې چېواېي الساعة تر هغې نشي واقع کیدای تر څو چېځینې نښې په نړۍ کې نه وي راښکاره شوي، څخه دا ښوونه په لاس راځي چې دا علامې مثلاً'جوج مأجوج'، 'دجال'، لمر د غرب څخه راختل' وغیره باید د الساعة د پیښې څخه مخکې راښکاره شي. نو د دې نښو د رابرسیره کیدو ژوره څارنه باید یو عقلمند څارونکي ته دا موقع میسره کړي چې د رانژدې کیدونکې الساعة یو زماني جدول کشف کړي. په همدې علت باید هیڅ کومه نښه، په شمول د جوج مأجوجو، باید په جلا توګه ونڅیړل شي. بلکه دا ومنل شي چې دا ټولې نښې د یو عضوي کُل په څیر د یو بل سره تړاو لري.

لکه څنګه چې قرآن کريم څرګنده کړې چې عيسیؑ د الساعة د 'علم' حيثيت لري، زموږ په نظر له دې څخه دا ښوونه راوځي چې د هغه بېرته راتګ به د الساعة د نښو پايلوبه وي. ورسره دا هم چې د جوج مأجوجو د پېژندنې ټولې برخې نه يواځې بايد د يو بل سره تړاو ولري بلکه دا هم چې د عيسیؑ د راتګ سره بايد تړاو ولري. کله چې موږ د هغوی د پېژندنې کومه برخه په ګوته کړو، دا بايد د هغوی نورو منډونو (د پښو خاپونو) ته لارښوونه وکړي او همداسې دا سلسله بايد روانه وي تر څو چې دغې پايلوبې ته ورسيږو. په ضمن کې بايد دې ته هم پام وکړو چې که چيرې موږ د جوج مأجوجو د پېژندنې کومه برخه پيدا کړو چې په قرآن کريم کښباده شوې وي نو بايد موږ دغې برخې ته ډير اهميت ورکړو په پرتله د هغې منډونو چې په احاديثو کښياد شويدي.

مسلمانانو ته د جوج مأجوجو د موضوع په اړه د غلطو مالوماتو خپريدنه يو ستره ستونځه جوړوي تر څو سرې په دغه موضوع باندې پوه شي چې په قرآن کريم او احاديثو کې تشريح شويده، او په تيره داسېآيتونوکېچېځينې وختيې بايد تعبير وشي.د دې آيتونو غلطه مانا هم راويستل کيږي او په تيرو وختونو کې همدا شان شوې هم ده، او په رښتيا سره همداسې غلطو تعبيرونو ته قرآن کريم اشاره هم کوي کله چې د متشابهاتو آيتونو په اړه وايي:

﴿فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَتَأْوِيلِهِ﴾

"نو هغه کسان چې په زړونو د دويکې کوږوالی دی پس پيروي کوي دوی د هغو (کلماتو) چې متشابه وي له دې (قرآن) څخه او لټه کوي د فتنې او د (غلطې) مانا د دې ..." (قرآن کريم، سورة آلعمران، ۳:۷)

زموږ د څيړنې طريقه به دا وي چې د جوج مأجوجو پېژندنه په لومړي پړاو کې د قرآن کريم (په خاصه توګه د سورة الکهف) څخه په ډير پام راواخلو او په دوهم پړاو کې د احاديثو څخه، او مقصد به مو دا وي چې دا موضوع روښانه کړو.

## قرآن کريم د جوج مأجوجو موضوع معرفي کوي

راځئ‌چې د قرآن کريم د سورة الکهف (۱۸:۸۲-۹۷) هغه خورا مهم عبارت څخه پيل وکړو چې د جوج مأجوجو موضوع يې رامعرفي کړيده.

﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَن ذِي الْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُو عَلَيْكُم مِّنْهُ ذِكْرًا﴾

"او پوښتنه کوي دوی له تا نه په اړه د ذوالقرنين. اووايه زه به اووايم تاسی لره د هغه په اړه يو څه احوال." (۱۸:۸۳)

تفسير:
د ذوالقرنين تحت اللفظي مانا د يو کس ده چې دوه 'قرن' ولري. په عربي ژبه کې قرن 'ښکر' ته وايياو 'عصر' يا 'زماني' ته هم دا کلمه کارول کيږي. خو قرآن کريم کېچې کوم ځای د قرن کلمه راغلې په ټولو ځايونو کې د زمانې په مانا استعمال شويده. دا په دې دلالت کوي چې سورة الکهف يو عبارت بيان کړيچې په دوه زمانو پورې تړاو لري او يا په دوه زمانو باندې اغيزه لري. د ليکونکې په نظر له دوی څخه يوه لرغونې زمانه ده او بله وروستی زمانه ده. دا دواړه زمانې به د يوې بلې سره دومره توپير ولري،چې بيخي يو د بل ضد به وي.

د يثرب (چې اوس د مدينة النبی په نامه يادېږي) يهودي ملايانو رسول اللهﷺ څخه يوه پوښتنه کړيوه په اړه د هغه ستر سيلاني چې د نړی دوه کنجونو ته يې سفر کړيو. مقصد يې دا وچېکه چيرې هغه دې پوښتنې (او دوه نورو پوښتنو) ته ځواب اووايي نو په ثبوت سره به هغه د الله تعالی رښتينی پيغمبر وي. قرآن کريم په دې عبارت کې دغې پوښتنې ته غبرګون ښايي.

﴿إِنَّا مَكَّنَّا لَهُ فِي الْأَرْضِ وَآتَيْنَاهُ مِن كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا﴾

"بيشکه قايم کړيو (د قوت سره) مونږ هغه لره په ځمکه کې او ورکړيوه مونږ ده لره په هر شي کې يوه لاره (توان، تر څو په کومک يې هر لور ته وګرځي او خپل مقصدونه ترسره کړي)." (۱۸:۸۴)

تفسير:
ذوالقرنين د ايمان خاوند و، او کوم سياسي او پوځي ځواک (د ذوالقرنين سلطه) چې هغه ته الله تعالی ورکړايو، هغه د ايمان په بنسټ قايم و. د سياست او انسانيت تر منځ چې کومه اړيکه شتون لري د هغې تر ټولو مهم اړخ څه شی دی؟ کله چې د الله لخوا ورکړل شوی قوت د ايمان په بنسټ قايم وي نو دا به کوم ډول دنياوي نظام ټينګ کړي او دوام به ورته ورکړي؟ سورة الکهف بيا وړاندې ځي او مونږ ته يو درس راکوي تر څو مونږ ته د قرنين

(دوه زمانو) څخه د وروستي زماني حقيقت راوښايي او کومه چې د پورته تشريح شوي زماني بيخي ضد ده. زموږ دا نظر دی چې دا دوهمه زمانه همدغه اوسمهال نړيوال نظام دی چې يهودي-عيسوي اتحاد منځته راوړی.

﴿فَأَتْبَعَ سَبَبًا﴾

"(دلته معلوميږي چې ځنګه هغه خپل ځواک څخه کار اخسته) پس ونيوله هغه يوه لاره (سره د سفر لپاره مناسبو اسبابو او د لويديځ لور ته په روانيدو)." (۱۸:۸۵)

﴿حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوْمًا ۗ قُلْنَا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِمَّا أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّا أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا﴾

"(هغه روان و) تر څو چې ورسيد ځای د پريوتلو د لمر ته، (دا چې نوره وچه نه وه نو داسې بريښيده چې د نړۍ پای ته رسيدلی دی) او ويې مونده دغه (لمر) چې ډوبيده په يوه خړه او خټينهبحيره کې؛ او ويې موندل نژدې هلته يو قوم؛ اوويل موږ، ای ذوالقرنينه (ته اجازه لري) چې يا خو عذاب ورکړه دوی ته، او يا ورسره وکړې ښه سلوک. (۱۸:۸۶)"

تفسير:
ځواک د يو داسې سياسي چاپيريال پيدا کولو او پر مخ بيولو لپاره په کار راوستل کيدای شي کوم چې د اخلاقي او روحاني ارزښتونو په بنسټ قايم وي. خو په بل طرف د ځواک څخه ناوړه ګټه هم پورته کيدای شي لکه د ظلم، زياتي او سزا ورکولو لپاره. دلته د دې سفر د کيسې بيانولو مقصد دا دی چې راوښايي چې ځواک څنګه په کار راوستل کيږي کله چې د ايمان په ستنو ولاړ وي.

اکثره اسلامي عالمانو په دې اتفاق کړی او په ګوته کړي يې دهچې دا کوم خړ او خټين سمندرګی چې په پورتني آيت کښياد شوی ديهغې نه مراد 'توره بحيره' (بحيرة الاسود BlackSea) ده.

﴿قَالَ أَمَّا مَن ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهُ ثُمَّ يُرَدُّ إِلَىٰ رَبِّهِ فَيُعَذِّبُهُ عَذَابًا نُّكْرًا﴾

"نو وويل (ذوالقرنين) هر څه هغه څوک چې ظلم (زياتی، بې انصافي، بد چلنې وغيره)يې کړې پس ژر به (د خپل ځواک په استعمال) عذاب ورکړو هغه لره، او کله چې خپل رب ته ستون شي نو پس عذاب به ورکړي هغه (الله) ده لره شديد ..." (۱۸:۸۵)

تفسير:
کله چې قوت د ايمان په ستنو ولاړ وي، نو دا ظالم او نورو بد چلنده خلکو ته د سزا ورکولو لپاره د انصاف په دايره کې په کار اچول کيږي. په يوې بې انصافه نړۍ کې خوشالي او سوله ناشونې ده. د انصاف قايمولو له لارې د ذوالقرنين ځواک په ځمکه امن او سوکالي راوستې وه. نړۍ به دغه شان وه که چيرې بشريت په محمد رسول اللهﷺباندې ايمان راوړی وای او هغه پسې روان شوی وای.

سورة الکهف په دې طريقه مونږ ته د دوه قرنونو څخه د يو قرن يعنې د وروستۍ زمانې يا د فتن د زمانې، حقيقت په ډاګه کول ممکنوي. په دې دوهم قرن کې بشريت باندې به د ذوالقرنين د نظام بيخي ضد ژونددود مسلط شي، ځکه چېدوی محمد رسول اللهﷺرد کړی او اطاعت څخه يې ډډه کړې. ځواک به په دغه زمانه کې د بيدينۍ (چې سيکولر هم ورته وايي) په ستنو ولاړ وي، او په ځايد دېچې ظالم ته سزا ورکړي، ځواک به په بې انصافۍ سره په بيګناه باندې د تيري لپاره استعماليږي. سوله او سوکالي به په دغه نړيوال ظالم نظام کې له منځه ولاړه شي.

﴿وَأَمَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُ جَزَاءً الْحُسْنَىٰ ۖ وَسَنَقُولُ لَهُ مِنْ أَمْرِنَا يُسْرًا﴾

"خو هر هغه چا چې ايمان يې راوړ او نيک عمل يې وکړ نو هغه لره ده بدله ښکلې (په آخرت کېچې جنت دی)؛ او مونږ به په کار راوړو خپل قوت تر څو ده لره آسانې وي (د ځمکې په سر ژوند کې)." (۱۸:۸۸)

تفسير:
کله چې ځواک د ايمان په ستنو ولاړ وي نو د ايمان خاوندانو او نيک عملو خلکو د ملاتړ او د مکافات ورکولو لپارهيې په کار اچول کيږي. دا به تر ټولو غوره نړۍ وي او د خلکو لپاره به سوکالي او سولهېکېيې انتها ډيره وي. او بيا دا چې کله ذوالقرنين خپل ځواک ظالمانو ته د سزا ورکولو او ايماندارو او صالحه خلکو ته د مکافاتو لپاره په کار راوړي، نو په

اصل کې ذوالقرنين هغې حتمي همغږۍ ته اشاره کوي چې دلته لاندې د هغه نظام (د ذوالقرنين سلطې) او پورته د آسماني نړۍ تر منځ وجود پيدا کوي.

سورة الکهف دلته يو ويرونکې ګواښنه وړاندې کوي او هغه دا چې د قرنينو څخه دوهم قرن به د داسې يو نړيوال نظام رابرسيره کيدنه ننداره کړي چې بيخي د بيديني په بنسټ به ولاړ وي او د اخلاقي او روحاني ارزښتونو څخه به خالي وي. مصلحت، ځانځاني، وختچاري (ابن الوقتي)، زور زياتی، ايمانداره ژوند نه سرغړونه، د تقوی او ښيګڼې پورې ملنډې وهل به د دې نظام بيلونکې نښې وي. داسې نړيوال نظام به هغه خلک په ښنه کړي او د زياتي لاندې به يې راولي څوک چې په اخلاص سره يوه ديندارہ ژوندلاره خپلوي. بې له کومه شکه به دا نظام په اسلام او مسلمانانو جنګ ورتپي. پايله به يې دا وي چې د ځمکي نړۍ او آسماني نړۍ ترمنځ به همغږي ورکه شي. دا واقعاً همدا رنګ نړۍ ده چې مونږ پکې اوس ژوند تيروو.

﴿ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا﴾

"بيا يې (دوهم ځل لپاره) د يو مقصد لاره ونيوله سره د مناسبو اسبابو..." (۱۸:۸۹)

تفسير:
دلته د ذوالقرنين لخوا د ځواک استعمالولو يوه بله بيلګه څرګنديږي. هغه ختيځ لور ته روان شو او يو ځل بيا يې له ځانه سره مناسب اسباب واخستل تر څو خپل مقصد ته ورسيږي.

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا﴾

"تر هغې چې ورسيد هغهځای د راختلو د لمر ته (يعنېليرې ختيځ کېداسېځای ته ورسيد چې نور هاخوا نشو تللی ځکه چې نوره ځمکه نه وه او داسې بريښنيده چې د ځمکې پای ته رسيدلی دی او لمر د هغه ځايه څخه راپورته کيږي)؛ هغه وليد دا (لمر) چې په يو قوم راپورته کيده چې نه و ګرځولی مونږ دويلره د هغې (لمر، موسم، چاپيريال وغيره) څخه کوم سيوری (بې له طبعې سيوري څخه)." (۱۸:۹۰)

تفسير:
داسې برېښي چې ختيځ لور ته د سفر په دوران ذوالقرنين کوم بل د اوبو سمندرګي ته رسيدلی و، لکه څنګه چې د لويديځ سفر کې ورته پيښه شوې وه، او د دغهسمندرګي پورې خوا څخه هغه د لمر راختنه نندارهکړې وه. که چېرې د لويديځ لور ته سمندرګی توره بحيره وه، نو استنباط دادی چې د ختيځ سمندرګی به د خزار بحيره (د کيسپين سمندرګیCaspianSea) وي.

سورة الکهف بيا د ځواک د استعمال په اړه يو بل درس راکوي. سوال دا دی چېذوالقرنين به خپل ځواک څنګه په کار راوستی وايپه داسې حال کېچې د وروسته پاتې خلکو حقوق د مادي پرمختګ (د مثال په توګه د (کيسپين) تيلو سترو ذخيرو زيښناک (استثمار) چې په دغه سيمه کې وجود لري) مخې ته خنډ جوړواى؟ آيا هغه به د تيلو مادي ارزښت غوره کړيوای او که د وروسته پاتې غريبو خلکو بشري حقوقو ارزښت؟ آيا هغه به جنګ نښلولی او تباهې جوړه کړيوه تر څو د کيسپين د تيلو ذخيرو بانديې منګولې خښې کړې وې او که بشري حقوقو ته به يې د تيلو د ذخايرو حرص باندې لومړيتوب ورکړايوای؟

دا آيت کيدای شي دې ته هم اشاره وي چېد دې سيمې خلک يو وخت کيدای شي د عناصرو (لکه هواېې ککړتيا او يا د جوهري وسلو څخه خارج شوي عناصرو) له کبله لا زياتې پناه ته اړ شي په پرتله د هغې پناه چې په طبعې توګه وجود لري.

﴿كَذَٰلِكَ وَقَدْ أَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا﴾

"همداسې (يې پرېښودل لکه څنګه چېهغويووېعنې په خپل طبعي حالت يې پرېښودل او غرض يې ورسره ونکړ)؛ او بيشکه مونږ (الله تعالی) ته په خپل علم سره څرګنده وه چې د هغه وړاندې کومې چارې وي (او کوم غبرګون يې ورته وښود)." (۱۸:۹۱)

تفسير:
کله چې ځواک د ايمان او تقوى په ستنو ولاړ وي، د انصاف، عقلمندۍ، خواخوږۍ او ښه فکر يوه کچه په ځای ساتي چې بيا هغو خلکو ته چې وروسته پاتې وي او يا کوم

خلک چې په خپل غربت او افلاس کې خوشاله وي، په خپل حال کې د پرېښودلو موقع ورکوي او عصریت، پرمختګ او یا د توکو د استثمار غوښتنې ترینه نه کوي. چېه مثال یې د شمالي امریکا، استرالیا او نورو سیمو ځایي اوسیدونکې دي چې د اروپایانو لخوا ترینه سخته ګټه پورته شوه او د استثمار لاندې راوستل شو.

سورة الکهف دلته بیا د دوهم قرن په اړه یوه ګواښنه وړاندې کوي کله چې ځواک د داسې خلکو لاس ته راشي چې بیدینه به وي او اعمال به یې سوچه د ذوالقرنین د اعمالو ضد وي. دوی به د انصاف، عقلمندۍ، خواخوږۍ او د شعور (پرته له خودخواهۍ څخه چې دوی په ګټه به وي) هیڅ معیار په ځای ونساتي. هغه خلک چې په بې رحمۍ د ځمکې منابع استثماروي چې لا ډېره شتمني ترلاسه کړي او دا چې هغه ژوندلاره په ځای وساتي چې دوی پنځولې، هغوی به په بې رحمۍ وروسته پاتې خلکو باندې بریدونه ترسره کړي او د هغوی ژوندلاره به له منځه یوسي. دوی به دغه کار د عصریت، نړیوالتوب او اقتصادي اړتیا د بیرغ لاندې ترسره کوي او ټول بشري حقونه به تر پښو لاندې کړي. په ضمن کې د نورو هغو خلکو ژوندلاره به هم د برید لاندې وي چې په خپل غربت کې خوښ دي، او دوی به سختې ځوریدنې سره مخامخ شي. همدا رنګه برخلیک د شمالی امریکا، استرالیا، افریقه او باقي نړۍ په برخه رسیدلی او همداسې برخلیک د تیلو ذخیرو څخه ډک، د کیسپین سمندرګي کاسي ته منتظر دی.

ذوالقرنین ممکنه ده خبر وچې د قرنینو څخه دوهم قرن کې به په دغه ختیځ لور ته پرته سیمه کې سترې پیښې برسیره شي. دا پیښې به د قیامت د نښو سره کوم ډول تړاو هم ولري. ځکه هغه دا سیمه همداسې پرېښوده او څه لاسوهنه یې ونکړه. دا هم امکان لري چې د کیسپین سمندرګي د تیلو ذخیرو څخه د ګټه اخستلو په سر سترې شخړې رامنځته شي کومې چې د قیامت نښو پورې مربوطې وي. (والله اعلم)

﴿ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا﴾

"(آخر کې دا دریم ځل وچې هغه خپل ځواک په کار راوست. هغه دریم لور ته سفر وکړ) بیا هغه د مناسبو اسبابو سره یوه لار غوره کړه (چې یو مقصد ترسره کړي)." (۱۸:۹۲)

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوْمًا لَّا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَوْلًا﴾

"(هغه روان و) تر څو چې ورسيد هغه د دوه غرونو تر منځ (درې) ته، ويې موندل وړاندې د دغو (غرونو) داسې قوم چې بعيد ودوی له پوهيدو په کومه خبره باندې(د ذوالقرنين)." (۱۸:۹۳)

تفسير:
د يو داسې خلکو سره مخ کيدل چېهغوی هيڅ په داسې ژبه نه پوهيدل چې د نړۍ د ستر واکمن ژبه وه دا مانا لري چې يا خو دوی يوه نادره ژبه لرله چې نورو د هغې سيمې ژبو سره يې تړاو نه درلود او يا دوی د نورې نړۍ څخه بيخي جلا پاتې شوي وو.

﴿قَالُوا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلَىٰ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا﴾

"(بالاخره کله چېدوی د خبرو اترو کومه لار پيدا کړه نو) وويل دوی، ای ذوالقرنينه! بيشکه چې جوج او مأجوج فساد کوونکي دي په ځمکه کې، پس آيا مقرر کړو تا لره خراج لپاره د دېچې جوړ کړې ته زمونږ او د هغوی تر منځ يو ديوال (تر څو مونږ ترينه خلاص شو)؟" (۱۸:۹۴)

تفسير:
جوج مأجوج څوک دي، دا دوه قبيلې چې د آدمعليه السلام اولاده ده؟ هر څوک چې دي، خو دوی د قوت په ميدان کې د ذوالقرنين سيالان دي. دا له دې څخه روښانه ده چېهغو خلکوچې د جوج مأجوجو لخوا ځوريدل، ذوالقرنين نه غوښتنه وکړه چېد دوی ساتنې لپاره يو ديوال جوړ کړي. کوم قوت چېهغوی سره وو هغه صحيح مسلم کې ذکر شوي يو حديث القدسي هم تاييدکړی په کوم کېچې الله تعالی فرمايلي، "ما داسې زورور بندګان خپل پيدا کړي چې بې له ما څخه هيڅ څوک يې هم نشي تباه کولای."

خو سورة الکهف دا هم په ډاګه کوي چې جوج مأجوجو خپل ځواک بيخي د ذوالقرنين د طريقې په مقابل ډول استعمالاوه. هغوی د فساد فی الارض ارتکاب کاوه يعنېهغوی په خپل نه ماتيدونکي او زيان رسونکي ځواک هر څه چې په نښه کول تباه کول يې. بې

هدفه مرګ، ډلیز قتل، ویره خپرول، تروورزم، ظلم وغیره دا ټول فساد في الارض‌کې شمېرل کیږي. هغه څوک چې د فساد في الارض عاملین وي باید د الهي فرمان له مخې سزا سره مخ شي، یا خو "باید ووژل شي، په دار وځړول شي وروسته له دېچې لاس او پښه یې مخالف لور ته پرې شي، او یا د ټولنې څخه وشړل شي" (قرآن کریم، سورة المائده، ۵:۳۶). دا سزاګانې د بیلابیل ډولونو فساد لپاره وجود لري. دا په قرآن کریم کېیاد شوو مجازاتو کې تر ټولو سخت مجازات دي چې الله تعالی لخوا مقرر شوي دي.

پورتنې ټکي په دې دلالت کوي چې کله جوج مأجوج نړۍ ته راخوشې شي نو بشریت باندې به یو داسې نړیوال نظام وتپل شي چېبیخي د ذوالقرنین د سلطې ضد نظام به وي. د دوه قرنینو څخه دوهم قرن به هغه وي چې جوج مأجوج په بشریت خپل نړیوال فساد مسلط کړي. څرنګه چې سورة الکهف د اوسمهاله زمانې تشریح او توضیح کوي نو دا پورتنۍ آیت یې باید یو د خورا مهمو آیتونو څخه وشمېرل شي.

﴿قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا﴾

"وویل (ذوالقرنین) (کوم ځواک) چې الله تعالی قایم کړی دی ما لره هغه غوره دی (ستاسو له خراج څخه)، پس کومک وکړئ ماسره (کارکونکي) قوتکې او زه به ډپ کړم ستاسو او د هغوی تر منځ یوه پوله (محکم او پلن دیوال)." (۱۸:۹۵)

تفسیر:
ذوالقرنین چمتو شو چې یو دیوال جوړ کړي، چې هغه ورته د ردماً نوم ورکوي. په دې توګه هغه چې کوم ډول آړ (سد) جوړوي د هغې په اړه خاص مالومات راکوي. د "ډکولو" یا د "ډپولو" کلمه په ډېره ښه توګه د یو بند جوړول بیانوي کوم چې د غرونو تر منځ یوه دره یا تنګۍ بندوي. حتا هغه د اوسپنې ستې یا کوندې یو په بل باندې ایښې وي او د بیخ نه شروع د غره سر پورې یې رسولې وي، او په دې ډول یې د دغه تنګې پراخوالی او ژوروالی دواړه ډک کړي وو.

د جوج مأجوجو ایسارولو او خلک د هغوی د شر څخه خلاصولو لپاره د دیوال جوړولو کې ذوالقرنین اضافه شواهد وړاندې کوي چېپخلی کوي د دې خبرې چې جوج مأجوج د یو خاص ځواک خاوندان و او هغه صرف د هغهوي د مخنیوي توان درلود او د هغوی سره د جنګ یا د هغوی سرکوبې هغه وخت ناشونې وه.

﴿آتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انفُخُوا ۖ حَتَّىٰ إِذَا جَعَلَهُ نَارًا قَالَ آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا﴾

"راوړئ ما لره کوندې د اوسپنې!" تر هغې پورې چې کله يې ډک کړ سيپۍ (صدف) په شکل جوړ د غرونو منځ، وويل هغه چې"(اور بل کړئ او) پو کړئ" تر هغې چې (سور) اور وګرځيد، وويل هغه "راوړئ چې تويې کړم په دېباندې ويلې شوي مِس." (۱۸:۹۶)

تفسير:
يواځې تر ټولو کلک فلز څخه جوړ شوي آړ د جوج مأجوجو مخه نيولای شوه. قرآن کريم په سورة الحديد (۵۷:۲۵) کېښخلی کوېچې اوسپنه داسې يو فلز دی چېهمداسې يو کلکوالی لري. کله چې ذوالقرنين د اوسپنې آړ جوړ کړ، نو د پاسه يې پرې ويلې شوي مس تويې کړل، بنايي د دې لپاره چې زنګ يې وه نه وهي.

د پورتني آيت څخه دا ښوونه راوځي چې کله د الله تعالی په امر جوج مأجوج په دوهم قرن کې نړی ته خوشې شي نو دوی به خپلو فتنو ته يو ځل بيا دوام ورکړي تر څو ټول بشريت په ځوريدنه او تکاليفو اخته کړي. په دغه وخت کې به مومنان اړ وي چېد دوی څخه د ځانخلاصي لپاره د محکمو آړونو شا ته پناه واخلي. يوه بله ښوونه دا ده چې مومنان به اړ شي چې يو نه ليدل کېدونکی ديوال جوړ کړي له دوه څيزونو څخه چې د اوسپنې او ويلې شوي مسو سره به تشبيه ولري. د قرآن کريم آيتونه به د اوسپنې د کوندو مثال ولري او د رسول اللهﷺ سنت به د ويلې شوي مسو، کوم چې د اوسپنې د کوندو منځ کې ننوځي او ددغه مضبوط او نه ليدل کېدونکي ديوال جوړښت کمال ته رسوي. زمونږ وړانديز دا دی چېهمداسې يو نه ليدل کېدونکی آړ بايد په اطرافو کې واقع د مسلمانانو د کليو نه ګرد چاپيره جوړ شي.

په پورتني آيت کېد صدف پشان جوړ شوي دوه غرونو ته اشاره په ډېره ښه توګه د ققفازغرو په منځ کې موجود د يوې درې يا تنګې جغرافيايي جوړښت بيانوي. دا غرونه د تورې بحيرې او د کيسپين سمندرګي تر منځ پراته دي.

*فَمَا اسْطَاعُوا أَن يَظْهَرُوهُ وَمَا اسْتَطَاعُوا لَهُ نَقْبًا﴾

”پس (ديوال جوړ شو او د جوج مأجوجو) طاقت نه وچې وخيژي پرې او نه طاقت ود دوی دې (غزه) لره د سوري کولو (او پايله دا چې بشريت يې د ورانکاريو څخه خوندي شو).“ (۱۸:۹۷)

تفسير:
تر هغې پورې چې د ذوالقرنين آړ روغ رمټ ولاړ و، بشريت د جوج مأجوجود ورانکاريو څخه په امان کېږو. موږ دغه دوه زماني اوس تشخيصولی شو چېد ذوالقرنين په نوم کې ورته اشاره شوې.لومړی د جوج مأجوج د ورانکاريو څخه د خونديتوب زمانه ده. د دې زمانې اوږدوالی تر هغه وخته دی تر څو پورې چې دا ديوال روغ رمټ ولاړ وي. دوهمه د فساد او فتنو زمانه ده چې ټول بشريت به لاندې کړي او وخت يې هغه دی کله چې الله عزوجل د ديوال د ړنګيدو امر وکړي او جوج مأجوج په بشريت پرانيستلی شي. دا به دوهم قرن (زمانه) وي چې د قيامت پورې تړلې نښې به پکې پر له پسې سپړيدنه کوي. مومنان چې صالح عملونه لري هغوی به ځانونه د جوج مأجوجو د فساد (نړيوال ککړتوب او تباهۍ) څخه د ژغورنې په تکل کې شي په کومک د هغه نه ليدل کيدونکي آړ چې د قرآن کريم او سُنتو څخه به جوړ وي.

*قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّي ۖ فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُ دَكَّاءَ ۖ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا﴾

”(ذوالقرنين) وويل، (د ديوال جوړولوکې زموږ بريالیتوب) دا رحمت دی له طرفه د رب زما (په مخلوقاتو)! خو هر کله چې راغله وعده د رب زما (يعنې آخره زمانه)، نو وه به ګرځوي (دا ديوال) هوار برابر (د ځمکې سره يعنې ړنګ به شي): او ده وعده د رب زما رښتينې (حقه او ثابته).“ (۱۸:۹۸)

سورة الکهف ستر خبرداری راکوي چې الله تعالی به خپله يوه ورځ دغه ديوال ړنګ يا هوار کړي او جوج مأجوج به نړۍ ته راخوشې کړي. کله چې الله تعالی دا کار وکړي، نو پايله به يې دا وي چې ځواک به د بيدينې په ستنو ودريږي او د ظلم، فساد، تباهۍ او د اسلام ضد جنګ لپاره به په کار واچولی شي. داسې نړيوال نظام به په دوه ستنو ولاړ وي، يوه ستنه به جوج وي او بله به مأجوج. دا کټ مټ همدا نړيوال نظام دی چې نن سبا موږ پکې ژوند کوو.

*وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ ۖ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَجَمَعْنَاهُمْ جَمْعًا﴾

"او پرې به ږدو ځيني د دوی څخه په دغه ورځ چې ننوځي د موج پشان (چپيوځای شي او ټکر شي) د نورو سره او شپېلۍ د (قضاوت) به پو کړی شي، پس راټول به کړو دوی ټولو لره يوځای." (۱۸:۹۹)

تفسير:
قرآن کريم مونږ ته خبر راکوي چې شپېلۍ به په بيلابيلو وختونو کې پو کړی شي (الکهف ۹۹، المؤمنون ۱۰۱، يس ۵۱، الزمر ۶۸ (دوه ځلې)، ق ۲۰، الحاقة ۱۳). په پورتني آيت کې د شپېلۍ وهل شايد د فتن د زمانې پيل کېدو ته اشاره وي. خو دا زياته شونې ده چې دا د الساعة (آخرې کړۍ) رارسيدل اعلانوي، يعنې د مکملې ويجاړۍ شيبه چې ورپسې به د قبرونو څخه بيا ژوندي کېدل منځته راځي. خو د قرآن کريم دا شاهکار آيت کېدای شي نړيوالې شخړې او لانجې اټکلوي چې لامل به يې دغه نس پرست د جوج مأجوجو نظام وي او ورسره به د نړيوالتوب (ګلوبلايزيشن) غورځنګ هم شريک وي.

دکتور تمام ادي، د قرآن کريم ژبپوه، ډير د ادراک څخه ډکه ليکنه کړې، د هغه په وينا "جوج مأجوج د چپو پشان راخوشې کيږي چې وروسته د يو بل سره يوځای کيږي او د يو بل ملاتړ کوي – که يوه چپه ناکامه شي، ورپسې بله بريالۍ کيږي، چې بيخي همدغه شان پيښېږي د تاريخ په اوږدو کې تيرې شوې دي. جوج مأجوج په ټولو قومونو او مذهبونو کې په چپو چپو ورننوتي او دا چپې وروسته يوځای شوي که يېچې دغه قومونه سره شريک او په يو بل کې ګډوډ کړي، او اکثره د جوج مأجوجو لخوا د بيدينۍ لور ته کش کړی شوي دي. په دې کې امريکې ته هم اشاره ده او يا داسې نور کثيرالنژادي هيوادونه چيرې چې د بيلابيلو سرچينو څخه خزار قوم ورګډ شوی او د يو بل سره د کومک له لارې يې ددغه هيوادونو ولسونه ويجاړ کړي او نړولي دي." (د ليکونکي سره د شخصي خطونو د تبادلې څخه)

او په آخره کې، دا آيت کېدای شي دا مانا هم ولري چې د جوج او مأجوجو تر منځ هغه هيبتناکجوهري جنګ امکان لري چې پيښ شي، چې د نړۍ زياترو برخو نه به شاړه ميره جوړه کړي (د سورة الکهف ۸م آيت هم وګورۍ، "او بيشکه په خپل وخت به مونږ هر څه چې (په ځمکه) دي وه به ګرځوو په تش ډاګ وچ کلک باندې.") دا به په خپل وار د نړۍ پای او د بيرته ژوندي کېدو لور ته حرکت وي. حقيقت خو دا دی چې دا آيت په

ډاګه اعلانوي چې جوج مأجوج به د چپو پشان په یو بل ورشي. نتیجه یې دا راوځي چې جوج او مأجوجو کې به یوه ډله د نړیوال نظام په دوه ستنو اودریدو باندې نه وي رضا او په بله ډله به برید وکړي تر څو ټول نظام په یوه ستنه ودروي. دجال غواړي چې نړیوال نظام په یوه ستنه ولاړ وي او د هغه لاس لاندې دې وي تر څو هغه په ټوله نړۍ واکمنۍ ته رسیدو کې بریالی شي. دا به همدغه شخړه وي چې د شپیلۍ د وهلو لامل به وګرځي. والله اعلم.

﴿وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَافِرِينَ عَرْضًا﴾

"او راوړاندې (نژدې او ښکاره) به کړو دوزخ په دغه ورځ (کله چې د جوج او مأجوج تر منځ دغه ویرونکی ټکر رامنځته شي او دُخَان یا لوګی په آسمان راښکاره شي لکه څنګه چې د جوهري چاودونو له کبله لوګی آسمان لور ته خیژي) لپاره د کافرانو (هغه ځوک چې د حق څخه ډډه کوي) تر څو هر لور ته خپور وي (یعنې ښکاره به وي هر چا ته)."
(۱۸:۱۰۰)

د آیت څخه بریښي چې کڼ شمیر وګړي به په دغه جګړو کې له منځه ولاړ شي او د ځمکې نفوس به تر ډیره حده پورې راښکته شي. اکثره د هغو خلکو څخه چې هلاکت به مومي، د هغوی د سترګو وړاندې به عیني دوزخ خپور وي. مسلمانانو ته د نورو شواهدو اړتیا نشته چې دا په ثبوت ورسوي چې اوس همداسې وخت رارسیدلی دی او پس دوی باید ځانونه د بیدینه او خسا ټولنو څخه جلا کړي څکه چې دا ټولنې د بدمرغه هلاکت لور ته روانې دي په تیره هغه وخت کله چې د جوج مأجوجو تر منځ وروستۍ جګړه رامنځته شي.

﴿الَّذِينَ كَانَتْ أَعْيُنُهُمْ فِي غِطَاءٍ عَن ذِكْرِي وَكَانُوا لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا﴾

"دا هغه خلک دي (پورته آیت کېیاد شوي کافران) چې سترګې د دوی دي د پردې لاندې (په غفلت) زما د ذکر څخه او نه لري دوی طاقت د اوریدلو (د حق)."
(۱۸:۱۰۱)

تفسیر:
دا آیت کریمه په دې دلالت کوي چې هغه خلک به د دوهم قرن واقعیت پیژندلو څخه محرومه وي ځوک چې سترګې لري خو ګوري نه، غوږونه لري خو اوري نه، زړونه لري

خو بیا هم فکر یې نه رسیږي، او نه به دا رنګ خلک د هغې نړۍ بیدینه او خسا حقیقت وه پیژني په کومه کېچېدوی ژوند کوي.دوی به دې حقیقت ته هم وه نه رسیږي چې دا دوهم قرن په خپله د قیامت د نښو څخه یوه نښه ده.

(قرآن کریم، سورة الکهف، ۸۳-۱۰۱ آیتونه)

د قرآن کریم د پورتنې عبارت او ورسره دې کتاب کېیاد شوي اړونده احادیثو څخه مونږ په احتیاط سره د جوج مأجوجو یوه خاکه یا هډوانه راوباسو. مونږ ته اوس روښانه ده چېدوی'دوه مخې انسانان' دي او د ژر حرکت کولو قوت لري. دوی د فوق العاده پوځي ځواک خاوندان دي خو دوی ځواک د تیري لپاره په کار راوړي. د دوی پیژندلو لپاره ډیره مهمه د قرآن کریم هغه نښه ده چېوایې جوج مأجوج به د الهي امر له مخې د خپل وطن څخه شړل شوي یو قوم لپاره دا شونې کړي چېدوی بیرته یوه ورځ خپل ښارګوټي ته راستانه شي او بیرته یې خپل کړي (قرآن کریم، سورة الانبیاء، ۹۵-۹۶م آیتونه). لکه څرنګه چې مالومه ده چې جوج مأجوج د قیامت یو ستره علامه ده او قرآن کریم د دوی د خروج په هکله یواځې همدا مالومات راکړي نو له دې څخه دا هم مالومیږي چې'هغه ویجاړ شوی ښارګوټی'، 'کوم خلک چې ترینه ویستل شوي وو'، او د جوج مأجوجو په کومک 'د دې خلکو خپل ښارګوټي ته بیرته ستنیدل'، حتماً د قیامت د نښو موضوع سره ټینګ تړاو لري.

د دې کتاب یو مهم فصل چې څیړندود ته وقف شوی، هغې کې مونږ دا روښانه کړېچې د قیامت د ورځې د مضمون مانایز غونډال باندې باید پوره ورسیږو له دې څخه مخکې چې د جوج مأجوجو په اړه د قرآن کریم کوم آیت او یا کوم حدیث څخه تعبیر او پوهنه ترلاسه کړو. د نمونپوهنې په اړه تیر فصل کېپه دې دلالت وشو چې د آخرې کړۍ موضوع باندې پوهیدلو لپاره عیسیعليه السلام ته قرآن کریم د الساعة (آخرې کړۍ) د 'علم' یا 'کنجي' حیثیت ورکړای دی.

داسې خلک ډیر دي چې په کلکه زمونږ د ښارګوټي په کوته کول ردوي، یعنې دا نه مني چې دا ښارګوټی یروشلم (بیت المقدس) دی، چې مونږ په ډیر زیار او د څیړندود په تطبیقولو سره مالوم کړی دی. هم دا سبب دی چېدوی دا هم نه مني چې جوج مأجوج د اسرائیل دولت شا ته اصلي عاملین دي او دوی لا پسې زیاتیدونکي تیري له لارې په نړۍ د واکمنۍ د خوبونو رښتیا کولو په تکل کې دي. داسې خلک دې ښکاره حقیقت نه سترګې پټوي چې په ارض المقدس کې کومه ډرامه روانه ده هغه به د عیسیعليه السلام د راتګ سره خپل اوج ته ورسي، او دا چې د هغه اعجازي راتګ به د الساعة 'علم' وي. دا چې قرآن کریم دا اعلانوي چې د هر څه تشریح لري (سورة النحل، ۱۶:۸۹) نو داسې شکمن خلک باید سرې وننګوي چېراشيتاسی له قرآن کریم څخه کومه بله تشریح وړاندې کړيچې په ارض المقدس کې روانې ډرامې باندې رڼا واچوي.

د جوج مأجوجو ځانګړتیاوې په لاندې ډول بیانیږي:

## جوج مأجوج د انسانانو څخه دي (قرآن مجید او حدیث)

آیا جوج مأجوج عجیبه غوندې مخلوقات دي چې عجیبه شکلونه، قدونه وغیره لري او که دوی د انسانانو څخه دي؟ آیا دوی د پیریانو یا ملایکو څخه دي؟ او که دوی د دجال پشان دي کوم چې نه خو انسان دی او نه پیری او یا پرښته، او د دجال غوندې به دوی هم یوه ورځ د انسان په شکل کې راڅرګند شي؟ لومړی باید مونږ قرآن کریم ته مخه وکړو ترڅو دې پوښتنې ته ځواب پیدا کړو.

د سورة الکهف ۹۴م آیت خبر راکوي چې د انسانانو یوې ټولنې ذوالقرنین ته شکایت وکړ له جوج مأجوجو څخه او د هغوی فساد څخه (داسې عمل چې تر هغې خرابۍ کوي تر څو چې یو قوم د تباهۍ حالت ته ونرسوي). دوی غوښتنه وکړه چې د جوج مأجوجو بندولو لپاره یو دیوال یا آړ ورته جوړ کړي چې د هغوی د فساد څخه خلاص شي. ذوالقرنین یو توکیز دیوال د اوسپنې د کوندو څخه جوړ کړ او په دې ډول یې جوج مأجوج د دیوال شا ته ایسار کړل.

د اسلام قوانین د هغه ګناهونو چې سزا یې په آخرت کې ورکول کیږي، او د داسې ګناهونو چې‌په دې دنیا یې هم باید سزا ورکړل شي، تر منځ توپیر کوي. د اسلام جزایي قوانین فساد تر ټولو ستر جنایت ګڼي او همدا رنګ یې د مخنیوي پخاطر ورته سزاګانې ټاکلې دي چې د هغوی څخه جلا وطني، مقابل لور ته د پښې او لاس غوڅول او په دار ځړول دي. فساد داسې یو جنایت دی چې فطرتاً زیانکاره عمل دی، د مثال په توګه منظمه وژنه، سودي بانکي نظام (ځکه چې‌آزاد بازار خرابوي)، تنظیم شویلوټمار، لوړه راوستل، په پراخه پیمانه زهر خپرول (د درملو او واکسین په شکل) او جبري بت پرستي.

﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ۚ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾

"بیشکه سزا د هغه کسانو چې د الله او د هغه رسول سره په جنګ کې دي، او هڅې کوي په ځمکه کې لپاره د فساد کولو، دا ده چې وه دې وژل شي او په دار دې وځړول شي او پرې دې شي د دوی لاسونه

او پښې په مخالف لور او يا د خاورې څخه دې وشړل شي: دا د هغوی لپاره رسوايي ده په دنيا کې، او شته دوی لپاره په آخرت کې عذاب ډير لوی.“ (قرآن کريم، سورة المائده، ۵:۳۳)

د جوج مأجوجو د چلند واضحه کولو لپاره د فساد کلمه استعمالول په دې دلالت کوي چېدويداسې بندګان دي چې د خپلو کړو مسؤليت په خپله غاړه لري او په دې توګه د دوی چلند د 'عمل' حيثيت لري. خو داسې به هله شونې وي که چيرې جوج مأجوج د 'خپل اختيار' خاوندان وي او 'خوښه' ولري او همدا رنګ دوی د خپلو بدو اعمالو حساب ورکوي.

ملايکې خپل اختيار نلري او ګناه نشي کولای، پس دوی د فساد عملونه هم نشي ترسره کولای. او نه خو نالیدې ملايکې سړی د يو توکيز ديوال شا ته ايسارولی شي. که څه هم پيريان خپل اختار لري او د خپل چلند مسؤليت په غاړه لري، خو دوی انسانانو ته نه ښکاري او په دې توګه د فساد د يو عمل نه وروسته دوی ته ګوته نيول ناشونې ده. برسيره پر دې نالیدې پيريان د وخت او فضا يو بل بُعد (ډډه) کې وجود لري چې زمونږ سره توپير لري او له دې لامله د دوی هم د ملايکو غوندې د يو توکيز ديوال شا ته بندول ناشونې ده.

يواځيني نور مخلوق چې خپل اختيار لري او ګناه کولای شي نو د فساد ارتکاب هم کولای شي، هغه انسانان دي. سربيره پر دي، د ملايکو او پيريانو په پرتله انسانان د يو توکيز ديوال شا ته ايساريږي.

کله چې مونږ احاديثو ته مخه وکړو نو مونږ ته داسې مالومات په لاس راځي چې تايید کوي د دېخبرېچې جوج مأجوج د انسانانو له ذات څخه دي.

ابوسعيد الخدري څخه روايت دی چې رسول اللهﷺ فرمايلي: "په ورځ د قيامت به الله تعالی آدم÷ ته امر وکړي چې د خپل اولاد څخه هغه خلک بيل کړي چې دوزخيان دي. آدم÷ به وپوښتي: "يا ربه، دا څوک دي؟" الله تعالی به وفرمايي: "د هر زرو څخه نهه سوه نهه نوي (۹۹۹) دوزخ لپاره دي او يو د جنت لپاره دی." په اوريدو د دې اصحاب کرام په هيبت کې شو او سوال يې وکړ، "يا رسول الله دا يو چې جنت ته ځي هغه به څوک وي؟"رسول اللهﷺ وفرمايل: "تشويش مه کوی، ۹۹۹ به جوج مأجوج وي او هغه يو جنتيه له تاسی څخه وي (يعنې ستاسو د کمې نسبت به يو په زرو کې وي)." (صحيح بخاري، صحيح مسلم)

"بيشکه جوج مأجوج د آدم÷ د اولادې څخه دي."
(کنزالعمال، ۲۱۵۸م حديث)

پورتنی حدیث تایید کوي چې جوج مأجوج انسانان دي او د آدم÷له اولادې څخه دي.

په صحیح مسلم کې یو حدیث القدسي هم ذکر شوی کوم کېچې الله تعالی جوج مأجوجو ته خپل عباد (یعنې بندګان یا غلامان) وایې.

"ما داسې زورور بندګان (جوج مأجوج) خپل پیدا کړي چې بې له ما څخه هیڅ څوک یې هم نشي تباه کولای." (صحیح مسلم)

د الله تعالی بندګان چې د جنګ او د ځواکونو ماتولو توان ولري په عامه توګه ترینه انسانان مراد وي.

د قرآن کریم او احادیثو څخه د کره شواهدو په رڼا کې مونږ دې پایلې ته رسیږو چې جوج مأجوج د انسانانو څخه دي.

## دوی دوه مخي خلک دي چې د چټک خوځون توان لري (د قرآن ماناپوهنه)

د جوج مأجوجو نومولو لپاره قرآن کریم کې د 'یَأجُوج وَ مأجُوج' کلمېکارول شوي دي. دکتور تمام ادي، د قرآن کریم ماناپوه، په ګوته کړې چې دا د عربي ژبې د 'ء ج ج' څخه راوتلې د یوې کلمې دوه بڼې دي چې د ګرامر له لحاظه معلومه صیغه (یأجوج) او مجهوله صیغه (مأجوج) څرګندوي. له دې څخه د دوید دوه مخیتوب صفت څرګندیږي چې چلند یې موجونو ته ورته زیاتیږي او کمیږي. دوی'برید' او 'اشغال' کوي (یأجوج) او بیا په ظاهره 'بیرته ستنیږي' (مأجوج). دوی بنکاره 'یرغل' کوي (یأجوج) او بیا ځانونه 'سوله ساتي' او یا 'یرغل ځپلي' بولي (مأجوج). دوی اول'تیری' کوي (یأجوج) او بیا 'منځګړتوب' کوي (مأجوج). دوی ځانونه د 'مذهبي خلکو' په څیر څرګندوي (یأجوج) په داسې حال کې چېدوی هیڅ ایمان نلري او ذاتاً'بې عقیدې' دي.

قرآن کریم کې متهمداسې دوه مخې خلکو په هکله یو کلک خبرداری راکړای:

* وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ۞ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ﴾

"او کله چې اوویل شي دوی ته مه کوئ فساد په ځمکه کې نو دویوایې بیشکه مونږ خو صرف سوله کونکي یو. بلکه نه همدوي فساد کونکي دي خو دوی پوهیږي نه." (قرآن کریم، سورة البقره، ۱۱-۱۲ آیتونه)

*وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا إِلَىٰ شَيَاطِينِهِمْ قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِئُونَ﴾

"او کله چې مخامخ شي دوی هغه کسانو سره چې ایمان یې راوړی، نو وایېدوی، مونږ ایمان راوړی (ستاسو پشان)؛ خو کله چېیوځای شي دوی خپلو شیطانانو ملګرو سره، نو وایېدوی، بیشکه مونږ تاسی سره یو؛ مونږ خو تشې مسخرې کولې." (قرآن کریم، سورة البقره، ۲:۱۴)

ګرامرپوهانو دا یادونه هم کړېچې د*یأجوج او مأجوج* کلمې د عربي ژبې کلمو 'اج' یا 'اجِج' څخه راوتلې دي چې د ګرامر په ژبه داسې راویستلو ته یفعول او مفعول ویل کیږي. 'اجِج''سختوالې' ، د 'اور لمبه وهلو' ته وایې خو 'اَجَّ' د 'اِسرآء' یعنې 'هغه تیز ولاړ'، مانا لري. نو ویلی شو چې جوج مأجوج د چټک خوځون توان لري او شدید مضطرب خلک دي. د دې ثبوت سړی په اولمپک لوبو کې لیدلی شي چې څنګه یو ځانګړی نسل د باقي ټول بشریت په پرتله ډیر مډالونه ترلاسه کوي. خو د 'اور لمبه' او د 'خوځون چټکوالي'کې هم ځینې اشارې شته چې څنګه کله چې همدغه خلک د تیرې او ظلم څخه ډکې جګړې ونښلوي نو دوییه دې بریالي شي چې د نړۍ زیاتره برخه د خپل تسلط او اشغال لاندې راولي.

ښایید دوی دوه مخیزه تماشو څخه تر ټولو خطرناکه هغه وي چېدوی ځانونه د مذهب په دایره کې داخل خلک څرګندوي، حال دا چېدوی اساساً بیدینه او بې عقیدې خلک دي. دوی حق دین څخه ګرکه کوي او ورسره هغو خلکوڅخهچې په ربښتیا سره یو دینداره ژوند تیروي او تل د تقوی او نیک عملی په تکل کې وي.

څرنګه چې یأجوج معلومه صیغه ده (په عربي ژبه کې) او مأجوج مجهول صیغه، نو ویلی شو چې د دواړه تر منځ سیالیو کې به یأجوج بالاخره په مأجوج باندې زورور شي. دا کتاب به هڅه وکړي چې په اوسنۍ نړۍ کې جوج او مأجوج دواړه راوپیژني او په دې ډول به د تاریخ د پای یو لنډ شان انځور وړاندې کړي کوم کې چې ددواړو تر منځ یو وروستۍ ستر ټکر منځته راتلونکی دی.

## دوی د فوق العاده پوځي ځواک خاوندان دي (قرآن کریم او حدیث)

قرآن کریم ډیر په روښانه ډول جوج مأجوج د فوق العاده ځواک لرونکي خلکو په څیر انځور کړي دي. دا د سورة الکهف هغه عبارت کې چیرته چې ذوالقرنین ته د دوی د فساد په اړه خبر ورکول کیږي، او ترینه غوښتنه کیږي چې یو آړ جوړ کړي، تر څو خلک د دوی د فساد څخه په امان کې شي. دا غوښتنه هغه وخت وشي کله چېهغه دواړه ختیځ او لویدیځ لور ته سفرونه ترسره کړي وي. د لویدیځ لور ته د سفر په ترڅ کې هغه داسې خلکو سره مخ شي چې الله تعالی یې په اړه ترینه پوښتنه وکړي چېدوی سره به څه عمل کوي. په ځواب کې هغه څرګنده کړي چې ظالمانو ته به د ظلم سزا ورکړي. او بله دا چې قرآن کریم روښانه کړیچې هغه ته الله تعالی ټول اسباب په برخه کړي وو (چې تر ټولو مهم یې ځواک و) تر څو هغه هر کوم مقصد ته چې ځان رساوه، ترسره کاوه یې. نو طبعي عکس العمل خو باید دا وایچې جوج مأجوج یې هم لکه د نورو په سزا محکوم کړي وو.

دې ته په پام سره چې ذوالقرنین د جوج مأجوجو ځپلو هیڅ هڅه ونکړه، او په ځایېد دوی بندولو لپاره د یو دیوال جوړولو ته غاړه کیښوده، دې ته اشاره ده چې جوج مأجوجو سره داسې ځواک وچې هغه لاندې کولای نشو.

بدمرغه پایله یې دا ده چې کله د الهي امر له مخې جوج مأجوجو د راوتلو وخت راشي نو دوی به د یو بې ساري ځواک سره په ټوله نړۍ مسلط شي. دوی به داسې قوت ښکاره کړي چې په ټوله نړۍ کې به بل کوم ځواک یا اتحاد د دوی د سیالۍ توان ونلري.

احادیث هم د قرآن کریم څخه اخستل شوې د جوج مأجوجو د داسې خاکې پخلی کوي. په صحیح مسلم کې ذکر شوي یو حدیث القدسي کېویل شوي چې الله تعالی د جوج مأجوجو په اړه داسې وینا کړي:

"ما داسې بندګان خپل پیدا کړي چې ما نه پرته هیڅوک د دوی سره د جنګ توان نلري." (صحیح مسلم)

دا باید روښانه وي چې کله د الهي امر له مخې جوج مأجوج نړۍ ته راخوشې کیږي نو دوی به د نړۍ زبرځواک ګرځي ځکه چې هیڅ کوم بل ځواک یا د ځواکونو ټولی به د دوی سیالی ونکړای شي. بشریت به له دې کبله د جوج مأجوجو لخوا جوړ شوي نړیوال نظام کې د رعیت حیثیت ومومي.

## دوی ځواک د تیري لپاره په کار اچوي (قرآن کریم)

سورة الکهف مونږ ته د نمونې په توګه یوه تشریح وړاندې کړي چې ځواک څنګه په کار اچول کیږي کله چې (په الله تعالی باندې) د ایمان په بنسټ ولاړ وي. ذوالقرنین تر دې حده په الله تعالی ایمان درلوده چې الله تعالی په بدل کې په ځمکه د هغه واکمني قایمه کړې وه او هر مرام ته د رسیدو امکانات یې ورته برابر کړي وو. الله تعالی حتی د هغه سره خبرې کوي (بنایي د وحی په واسطه) او په نوم یې بولي او ورته ځواک د سزا او جزا ورکولو لپاره د استعمالولو اختیار ورکوي. د هغه غبرګون او انتخاب (پورته د سورة الکهف ۸۷-۸۸ آیتونه وګورئ) بې له کومه شکه له ارزښتونو او صداقت څخه ډک و.

د ذوالقرنیین لخوا د ځواک په کار اچونه یو ځل بیا د سورة الکهف هغه عبارت کې تشریح کیږي چیرته چې هغه یو داسې خلکو سره مخ شي چې الله تعالی ورته د طبعي سیوري نه علاوه کوم بل سیوری نه وو ورکړای. دا ځل هغه داسې غبرګون وښاییچې د بشري حقوقو درناوی پکې و او بې له کومو شرایطو بشري حقوقو ته یې په نورو کتو لومړیتوب ورکړ، اګر که هغه خلک هر څومره وروسته پاتېووخو بیا یې هم خپل ستراتیژکې کتو تههیځ پام ونکړ. هغه دا خلک په خپل حال پریښودل.

خو په سورة الکهف کې د ذوالقرنین (د دوه ښکرونو څښتن، او یا د دوو عصرونو) کلمه د نوم لپاره کارونه زمونږ په فکر د دوه زمانو شتوالي ته اشاره ده، یوه زمانه هغه چېیه دې سورة کې یاده شوې او بله هغه چې دې سورة ورته په غیرمستقیم ډول اشاره کړې. دوهمه زمانه هغه وخت برسیره کیږي کله چې جوج مأجوج د الله تعالی په امر راخوشې شي. دغه وخت به ځواک په نړۍ کې په الله تعالی د ایمان په ځای په بیدینۍ قایم شي. داسې حال کې ځواک د ذوالقرنین د طریقې بیخي ضد په کار اچول کیږي.

ظالم ته د سزا ورکولو په ځای به ځواک د تیري او د ایمانداره او نیک عمله خلکو ربړولو لپاره په کار واچول شي. نړۍ به په عمومي توګه د مذهبي ژوندلارې او خصوصاً د اسلام په ضد د جګړو ننداره وکړي. ورسره دا چې د ځواک خاوندان به بشري حقوقو ته د مثقال قدر اهمیت هم ورنکړي. پر ځای به یې د سیمې نیولو او د الماس، سرو، تیلو او د اوبو پشان ذخایرو لاندې کولو په ترخ کې، بې وزله او وروسته پاتې خلک د خاشاک غوندې د پښو لاندې کړي او پوپنا به یې کړي.

جوج مأجوج داسې خلک دي چې د کردار بنسټ یې په ظلم، یرغل او کډوډۍ راوستلو باندې ایښودل شوی دی.

دوی د یو قوم لپاره بیرته خپل ښارګوټي ته ستنیدنه شونې کوي (زمونږ په نظر د سورة الانبیاء ۹۵-۹۶م آیتونه د یهودیانو بیت المقدس (یروشلم) ته بیرته ستنیدو ته اشاره ده، او دا په ارض المقدس کې د اسرائیل د دولت رغیدنه روښانوي)

د جوج مأجوجو د خاکې دا برخه چې په سورة الانبياء کې ځای شويده، د دوی د پېژندلو لپاره تر ټولو مهمه بيلګه ده. قرآن کريم يو حيرانوونکی خبر راکوي چې د (الله تعالی لخوا ويجاړ شوي) يو ښارګوټي اوسيدونکي به هيڅ کله خپلې سيمې ته بيرته ورستانه نشي او بيرته به يې خپل نکړي (وروسته له هغې چې الله تعالی دوی د خپل ځايه شړلي او په بيرته راتګ يې بنديز لږولی و)، تر هغې چې جوج مأجوج راخوشې شوي، او په هر لور خپاره شوي نه وي (او په دې ډول د نړۍ واکې په لاس کې واخلي). مونږ خپل کتاب 'بيت المقدس په قرآن کې'(Jerusalem in the Quran)کې استدلال کړيچې دا ښارګوټی خپله يروشلم (بيت المقدس) دی:

*وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ۝حَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ﴾

"او بنديز دی په يو ښارګوټي (يروشلم) باندې، کوم چې مونږ ويجاړ کړيو (او خلک يې د هغه ځايه ويستل شوي وو) چېدوی (يعنې خلک يې) بيرته نشي راستنيدلی (چې دا ښارګوټی بيرته خپل کړي) . تر هغې پورې چې جوج مأجوج خوشېکړی شي او دوی له هرې لورې راخپاره شي. (او په دی ډول د ټولې نړۍ واک تر لاسه کړي او د جوج مأجوجو نړيوال نظام ټينګ کړي)." (قرآن کريم، سورة الانبياء، ۲۱:۹۵-۹۶)

دا د قرآن کريم د هغه آيتونو يوه ځانګړې نمونه ده چې صرف د مانايز غونډال څيړندود کارونې له لارې پرې سړی پوهيدلای او مانا ترينه اخستلای شي او ورسره دا چې سړی بايد د قرآن کريم څخه د بهر پرتو مالوماتو ژوره مطالعه او څيړنه وکړي. دا د جوج مأجوجو دغه د پښنو منډ دی يعنې د دوی هغه خاصيتونهچې الله تعالی په قرآن کريم کې ورته ځای ورکړای، او چېبايد پوه شو پرېچې ستر اهميت لري او بايد ورته لومړيتوب ورکړو که چيرېداسې احاديث شتون لري چې دغو خاصيتونو اود پښنو منډونو سره ظاهري ټکر خوري.

## دوی بشريت په خپل بيدينه غوجل کې ترې (قرآن کريم او حديث)

د قرآن کريم سورة الکهف د ذوالقرنين دغه خبرداری يادکړيچې الله تعالی به يوه ورځ هغه ديوال ونړوي کوم چې ده د اوسپنو کوندو څخه جوړ کړيو. کله چې دا ديوال ونړيږي او جوج مأجوج د الهي امر له مخې نړۍ ته خوشې شي نو دوی به مختلفو ملتونو، قبيلو او نورو خلکو کې لکه د چپو پشان ورننوځي او په داسې ډول چې پرته د رښتيني مومنانو باقي ټول بشريت به د جوج مأجوجو خسا او بيدينه نظام کې جذب شي.

دا له هغه حدیث څخه هم ښه څرګندیږي چېواېي په ورځ د قیامت به د هر زرو کسانو څخه ۹۹۹ جوج مأجوج ګرځیدلي وي او ټول به دوزخ ته ځي:

"د ابو سعید الخدري څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي: په ورځ د قیامت به الله تعالی امر وکړي: ای آدمه! آدم عليه السلام به په ځواب کې ووايي: لبیک ربنا و سعدیک. بیا به یو اوچت غږ پورته شي: الله تعالی تاته امر کوي چې د خپل اولاد څخه یوه ډله خلک د (دوزخ) اور لپاره جلا کړه. آدم عليه السلام به ووايي: یا ربه! څومره خلک د (دوزخ) اور لپاره دي؟ الله تعالی به وفرمايي: د هر زرو څخه ۹۹۹ بیل کړه. په دغه وخت به هره حامله ښځه خپل بار وغورځوي (یعنې زیان به وکړي) او د یو ماشوم ویښته به سپین وي. "او تاسیبه انسانان د نیشې په حالت کېوګورئ، خو نیشه به نه وي، خو د الله تعالی عذاب به ډېر شدید وي." (قرآن کریم، الحج، ۲۲:۲). (کوم وخت چې رسول الله ﷺ دا بیان وکړ نو) خلک دومره پریشانه (او اندیښنه کې) شولچې مخونو یې تغیر وکړ (په رنګ کې) او بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: ۹۹۹ به له جوج مأجوجو څخه وي او هغه یو به ستاسې څخه وي. تاسی مسلمانان (د ډیرو نورو خلکو په پرتله) به داسې یاست لکه د یو سپین غواېي په ملا چې تور ویښته وي او زه هیله لرم چېتاسی به د جنتیانو څلورمه برخه یاست. په اوریدو د دې مونږ وویل: الله اکبر! بیا رسول الله ﷺ وویل: زه امید لرم چېتاسی به د جنتیانو دریمه برخه یاست. مونږ بیا وویل: الله اکبر! بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: (زه امید لرم چېتاسی به) د جنتیانو نیمه برخه یاست، نو مونږ اوویل: الله اکبر." (صحیح بخاري)

ډیر کم خلک (یعنې په زرو کې یو) به پاتې شي چې د جوج مأجوجو د ازمیښتونو او فتنو څخه ځانونه وژغوري. د دې خلکو مثال به داسې وي لکه د ستنې سوري څخه چې اوښ څوک تیرول غواړي، یعنې د داسې خلکو د جوج مأجوجو جوړ شوي ژوندلاره کې د جذبیدو امکانات به په سلو کې صفر وي. دا به هغه خلک وي څوک چې په صداقت د نبي کریم ﷺ لخوا ښودل شوې لار باندې روان وي.

## دوی د 'ستورو جنګ' نښلولو توان لري(حدیث)

نه یواځې دوی د فوق العاده پوځي ځواک خاوندان دي، بلکه لکه لاندې ذکر شوي حدیث کې د 'غشي' د کلمې ذکر کیدو څخه چې څرګندیږي، دوی به توان ولري چې هغه څه ونښلوي چې نن سبا ورته د 'ستورو جنګ' ویل کیږي. آیا نبي کریم ﷺ نه دي فرمایلي: "په حاضرو خلکو دا فرض دی چې دا پیغامهغو خلکو ته ورسوي چې حاضر نه دي. امکان لري کومو خلکو ته چېدا پیغام ورسیږي هغوی پرې بهتر پوه شي په پرتله د هغو خلکوچا چې دا واوریده." (صحیح بخاري)

”.... جوج مأجوج به روان وي تر څو چې د الخمر غره ته ورسيږي او دا غر په بيت المقدس کې دی، او دوی به وايي: مونږ د ځمکې وکړي ووژل. راځئ‌چې اوس هغه خلک ووژنو چې په آسمان کې دي او دوی به خپل غشي آسمان لور ته خوشې کړي او دا غشي به په وينو رنګ بيرته د دوی لور ته راښکته شي....“ (صحيح مسلم)

## دوی به په خاصه توګه عرب د خپل تيري نښه وګرځوي (حديث)

د جوج مأجوجو خاص او توند دريځ چې عربانو لپاره يې ساتلی رسول اللهﷺ هغه وخت په ډاګه کړ کله پېچېد دې خبيث قوم په اړه يو رښتينی خوب وليد. دغې باصرې هغه ته خبر ورکړ چې د ذوالقرنين لخوا جوړ شوي ديوال کې سوری کنستل شوی دی او دا چې د جوج مأجوجو نړۍ ته راخوشې کېدنه يا خو پيل شوې ده او يا ژر پيل کېدونکې ده. او په دغه باصره کې رسول اللهﷺ ته داسې څرګندونې په ډاګه شوې چې په پايله کې يې هغه نارې کړې ”تباهي ده عربانو لره“:

”د زينب بنت جحشؓ څخه روايت دی: يوه ورځ رسول اللهﷺ د ډار په حالت کې راننوت او ويې فرمايل: هيڅوک د عبادت لياقت نلري مګر الله! تباهي ده عربانو لره د هغه ستر شر څخه چې رارسيدلی دی (عربانو ته). نن د دې پشان يو سوری د جوج مأجوجو په ديوال کې کنستل شوی دی. رسول اللهﷺ بيا د شهادت او غټې ګوتې په واسطه يوه دايره جوړه کړه. زينب بنت جحش زياتوي: ما وپوښتل: يا رسول الله! آيا مونږ به تباه شو سره د دېچې مونږ کې به پرهيزګاره خلک موجود وي؟ رسول اللهﷺ وفرمايل: هو (همداسې به کيږي) کله چې خباثت زيات شي (يعنې شر، ناوړه اعمال، فحاشي وغيره په نړۍ غلبه ومومي).“ (له دې څخه په عربانو نه يوازې سياسي، اقتصادي او پوځي ظلم څرګنديږي بلکه دا چې په هر ګنده او فحش طريقه چې وي دويېبدنامهکړی شي) (صحيح بخاري)

پس جوج مأجوج به د وژلو او ظلم کولو لپاره په خاصه توګه عربان په نښه کړي. دا به د حج او ورسره د اسلامي خلافت لپاره خورا بدمرغه پايلې ولري. يو به هم د جوج مأجوجو د يرغل وروسته پايښت ونلري. او نه به دا شونې وي چې باوري حج او يا سُني اسلامي خلافت دې بيرته ورغول شي تر څو چې د جوج مأجوجو نړيوال نظام برقرار وي.

د عربانو وژنه او پرې ظلم کې به د هغو بدنامي او رسوايي هم شامله ويچې د ټول بشريت مازغه به تر دې حده وه وينځل شي چې ټول به د عربانو څخه کرکه وکړي.
(صحيح بخاري)

# آیا جوج مأجوج به د عیسیٰ‎ﷺ د راتګ او د دجال وژلو څخه وروسته راولاړ/ راولیږل شي (حدیث)

"…. پدغه حالت کې به الله تعالی عیسیٰ÷ ته دغه وحې وکړي: ما په خپلو بندګانو کېداسې بندګان پیدا کړیدي چې هیڅ څوک د هغوی سره د جنګ توان نلري؛ خپل خلک په سلامتیا هغه غره ته یوسه، فَيَبعَثُ اللّٰهُ يَأجُوجَ وَمَأجُوجَ او بیا به الله تعالی (د تاریخ هغه دورونو کې چې دې پیښو سره اړه لري) راولیږي یا راولاړ کړي جوج مأجوج (دا خو په دې مانا نه ده چې د جوج مأجوجو راخوشې کېدنه د عیسیٰ÷ د راتګ څخه وروسته پیښېدونکې ده) او دوی به په هر لور خپاره شي او یا به هر د ګټې ځای ونیسي. د دوی مخکینۍ ډله به د بحیره تبریه (د ګلیلیسمندرګی) په غاړه تیره شي، له دې څخه به اوبه وڅښي، او کله چېد دوی وروستۍ ډله دلته تیریږي (او دا حتماً ډیر وخت وروسته له اولې ډلې څخه)، نو وایي به: 'یو وخت دلته اوبه وي….'' (صحیح مسلم)

د دې حدیث څخه عموماً داسې مانا اخستل کیږي چې ګواکې جوج مأجوج د عیسیٰ÷ د راتګ او د دجال وژنې څخه مخکې نشي راخوشې کېدای. دا کتاب دا رنګ نیمګړه څېړندود ردوي ځکه چې دا صرف په یو جلا حدیث باندې ټوله توجه ده او بیا ترې داسې مانا اخستنه دهچې په خلاف یې قرآن کریم او نورو احادیثو کې موجود ټول شواهد او ثبوتونه د صفر سره ضربوي.

# دوی پریمانه اوبه مصرفوي (حدیث)

قرآن کریم خبر راکوي چې الله تعالی هر څه د اوبو څخه جوړ کړي دي (سورة الانبیاء، ۲۱:۳۰). اوبه ځکه په شمول د انسانانو د هر شي مور بللی شو. قرآن کریم بل ځای بیا وایيچې د الله تعالی عرش د اوبو د پاسه قایم دی (سورة هود، ۱۱:۷). پس په ټولو تخلیقاتو کې اوبه یو خاص او نادر مقام لري.

مذهبي ژوندلاره د اوبو په درناوي ټینګار کوي او د ضیاع یا پریمانه مصرف مخنیوی یې کوي. خو د جوج مأجوجو کومه خاکه چې د نبي کریم٥ د احادیثو څخه په لاس راځي هغه بناپیچېدوی داسې خلک دي چېپه دومره پریمانه او احمقانه کچه اوبه مصرفوي چې حتی د ارض المقدس بحیره تبریه به بالاخره د دوی د لاسه وچه شي. پس دوی د خپله لاسه ځانو ته کنده کني:

"د دوی (جوج مأجوجو) مخکینۍ ډله به د بحیره تبریه (د ګلیلیسمندرګي) په غاړه تیره شي، له دې څخه به اوبه وڅښي، او کله چېد دوی وروستۍ ډله دلته تیریږي، نو وایي به: 'یو وخت دلته اوبه وي…(له دې

څخه د اوبو دومره پرېمانه مصرف څرګندېږي چې طبیعت به زیرمې بېرته ډکولو څخه معذوره شي او د اوبو کچه به پرله پسې ښکته کېږي تر دېچې بالاخره دا بحیره وچه شي)." (صحیح مسلم)

"دوی به تر دې حده د نړۍ اوبه وڅښېچې کله دوی په یوه ویاله تیرېږي نو دوی به یې ټولې اوبه وڅښي او وچه به یې پرېږدي." (کنزالعمال، ۲۱۵۷م حدیث)

د دې سره سره دوی فساد خپروي، پس له دوی څخه دا توقع لرلی شوچې نه یواځې به دوی د اوبو زیرمې ګډې وډې او ویجاړې کړي بلکه د اوبو درناوی به هم له منځه یوسي. دا د اودس او غسل لپاره د اوبو د څرنګوالي او پاکوالي په اړه د سنت طریقې په ځای ساتلو لپاره بدمرغه پایلې لري.

## جوج مأجوج او د ګلیلي سمندرګی(حدیث)

پورتنی حدیث څرګندوي چېپه ګلیلي سمندرګیکې د اوبو د کچېتدریجي ښکته کېدنه (تر دې چې وچ شي) په دغه ځای باندې د جوج مأجوجو د پرله پسې تیریدلو ثبوت دی، تر څو یروشلم ته د پایلوبې لپاره راټول شي. عالمان چېد دې مضمون څېړنه په غاړه اخلي خو د جوج مأجوجو د خاکې انتهایي مهمې برخې یعنې د ګلیلي سمندرګي د اوبو کچې ته پام نه کوي، دوییه ربښتینه د سترې تیروتنې ارتکاب کوي.

دوی به د بشریت اکثریت له ځانه سره دوزخ ته یوسي پسدویاصلاً بیدینه او ګناهګار خلک دي (حدیث)

د صحیح بخاري څخه د ابوسعید الخدری څخه روایت شوي حدیث کې یو بل حدیث القدسي (د الله تعالی مستقیمه وینا)ځای شوېچېوایي جوج مأجوج به د بشریت د هر زرو څخه ۹۹۹ اَهلُ یَأجُوج وَ مَأجُوج (یعنې د دوی د کورنۍ په غړو) وګرځوي او پایله به یې دا وي چې دا ټول خلک به دوزخ ته لاړ شي. تریخ حقیقت دا دی چې د جوج مأجوجو عمومي ژوندلاره بیدینه، د ګناه څخه ډکه او دوزخ ته وړونکې ژوندلاره ده.

## دوی د حج ترک کولو سره تړاو لري (حدیث)

په صحیح بخاري کې خوندي یو حدیث د جوج مأجوجو او د حج پرېښودنې تر منځ د تړاو شتون په ډاګه کوي:

"د ابو سعید الخدري څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ فرمايلي: خلک به د جوج مأجوجو خروج څخه وروسته هم بیت الله ته د حج او عمرې لپاره ځي." د شعبه روایت زیاتوي: الساعة (آخره ګړۍ) به تر هغې نه قايميږي تر څو چې حج نه وي ترک شوی.

دا پیشګویي په راتلونکي وخت کې د حج ترک کولو لور ته زمونږ پام راګرځوي او خبر راکوي چې نړۍ ته د جوج مأجوجو راخوشې کېدل داسې يوه پيښه ده چې هغه به د حج ترک کيدو څخه مخکې منځته راځي. په بله وینا کله چې حج ترک شي نو هيڅ مسلمان لپاره به دا شونې نه وي چې د جوج مأجوجو خروج نور رد کړي. (دا ليکونکی اټکل کوي چې حج به هغه وخت ترک شي کله چې اسرائيل خپل ستر جنګ پیل کړي او د "نیل سیند څخه نیولې د فرات سیند پورې" د ټولې سیمې کنترول لاسته راوړلو هڅه وکړي. (تورات، خلقت ۱۵:۱۸ وګورئ: "په هغه ورځ څښتن تعالی د ابراهيم سره يو ژمنه وکړه، ويې ويل: ستا د اولاد په برخه کوم دا خاوره، د مصر سيند (نيل) څخه تر ستر سيند، د فرات سيند پورې..." ). د اسرائيل ستره جګړه نن سبا کې منځته راتلونکې ده، او حتماً د عيسیؑ د راتګ څخه مخکې پيښيدونکې ده.بناپرچې ډیر وخت ورته نه وي پاتې چې د جوج مأجوجو د خاکې دا خورا مهمه برخه په نړۍ کې رابرسيره شي او ټول هغه نيوکه کونکي غلي کړي څوک چې دا نظريه ردوي چې جوج مأجوج لاپخوا نړۍ ته راخوشې شوي دي.

# پنځم فصل

## د جوج مأجوجو هویت

جوج فرنګي-امریکایي-اسرائیلي اتحاد دی او مأجوج روسیه ده

دا بناپید دې کتاب تر ټولو مهم فصل وي. پایله یې دا چې د جوج مأجوجو د هویت مالومولو په اړه پلټنو کې چې هر څومره احتیاط ممکن وي باید ترینه کار واخلو ځکه چې د دغو پلټنو په لاره کې اساسي محدودیت او قیود وجود لري.

تر ټولو لومړی باید مونږ د دوی د استوګنې جغرافیایېموقعیت پیدا کړو چېرته چېدوی د دیوال شا ته بندیدو نه وړاندې اوسیدل. له نیکه مرغه قرآن کریم او احادیثو څرګند جغرافیایې مالومات او تشریحات راکړي چې په کومک یې مونږ هغه سیمه په ګوته کولای شو چېرته چې ذوالقرنین خپل سفرونه ترسره کړي وو او په ضمن کې په هغه سیمه کې د دیوال دقیق موقعیت هم معلومولای شو.

لومړی باید دې خبرې ته پام وکړو چې دا سیمه حتماً د ارض المقدس شمال لور ته پرته ده ځکه چې د رسول اللهﷺ احادیث چې وړاندې په دې کتاب کې یاد شوي، موږ ته خبر راکوي چې جوج مأجوج به یروشلم ته د تګ په ترځ کې د ګلیلي سمندرګي تر څنګ تیریږي. د ګلیلي سمندرګی د یروشلم شمال لور ته پروت دی. د هغو احادیثو څخه دوه په لاندې ډول دي:

"... پدغه حالت کې به الله تعالی عیسی÷ ته دغه وحې وکړي: ما په خپلو بندګانو کې داسې بندګان پیدا کړیدي چې هیڅ څوک د هغوی سره د جنګ توان نلري؛ خپل خلک په سلامتیا هغه غره ته یوسه، فَيَبعَثُ اللهُ يَأجُوجَ وَمَأجُوجَ او بیا به الله تعالی (د تاریخ هغه دورونو کې چې دې پیښو سره اړه لري) راولیږي یا راولاړ کړي جوج مأجوج (دا خو په دې مانا نه ده چې د جوج مأجوجو راخوشې کیدنه د عیسی÷ د راتګ څخه وروسته پیښیدونکې ده) او دوی به په هر لور خپاره شي او یا به هر د ګټې ځای اونیسي. د دوی مخکینۍ ډله به د بحیره تبریه (د ګلیلیسمندرګی) په غاړه تیره شي، له دې څخه به اوبه وڅښي، او کله چې د دوی وروستۍ ډله دلته تیریږي (او دا حتماً ډیر وخت وروسته له اولې ډلې څخه)، نو وایي به: 'یو وخت دلته اوبه وې....'" (صحیح مسلم)

"... جوج مأجوج به روان وي تر څو چې د الخمر غره ته ورسیږي او دا غره په بیت المقدس (یروشلم) کې دی..." (صحیح مسلم)

اوس باید د ارض المقدس (فلسطین) شمال لور ته د یو سمندرګي په لټه کې شو کوم چې د ذوالقرنین لویدیځ لور ته د سفر بیانولو په لړ کې په قرآن کریم کې یاد شوی. دا باید ډیر پراخه سمندرګی وي ځکه چې لویدیځ لور ته د هغه سفر همدلته ودرید او نور هاخوا تګ شونی نه و. د سمندرګي اوبه هم باید په غیرعادي توګه تور رنګ ولري:

﴿حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوْمًا ۗ قُلْنَا يَا ذَا الْقَرْنَيْنِ إِمَّا أَن تُعَذِّبَ وَإِمَّا أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا﴾

"(هغه روان و) تر څو چې ورسید ځای د پریوتلو د لمر ته، (دا چې نوره وچه نه وه نو داسې بریښیده چې د نړۍ پای ته رسیدلی دی) او ویې مونده دغه (لمر) چې ډوبیده په یوه خړه او ختینه بحیره کې؛ او ویې موندل نژدې هلته یو قوم؛ اوویل موږ، ای ذوالقرنینه (ته اجازه لري) چې یا خو عذاب ورکړه دوی ته، او یا ورسره وکړه ښه سلوک." (قرآن کریم، سورة الکهف، ۱۸:۸۶)

که چیرې وغواړو چېد دواړو سفرونو په اړه د قرآن کریم شرح او د مدینې د یهودي ملایانو دا بیان چې هغه د نړۍ دوه کنجونو ته سفر کړیو، په صحیح توګه توضیح کړو نو باید ومنو چې ختیځ لور ته د سفر په پای کې هغه د یو بل سمندرګي سره مخ شوی و. د یهودي ملایانو هغه پوښتنې په لاندې ډول دیچې رسول اللهﷺڅخه د پوښتلو لپاره یې مکې مکرمېته رالیږلې وې، (چې'سورة الکهف او اوسنۍ زمانه'په نوم کتاب کې د 'سورة الکهف د نزول تاریخي پس منظر' په نوم فصل کې په تفصیل سره څېړل شوي دي، له www.imranhosein.org څخه یې ښکته کولایشۍ):

"هغه (محمدﷺ) څخه وپوښتۍ‌چې هغه ځلمیو سره څه پیښه شوي وه چې په تیرو وختونو کې نادرکه شوي وو، ځکه چېدوی یوه زړه راښکونکې کیسه لري؛
هغه (محمدﷺ) څخه د هغه ستر سیلاني په اړه وپوښتۍ څوک چې د ختیځ او لویدیځ حدودو ته رسیدلی و
هغه (محمدﷺ) څخه د روح په اړه وپوښتۍ

که چیرې هغه تاسی ته ځواب درکړي نو اطاعتیېوکړۍ، ځکه چې هغه به ریښتینی پیغمبر وي. که چیرې ځواب یې وه نه ویلې نو بیا به فریبکار وي او څه موچې خوښه وي ورسره یېوکړۍ." (ابن اسحاق، سیرة الرسول اللهﷺ)

د هغه ختیځ لور ته سفر په اړه د قرآن کریم عبارت په لاندې ډول دی:

﴿حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَل لَّهُم مِّن دُونِهَا سِتْرًا﴾

"تر هغې پورې چېهغه ورسید ځای د راختلو د لمر ته (یعنېلیرې ختیځ کېداسېځای ته ورسید چې نور هاخوا نشو تللی ځکه چې نوره ځمکه نه وه او داسې بریښیده چې د ځمکې پای ته رسیدلی دی او لمر د هغه ځایه څخه راپورته کیږي)؛ هغه ولید دا (لمر) چې په یو قوم راپورته کیده چې نه و ګرځولی مونږ دوی لره د هغې (لمر، موسم، چاپیریال وغیره) څخه کوم سیوری (بې له طبعي څخه)." (۱۸:۹۰)

د کومې سیمې لټه چې مونږ کوو نه یواځې باید دوه سترو بحیرو، ختیځ او لویدیځ لور ته راګیره کړې وي بلکه دلته د دنګو غرونو سلسله هم باید غزیدلې وي چې پرې اوختل د امکان څخه بهر اوسي. مونږ باید داسې یو بل سره نښتي غرونه پیدا کړو چې د یوې بحیرې غاړې څخه د بلې بحیرې غاړې پورې په یوه لړۍ کې سره غزیدلي وي. یواځې په داسې حال کې بیا مونږ دا منلی شو چې د غرونو منځ کې د دیوال په واسطه د یو تنګې بندول به دا ګټه ولري چېد هغه شوکمارو قبایلو مخه ونیسي چې د غره یو طرف نه بل

طرف ته د یرغل لپاره حرکت کوي. یعنې دوه طرفو ته خو اوبه دي، په منځ کې دنګ نه سرکیدونکي غرونه دي او د غرونو منځ کې صرف یوه دره ده، که دره بنده شي نو د تګ راتګ لاره به هم بنده شي:

*فَمَا اسْطَاعُوا أَن يَظْهَرُوهُ وَمَا اسْتَطَاعُوا لَهُ نَقْبًا﴾

"پس (دیوال جوړ شو او د جوج مأجوجو) طاقت نه وچې وخیژي پرې او نه طاقت ود دوی دغه (غره) لره د سوري کولو (او دوی سره شابې بله کومه لار نه وه چې هاخواه پرې واوړې او صرف همدا دوه خوښنې پېدرلودې ځکه بیا ذوالقرنین د دیوال جوړیدنه د الله تعالی رحمت بولې یعنې دا چې بشریت نور د جوج مأجوج د یرغلونو څخه خوندي شو)." (سورة الكهف، ۱۸:۹۷)

ذوالقرنینچې کوم دیوال جوړاوه هغې لپاره یې د عربي ژبې رَدمٌ کلمه استعمال کړیده. په داسې حال کې چې سَدٌّ په عربي کې دیوال یا آړ ته وایې، رَدمٌ د یو داسې جوړښت مانا ورکوي چې د یو بند مخې ته جوړ شي او دغه ځای ډپ کړي. تکراري باید اوواېم چې داسې جغرافیایي موقعیت باید پیدا کړو چې د فلسطین شمال لور ته وي او ختیځ او لویدیځ لور ته یې ستري بحیرې پرتې وي او د لویدیځ لور ته پرتې بحیرې اوبه باید تور رنګ ولري. د دغه دوه بحیرو تر منځ باید د نه سر کیدونکو او نښتو غرونو یوه لړۍ غزیدلې وي او د خلکو تګ راتګ لپاره پکې صرف یوه دره یا تنګی وجود ولري. قرآن کریم د تنګي دواړو طرفونو ته د غرونو ځیرې هم انځور کړیدي چې د صدف یا سیپۍ پشان بڼه لري، یعنې لکه د صدف دواړه اړخونه چې په بیخ کې سره نښتې وي او پورته سره جلا وي همداسې دا غرونه هم د تنګي بیخ کې سره نښتي دي او څوکې یې سره جلا دي.

﴿آتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا سَاوَىٰ بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انفُخُوا ۖ حَتَّىٰ إِذَا جَعَلَهُ نَارًا قَالَ آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا﴾

"راوړۍ ما لره کوندې د اوسپنې!" تر هغې پورې چې کله یې (د اوسپنې کوندو په واسطه) ډک کړ د سیپۍ (صدف) په شکل جوړ د غرونو منځ، وویل هغه چې"(اور بل کړئ او) پو کړئ" تر هغې چې (سور) اور وګرځید، وویل هغه (ویلې کړئ اوس مس په اور کې او)"راوړئ چې تویې کړم په دېباندې ویلې شوي مِس." (سورة الكهف،۱۸:۹۶)

کله چې مونږ د فلسطین شمال لور ته د اوبو سترو بحیرو لټه کوو نو تر ټولو لومړی د منځني سمندرګي (د مدیترانې سمندرګي) او ورسره ختیځ لور ته پرتې سیمې څخه صرف نظر کوو ځکه چې دا په پورتنیو

شرایطو پوره نه خیژي. موږ سره بیا صرف یو بل ممکن ځواب پاتې کیږي، او دا سیمه پورتنۍ ټولې ځانګړتیاوې لري.

د مدیترانې شمال ته 'توره بحیره' پرته ده. ښایي دې ته د تورې بحیرې نوم هم ځکه ورکړل شوی وي چې اوبهیې په غیر عادي توګه تور رنګ لري. څرنګه چې دا بحیره د مدیترانې څخه پورته شمال لور ته پرته ده او اوبه یې هم دومره مالګینې نه دي، نو له دې کبله یې اوبو کې د اوبړي ډیروالی هم د مدیترانې په پرتله زیات دی، پایله دا چې اوبهیې تور رنګ لري. د اوبو لاندې د لید وړتیا په توره بحیره کې د مدیترانې په پرتله خورا کمه ده. د ستیلایت څخه اخستل شوي لاندیني انځور (۱- کښنـنده) کې د اوبو تور رنګ په ډاګه مالومیږي. نو دا باید خورا روښانه وي چې ذوالقرنین د خپل سفرونو په لړ کې لویدیځ لور ته چې کوم سمندرګي سره مخامخ شوی و، هغه د تورې بحیرې نه علاوه بله هیڅ کومه یوه نشیکیدای.



۱ – کښنـنده (توره بحیره)

کله چې موږ د ذوالقرنین د لویدیځ لور ته د سفر په ترڅ کې پرته بحیره وپیژنو چې بل هیڅ کومه نه ده پرته د تورې بحیرې څخه، نو بیا ختیځ لور ته پروت سمندرګی هم په اسانه په ګوته کولای شو. دا سمندرګی د کیسـپین سمندرګی (Caspian Sea) دیچې د خزار بحیرې په نوم هم بلل کیږي (دوهمه کښنـندهوګورۍ):




۲- کښننده

د دې دواړو بحیرو تر منځ د قفقاز (CaucasusMountains) د غرونو برې غزیدلې ده. دا غرلړۍ د یوې بحیرې څخه تر بلې پورې پرته ده او په دې توګه آسیا د اروپا څخه جلا کوي. (دریمه کښنندهوګورئ):




۳ - کښنده

اوس کله چې موږ دواړه بحیرې او د دواړو تر منځ غرلړۍ په ګوته کړې، باید د غرونو تر منځ یوه جلا دره او د ذوالقرنین د دیوال د نړیدو وروسته پاتې د اوسپنې آثارهم ولټوو. دا بیخي معلومه خبره ده چې د روسانو لخوا په ۱۹مه پیړۍ کې جوړه شوې، د ګورجستان عسکري لویه لار (GeorgianMilitaryHighway) یواځینۍ لاره ده چې د ققفاز غرونو شمال طرف ته پرته سیمه د سویل لور ته پرتې سیمې سره وصلوي. دا په روسیه کې د ولادیکاوکاز (Vladikavkaz) او د ګورجستان تبلیسي (Tbilisi) ښارونو تر منځ لویه لار ده چې ۲۲۰ کلومیتره اوږدوالی لري. دې لارې ته دغه نوم خپله روسي امپراتور زار الیکزاندر اول ورکړای دی او د لومړۍ ق م پیړۍ پورې یې تاریخ کې یادونه شوې او اوسه پورې ډیره مهمه لار ده ځکه چې د ققفاز د غرونو منځ کې روسیې ته تللې دا یواځینۍ لار ده.

ددغه لوښې لار په اړه انټرنیټ کې خورا ډیر مالومات شته چې د بیلګې په توګه ویل کیږي چیپوه انځوریزه لویه لار ده چې د دنګو غرونو تر منځ پیچل شوې ده، او کریستوفي تنګې (KretsovyPass) کې دغه لار۲۳۰۰ میتره پورې جګوالی لري. له تبلیسي (Tbilisi) څخه شمال لور ته تللې دغه لار په لومړي پړاو کې د انانوري (Ananauri) لرغوني بالاحصار ته لار مومي، چې د آراګوي (Aragvi) سیند او درې له پاسه جوړ شوی دی. د روسیې سرحد ته څېرمه د کازبیګي (Kazbegi) ښار پروت دی چې د کازبیګي غره په لمن کې اباد دی. د کازبیګي غر ۵۰۳۳ میتره ارتفاع لري او په ګورجستان کې د ققفاز غرونو تر ټولو دنګه څوکه ده. وروستي پړاو کې د دریال تنګی (DaryalPass) واقع دی، چیرته چې دا سرک څو کلومیتره پورې د غره په غاړه تیر شوی دی چې په سر یې د ګرانیت ډبرو څخه جوړې څوکې دي او ۱۵۰۰ میتره اوچتوالی لري. دریال تنګی تاریخي اهمیت لري ځکه چې دا یواځینی تنګی دی چې د ققفاز غرونو تر منځ وجود لري او د ۱۵۰ ق م را پدیخوا نظامې اهمیت لري او څارل کیږي. دلته د یوې لرغونې کلا کنډوالې اوس هم لیدل کیږي.


موږ اوس هغه تنګی هم په ګوته کړی دی او صرف دغلته د لرغون پیژندونکو یو هیئت لیږلو کې دی تر څو د دیوال کنډوالې یا نښې ولټوي. دکتور تمام ادي د لیکونکي سره د شخصي خطونو لیږدولو په ترڅ کښداسې لیکي: *"زه اټکل کوم که چیرې د دیوال کوم آثار پاتې وي نو هغه به د تنګې په بیخ کې پراته وي او د ژیړو څخه به جوړې وي، چې د اوسپنې او مِسو مرکب دی او د قرآن کریم د آیت څخه هم داسې مالومیږي."* موږ باید د ققفاز غرونو سویل طرف ته پرتې سیمې شا او خوا د اوسپنې د معدن شواهد هم وپلټو ځکه چې خلکو حتماً همدلته د اوسپنې لټه کړیوه تر څو ذوالقرنین لپاره د اوسپنې کوندې تیارې کړي.

ویکي پیډیا (Wikipedia) کې د دریال تنګې په اړه مقاله کې، چې د بریټانیکا انسایکلوپیډیا (EncyclopediaBrittanica)څخه یې هم اخستنه کړې، لیکل شوي چېد دریال تنګې د نوم سرچینه ښایي د فارسي ژبې کلمه 'در الن'یعنې د آلان دروازه وي. دا تنګی په نورو نومونو هم یادیږي د مثال په توګه آیبیرین ور (IberianGates) یا د ققفاز ور (CaucasianGates) او د ګورجستان د تاریخ په پاڼو کې بیا په نورو نومونو هم یاد شوی لکه رالاني، درګاني، دریالاني. په بله وینا خپله دغه نوم یعنې دریال دغه تاریخي

حقیقت څه نا څه په ځان کې ساتلی چې ګواکې په دغه تنګې کې کوم ډول د اوسپنې دیوال یا آړ یو وخت وجود درلوده.

او په پای کې، کټ مټ لکه څنګه چې په قرآن کریم کې ورته د صدفین کلمه استعمال شویده همدغه شان د دریال تنګي دواړه طرفه د غرونو دیوالونه د یوې خلاصې سیپۍ یا صدف دوه اړخونو پشان طبعي جوړښت لري. لاندې په کال ۱۸۷۲ء کې اخستل شوي د دریال تنګې یو څو انځورونه وګورئ:





لاندې د یو صدف انځور وګورۍ‌چې صدفین یعنې دواړه اړخونه یې په ډاګه مالومیږي چې په بیخ کې سره نښتي او پورته غاښونه یې سره جلا دي. ورلاندې بیا د دریال تنګي دوه اوس اوس اخستل شوي دوه انځورونه وګورۍ‌چې د غړونو د صدفین په شکل جوړښت یې پکې په ډاګه څرګندیږي:







اوس باید د ققفاز غرونو سویل لور ته د یوې داسې ژبې په لټه کې شو چې د سیمې شا او خوا ته پرتو نورو ټولو ژبو سره توپیر ولري. دا لټه باید څکه وکړو چې کله ذوالقرنین دغې سیمې ته ورسید نو د سیمې خلک یې د ژبې سره ناآشنا وو.

﴿حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ وَجَدَ مِن دُونِهِمَا قَوْمًا لَّا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ قَوْلًا﴾

"(هغه روان و) تر څو چې ورسید هغه د دوه غرونو تر منځ (درې) ته، وېې موندل وړاندې د دغو (غرونو) داسې قوم چې بعید ودوی له پوهیدو په کومه خبره باندې(یا د ذوالقرنین په خبره)." (۱۸:۹۳)

په دې کې هیڅ شک نشته چې د ګورجستان ژبه همداسې یوه ژبه ده چې د ققفاز غرونو سویل لور ته ویل کیږي. دا یوه جلا او د لرغونې هندو-اروپایې (pre-Indo-European) ژبو څخه یوه ژبه ده او هیڅ کومه بله اړونده یا خپښه ژبه نلري چې د تیرو پنځه زرو کلو راپدیخوا ژوندۍ پاتې وي.

اوس باید د داسې خلکو په لټه کې شو چې د ققفاز غرونو ته نژدې کومې سیمې څخه وتلي وي او بیا له پسې یې کډه کړې وي او په فلسطین کې دیره شوي وي. مونږ باید د هغو خلکو په لټه کې هم شو چې فلسطین د (مسلمانانو د تسلط څخه) د ازادیدو سبب ګرځیدلي وي او بیا یې په ختمه بني اسرائیل بیرته راوستي وي تر څو فلسطین یو ځل بیا خپل کړي، له کوم ځایه چېدوی د الهي فرمان له مخې ویستل شوي وو.

د ققفاز سیمې پورې تړاو لرونکي کوم خلک چې مونږ پیدا کول غواړو باید د نه ماتیدونکي نظامي ځواک درلودلو تاریخ هم ولري ("ما داسې بندګان خپل پیدا کړي چې بې له ما څخه د هیچا زور هم پرې نه رسیږي"، صحیح بخاری). دوی باید خپل ځواک خپور کړی وي او په نړۍ یې خپله برلاسي قایمه کړې وي، په داسې حال کې چې په هر منصب او یا هر د کټې ځاید دوی د اشغال لاندې وي (مِن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُون). دوی باید داسې خلک وي چېکه څه هم د انسانو له جملې څخه دي خو بیا هم داسې ځانګړتیاوې لري چې د نورو انسانانو سره په خوې او خاصیت کې توپیر لري.

آیا داسې خلک شته او مونږ یې په ګوته کولای شو؟ که مو وکړای شو، نو بیا به د جوج مأجوج په ګوته کولو او پیژندلو کې بریالي شوي یو.

د هغه اروپایي یهودیانو څخه چې د صیهونیزم د غورځنګ بنسټیې ایښی و، د ځینو سرچینه حتماً د شرقي اروپا هغه قبیلې دي چې پخوا یهودیت ته اوښتي وې. خزار په نوم قبایل چې د ققفاز غرونو شمال لور ته

سیمه کې اوسیدل نه یواځې په ۷مه عیسوي پیړۍ کې یهودیت ته واوښتل بلکه د اسلام په پیل کې یې دا تاریخي کارنامه هم وکړه چې د مسلمانانو د لښکرو مخه یې ونیوله کله چېدوی د اروپا فتح کولو په تکل کې شو. پس دوی د یو داسې ځواک خاوندان وو چې په دغه وخت کې یې بل سیال ځواک په نړۍ کې نه و. د کومو مسلمانو لښکرو مخه چېدوی ونیوله هغوی په نژدې تیرو وختونو کې د فارس او بازنطین امپراتورۍ ماتې کړې وې (چې دغه وخت د نړۍ دوه تر ټولو ستر طاقتونه وو). د خزار قبایلو پوځي ځواک مالومیږي چې یو خاص قوت درلوده. (د نور تفصیل لپاره د کیون الن علمي کتاب، د خزاریه یهودیان، ولولۍ KevinAlan; JewsofKhazaria او یا د www.khazaria.com ویبپاڼه وګورۍ).

مونږ لپاره دا اړینه نه ده چېد هغه یهودیانو ژنتیکي پلټنه پیل کړو کوم چې د ققفاز د سیمې څخه راوتلي چې په دوی کې روسي یهودیان هم شامل دي، او په بیت المقدس او اسرائیل کې میشته شوي، تر څو دغې پوښتنې ته ځواب پیدا کړو چې آیا د دوی سرچینه خزار قوم ده او که نه؟ مهمه داده چې مونږ داسې خلک په ګوته کړو کوم چې فلسطین ته د هماغه ځای څخه رانقل شوي کوم ځایچې ذوالقرنین دیوال جوړ کړیو. دا همدا اروپایي یهودیان یا په بل نوم ققفازي یهودیان دي چې په خته بني اسرائیلیې تیر ویستل تر څو هر چیرته چې اباد وو هغه ځایونه (په تیره اسلامي هیوادونه) یې پریښودل او بیرته ارض المقدس ته ستانه شول.

نو مونږ دې نتیجې ته رسیږو چې جوج مأجوج اصل کې د شرقي اروپا د خزار قوم څخه دي او د دوی سرچینه د خزار امپراتورې ده چې د ققفاز غرونو هاخوا شمال لور ته پرته وه. څرنګه چې د خزار اکثره خلک په اروپایي یهودیانو بدل شو، دې کې هم شک نشته چېځینې پکې اروپایي عیسویان هم ګرځیدلي وو او په دې توګه د مرموزه اروپایي یهودي-عیسوي اتحاد جوړیدنه شونې شوه ځکه چې اوس دواړو طرف ته خزار قوم ولاړ و او دې نه پخوا دا اتحاد شونی نه و ځکه چې د عیسویانو او یهودیانو تر منځ تل د دښمنۍ درز موجود و. امکان لري همدا د قرآن کریم د هغه آیت مانا وي کوم چې مونږ ته خبر راکوي چې جوج مأجوج به یوه ورځ په یو بل کې داسې ورننوځي لکه څنګه چې موجونه په یو بل کې ادغام کوي (وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ).

خو د دې آیت مانا کیدای شي دا هم وي چې یوه ورځ به دوی د یو بل سره داسې ستره نښته کې ښکیل شیاو داسې به سره ټکر وکړي لکه څنګه چې موجونه خپلو کې سره ټکر کوي. د غښتلو دغه جنګ به د جنګونو د مور حیثیت ولري، او په خپل وار به لاره هواره کړي او جار به اووهې د شپیلۍ د غږیدو چې د آخرې ګړۍ د رارسیدو اعلان به وي. د رسول الله ﷺ یو حدیث چې وړاندې (۴م فصل کې) ذکر شوی، خبر راکوي چې جوج مأجوج به خپل غشي د آسمان په لور خوشې کړي.

# جوج فرنګي-امريکي-اسرائيلي ټلواله ده او مأجوج روسيه ده

زمونږ په اند د غشو څخه مطلب دا دی چې جوج مأجوج د 'ستورو د جنګ' وړ پوځي تخنيک لري. دواړه روسيه او فرنګي-امريکي-اسرائيلي اتحاد د دې وړتيا لري چې د ستورو جنګ ونښلوي. پرله پسې‌داسې شواهد رابرسيره کيږي چې دا په ډاګه کوي چې د اوسمهاله روسيې اصلي سرچينه د خزار قوم دی. جوج، په بل طرف بايد د لويديځې اروپا عيسويانو کې ولټوو کومو چې په ډيره مرموزه توګه د خزار يهوديانو سره پخلاينه وکړه او د غربي اتحاد بنسټ يې کيښود چې‌برتانيه او امريکه ورباندې نفوذ لري.

که چيرې زمونږ تشخيص سم وي نو د جوج او مأجوج تر منځ راروان ستر جنګ به په اصل کې د روسيې او غربي فرنګي-امريکي-اسرائيلي اتحاد تر منځ وي. د جوج مأجوجو تر منځ دغه ستره اتومې جګړه به د (۴۰ورځو؟؟) لوګي سبب وګرځي (قرآن کريم، سورة الدخان، ۴۴:۱۱۱۰ وګورئ) او د نړۍ نفوس به تر ډيره حده پورې راکم کړي او د ځمکې سترې برخې به شنډې او دشتې وګرځوي. دا بيخي د امکان څخه خارج خبره نده. د سورة الکهف ۸م آيت همداسې يوه ګواښنه وړاندې کړې کله چې‌وايي "...بيشکه په خپل وخت به مونږ د دې (ځمکې) په سر هر څه چې دي، هغه به په تش ډاګ او خاورو بدل کړو." لاندينی حديث ته هم پام وکړئ:

"داسې يوه جګړه به منځته راشي چې مثال به يې پخوا هيڅ کله نه وي ليدل شوی، حتی تر دې چې که چيرې يوه مرغۍ د دوی د پوځونو له پاسه تيريږي نو د دوی د پوځونو پای ته د رسيدو نه مخکې به مړه راوغورځيږي." (احمد، صحيح مسلم)

په ظاهره کومې تروروستې کړنې ته د عکس العمل ښودلو په بانه خو په اصل کې د اتومې کوټونو ورانولو لپاره په پاکستان يا ايران اتومي بريد په نژدې وخت کې شونی دی، او دارنګ يو بريدبه روسيه په دې قايله کړي چې په پای کې د هغې وار هم راروان دی او همدارنګ چلند به ورسره کيږي که چيرې هغه د غرب (ناټو) محاصرې او تحديد ته کلک غبرګون څرګند نکړي. دا به د راروان ستر جنګ لپاره يوه ښه زمينه برابره کړي. د ناټو د کنټرول لاندې قسطنطنيې (استنبول) د فتحې په اړه د رسول اللهﷺ د پيشګويۍ رښتيا کيدنه د پورتنيو څرګندونو سره د تړاو په قرينه کې مونږ لپاره ښه روښانيږي.

رسول اللهﷺ فرمايلي: "لَتَفْتَحَنَّ الْقُسطَنطِنِيَّه وَ لَنِعمَ الاَمِيرُ اَمِيرُهُ وَ لَنِعمَ الجَيشُ ذَالِکَ الجَيش. ""بيشکه فتح به کړئ‌تاسی (مسلمانان) قسطنطنيه. څومره اعلی مشر به يې‌سرلښکر وي او څومره اعلی لښکر به وي دا لښکر." (احمد، صحيح بخاري)

د غرب سره په هره کومه سیالۍ کې چې وي د روسیې تر ټولو لومړی ستراتیژیکې هدف حتماً د قسطنطنیې نیول دي چې په نتیجه کې د روسې بحري پوځ لپاره مدیټرانې بحر ته راتګ لپاره لاره خوشې کیږي او په همدې ډول داسرائیل لور ته. د قسطنطنیې دا فتح تر ډېره حده د روم (روسیه) او مسلمانانو تر منځ د تړون له لارې شونې کیدای شي. او داسې یو تړون په اړه د رسول اللهﷺ یوه پیشګویي هم وجود لري.

لکه څرنګه چې قرآن کریم کې د یأجوج کلمه معلومه صیغه ده او د مأجوج کلمه مجهوله صیغه، نو کیدای شي چې له دې څخه دا څرګندیږي چې په دغه ستره شخړه کې به جوج بالاخره په مأجوجو غالبه شي، یعنې غربې فرنګ-امریکې-اسرائیلي اتحاد به په روسیه زورور شي. خو زیاته شونې دا ده چې جوج او مأجوج دواړه به په خپلو کې سره یو بل تباه کړي.

د جوج او مأجوجو تر منځ د سترې جګړې تر ټولو زیاته اغیزه به په اسرائیل او ارض المقدس باندې غورځیږي. اسرائیل به د جنګ نه وروسته بیخي لوڅ پوځ او بې دفاع پاتې شي ځکه چې د جوجو په مأجوجو له برې وروسته به بریالی پوځ بیا هم بې کیفیته پاتې شي. اټکل کولای شو چې د اوسمهاله نړۍ فوق العاده او په بریښنا روان پوځي تخنیک به د اتومي جنګ له کبله شنډ شي (کیدای شي د جوهري وړانګو له کبله). کیدای شي په همدغه وخت کې به د رسول اللهﷺپیشګویي پوره شي چېرته چې مسلمانان به فلسطین د یهودیانو د ظلم او استبداد څخه آزاد کړي:

د ابوهریرهؓ څخه روایت دی چې نبي کریمﷺفرمایلي: "تور بیرغونه به راڅرګند شي د خراسان څخه (چېرېکې افغانستان، پښتونخواه، ایران او د منځنۍ آسیا ځینې برخې شاملې دي) او هیڅ کوم ځواک به د دوی مخه نیولی نشي تر هغې چې (بیرغونه) په ایلیا (یروشلم) کې خښ شي." (سنن ترمذي)

د ابوهریرهؓ څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ فرمایلي:" آخره کړۍ به تر هغې نه راځې تر څو چې مسلمانان د یهودیانو سره جنګ ونکړي او مسلمانان یې قتل نکړي، تر دې حده چې یهودیان به د ګټو او ونو شا ته پټیږي او ګټې او ونې به وواېي، 'ای مسلمانه، ای د الله بنده. یو یهودي زما شا ته (پټ) دی، پس راشه او قتل یې کړه'...." (صحیح مسلم)

## ونستن چرچل جوج مأجوج پیژني

ونستن چرچل په خپل وخت کې د روسيې او فرنګي-امريکې اتحاد (اسرائيل هغه وخت لا نه و جوړ) تر منځ د سړې جګړې د راتګ اټکل کړيوچې په نړيوالو سياسي چارو به څو لسيزې اغېزه ولري. هغه دا اټکل د ۱۹۴۶ د مارچ په ۵مه نېټه د امريکه د ميسورۍ ښار د فولټن ويست منسټر پوهنتون کې وکړ کله پېچې خپل د 'سولې قدرتونه' په نوم وينا وړاندې کړه، چې د 'اوسپنيزې پردې وينا' په نوم مشهوره ده. په دغه وينا کې هغه وويل: بالتيک بحر (BalticSea) کې د ستيټن (Stettin) څخه نيولې په ادرياتيک بحر (AdriaticSea)کې د ترى ايست (Trieste) پورې په ټول براعظم يوه اوسپنيزه پرده راښکته شويده. دې ته پام وکړئ‌چې د اوسپنيزه پردې اصطلاح د ذوالقرنين د اوسپنې ديوال سره ډېر عجيب او ويرونکى ورته والى لري.

د ۱۹۵۱ کال د نومبر په ۹مه نېټه چرچل د لندن د ښاروال لخوا په ګويلډهال (Guildhall) کې د يوې رسمي ميلمستيا په موقع يوه بله وينا کړې وه. دغه ميلمستيا د جوج او مأجوج د مجسمو د ترميم څخه وروسته د لندن ښار د ګويلډهال په لويديځه برخه کې په خپلو اصلي ځايونو بېرته نصبولو په وياړ جوړه شوې وه. دغه مجسمې د دوهم نړيوال جنګ په وخت د خرابيدو له ويرې ليرې شوې وې. پخوانۍ مجسمې پخوا په ۱۶۶۶م کال کې د لندن په ستر اور کې سوځيدلې وې. اوسنۍ مجسمې رچرډ ساندرس (RichardSaunders)په ۱۷۰۸ کال کې تراشلې وې. چرچل په ګوته کړه چې دا دوه مجسمې د نړۍ دوه ستر طاقتونه دي چې دغه وخت په ټوله نړۍ غالبه وو، يعنې فرنګي-امريکې اتحاد يو لور ته او روسيه بل لور ته، هغه وايي:

"داسې برېښي چې دا دوه (يعنې جوج او مأجوج) د نړيوال سياست اوسمهاله حالت په ډېره ښه توګه روښانوي. نړيوال سياست، لکه د جوج مأجوجو د تاريخ پېشان، ډېر شکمن او لانجمن دی. خو بيا هم، زما په فکر دواړو لپاره پکې ځای شته. يو لور ته جوج دی او بل لور ته مأجوج. خو پام وکړئ، ښاغلی ښاروال صاحب، کله چې‌تاسيدوی بيرته نصبوئ، نو بايد سره جلا وي او د يو بل سره ټکر ونکړي؛ ځکه چې که داسې وشي، دواړه جوج او مأجوج به ريزه ريزه شي او مونږ ټول بايد بيا له سره پيل وکړو او د ژورې له بيخه يو ځل بيا پورته شروع وکړو." (اخځ: ټايمز، لندن، ۱۰م نومبر ۱۹۵۱).

# آیا جوج مأجوج نړۍ ته راخوشې شوي دي؟

هغه خلک چې ټينګار کوي چې جوج مأجوج لا نړۍ ته نه دي راخوشې شوي، د داسې دعوې له کبله راپيداکيدونکو پايلو څخه ځانونه نشي ساتلای، په بله وينا د هغې دعوې پايلو څخه چې ګواکې الله عزوجل لا تر اوسه د ذوالقرنين ديوال نه دی نړولی او يا هوار کړی. دا کتاب ټينګار کوي چې د دغه شکمنو خلکو په اوږو د پخوا راهيسې دا مذهبي فريضه بار ده چېدوی بايد د ديوال لټه وکړي، ځکه چې ددوي په اند ديوال تر اوسه روغ رمټ ولاړ دی.

ځيني خلک کيدای شي هغه ټول دلايل په ډير ځيل او زغرده رد کړيچې تر دې دمه په دې کتاب او'بيت المقدس په قرآن کې'په نوم کتاب کې وړاندې شوي دي، دا دلايل د دغې مفکورې په تاييد وړاندې شوي چېد جوج مأجوجو راخوشې کيدنه د رسول اللهﷺ د ژوند په وخت پيل شوې وه او تر اوسه دوام لري. داسې خلک خوښه لري چې د پورتنۍ مفکورې په تاييد کې وړاندې شوي، د دې کتاب ټولو هغه دلايلو څخه سترګې پټې کړي چې بنسټ يې قرآن کريم او احاديث دی. د دوی خوښه ده چې دا کار د قرآن کريم او د احاديثو په غلط تعبير او غلطې مانا اخستنې له لارې تر سره کوي او که د کوم بل عذر له لارې.

راځئ‌چې دا فصل همدغو شکمنو خلکو ته غبرګون ښکاره کولو سره پيل کړو. دا کار به هغه مسلّم او نه رديدونکې حقيقت ته پام اړونې سره وکړو چې قرآن کريم کې پوره څرګند دی او چېوابيي ذوالقرنين د اوسپنې ګوندو څخه يو ديوال جوړ کړيو او بيا يې پرې ويلې شوې مِس توې کړي وو. د ديوال د جوړښت په پايله کې جوج مأجوج بند شول ځکه چېدوی نه خو ديوال سوری کولای شو او نه پرې اوختلی شو. په قرآن کريم کې په ډاګه شوی دا هم يو واقعي حقيقت دی چې الله تعالی به خپله يوه ورځ دغه ديوال ونړوي او جوج مأجوج به له هغې وروسته نړۍ ته راخوشې شي.

هغه خلک چې ټينګار کوي چې جوج مأجوج لا نړۍ ته نه دي راخوشې شوي، د داسې دعوې له کبله راپيداکيدونکې پايلې څخه ځانونه نشي ساتلی، په بله وينا د هغې دعوې پايلې څخه چې ګواکې الله عزوجل لا تر اوسه د ذوالقرنين ديوال نه دی نړولی او يا هوارکړی.

## د ديوال لټه

دا کتاب ټینګار کوي چې د دغو شکمنو خلکو په اوږو د پخوا راهیسې دا مذهبي فریضه بار ده چېدوی باید د دیوال لټه وکړي، ځکه چېد دوی په اند دا لا تر اوسه روغ رمټ ولاړ دی. که چیرې دوی دغې لټه کې هیڅ کوم قسم هڅه نه کوي، نو بیا باید کوم وضاحت وړاندې کړي تر څو د قرآن کریم لور ته د دوی د غفلت علت څرګند شي. دوی باید دا هم واضحه کړي چې ولې په تیرو نژدې یو نیم زر کلونو کې دا دیوال هیچا هم مالوم نه کړ چې کوم ځای ولاړ دی. په تیره دا خبر هم باید راکړي چې آیا دوی راتلونکې کې کومه اراده لریچې دغې لټې پسې ووځي؟ آخر دا خو داسې زمانه ده چې د ځمکې د اکتشاف کار ډیر په کمسارې اندازه پر مخ تللی او د سپوږمکۍ (ستیلایت) تخنیک دا شونې کړې چې د ځمکې د هر مربع انچ انځورکښل کیدای شي (ګوګل ارت Google Earth ته پام وکړئ).

د ذوالقرنین د اوسپنیز دیوال لټه د دوی لپاره باید د یو بل حدیث له کبله هم خورا ډیر اهمیت ولري چې د ابن کثیر *البدایه و النهایه* (پیل او پای) په نوم کتاب کې ذکر شوی کوم کې چې د ابوهریرهت روایت څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ فرمایلي:

"جوج مأجوج هره ورځ کوښښ کوي چې د دیوال څخه بهر ووځي. کله چېدوی ته د لمر پلوشې ښکاره شي نو په دوی کې یو کس ووایي: بیرته ستانه شئ، نور کنستل بیا سبا وکړئ، او کله چېدوی سبا بیرته راشي، نو دیوال د تیرې ورځې په پرتله نور هم غښتلی شوی وي. دا به تر هغې روان وي تر څو چې الله تعالی د دوی د خوشې کیدو امر وکړي. دوی به وکني تر څو چې د لمر پلوشې ښکاره شي، نو د دوی مشر به ووایي، بیرته ستانه شئ، نور کنستل بیا سبا وکړئ، انشاءالله. دا ځل به هغه د انشاءالله کلمه اضافه کړي، او په دې توګه به دا کار د الله تعالی رضا ته وسپاري. راروانه ورځ به دوی بیرته راشي، او سوری به د پرون ورځې پشان پاتې وي. دوی به دیوال وکني تر څو چې په خلکو راخوشې شي..."
(الترمذي، ابن ماجه، احمد)

په دې حدیث کې د پام وړ پایلې دي هغو خلکو لپاره چې د ډیرې سرتمبه ګۍ له کبله اوس هم په دې باور دي چې د ذوالقرنین دیوال لا ولاړ دی (ځکه چې د دوی په اند جوج مأجوج لا تر اوسه نړۍ ته نه دي راخوشې شوي). د مثال په توګه، د حدیث څخه مالومیږي چې دا دیوال باید د پخوا په پرتله نور هم غښتلی وي نو دا باید کومه مشکله خبره نه وي چې دغه وپیژندل شي او ځاییې مالوم شي. دوهمه دا چې، کله چېدوی دغه دیوال پیدا کړي نو دوی ضرورت نلري چې بیا د جوج مأجوج نوره لټه وکړي. حدیث خبر راکوي چې جوج مأجوج هره ورځ دیوال ته خپله راځي تر څو د دیوال سوري کولو کار ته ادامه ورکړي. آیا د جوج مأجوجو د دیوال کنستلو په حالت کې د لیدلو موقعد دوی لپاره بس نه ده چېدوی خپلې کندې تیارې کړي او د دیوال لټه پسې وه اوځي؟

که چیرې دا شکمن او نه منونکي خلک خپلې ګنډې نه تړي او د ذوالقرنین د دیوال لټې پسې نه اوځي کوم چېد دوی په اند لا تر اوسه د الله په ځمکه کوم ځای کې روغ رمټ ولاړ دی، او ورسره که چیرې دا خلک هیڅ کوم داسې وضاحت هم نه وړاندې کوي چې ولې په تیرو څه د پاسه زرو کلونو کې دغه دیوال هیڅچا هم ندی لیدلی او بیا هم دوی په کلکه ددغې خبرې تردید کوي چې دغه دیوال لا پخوا نړیدلی او یا هوار کړی شوی دی او جوج مأجوج وخته نړۍ ته راخوشې شوي دي، نو داسې حال کې لوستونکو ته وړاندیز دی چې د دغه ګوته نیونکو یا ناقدینو اعتراضونه بې بنیاده او هرزه وګڼي او هیڅ پام ورته ونکړي. هغه لوستونکي چې دې وړاندیز څخه صرف نظر کوي او تینګار کوي چې دغه مفکوره کې وزن شته چېواېي دیوال لا ولاړ دی او جوج مأجوج نه دي راخوشې شوي، نو دوی هم باید بیا وضاحت وړاندې کړي چې ولې دوی د دیوال لټې پسې نه اوځي.

## اوسمهاله مرموزه نړۍ

اوس راځو چې اوسمهاله نړۍ ته یوه کتنه وکړو،دې ټینګار سره چې دا باید واضحه شي. که چیرې زمونږ ناقدین خپله د اوسمهال مرموزه زمانې حقیقت تشریح کولای نشي، نو دوی بیا دې کتاب کې وړاندې شوې زمونږ تشریح چې ورکې جوج مأجوج شتون لري، هم نشي ردولی او یا ورته دروغ نشي ویلای.

په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره یو قوم د ټولې نړۍ واکې په لاس کې واخستې او په پانګو، سیاست، نړیوالو چارو، اقتصاد، بازار، کلتور، خوراک، خبرونو، لوبو، اړیکو، ساعت تیریو، دودونو او یون وغیره باندې یې پوره تسلط ټینګ کړ. دوی په هر څه بشپړ ځواک لري چې ورځ تر بلې لا پسې زیاتیږي او هیڅ سیال نلرې چېد دوی ځواک ته کوم ګواښ ښکاره کړي. بله دا چې بې له مذهب څخه بل هیڅ داسې شواهد نه لیدل کیږي چې ګواکې په ټوله نړۍ د دوی تسلط به کوم وخت د خطر سره مخامخ شي.

په نړۍ باندې تسلط قایمولو نه پرته دوی نور هم ډیر څه ترسره کوي. دوی د نړۍ په بله مخه اړولو (بدلولو) کې بوخت دي، او هغه په دې طریقه چېدوی هغه ټول حدود چې د تاریخ په اوږدو کې ځای په ځای وو او د بشري ټولنو ښکلې څرنګوالی چې خلک یې د یو بل څخه جلا کول، له منځه یوسي. دوی وخته ټول بشریت نړیوال کړی دی او په داسې ډول چې په تاریخ کې اول ځل لپاره یوه واحده او ملحده نړیواله ټولنه اوس رابرسیره شوې ده. دوی د اوسمهاله غربي بیدینه تمدن او اروپایي نړیوال نظام بنسټ کیښود تر څو د دې په واسطه خپلو هدفونو ته ځان ورسوي. د خپل علمي، تخنیکي، صنعتي، جنسي (چې جنسي فلمونه یې یوه برخه ده)، معلوماتي او بنځینه اوښتون (انقلاب) چې لا بشپړ نه دي، له لارې دوی په ټولنه دومره اغیزه کړي چې د تیروخت ارزښتونه پیبیخیله منځه وړي دي. دوی یو نوی شی، دود یا فیشن داسې برسیره کړیچې په خوشالۍ سره یې ټول خپل کړي او واییچې همدا تر ټولو ښه دی. په دې توګه

دوی توانیدلي دي چې ټول بشریت په دې قانع کړي چېګواکې د دوی ژوندلاره د غوره پرمختګ استاذیتوب کوي.

دغه خلکو تل ځانونه بدل او رابرسیره کړي او نوې بڼه یې ځانو ته ورکړې او په دې توګه یې ټوله نړیواله بیدینه ټولنه له ځانه سره بدله کړي حتی تر دې چې دغه ټولنه د دوی د ژونددود کاپي (نقل) وګرځیده. خو دغه ژوندلاره خسا او د بشریت د خوشالۍ او د ټولنیز ثبات بربادي ده. دوی د مثال په توګه ښځې دومره بې لارې کړې چې جامو سره یې دښمني پیدا شوه او اوس دوی جامې اغوندي خو بیا هم بربنډې وي. سړي بیا په خپل وار دې بربنډتوب دومره راوپارولچې یو جنسي اوښتون منځته راغی کوم کې چې جنسي اړیکې لکه د اوبو پشان په اسانه هر ځای کې ترلاسه کیږي. نکاح بې ارزښته کیدونکې ده او اکثره کوچنیان اوس د نکاح نه پرته پیدا کیږي، او خلک پر له پسې داسې ژوندلاره خپلوي چې د جنسي اړیکو ډیروالی دی پکې او زنا یوه عادي خبره ده. د بربنډو فلمونو څخه کار واخستل شو چې شهوت او نفساني غوښتنې راوپاروي او جنسي ګډوډې منځته راولیتر هغې چې جنسي ځورونه او تیری بالاخره عادي خبره وګرځیده. په پایله کې د نه خړوبیدونکي شهوت په عادې جنسي اړیکو باندې تنده ماته نشوه، او اوس د برملا جماع نوبت دی او خلک به ډیر ژر د خرو پشان په ډاګه جماع کوي. بله دا چې عادي د نر او ښځې تر منځ جنسي اړیکې نور شهواني تنده نشي ماتولی نو همجنسپرستي او د ښځو تر منځ همجنسپرستي په تیزۍ سره د هغې ځای نیولو کې بوخته ده.

دوی د منهاتن پشان دنګې ودانۍ جوړې کړې او د لوڅ پوڅ پښې ابله خلکو څخه جوړه باقي نړۍ یې هم په دې وهڅوله چې همدا شان ودانیو په جوړولو کې بیا د یو بل سره سیالې پیل کړي.

د دوی بریالیتوب دومره ننداریز او ځلانده وچې اسلام، عیسویت، بودیزم، هندویزم، یهودیت او نورو عقیدو ته له پامه پرته، ټول بشریت دغه خسا، ملحده او بیدینه ژوندلاره خپله کړه او د هغې پیښې یې شروع کړې، او دا سره د دېچېرسول اللهﷺمسلمانانو ته سنګین خبرداری ورکړایچې"تاسی به دوی پسې ځئ‌تر دې که د ځرمښکې په سوړې هم ورننوځي."

## یهودي-عیسوي ټلواله

اروپايي عیسویانو او اروپايي یهودیانو خپل منځې تاوتریخوالی او کینه یو خواه ته کیښوده او یو بل سره پخلا کیدو وروستهیې یو ډیر عجیب ټرون وپنځاوه. دوی اوس یو مرموزه ملګرتیا او ټلواله کې د یو بل څخه لاسونه چاپیره کړې. دوی د نړۍ واکمنان ګرځیدلي دي او د دوی رابرسیره کیدنه د نړۍ په تاریخ کې یوه نادره پدیده ده. خو دوی یو بدمرغه او نژادپرست نړیوال نظام نه علاوه بل څه نه دي، چې د ټولو هغه غیر اروپايي خلکو لپاره په عمومي توګه او د عربانو او مسلمانانو لپاره په خاصه توګه د بدمرغۍ زیرۍ دی کوم

چېد دوی نژادپرسته مسخرو، نړیوالتوب، ظلم او بې انصافۍ په ضد د غبرګون ښودلو جرات کوي. د دوی نړیوال نظام ډېر په بې رحمۍ د ظلم او تیري څخه ډک جنګونه شروع کړل تر هغې چې د نړۍ ټولې غیر اروپايي سیمې یې لاندې کړې. نړۍ په شمالي امریکه، سویلي افریقه او استرالیا او داسې نورو ځایونو کې داسې نژادي قتل عام ننداره کړ چې بې له داسې خلکو بل هیچا هم نشو تر سره کولای د چا په سینو کې چې د ځاروېو زړونه وو او د عیسویت او یهودیت د ذرې قدر عقیده هم پکې نه وه، اګر که په ظاهره دوی ځانونه عیسویان او یهودیان بلل.

اروپايي یهودي-عیسوي ټلوالې په نړۍ د استعمار په وخت ټولو هغه شتمنیو باندېچې د نورو خلکو ملکیت و د غلا، استثمار او چور له لارې منګولې خښې کړې. خو دغې ټلوالې یوه بل هدف ته هم ځان رساوه چې هغه د چورچپاول او د سیمو لاندې کولو څخه هغوی ته غوره و. اصلي هدف دا وچې دغو هیوادونو کې داسې سیاسي، اقتصادي، کلتوري او تعلیمي تاسیسات ځای په ځای کړي چې د استعمار د ختمیدو وروسته هم دغه سیمې د یهودي-عیسوي اروپایانو لخوا وخت په وخت د بدلون لاندې راوستلای شي او د دوید اغیزې او کنترول لاندې پاتې شي. د بدلون مقصد دا وچې ټولنه د بیدینۍ لور ته راکش کړی شي او ټول هغه تاسیسات ونړول شي چې د مذهبي ژوندلارې او په خاصه توګه د اسلامي ژوندلارې د بنسټونو حیثیت یېدرلوده.

د دوی د سیکولرزم غورځنګ تر دې حده د منځنیو پیړیو اروپايي عیسویت بڼه بدله کړې وه چې بالاخره دا هم بیدینه وګرځید او یو خسا او بیدینه عصري تمدن ترینه جوړ شو. خو دوی خپل بدمرغه مقصدونه په داسې ځیل او چل ول سره پر مخ وړل چې هر څه چېدوی تر سره کول د هغې ظاهرې او باطنې بڼه تل د یو بل ضد ښکاره کیدل او همدا شان نن سبا هم کیږي. پس په دې توګه دوی اکثره بشریت تیر یوست تر څو د دوی ملحدیت او خساتوب په سر سترګو قبول کړي.

دوی خپل غښتلی قوت د فساد، ظلم، بې انصافۍ او خبیثه کارونو مخته وړلو لپاره په کار واچوه چې مثال یې په تاریخ کې نه لیدل کیږي. د دوی خباثت او ظلم پرله پسې زور اخلي اګر که دوی د تبلیغاتې تکتیکونو له مخې د بخښنې غوښتلو څخه ډډه نه کوي لکه د اروپایانو اوسنۍ بخښنې چېدوییې د خلکو د غلامولو له کبله غواړي. حتی هغه عیسویان او یهودیان چې د ظلم او بې انصافۍ په خلاف یې غبږ اوچت کړ او یا د مذهبي او د تقوی ژوندلاره یې خپله کړه، هغوی هم پرېښښودل شو. د امریکې پخوانی ولسمشر جمي کارتر (Jimmy Carter) خلک د هغه د نظریاتو له کبله د"زوړ احمق"په نوم بولي. د غربي یهودیانو-عیسویانو لخوا جنګونو کې د عراق په مسلمانوعربانو او د اسرائیل لخوا د غزه د مسلمانانو او عیسویانو ټولوژنه بدتره مظالم دي که سړی یې د سویلي افریقې نژادې جلاتوب (apartheid) په وخت په تورپوستو عیسویانو باندې د ظلمونو سره مقایسه کړي.
سړی نشي کولای چې د دوی حرصتشریح کړي. دوی د تمام بشریت شتمنې د قانوني غلا له لارې شپیلې (چې بل نوم یې پولي پړسوب (انفلاسیون) او د پیسو په سود ورکول دی)، او حتی تر ټولو غریب خلک

هم د خپلو ادنی شتمنیو څخه خلاصوي. بالاخره دوی د سود له لارې ټول بشریت په یوې نوې اقتصادي غلامۍ کې راګیره کړي. دوی بې حسابه پیسې د سود په بدل پور ورکړي سره د دېچېدوی پوهیږي چې پوروړی هیڅ کله دا پیسې او سود یې بیرته نشي ادا کولای. مقصدیې دا وي چېدداسې اقتصادي زور اخستنې وړتیا ترلاسه کړي چې پوروړي ملتونه د دوی د کنترول لاندې پریوځي. دوی حقیقي ارزښت لرونکې پیسو، لکه د سرو او سپینو زرو پیسو، په ځای کاغذي نوټونه رواج کړي. د کاغذي پیسو ارزښت خپله په پیسو کې نشته بلکه د پیسو څخه بهر دی او دوی د خپلې ګټې لپاره پکې لاسوهنه کولای شي. کله چې کاغذي پیسو ارزښت ښکته راغی، نو د نړی هر کوټ کې ولسونه په بدبختۀ غربت کې پریوتل حال دا چې هغه خلک چې شتمن وو د غریبو خلکو په تاوان لا پسې شتمن شول.

او وروستی دا چې، دوی د یو داسې نړیوال نظام څښتنان دیچېپه ډیره مرموزه توګه د ارض المقدس ازادولو لیوالتیا په زړونو کې لري. اروپا اول عیسویت غوره کړ او بیا یپاروپایي مقدس جنګونه پیل کړل، چې ورته صلیبي جګړې ویل کیږي، او د زرو کلونو کوششونو وروسته بالاخره خپل هدف ته هغه وخت ورسیدل، کله چېد جنرال النبي (GeneralAllenby) د قومندې لاندې انګریز پوځونو د عثماني اسلامي خلافت پوځونو ته ماتې ورکړه او په ۱۹۱۷ عیسوي کال کې فاتحانه په بیت المقدس ورننوتل. جنرال النبي بیا دا وینا وکړه چې"نن ورځ صلیبي جګړو پای ومونده." هغه باید داسې ویلي وای"ننورځاروپایي صلیبي جګړو پای ومونده." حقیقت خو دادی چېاروپایي صلیبي جګړې لا تر اوسه دوام لري او تر هغې به روانې وي تر څو چې مسلمانان په فلسطین او د نړۍ نورو برخو کې د اروپایي یهودي-عیسوي ټلوالې لخواد ظلمونو پر ضد غږ اوچتوي.

ځینې اروپایانو یهودیت هم قبول کړ او د اروپایي-یهودي صیهوني غورځنګ بنسټ یې کیښود، کوم چې بیا په ډیر تعصب او سرتمبګۍ د یهودیانوفلسطین ته بیرته ستنیدو او دغلته د اسرائیل د دولت رغونې لپاره ګامونه اوچت کړل. دااروپایي یهودیان، چې اصل کې د ختیځې اروپا د خزار قبایلو د نسل څخه وو، یهودیت ته اوښتي خلک وو. اروپایان د سامي قومونو څخه نه دي، خو بیا هم دوی په ناساري چل ول او په بریالیتوب سره په فلسطین کې د اسرائیل د دولت جوړیدنه ترسره کړه. دوی همدا شان په زوره سامي یهودیان (یعنې په رښتیا بني اسرائیل، د یعقوب ؑ اولاده) چې له ډیره وخته په اسلامي هیوداونو کې میشته وو، د اسرائیل بیدینه ریاست ته رامهاجر کړل. دوی د خپل ظلم او زیاتي په خلاف هرې هڅې ته بد نوم ورکړ او د یهوددښمنی ټاپه یې پرې ولګوله. یهودي-عیسوي غربي نړۍ لخوا ملاتړ او تقویې اسرائیل تر دې ځایه راورساوه چې نن سبا د نړۍ زبرځواک هیوادونو څخه شمیرل کیږي. حقیقت خو دا دی چې ډیر ژر به دا د ټولې نړۍ واکمن دولت وګرځي.

آیا پورتنۍ ټولې د تاریخ تصادفي پیښې دي؟ آیا دا ټولې بې مانا او نه تشریح کیدونکې پیښې دي؟ که نه، نو څه تفسیر لري؟

داسې عالمان او ليکوالان به هم شتون ولري چې اوږو ته څنډ ورکړي او پورتنۍ ټولې خبرې د تصادف له کبله پيښيدونکي واقعات وبولي او بې اهميته يې وګڼي. خو داسې نور خلک به هم راپيدا شي، چې په دې کتاب کې وړاندې شوي، د قرآن کريم او د نبي کريمﷺ د احاديثو څخه راويستل شوي ټولو شواهدو او دلايلو باندې قانع شي او دا ومني چې د نن ورځې عجيب او غريب يهودي-عيسوي اروپايي نړيوال نظام بل هيڅ شی نه دی پرته د جوج مأجوجو نړيوال نظام څخه.

شواهد دا هم جوتوي چې دجال د صيهوني يهوديانو او د هغوی ملګرو عيسويانو څخه ګټه واخسته تر څو هر اخلاقي او مذهبي قانون تر پښو لاندې کولو سره خپل شوم هدف ته ځان ورسوي چې اسرائيل د ټولې نړۍ واکمن دولت وګرځوي. دا هڅه د جوج مأجوجو په کومک او د هغوی پر شا د سوريدلو له لارې تر سره شوه. په پای کې به د يهودي نړۍ هغه برخه چې په ظلم او د اسلام په خلاف جنګ باندې ټينګار کوي، هم د هماغه مسيح سره مخامخ کيږي کوم چېدوی رد کړيو او غوښتل يېچې په دار يې وځړوي. دغه وخت به الله تعالی، چې جوج مأجوج يې پيدا کړي او نه ماتيدونکی ځواک يې ورکړای، پخپله دا بې انصافه او ناوړه د جوج مأجوجو نړيوال نظام ړنګ کړي. رسول اللهﷺ پيشګويي کوي چې يو نه اودريدونکی لښکر به د بيت المقدس په لور روان شي او مخې ته راتلونکې هره اشغال شوې سيمه به آزاده کړي. د مقدس اسرائيل پيښې کونکی دغه دروغجناسرائيل به له منځه لاړ شي، ظالمان به محکوم شي او په دې توګه به تاريخ پای ومومي چې‌حق به په *باطل*، او *انصاف* او*آزادي* به په *تيري* او *مريتوب* غالبه شي.

دا ليکونکی ډاډه دی چې په تيزۍ سره رابرسيره کيدونکې پيښې، په تيره د فلسطين شا او خوا ته، به د دې کتاب د مرکزي موضوع تصديق وکړي او په دې توګه به د دې موضوع ناقدين او کوته نيونکي چپه خوله پاتې شي.

د قرآن کريم په سورة الکهف او ورسره د رسول اللهﷺ احاديثو کې جوج مأجوج د خلکو داسې دوه ډلې ښودل شويچې د آدمؑ د پرګنې څخه به وي. دوی د الله تعالی تخليق دی او ستر ځواک يې وربخښلی دی. الله تعالی وايي"بې له ما يې هيڅ څوک نشي تباه کولای." سورة الکهف بيانوي چې څرنګه دوی د يو آړ شا ته بند کړی شوه ځکه چېدوی خپل ځواک د فساد (د ناوړه، ظلم او ګډوډۍ کارونو) خپرولو لپاره په کار اچوه. دا سورة دا هم بيانوي چېدويداسې خلک دي چې خپل ځواک په کار اچوي تر څو په هغو خلکو يرغل وکړي کوم چې د ايمان او تقوی څخه ډک ژوند تيروي او دا چېدوی به د هغو خلکو په ضد ډير ناوړه عمل ولري کوم چې وروسته پاتې ژوند ولري او يا دا چې په ډير لږ څه قناعت لرلو سره د ژوند شپې ورځې سبا کوي (د مثال په توګه هيتي، افغانستان، سوماليه، اندونيزيا، پاکستان، بنګله ديش، مصر او داسې نور). په دې توګه دداسې يو قوم انځور راځرګند شو چې بيخي بيدينه او بېمخې خلک دي او د ځناورو پشان ژوړونه لري.

سورة الکهف بیا خبر راکوي چې کله "زما د رب وعده" پوره شي (یعنې کله چې د فتن زمانه یا آخره زمانه پیل شي)، "الله تعالی به دیوال وران یا هوار کړي" او جوج مأجوج (چې د آخرې زمانې یوه ستره علامه ده) به نړۍ ته راخوشې شي. بل ځای سورة الانبیاء په ډاګه کوي چې"دوی به په هر لور خپاره شي" او په دې توګه به هر قوم کې نفوذ وکړي، چې ترینه دا مانا اخستل کیږي چې د یو نه ماتیدونکي قوت لرلو سره به دوی په ټوله نړۍ مسلط شي او دا چې په تاریخ کې د اول ځل لپاره به یواځې د یو نژاد خلک په ټول بشریت واکمني شروع کړي. دا هم ترینه څرګندیږي چې د چالاکه نفوذ له لارې به دوی ټول بشریت داسې تغیر او تبدیل کړي چېد دوی کاپي به وګرځي.

خو څرنګه چې دا نړیوال نظام به په مذهب جنګ او تیری مسلط کړي، نو دا به الهي نظام سره هیڅ همغږي ونلري او ورسره به په ټکر کې وي. هیڅ مومن لپاره به د دا رنګ نړۍ په یوه عادې ټولنه کې ژوند تیرول مناسبه ښکاره نشي.

## د احادیثو څخه د جوج مأجوجو راخوشې کیدنه جوتیږي

په صحیح بخاري کې ۸ داسې احادیث ذکر شوي چې په ډاګه د جوج مأجوجو راخوشې کیدنه څه د پاسه ۱۴۰۰ کاله مخکې د رسول اللهﷺ د ژوند په وخت ښایي. حدیث شریف خبر راکوي چې رسول اللهﷺ د خوب په حالت کې یوه باصره ولیدله په کومه کې چې ورته د جوج مأجوجو په دیوال کې یو سوری ښکاره کړی شو. جوج مأجوجو ته اړوند مونږ ته صرف یو دیوال معلوم دی، او د هغه آړ دی چې ذوالقرنین جوړ کړیو.

کله چې نبي کریم د خوبه رابیدار شو نو سمدستي په دې پوه شو چې د الهي فرمان له مخې د جوج مأجوجو د دیوال نړیدو په هکله یې ښتنی خوب لیدلی دی څکه چې دستي یې وفرمایل "تباهي ده عربانو لره د هغې شر له کبله چېدوی ته رانژدې شوی دی."رسول اللهﷺ په دیوال کې د جوړ شوي سوري روښانولو لپاره د خپلو ګوتو په واسطه یوه دایره هم جوړه کړه. څرنګه چې قرآن کریم خبر راکوي چې الله تعالی به پخپله دغه دیوال په یو خاص وخت کې له منځه یوسي، نو دا جوته ده چې په دیوال کې د سوري جوړیدل هم د الله تعالی په اذن منځته راغلی:

*قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّي ۖ فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُ دَكَّاءَ ۖ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا﴾

”(ذوالقرنين) وویل، (د دیوال جوړولو کې زموږ بریالیتوب) رحمت دی له طرفه د رب زما (په مخلوقاتو)! خو هر کله چې راغله وعده د رب زما (یعنې آخره زمانه)، نو وه به ګرځوي (دا دیوال) هوار برابر (د ځمکې سره یعنې ړنګ به شي): او ده وعده د رب زما رښتینې (حقه او ثابته).“ (سورة الکهف، ۱۸:۹۸)

دا هم روښانه ده چې دغې رښتینې خوب دا خبر ورکړ چې د جوج مأجوجو خوشې کېدنه په همدغه ورځ پیل شوې وه کومه ورځ چې دا نبوي خوب ولیدل شو. د دې پیښې په اړه احادیث چې د امام بخاري په صحیح کې ذکر شوي دي، د کره توب له لحاظه ستر اسناد لري. لوستونکي باید د دې حدیث ۸ ځله تکراریدو په اړه حیران نشي. دا بیلابیل احادیث نه دي. دا ټول هم د یوې ځانګړې موضوع څخه بحث کوي. خو دا حدیث مختلفو خلکو څخه روایت شوی دی او په عبارت کې ډېر معمولي غوندې توپیر لري. پایله دا چې دا متواتر حدیث دی، چې تر ټولو قوي حدیث وي:

”د ابو هریرهط څخه روایت دی چې رسول اللهہ فرمایلي: د جوج مأجوجو په بند کې یو سوری پرانستل شوی دی. وهیب (ورپسې راوي) د ۹۰ عدد جوړ کړ (د خپلې شهادت او غتې ګوتې په واسطه). “(صحیح بخاري)

”د زینب بنت جحشك څخه روایت دی: یوه ورځ رسول اللهق د ډار په حالت کې رانوت او ویېفرمایل: هیڅوک د عبادت لیاقت نلري مګر الله! تباهي ده عربانو لره د هغه ستر شر څخه چې رارسیدلی دی (عربو ته). نن د دې پشان یو سوری د جوج مأجوجو په دیوال کې کنستل شوی دی. رسول اللهق بیا د شهادت او غتې ګوتې په واسطه یوه دایره جوړه کړه. زینب بنت جحش زیاتوي: ما وپوښتل: یا رسول الله! آیا موږ به تباه شو سره د دېچې موږ کې پرهیزګاره خلک به موجود وي؟ رسول اللهق وویل: هو (تاسی به تباه شئ که او کله) چې شر، خباثت او خساتوب زیات شي (یعنې دومره ډېر شي چې په نړۍ غلبه ومومي).“ (صحیح بخاري)

پورتنۍ حدیث په عبارت کې د معمولي توپیر سره په صحیح بخاري کې تکرار شوی:

”ام المؤمنین زینب بنت جحشك څخه روایت دی چې یو ځل رسول اللهق له خوبه په داسې حال کې رابیدار شو چې مخ مبارک یې تک سور و او دا کلمې یې په خوله وې: نشته بل معبود لایق د عبادت مګر الله. عربانو لره تباهي ده په سبب د هغه شر چېدوی ته رانژدې شوی دی. نن د دې په اندازه یو سوری د یأجوج او مأجوجو په دیوال کې کنستل شوی دی (سفیان د خپلو ګوتو په واسطه د ۹۰ یا ۱۰۰ عدد جوړولو سره دا تمثیل کړ). بیا وپوښتل شو: آیا موږ به تباه شو سره د دېچې موږ کې صالح خلک شتون لري؟ رسول اللهہ وفرمایل: هو (تاسی به تباه شئ که او کله) چې شر، خباثت او خساتوب زیات شي (یعنې دومره ډېر شي چې په نړۍ غلبه ومومي)." (صحیح بخاري)

”د زینب بنت جحشك څخه روایت دی چې رسول اللهق هغې ته د ډار په حالت کې راغی او ویې فرمایل: نشته بل معبود لایق د عبادت مګر الله! تباهې ده عربانو ته له کبله د هغې شر چې رانژدې شوی دی. نن د جوج مأجوجو په دیوال کې دومره ستر سوری کنستل شوی دی (او د دوه ګوتو په اشاره یې یوه دایره جوړه کړه). زینب وویل: ای رسول الله! آیا مونږ به تباه شو سره د دېچې مونږ کې تقوی داره خلک شته؟ رسول اللهق وفرمایل: هو (تاسی به تباه شئ که او کله) چې شر، خباثت او خساتوب زیات شي (یعنې دومره ډیر شي چې په نړئ غلبه ومومي)." (صحیح بخاري)

”د زینب بنت جحشك څخه روایت دی چې رسول اللهق هغې ته یو ځل د ډار په حالت کې راغی او ویېفرمایل: نشته بل معبود لایق د عبادت مګر الله! تباهې ده عربانو ته له کبله د هغې خطر چې رانژدې شوی دی. نن د جوج مأجوجو په دیوال کې د دې پشان سوری کنستل شوی دی (او د شهادت او غتې ګوتې په واسطه یې یوه دایره جوړه کړه). زینب بنت جحش وویل: ای رسول الله! آیا مونږ به تباه شو سره د دېچې مونږ کې تقوی داره خلک شته؟ رسول اللهق وفرمایل: هو (تاسی به تباه شئ که او کله) چې خباثت او خساتوب زیات شي (یعنې دومره ډیر شي چې په نړئ غلبه ومومي)." (صحیح بخاري)

د ام سلمةك څخه روایت دی چې رسول اللهق راپاڅید او ویېفرمایل: سبحان الله (پاکې ده الله لره): څه (څومره ډیرې) سترې خزانې رالیږل شوي دي لاندې، او څه (څومره ډیرې) ستونځې رالیږل شوي دي لاندې! (ښاییچې دا هماغه د سوري په اړه د خوب موقع وي). (صحیح بخاري)

”د ابوهریرهط څخه روایت دی چې رسول اللهه فرمایلي: 'الله تعالی د جوج مأجوجو په دیوال کې دې ته ورته سوری جوړ کړی دی (او بیا یې د لاس او ګوتو په واسطه اشاره وکړه).' " (صحیح بخاري)

”د ابن عباسط څخه روایت دی چې رسول اللهه طواف وکړ (د کعبې څخه ګردچاپیره په داسې حال کې چې په اوښ سپور و او هر ځل چې کونج (د حجر اسود) ته رسیده هغې ته یې اشاره کوله او فرمایلیې: 'الله اکبر'. زینب وایې: رسول اللهه وفرمایل: د جوج مأجوجو په دیوال کې د دې او د دې پشان سوری کنستل شوی دی (او د شهادت او غتې ګوتې په واسطه یې د ۹۰ عدد جوړاوه).“ (صحیح بخاري)

د صحیح بخاري دا احادیث د څلور بیلابیلو سرچینو څخه نقل شوي دي، چې ابوهریره، زینب بنت جحش، ام سلمه او عبدالله ابن عباسي دي. او دې احادیثو کې ډیر په واضحه توګه ویل شوي چې جوج مأجوجو پورې تړلی یو دیوال سوری شوی دی چې ډیر ناوړه عواقب لري، په خاصه توګه د عربانو لپاره.

د جوج مأجوجو پورې تړلی صرف یو دیوال موږ ته معلوم دی او دا هغه یو دی چې ذوالقرنین جوړ کړیو. نو ترینه سترګې نه پټیدونکې پایله یې داده چې د ذوالقرنین لخوا د جوړ شوي دیوال نړیدل د رسول اللهﷺ د ژوند په وخت پیل شوي وو.

## د ځمکې او د ګلیلي سمندرګي اوبه

د پورتنیو احادیثو سربیره نور شواهد هم وجود لري چې زموږ د پایلې ملاتړ کوي. د جوج مأجوجو په خاکه کې دا وښودل شوه چې جوج مأجوج د اوبو په دومره ستره کچه مصرفوي چې سیندونه او لوی ډندونه به وچ شي. نړۍ لا وختي د همدا شان پدیدې څخه تیریږي چې د خوږو اوبو زیرمې په کمیدو دي او د دې شواهد لا پسې زیاتیږي، په داسې حال کې چې هیوادونه او قبیلې د ورځ تر بلې کمیدونکو د اوبو زیرمو په سر یو بل ته د جګړو ګواښونه کوي.

د اوبو اړوند نندارېز شواهد چې د جوج مأجوجو د خوشې کیدوتایید کوي، په هغه حدیث کې شتون لري چېد دوی په اړه وایيچې بیت المقدس ته د تللو په ترځ کې به د ګلیلي سمندرګي په غاړه به تیریږي او د دغې سمندرګي څخه به دومره ډیرې اوبه وڅښي تر هغې چې بالاخره وچ شي.

"…. په داسې حال کې به الله تعالی عیسی÷ ته دا وینا وکړي: ما خپلو بندګانو کې داسې خلک پیدا کړي چې هیڅ څوک د دوی سره د جنګ توان نلري؛ ته خپل خلک د طور غره ته په امان کې یوسه، او بیا به الله تعالی جوج مأجوج راولیږي او دوی به د هرې لوړې څخه رابښکته شي. د دوی مخکینی ډله به د بحیره تبریه (یعنې ګلیلي سمندرګي) په غاړه تیره شي او ترینه به اوبه وڅښي، او کله چې وروستۍ ډله تیریږي، نو وایې به: 'دلته یو وخت اوبه وي…' " (صحیح مسلم)

د ګلیلي سمندرګي د اوبو کچه دومره ښکته شوي ده چې اصلاً اوس مړ بلل کیږي، یعنې صرف د نن سبا خبره ده چېسوچه وچ شي. اوس د دې کتاب د لیکلو په وخت د اوبو کچه په تیزۍ سره د تور خط (BlackLine)اندازې ته رارسیدونکې ده، چې دغه اندازه د بحر سطحې څخه ۲۱۴.۴ میتره ښکته ټاکل شویده. کله چې د اوبو کچه دغې خط ته ورسیږي، نو د سمندرګي، چې د اسرائیل د اوبو سترو زیرمو څخه ده، څخه به اوبه نور جګول شونې نه وي ځکه چپاوبکښونه (پمپونه) به د اوبو د پاسه پاتې شي. دا خبره تر ډیره حده یقیني د دې کتاب د چاپیدو او د لوستونکو لاس ته ورتلو څخه مخکې پیښیدونکې ده. لوستونکو ته وړاندیز دی چېپه ګوګل کې د(LakeKinneretBlackLine)کلمو د پلټنې له لارې دغې حالت ته خاص پام وکړځوي.ګلیلي سمندرګی د LakeKinneretپه نوم هم یادیږي.

د جوج مأجوجو د خوشې کېدو په تایید اضافي نندارېزه شواهد په دې کې هم موندل کیږي چې د نړۍ ستر ډنډونه اوس په اوچېدو دي. د مثال په توګه د کانادا سوپېرير سمندرګی (LakeSuperior) ،چې د نړۍ تر ټولو ستر ډنډ دی او د نړۍ تر ټولو ستره د خوږو اوبو زېرمه ده، نن سبا يې د اوبو سطح دومره ښکته راغلي چې د تاریخ په اوږدو کې دې کچه ته اوبه نه وې رارسیدلې.

# حدیث چې د جوج مأجوجو او بیت المقدس تر منځ تړاوڅرګندوي

قرآن کریم په دوهم او آخر ځل چې د جوج مأجوجو یادونه کوي هغه د سورة الانبیاء هغه دوه آیتونه دي چې یو ځانګړي ښارګوټي ته اشاره کوي. الله تعالی دا ښارګوټی ویجاړ کړیو او خلک یې تر ینه شړل شوي او پرې بندیز وچې هیڅ کله دوی بیرته دې ښارګوټي ته د بیرته نیولو په نیت نشي راستنیدلی. خو ورپسې آیت کې خبر راکول کیږي چې دا بندیز به تر هغې وخت پورې د اعتبار وړ وي تر څو چې جوج مأجوج راخوشې شي او دوی پر هر لور خپاره شي او هر د ګټې ځای ونیسي:

*وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَحَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ﴾

"او بندیز دی په یو ښارګوټي (یروشلم) باندې، کوم چې مونږ ویجاړ کړیو (او خلک یې د هغه ځایه ویستل شوي و) چېدوی (یعني خلک یې) بیرته نشي راستنیدلی (چې دا ښارګوټی بیرته خپل کړي). تر هغې پورېچې جوج مأجوج خوشېکړی شي او دوی له هرې لوري راخپاره شي. (او یا په هر لور خپاره شي او هر د ګټې ځای ونیسي)." (قرآن کریم، سورة الانبیاء، ۲۱:۹۵-۹۶)

که مونږ دا ښارګوټی په ګوته کړو او شواهد وجود ولري چې شړل شوي خلک یې بیرته د نیولو په نیت ورغلي دي، نو دا به اضافه نښې وي چې دواړه د جوج مأجوجو خوشې کیدنه او د دوی پیژندنه په ثبوت رسوي.

د مانایز غونډال په بنسټ د شننې برسیره، د ښارګوټي په ګوته کولو لپاره زمونږ ټکلاره باید قرآن کریم او احادیثو کې د موجودو مالوماتو پلټنه وکړي تر څو داسې یو ښار پیدا کړو چې جوج مأجوجو سره تړلی وي. یقیناً یروشلم (بیت المقدس) یواځینی داسې ښار دی چېدوی سره تړاو لري.

لومړی، مونږ پورته یو حدیث ذکر کړ چې مونږ ته خبر راکوي چې جوج مأجوج به د کلیلي سمندرګي په غاړه تیریږي. دا سمندرګی د بیت المقدس څخه یواځې ۵۰ میله لیرې شمال لور ته پروت دی. برسیره پر دې یواځینی ښار چې جوج مأجوجو سره تړاو لري او په نوم ذکر شوی هغه بیت المقدس (یروشلم) دی:

"جوج مأجوج به روان وي تر څو چې د الخمر غره ته ورسیږي، او دا غر په بیت المقدس (یروشلم) کې دی..." (صحیح مسلم)

دوهم، دا چې مونږ ته د سورة الانبیاء پورتني دوه آیتونو او د سورة آلعمران هغه آیت، چې مکه د زوړ نوم بکه په نوم بولي، تر منځ مشابهت څرګندیږي. په دواړو ځایونو کې مونږ د آیتونو په مطلب تر هغې نشو رسیدلای تر څو چې داسې تاریخي پیښې او د نورو ضمني مالوماتو څیړنه ونکړو چې په قرآن کریم کې نه دي ذکر شوي.

قرآن کریم خبر راکوي چې الله تعالی ارض المقدس (فلسطین) بني اسرائیلو ته ورېخښلی و (قرآن کریم، سورة المائده، ۵:۲۴). یروشلم د ارض المقدس پلازمینه ده. د تاریخ اسنادو څخه څرګندیږي چېدوی د یروشلم څخه شاوخوا ۲۰۰۰ کاله وړاندې ویستل شوي وو. په هر حال دوی بیرته راستانه شوي دي تر څو دا ښار بیرته خپل کړي. بیت المقدس یا یروشلم د رښتیني مسیح، عیسی ابن مریم ؑ د بیرته راتګ پورې د تړلې واقعاتو مرکزي سیمه ده. هغه به د همدې یروشلم څخه په نړۍ واکمني کوي. او د همدې یروشلم څخه به کوټه مسیح، دجال په نړۍ د واکمنۍ هڅه کوي. د تاریخ پاې لور ته خوځیدو سره، باید یروشلم د واشنګټن، لندن او نورو ښارونو ځای ونیسې او د نړۍ د پلازمینې حیثیت باید ترلاسه کړي.

دا هم کومه تصادفي خبره نه ده چې نه خو خپله قرآن کریم او نه رسول اللهﷺ، چا باندې چې قرآن نازل شوی دی او د قرآن د معلم په حیث ټاکل شوی و، جوج مأجوجو سره تړلي دغه 'ښار' په ګوته کړی دی. سبب یې خامخا همدا دی چې د قرآن کریم مفسرین او عالمان دې ته وهڅوي چې پرله پسې برسیره کیدونکو پیښو ته ژوره کتنه وکړي تر څو د الله تعالی نښې وپیژني او بالاخره دا'ښارګوټی' په ګوته کړي. قرآن کریم د خپل عبارت همدې اړخ ته خاص پام راګرځوي کله چېوایي:

*سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾

"ژر ده چې څرګندې به کړو (پوه به کړو) دوی لره نښې (د قدرت) خپل چې په آفاقو (د کاینات) کې دي او په نفسونو د دوی کې دي (په شمول د تاریخ په اوږدو کې رابرسیره کیدونکې پیښو) تر هغې پورې

چې روښانه شي دوی ته چې بیشکه دا قرآن حق دی. آیا نه دی کافي (د هغوی لپاره چې پوه شي) چې ستا رب په هر شي شاهد دی.“ (قرآن کریم، الفصلت، ۴۱:۵۳)

## اقبال، انصاري او سید نورسي

اسلامي فیلسوف\شاعر، دکتور محمد اقبال د قرآن د څرګندونې دې اړخ ته خاص پام کاوه او د تاریخ په پروسه کې برسیره کیدونکو پیښنو په اړه یې د تنقیدي کتنې څیړندود (اصول التفسیر) څخه کار اخست، تر څو د قرآن کریم د ځینې آیتونو په مطلب او اهمیت ورسیږي. هغه د غربي تمدن لخوا په ۱۹۱۷ کې د صلیبي جنګونو کامیابې پایلې او د بیت المقدس نیولو په اړه په اردو ژبه کې د یو شعر په لیکلو سره غبرګون ښکاره کړ، په کوم کې چې هغه دا جوته کړه چې د جوج مأجوجو ټول ځواکونه راخوشې شوي دي. هغه بیا د سورة الانبیاء هغه دوه آیتونو لور ته د مسلمانانو پام راګرځوي چې د جوج مأجوجو سره تړاو لري، تر څو دوی ددې آیتونو مطلب او اهمیت ته متوجه شي:

کهل گئے یاجوج او ماجوج کے لشکر تمام
چشم مسلم دیکھ لے تفسیر حرف ینسلون

[راپریښنودل شوې ټولې ډلې د یاجوجو او مأجوجو
د مسلمان بصیرت باید د ینسلون په تفسیر غور وکړي]
[بانګ درا – ظریفانه:۲۳][بانګ درا د 'کاروان د روانیدو چغې' ته وايي او ظریفانه 'ځیرکې ځارنې' ته وایي]

ډیر د تعجب ځای دی چې اروپایي صلیبیان چې څنګه د یروشلم قبضه کولو کې بریالي شو نو سمدستي اقبال د قرآن کریم د دې آیتونو په مانا او اهمیت پوه شو او دې نتیجې ته ورسید چې کوم ښار ته چې دې آیتونو کې اشاره شوې هغه د یروشلم ښار دی. د تعجب ځای ځکه دی چې په فلسطین کې د اسرائیل دولت په رسمې توګه په ۱۹۴۸ کې جوړ شو او دا شعر په ۱۹۱۷ کې لیکل شوی دی.

د اقبال شعر، چې د سورة الانبیاء دغه دوه آیتونو او هغې 'ښار' ته توجه را اړوي، د نامتو اسلامي عالم، مولانا دکتور فضل الرحمن انصاري د توجه وړ هم وګرځید. هغه خپله هم د اقبال له شاګردانو څخه و. د دکتور انصاري په نظر هم کوم 'ښار' ته چې اشاره شوې هغه یروشلم دی. د دې شواهد د ابراهیم احمد بواني د پام وړ کتابګوټي، 'جوج مأجوج او د اسرائیل دولت' لوستلو په وخت تر سترګو کیږي، چې دغه کتابګوټی په پاکستان کې څه د پاسه پنځوس کاله پخوا د *عایشه بواني وقف* لخوا چاپ شوی دی (کتابګوټی د ۱۹۵۰ د لسیزې په اخرو کې چاپ شوی او د چاپ دقیقه نیټه یې نده معلومه). د سورة الانبیاء دغه

دوه آیتونو او ‹ښار› په اړه تبصره کولو په وخت ابراهیم بواني په خپل کتاب کې وايي: "مونږ په کلکه باور لرو، او د دې باور لپاره په راروانو مخونو کې غښتلي دلایل وړاندې شوي دي، چې دا آیت خاص د یروشلم ښار ته اشاره کوي..."(دوهممخ). هغه وړاندې وايي: "پس بې له کومه شکه د قرآن کریم دا آیتونه (سورة الانبیاء ۹۵-۹۶) اشاره ده د اسرائیل د دولت جوړیدنې ته، په کومک او توطیئو د جوج مأجوج قوتونو." (دریم مخ). هغه ځان د مولانا فضل الرحمن انصاري پوروړی مني او وايي"د مولانا انصاري لخوا د هغه آیتونو ماناکړنه او تشریح چې د هغې ښار ته د خلکو ستنیدو په اړه دي، زه په دې وهڅولم چېنوره څیړنه وکړم او په دې موضوع لیکنه وکړم."(۳ مخ). دا د ویر ځای دی چې مولانا انصاري د کوم علت له کبله چې مونږ ته نه دی معلوم، خپله په دې موضوع نه خو کومه لیکنه کړې، او نه یې د عوامو وړاندې کومه وینا کړې ده. خو بیا هم دا معلومه ده چې هغه دا‹ښارکوټی› په ګوته کړیوچې یروشلم دی او دا لاسته راوړنه یې د خپل څیړندود (اصول التفسیر) په کومک ترسره کړیوه چې په اصل کې دې موضوع ته اړوند د مانایز غونډال پیدا کولو پلټنه ده.(دوهم فصل وګورئ)

څرنګه چې زمونږ په نظر هم په سورة الانبیاء کې ذکر شوی ښارګوټی بل کوم نه بلکه یروشلم دی، نو مونږ ته دا جوته ده چې د قرآن کریم دا آیتونه بل خبر دا راکوي چې د هغې خلکو بیرته ستنیدنه هیڅ شونې کیدای نشوه که چیرې جوج مأجوج نه وو راخوشې شوي او په هر لور خپاره شوي نه وو. په بله وینا، اوس کله چې بني اسرائیلیو ځل بیا بیت المقدس ته د بیرته خپلولو په نیت ستانه شوي دي، نو دا څرګنده ده چې داروپایې صلیبیانو زر کلن کوششونه چې بیت المقدس آزاد کړي، پخپله د جوج مأجوجو لخوا جوړه شوې پدیده وه، او پس دا چې جوج مأجوج حتماً ډیر پخوا نړۍ ته راخوشې شوي دي. دې پایلې ته د رسیدو سره دې کتاب بل هیڅ نه دې ترسره کړې بې له منطقي پایلو راویستلو او د هغې څراغ پسې تللو نه کوم چې نامتو اسلامي عالمانو پخوا روښان کړیو، لکه دکتور محمد اقبال، دکتور فضل الرحمن انصاري او د ترکیې اسلامي عالم، بدیع الزمان سید نورسي.

نور د پام وړ اضافي شواهد هم شتون لري چې په دې استدلال کوي چې جوج مأجوج ډیر پخوا نړۍ ته راخوشې شوي دي، د مثال په توګه، په اوسمهاله زمانه کې د نړیوالتوب نادره پدیده، نن سبا د نړۍ هر لور ته د ټولنې په جوړښت کې د ناوړه فساد د خپریدلو زیاتوالی، په شمول د اسلامي نړۍ، د ټول بشریت لخوا د غرب خسا او بیدینه ژوندلاره خپلول او ځانونه د هغوی کاپي کرځول او داسې نور.د پورتنیو نه علاوه د نورو شواهدو او دلایلو پیدا کولو دنده مونږ نورو هغو خلکو ته پریږدو، کوم چېد دې کتاب مرکزي موضوع باندې قانع شوي وي او له دې لارې دې دندې ته غاړه کیږدي.

# اووم فصل

# د جوج مأجوجو د راخوشې کېدو اغېزې

کله چې د دوی راخوشې کېدنه منځته راشي نو قوت به د ذوالقرنين د زمانې په پرتله په نورو بنسټونو قایم وي. ځواک به په داسې بنسټونو ودریږي چې بیخي بیدینه وي، او د دې په ځای چې ظالم ته سزا ورکړي، بیګناه خلکو باندې به ظلم او مرګ ژوبله ورتپل کیږي. ځواک به د هغو خلکو په نښه کولو لپاره استعمال شي څوک چې په الله تعالی باندې ایمان لري او د صالح ژوند تیرولو هوډ لري. او په آخره کې، ځواک به نړۍ کې په دې توګه وکارول شي چې بشري حقوق تر پښنو لاندې شي، او وروسته پاتې خلک وځورول شي او له منځه یوړل شي، او د نړۍ له مخکې نه غریب ولسونه لا زیاتې بې وزلۍ کې ډوب شي.

سورة الکهف د جوج مأجوجو نړۍ ته د راخوشې کېدو اغېزو په اړه خبر راکوي. الله تعالی هغه ستر سیلاني، چې د ځمکې دوه کنجو ته یې سفرونه کړي وو، د ذوالقرنين په نوم یاد کړی. مونږ مخکې یادونه وکړه چې د قرن کلمه په عربي ژبه کې دوه مانا لري چې یوه مانا یې'ښکر' او بله یې'زمانه' ده. خو څرنګه چې قرآن کریم تل د قرن کلمه د 'زمانې' مانا ورکولو لپاره کارولې ده، او یو ځای هم د 'ښکر' مانا ورکولو لپاره نه ده کارول شوې، نو دلته دا پایله راوځي چې الله تعالی مبهمه اشاره راکوي چې د ذوالقرنين په اړه دا عبارت دوه زمانو پورې اړه لري.

په لومړۍ زمانه کې (یعنې د ذوالقرنين زمانه کې)، قوت په الله تعالی باندې د ایمان په بنسټ قایم و، او ظالم ته د سزا ورکولو او د ایمان او نیکو عملونو خاوندانو ته د انعام، ملاتړ او کومک ورکولو لپاره په کار اچول کېده، او بله دا چې د هغو خلکو بشري حقوقو درناوی یې په ځای ساته کوم چې د وروسته پاتې ژوند خاوندان وو.

د قرآن کریم دغې ځانګړي عبارت کې چې کومې دوهمې زمانې ته اشاره شوي ده هغه به د جوج مأجوجو زمانه وي، چې د هغوی د راخوشې کېدو د نیتې څخه به پیل مومي. کله چې د دوی راخوشې کېدنه منځته راشي نو قوت به د ذوالقرنين د زمانې په پرتله په نورو بنسټونو قایم وي. ځواک به په داسې بنسټونو ودریږي چې بیخي بیدینه وي، او د دې په ځای چې ظالم ته سزا ورکړي، بیګناه خلکو باندې به ظلم او مرګ ژوبله ورتپل کیږي. ځواک به د هغو خلکو په نښه کولو لپاره استعمال شي څوک چې په الله تعالی باندې ایمان لري او د صالح ژوند تیرولو هوډ لري. او په آخره کې، ځواک به نړۍ کې په داسې توګه وکارول شي چې بشري حقوق تر پښنو لاندې شي، او وروسته پاتې خلک وځورول شي او له منځه یوړل شي، او د نړۍ له مخکې نه غریب ولسونه لا زیاتې بې وزلۍ کې ډوب شي.

اوسنۍ زمانه همداسې یو دور دی. اوسمهاله غربي تمدن په نړۍ کې د ځواک خاوند دی، خو د دې تمدن د جوړښت بنسټونه په بیدینۍ ولاړ دي. دا تمدن د خپل ځواک څخه کار اخلي تر څو:

- بیګناه د تیري لاندې راولي او د ظالمانو او نورو بې انصافه خلکو ملاتړ او ساتنه وکړي،
- په عمومي توګه په مذهب او په خاصه توګه د اسلام په ضد جنګ ونښلوي، او خاص هغه خلک په نښه کړي کوم چې په الله تعالی ایمان لري او د نیک چارې ژوند تیروي، او
- د هغو خلکو د نښانې لاندې راوستلو څخه هم ډډه ونکړي کوم چېسوچه وروسته پاتې دي او د ځان ساتنه نشي کولای، له بشري حقونو څخه یې صرف نظر وکړي او بالاخره د خزندو پشان یې تر پښو لاندې کړي.

د تیري ورځې وحشیانه توکمیزه ټولوژنه او سپین سترګبازارونهچې د شمالي او سویلي امریکې، استرالیا، سویلي افریقې، هایتي وغیره د ځایي خلکو په ضد روانه وه، د داسې یو چلند ناوړه مثالونه دې چې حتی تر نن ورځې پورې په عراق، افغانستان او صومالیه کې د ددغو هیوادونو د حیواني او بدغونې اشغال په وخت دوام لري. په تاریخ کې غلامانو سره هیڅ کله دومره ناوړه، وحشیانه او ظالمانه چلند نه دی شوی لکه څنګه چې غربي تمدن د تورپوستو افریقایانو سره کړی دی او د دوی د مزدورۍ او خوارۍ څخه د ناوړه ګټې اخستلو په برکت یې د امریکې متحده ایالتونه او کانادا اباده کړې، او همدې ته ورته د سویلي او مرکزي امریکا د سورپوستو څخه هم همداسې ناوړه ګټه پورته شوه تر څو سپین پوستي اشراف پرې واکمن وګرځي.

مالکم ایکس تر ټولو غښتلی او کره غږ وچې د شمالي امریکې د ظلمونو په ضد را اوچت شو. د سویلي امریکې ځوریدلي سورپوستي اوس د وینیزویلا هوګوچاویز (HugoChavez) او د بولیویا ایفو مورالیز (EvoMorales)په څیر کره او غښتلي غږونه لري چېد دوی د ظلم څخه د خلاصې د هوډ هلې ځلې په مخ وړي. د غربي (سپین پوستي) ظالمانو (که څه هم ټول سپین پوستي ظالمان نه دي) مخونه اوس دومره منفوره او بدرنګه شويچېدوی لپاره اوس دا ضروري شوې چې د یو داسې امریکني ولسمشر شا ته ځانونه پټ کړي څوک چې تور پوستکی لري.

هر کلهچې غربي تمدن یوه غیر اروپایي سیمه د اشغال لاندې راوستې ده نو د سیمې ځایې خلکو ته خطر مواجه شوی. دویځینې وخت د غلامی په ځنځیرونو تړل شوي او نور وختونه سوچه پوپنا شوي دي. د نمونې په ډول د هند سنډی ټایمز (SundayTimesofIndia) کې خپور شوی دا لاندینی راپور وګوریچې د ۱۹۳۸ کال د جون په ۲۶مه نیټه لیکل شوی او کوم چې زما محترم استاذ مولانا فضل الرحمن انصاري له ځانه سره ساتلی و:

## د یو نسل بشپړه نابودي

په تسمانیه (Tasmania) کې د برتانیې سوانح

ج،و، پینټر (J,W, Pynter)په انکوایرر (TheInquirer) ورځپاڼه کې د تسمانیه بدمرغه تاریخ سپړلو په ترڅ کې لیکي چېښکیلاکي پراختیا په ۱۰۴ کلونو کې یو بشپړ نژاد نیست او نابود کړ.

د تسمانیه ټاپو ته دا نوم د آبیل جانسن تسمان (AbelJansenTasman) له کبله ور په برخه شوی، چا چې په ۱۶۴۲ کال کې دا ټاپو کشف کړیو. تر یوې نیمې پیړۍ پورې د کوم سپین پوستي لا د ټاپو تورپوستي ځایي خلکو باندې سترګې نه وې لګیدلې. په ۱۷۷۲م کال کې یو فرانسوی ټولیمشر (کپتان) د خپل ټولي سره هلته ښکته شو او د ځايي خلکو یوې ډلې سره مخ شو. د ځایي خلکو څخه کوم کس یو عسکر ته یو بل شوی لرګی وړاندې کړ. فرانسویانو دا برید وباله او په ځایي خلکو یې ډزې شروع کړې، هغوی وتښتیدل، خو یو مړ او ګڼ شمیر ټپیان یېځان پسې پریښودل.

## وحشتناکه ظلمونه

په ۱۸۰۳م عیسوي کال کې یو انګریز ټولیمشر ته په تسمانیه کې د یوې ابادۍ جوړولو دنده وسپارل شوه. د غمیزې پیل له همدې ورځې وشو. یوه ورځ یو څو ځایي خلک د ماشومانو او ښځو سره د سپین پوستو میشتځای ته څیرمه په یوه لوړه راښکاره شو. دوی کوم عداوت څرګند نکړ، خو د کوم نامعلوم سبب له کبله په دوی ډزې پیل شوې او ګڼ شمیر ترینه ووژل شول.

د سپین پوستو چلند دومره ناوړه وچې په ۱۸۱۷ کال کې د سوریل په نوم والي یو اعلامیه خپره کړه تر څو د ځایي خلکو په ضد د سپین پوستو د تیریو مخه ونیول شي.

د ښهویښتلو لپاره استعمال شول
د ځایي خلکو بدترینه دښمنان سپین پوستي یاغیاناو ښکاریان وو. دوی به ځایي خلک ونو پورې تړل او بیا یې ترینه د ښنو کار اخست، او ځایي ښځې به په زور راښکل کیدې. دغو جنایتونو له کبله په ۱۸۲۴ عیسوي کال کې یوه بله اعلامیه خپره شوه او نوې ابادۍ جوړونکو او نورو ته ګواښنه وشوه چې د ځایي خلکو ټولوژنه دې ودروي.

## خو ښښتو بیا هم دوام درلود

د ځایي نسل نهاییتولوژنه هغه وخت ترسره شوه کله چیبو بې رحمه فرمان صادر شو چې له موخې پېدوی د ټاپو څخه وویستلاو د باس تنګي په یو بل کوچني ټاپو کې ځای په ځای شول. خو دا ټاپو بیخي شاړ و او هلته دوی ډېر ژر له منځه ولاړل. د ۱۸۶۹ کال د فبرورۍ په میاشت کې وروستی تسماني وګړی، ویلیم لاون، ومړ او وروستۍ تسماني ښځه، تروګانینه د ۱۸۷۶م کال د مئي په میاشت کې مړه شوه.

د برتانیې نه وروسته په نړۍ مسلطې د یهودي-عیسوي ټلوالې مشري د امریکې لاسته راغله او د اروپایي یهودي دولت، اسرائیل په نمایندګۍ یې په اسلام او مسلمانانو جنګونه ورتپل شروع کړل. دا هماغه یهودي-عیسوي ټلواله ده چې د اوسمهاله بیدینه غربي تمدن بنیاد یې ایښی او د دې تمدن له لارې ټول بشریت په خپل خسا او چټل غوجل کې راټولوي. دې ټلوالې ستر بریالیتوبونه ترلاسه کړل کله یېچې اسلامي عثماني خلافت او دارالاسلام له مینځه یووړ، او د دې په عوضیې د ترکیې جمهوري دولت او د سعودي پاچاهي ځای په ځای کړه. په نتیجه کې یې په حرمین او حج باندې اصل کې د یهودي-عیسوي ټلوالې واک ټینګ شو.

دا کتاب په ډاګه کوي چې د جوج مأجوجو نړیوال نظام شا ته په اصل کې د یهودي-عیسوي ټلوالې لاسونه دي. داسې بریښې چې ډېر وخت به ورته نه وي پاتې چې د رسول اللهﷺ هغه مخکې وینه هم ترسره شي کومه چې په صحیح بخاري کې راغلي او وایيچې"خلک به د جوج مأجوجو راخوشې کېدو وروسته هم د حج او عمرې لپاره ځي، خو آخره ګړۍ به تر هغې نه راځي تر څو چې (د اعتبار وړ) حج نه وي له منځه تللی.
"

د سورة المائده یو آیت د یهودي-عیسوي ټلوالې د رابرسیره کېدو په اړه پیشګویي راکوي او مسلمانان په کلکه داسې یهودیانو او عیسویانو سره د اتحاد او ملګرتیا اړیکو ساتلو څخه منع کوي. د آیت ژباړه او پوهیدنه کې ستونځې رامنځته کیږي که چیرې د ژباړې منځ کې تشریحې څرګندونو ته ځای ورنکړو. خو دژباړې متن او تشریح د یو بل څخه جلا ساتلو پخاطر تشریحي څرګندونې په لیندیو کې لیکل شوي دي او ژباړه په زغردو حروفو کې لیکل شوې ده:

*يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾

**ای هغو خلکوچې ایمان یې راوړی** (په الله تعالی باندې) **مه نیسی یهودیان او عیسویان په حیث د ملګرو، ائتلافیانو، ساتونکو یا ضامنانو** (ولې؟)(ځکه چې) **ځینې** (له دوی څخه) **دي** (یا شي به) **ملګري، ائتلافیان، ساتونکي د نورو** (له دوی څخه). (دا آیت د ټولو عیسویانو او یهودیانو سره د ملګرتیا اړیکو ساتلو څخه ډډه کولو باندې امر نه کوي، خو دا آیت مسلمانان منع کوي چې د ناتو Nato ، سیاتوSEATO ،

سینټو CENTO  پشان اتحادونو کې برخه واخلي او یا هغه ډول اړیکو ساتلو څخه کومو چې عربستان په سعودي-امریکي سلطنت بدل کړی دی. له بلې خوا دا آیت د یو داسې وخت راتلو په اړه مخکې وینه کوي چې یهودیان او عیسویان به په مرموزه توګه د یو بل سره پخلا شي او سربیره پر دې به یو یهودي-عیسوي ټلواله وپنځوي. قرآن کریم توپیر کوي دداسې عیسویانو چې د یهودیانو سره اتحاد جوړوي، او د نورو عیسویانو ترمنځ څوکچې بالاخره د مسلمانانو تر ټولو غوره ملګري ګرځي. (سورة المائده ۸۲م آیت وګورئ). دا آیت صرف د هغو یهودیانو او عیسویانو پورې تړاو لري کوم چې‌چپلو کې سره ائتلافیان دي او صرف د دوېپه اړه الله تعالی امر کړیچې ملګرتوب او ائتلاف ورسره مه ټینګوئ). **او له تاسی څخه چې هر څوک دوی ته مخ واړوي** (د ملګرتوب وغیره لپاره)**بیشکه له همدوي څخه دی.** (داسې مسلمانان به د یهودي-عیسویجوج مأجوجو نړیواله او بیدینه ټولنه کې جذب شي او خپل اسلام به له لاسه ورکړي). **بیشکه الله تعالی نه کوي هدایت هغو خلکو ته چې ظالمان دي.** (دا آیت دلته یو بل خبرداری راکوي چې د یهودي-عیسوي ټلوالې بیلونکې نښه به د دوی د ظلم یعنې د بې انصافۍ، تیري او د شر کارونه وي، او مسلمانانو کې باید دومره شعور وي چې داسې خلکو سره ناسته پاسته ونلري چا ته چې الله تعالی پخپله د هدایت نه کولو هوډ کړی). (قرآن کریم، سورة المائده، ۵:۵۱)

د قرآن مجید دا آیت کریمه په ربښتیا سره مسلمانانو ته ډیر کلک خبرداری ورکوي، چې مه ورځئ‌د داسې خلکو غیږې ته کوم چې نن سبا په نړۍ واکمني کوي (یعنې د جوج مأجوجو نړیوال نظام) او څوک چې د اسلام او مسلمانانو سره په جنګ کې بوخت دي. خو د سعودي عرب لاسپوځې پاچاهۍ کټ مټ هغه کار وکړ چې الله تعالی ترینه سخته منع کړي ده، او دې معامله باندې د ډیرو سلفیانو عالمانو سرونه نه دي خلاص شوي او یا یې همدې کې ګټه ده چې چوپ پاتې شي. حقیقت خو دا دی چې ګرده اسلامي نړۍ په دې کار بوخته ده په تیره له هغه وخت راهیسې د کله نه چېدوی پریښنودل چې وغولول شي او د ملګرو ملتونو، نړیوال بانک، آی ایم ایف وغیره غیږو ته ځانونه وغورځوي. رسول الله٥ د همدې یهودي-عیسوي ټلوالې لخوا د ظلمونو په اړه ۱۴۰۰ کاله وړاندې دا پیش بیني کړیوه:

"تاسی (مسلمانان) به هرومرو (په تاسیتیری کونکي) یهودیانو سره جنګ وکړئ، او تاسی به هرومرو دوی لره قتل کړئ (یعنې غالبه به یاست) حتی تر دې چې ډبرې به هم غږ وکړي چې، ای مسلمانه! دلته یو یهودي پټ دی زما شا ته، پس راشه او قتل کړه دې لره." (صحیح بخاري، صحیح مسلم)

الله تعالی عزوجل خبر راکړایچې، هغه څوک چېدوی ته مخ واړوي د ملګرتیا او د ائتلاف لپاره، هغه به له همدوي څخه وي (او په دې توګه به مونږ څخه نور نه وي)، له دې کبله مسلمانان یوې داسې دیني او اسلامي سیاست پوهنې ته اړتیا لري چې په کومک یید هغه چلند پایلو ته غبرګون وښایي کوم چې د الله تعالی لخوا په کلکو الفاظو غندل شوی دی. د غربي تمدن په څرخ کې د تاویدو چلند په مسلمانانو کې دومره زیات شوی دیچې د هر ډول عقل او شعور څخه لیرې خبره ده او ښه مثال یې د امریکې ویزې، ګرین کارت او تابعیت ترلاسه کولو پسې د دوی منډې ترړې دي.

د جوج مأجوجو د خوشې کېدو نورې پایلې د قرآن کریم سورة الکهف راځرګندوي. کله چې ذوالقرنین دیوال جوړ کړ او په دې توګه یې د جوج مأجوجو مخه ونیوله، هغه خبر ورکړیچې د دیوال (جوړیدنه) د الله تعالی له لورې یو رحمت دی. خو هغه خبرداری راکوي چې کله هغه وخت راشي د کوم په اړه چې الله تعالی ګواښنه کړې (یعنې د یوم القیامة د پیلیدو وخت)، نو الله عزوجل به دا دیوال ړنګ یا هوار کړي او جوج مأجوج به نړۍ ته راخوشې شي:

*قَالَ هَٰذَا رَحْمَةٌ مِّن رَّبِّي ۖ فَإِذَا جَاءَ وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُ دَكَّاءَ ۖ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا﴾

"(ذوالقرنین) وویل، (د دیوال جوړولو کې زمونږ بریالیتوب) رحمت دی له طرفه د رب زما (په مخلوقاتو)! خو هر کله چې راغله وعده د رب زما (یعنې آخره زمانه)، نو وه به ګرځوي (دا دیوال) هوار برابر (د ځمکې سره یعنې ړنګ به شي): او ده وعده د رب زما رښتینې (حقه او ثابته)." (۱۸:۹۸)

وریسې دوه آیتونه د دوی د راخوشې کېدو سترې اغیزې په ډاګه کوي:

*وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَمُوجُ فِي بَعْضٍ ۖ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَجَمَعْنَاهُمْ جَمْعًا﴾

"او پرې به ږدو ځینې د دوی ځخه په دغه ورځ ترځو ننوځي د موج پشان (چپیوځای شي او یا ټکر شي) د نورو سره او شپیلۍ د (قضاوت) به پو کړی شي، پس راټول به کړو دوی ټولو لره یوځای."

﴿وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكَافِرِينَ عَرْضًا﴾

"او په دغه ورځ به دوزخ د ټولو هغو خلکو مخې ته راوړاندې کړو څوک چې(په دې قرآن کې بیان شوی) حق نه مني."
(سورة الکهف، ۹۸-۱۰۰: ۱۸)

پورته لیکل شوي لومړي آیت کریمه کې، قرآن کریم د هغې اوسمهاله پدیدې یوه تشریح وړاندې کړې چې د نړیوالتوب په نوم یادیږي. د اروپایانو لخوا د نړۍ لاندې کول او د استعمار لاندې راوستل، او وریسې د ټولې نړۍ دا رنګ بدلول چې د بیدینه اروپايي ژوندلارې کاپي وګرځي، دوه داسې پیښې دي چې قرآن کریم د موجونو سره تشبیه کړې دي چې د یو بل سره ټکر خوري او بیا سرهیوځای کیږي. دوهم آیت ګواښنه وړاندې کوي چې د نړیوالتوب بهیر به نړۍ په دوزخ بدله کړي، او هغه خلک چې په الله تعالی

ایمان لري، د خپل ایمان ساتلو لپاره به مجبور شي چې په تدریجي توګه د بیدینه او خسا نړیوالې ټولنې څخه ځانونه یو طرف ته کړي.

الله تعالی حکیم او علیم ذات دی او له مخکې نه په دې پوهیږي چې ډیر لږ خلک به ځانونه یو طرف ته کړي او حدیث له همدې سببه بیانوي چې د هر زرو څخه به ۹۹۹ د جوج مأجوجو په غوجل کې ترل شوي وي او په آخرت کې به یې جهنم ځای وي.

اوسمهاله سیکولر اروپايي نړیوال نظام نه یواځې بیخي بیدینه، خسا، سرغړونکی او ظالم نظام دی بلکه کلک عظم لري تر څو ټول بشریت په یوه بیدینه او نړیواله ټولنه کې سره راټول کړي. دغه هدف تر ډیره حده ترسره شوی دی. د نړیوالې ټولنې د جوړښت د پردې شا ته مقصد یواځې همدا دی چې ټول بشریت د اسرائیل دولت په پښنو کې وغورځوي او دوی په ټوله نړۍ د اسرائیلواکمني په ځان قبوله کړي.

د نبي کریمه رښتیني پیروان به له دې څخه پیژندل کیږي چېدوی به هڅه کوې چې د اوسنی نړۍ بیدینه او خسا ټولنې غیږې څخه ځانونه وژغوري. د باقي بشریت اکثریت به په دې ټولنه کې خوشاله وي او د تباهۍ لور ته به روان وي خو په ځان به خبر هم نه وي.

د مسلمانانو لخوا د مقاومت په نتیجه کې د جوج مأجوجو اروپايي نړۍ په ډاګه مسلمانانو سره په جګړه کې بوخته ده. مسلمانان باید دې لا پسې زیاتیدونکي تیري ته کوم ډول غبرګون ښکاره کړي؟

هر هغه څوک چې ځانونه د بیدینی غیږې ته د ورتلو څخه نه ساتې، بالاخره به الله هیر کړي. داسې مسلمانان بیا د همجنسپرستو د حقوقو د ورځې لمانځلو په ترڅ کې د واټونو څخه د تیریدو په وخت، لیدل کیږي چې ورسره په نڅا کې مشغول وي. دا مسلمانان بیا د همدغې خسا کڼې ګوڼې یوه برخه وګرځي او د عصري موسیقۍ او سندرو په وخت ورسره سمې د خوشالۍ نارې وهي. قرآن مجید مومنانو ته خبرداری ورکوي چې دداسې خلکو پشان مه کیږئ ځکه چې د الله تعالی د هیرولو (الله لور ته شا اړولو) قیمت دا دی چې له دوی څخه به خپل ځانونه هیر شي، یعنې دوی به خپل د انسانیت له شعوره محرومه شي. (قرآن کریم، سورة الحشر، ۵۹:۱۹). داسې ټولنه کې به بیا نور په رښتیا سره انسانان نه پیدا کیږي، یعنې د دا رنګ ټولنې ماشومان به د انسان په جامه کې ځاروي وي. په بل عبارت دوی به د ځناورو پشان خاصیتونه لري – د خنځیر، سپیو، بیزوګانو او نورو پشان. رسول اللهه ګواښنه کړېچې بالاخره داسې یو وخت به راشي چې خلک به د خرو پشان په ډاګه جماع کوي. هغه خلک چې سترګې لري په دې پوهیږي چې په ډاګه جماع ډیر ژر زمونږ لارو کوڅو کې رابرسیره کیدونکې ده. مسلمانان باید یوې داسې ټولنې او نړۍ ته کوم ډول غبرګون څرګند کړي کومه چې د جنسي کثافتدانۍ حیثیت لري؟

د سیاسي نړیوالتوب په نتیجه کې د ګردې نړۍ سیاسي نظام په شرک کې اخته شوی دی. دا شرک په ښکاره د عصري حکومتونو په جوړښت کې په ډاګه دی ځکه چې عصري حکومت خپل ځان ټولواک بولي، او خپل واک او قوانین تر ټولو اوچت ګڼي، حتی تر دې چې دا اختیار ځان ته ورکوي چې حلال وګرځوي هغه څه چې الله تعالی حرام کړي دي (او داسې چلند په جاري توګه ترسره کیږي هم، یو مثال یې سود دی). مسلمان باید په کومه طریقه ځانونه د عصري دولت د شرک څخه په امان کې وساتي؟

اقتصادي نړیوالتوب، په بلې خوا، یو داسې اقتصادي نظام زیږولی دی چې بنسټ یې په سود ایښودل شوی دی. او دا په خپل وار د نړۍ په عوامو یو نوی اقتصادي مریتوب پلی کوي. د سیاسي بیدینۍ او اقتصادي محرومیت په نتیجه کې بې قانوني، اخ و ډب، شر غوبل، وژنه او جنسي تیری وغیره ورځ تر بلې زیاتیږي. داسې بریښي چې ټولنه پخپله د نړیدو او دړې وړې کیدو په حالت کې ده.

کورنۍ د یوې ټولنې لپاره د تاداب د ډبرې حیثیت لري او حتی دا ډبره هم د ړنګیدو په حالت کې ده ځکه چې یو ناوړه ښځینه اوښتون رابرسیره شوی چې د ښځو څخه اکثره یې په خپل جال کې راګیرې کړي او د بیلارۍ لور ته یې راکاږي.

دجال، کوټه مسیح، د اوسني بیدینه نړیوال نظام اصلي طرح کونکی دی، او هغه د دې نظام په واسطه بشریت د یوې داسې ازمایښې څخه تیروي چې داسې ستره ازماینه او فتنه د انسان په تاریخ کې مخکې کله نده تیره شوې.

# د جوج مأجوج د راخوشې کیدو پړاوونه

اوس کله چې مونږ دې نتیجې ته رسیدلي یو چې د جوج مأجوجو خوشې کیدنه منځته راغلې ده، نو مونږ باید د دوی د خوشې کیدو ترتیب هم معلوم کړو. ګڼې اشارې وجود لري چې دا څرګندوي چې دوی نړۍ ته راخوشې کیدنه به تدریجي ډول ولري یعنې په پړاوونو کې به وي. دا د هغه حدیث څخه په ډاګه کیږي چې دوی په اړه وایيچې د ګلیلي سمندرګي په غاړه به تیریږي:

"د دوی مخکینۍ ډله به د بحیره تبریه (ګلیلي سمندرګي) په غاړه تیره شي، ترینه به اوبه وڅښي، او کله چې دوی وروستۍ ډله تیریږي، نو وایي به: 'دلته یو وخت اوبه وې..." '(صحیح مسلم)

دا د قرآن کریم هغه آیت (سورة الانبیاء، ۹۶-۹۵: ۲۱) څخه هم څرګندیږي چې د خوشې کېدو وروسته به جوج مأجوج په هر لور خپاره شي او یا دا چې د هرې لوړې څخه به راکوځ شي او یواځې له دې نه وروسته به هغه خلک 'ښارګوټي' ته راستانه شي تر څو دا ښارګوټی بیرته خپل کړي. پایله دا چې مونږ ته اوس زمینه برابره دهچې د دوی د راخوشې کېدو دقیقه مرحله معلومه کړو.

څرنګه چې د ګلیلي سمندرګي د اوبو کچه دومره ښکته شوېچې دا سمندرګی زیاتي مړ بلل کیږي (دا یو داسې حقیقت دی چې لوستونکي یې پخپله د ګوګل له لارې پلټنه کولای شي) نو معلومه شوه چې د جوج مأجوجو راخوشې کېدنه اوس وروستۍ مرحله کې داخلیدو ته نژدې ده.

د دې په اړه اضافي تایید زمونږ د ښارګوټي د پیژندنې څخه ترلاسه کیږي یعنې دا چې د سورة الانبیاء په ۹۵-۹۶ آیتونو کې چې کوم ښارګوټی ذکر شوی هغه بل کوم نه بلکه بیت المقدس (یروشلم) دی. د بني اسرائیلو بیرته ستنیدو او د ښارګوټي بیرته نیولو څخه څرګندیږي چې جوج مأجوج اوس په هر لور خپریدو کې بریالي شوي دي او د نړۍ واکې یې په خپلو لاسو کې اخستې دي.

جوج مأجوج چې اوس د راخوشې کېدو آخرې پړاو ته نژدې دي، نو له دې حقیقت څخه ډیرې ناوړه پایلې رابرسیره کیږي، او دا د لاندینیو ټکو سره تړاو لري:

- د نړۍ اوسنۍ حالت، او
- د عربانو برخلیک

کله چې رسول اللهﷺ هغه ربښتینی خوب ولید کوم چې د زینب بنت جحشؓ څخه روایت شوی دی او د جوج مأجوجو راخوشې کېدنه پکې ښودل شویده، نو د راویښیدو سره سم یې دا کلمې په خوله وې "لا اله الا الله! وَيلٌ لِلعَرَب مِن شَرٍّ قَد اِقتَرَبَ" یعنې"تباهي ده عربانو لره د هغه شر له کبله چې رانژدې شوی دی." زینبؓ د جوج مأجوجو د راخوشې کېدو په اړه د مالوماتو د اوریدو څخه وروسته وپوښتل، "آیا مونږ به تباه شو سره د دې چې مونږ کې به نیک عمله خلک شتون لري؟" رسول اللهﷺ په دغو کلمو ځواب ورکړ،"نَعَم اِذَا كَثُرَ الخَبَث"یعنې "هو! کله چې خبث په نړۍ غالبه شي." خَبَثْ د چټلۍ، مرداریۍ او کثافت مانا لري. خو خُبْثْ بیا شر او بدۍ ته وایي. نو نه یواځې به عرب تباه شي بلکه، د دوی تباهي به هغه وخت منځته راشي کله چې شري او بد خلک د نړۍ واکې په لاس کې واخلي او له دنیا څخه به د اخلاقي چټلۍ، فساد، فحاشۍ او سپکتوب یوه نړیواله کثافتداني جوړه شي.

دې حديث شريف د عربانو د تباهۍ لپاره يو زماني جدول انځور کړی دی يعنې ځومره چې خبث په نړۍ کې زياتيږي همدومره به د جوج مأجوجو په لاس د عربانو بربادې رانژدې کيږي. د دې کتاب د ليکلو په وخت دا بيخي روښانه ده چې په نړۍ باندې نن سبا تر ټولو بد خلک مسلط دي چې مثال يې په تاريخ کې نه ليدل کيږي، او دا چې نړۍ داسې مخ ښکته د يو داسې حالت په لور روانه ده چې د يوې کثافتدانۍ سره به مساوي وي او بله دا چې د عربانو بربادي هم پيل شويده.

نړۍ به ډير ژر په فلسطين او د عربي نړۍ نورو برخو کې د عربانو د تباهۍ او بربادۍ متناقضه ډرامه ننداره کړي، چې رسول اللهﷺ څه د پاسه ۱۴۰۰ کاله مخکې د دې په اړه پيشګوېي کړې وه، او له دې څخه روښانيږي چې هغه د الله تعالی رښتينی پيغمبر و، او دا چې په حق باندې د اسلام دعوه رښتينې ده.

مسلمانانو سره صرف يوه لار ده چېدوی پرې خپل ايمان ساتلی شي او دا لار د قرآن کريم په سورة الكهف کې ښودل شويده (دا هماغه سورة دی چې د دجال څخه امان لپاره تلاوت کيږي). ژغورنې لور ته تللې يواځينۍ لار همدا ده چې سړی د بيدينه نړۍ سره اړيکه قطع کړي. د جوج مأجوجو بيدينه او ظالم نړيوال نظام، او د دوی لخوا پنځول شوې نړيوالې ټولنې څخه د اړيکو پريکولو يا وتلو بهير تر ټولو غوره داسې ترسره کيږي چې مسلمانان په سورة الكهف کې د ذکر شوو ځلمو په لاره روان شي. دا ځلمې د همدا رنګ نړۍ څخه په تيښته مجبور شوي وو او په يو غار کې يې پناه اخستې وه.

قرآن کريم پخپله مسلمانانو ته هدايت کوي چې د خباثت د بورجل څخه ځانونه جلا کړي:

﴿...فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ﴾

"پس جلا مو کړه د دې فاسقانو (ګناهګار او سرغړونکو) د قوم څخه." (قرآن کريم، سورة المائده، ۵:۲۵)

همدارنګه رسول اللهﷺ اټکل کړې وهچې داسې د اړيکو د پريکولو وخت به راځي او لاندينۍ نصيحت يې کړی وو:

"د ابوسعيد الخدريؓ څخه روايت دی چې رسول اللهﷺ فرمايلي، داسې يو وخت به راشې چې د يو مسلمان تر ټولو ښه شتمني به ميږې (رمه) وي، چې هغه به يې د غرو سرونو ته او هغې ځايونه ته يوسي چيرته چې بارانونه اوري تر څو د فتنو څخه خپل دين وساتي." (صحيح بخاري)

که چيرې مسلمانان د سورة الكهف د ځلميو د کيسې څخه هدايت ترلاسه کول غواړي نو دوی به بالاخره پوه شي چېدوی د بيدينۍ او خباثت څخه د ځانونو او خپلو کورنيو ژغورلو کې هله بريالي کيدای شي کله

چې دوی داسې ليرې پرتو مسلمانو بانډو ته مصلحتي ګوښه شي چې د جوج مأجوجو د ټولنې سره يې کوم ډول اړيکه نه وي.

مسلمانان بايد هر ځای چې امکان يې وي په کوچنۍ کچه اسلامي ټولنو جوړولو ته پام وګرځوي. که چيرې يو سوچه اسلامي بانډه جوړيږي او که چيرې دا مسلمانانو ته دا زمينه برابروي چې د دوی ايمان په ځای وساتي په داسې حال کې چې بيديني او الحاد ورځ تر بلې ډيريږي، نو بايد دا لانديني شرايط په نظر کې وساتل شي:

- د اسلامي بانډې د هر ورځنۍ چارو او ژوند بنسټ بايد د قرآن او سنت په کلکو بنيادونو کيښودل شي. هر هغه شی چې بنسټ يې په قرآن او سنتو نه وي ولاړ، نشي کيدايچې د بقا لپاره اړين وګڼل شي. که يو اسلامي مذهبي رسم هرڅومره ګټور وي او هر څومره اوږد تاريخ ولري، خو که په پورتنيو بنيادونو نه وي قايم نو بايد مسجد ته او يا د بانډې عامه ژوند ته رانوړل شي او نه بايد له دې لپاره وکارول شي چې د مسلمانانو تر منځ شخړه او نفاق پيدا کړي. يواځې په دې طريقه اسلامي بانډه پايښنت موندلی شي او ټولې هغه اوسمهاله ناوړه هڅې شنډيږي چې غواړي د مسلمانانو هغه ټولنې له منځه يوسي چې په قرآن او سنتو او د اسلافو (د سلف جمع يعنې مخکيني مسلمانانو) د ژوندلارې سره برابر وي.د پورتنيو د پلي کولو يو مثال دا دی چې هر هغه څوک چې غواړي د سورة الکهف د تلاوت لپاره د ذکر حلقه جوړه کړي نو بايد په شخصي ډول او د بانډې يو ګوښه ځای کې دې وکړي او د عوامو په وړاندې دې نه کوي.

- اسلامي بانډه بايد د خوراک څښاک او انرژۍ له لحاظه په ځان پوره اوسي. سورة الکهف د لمر څخه د انرژۍ اخستلو لور ته اشاره هم کړې او په دې توګه اسلامي بانډه په انرژۍ کې خودکفا کيدای شي:

﴿وَتَرَى الشَّمْسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَاوَرُ عَن كَهْفِهِمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَإِذَا غَرَبَت تَّقْرِضُهُمْ ذَاتَ الشِّمَالِ وَهُمْ فِي فَجْوَةٍ مِّنْهُ ۚ ذَٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ...﴾

"تا به ليدلی وای لمر کله چې راخوت او د دوی د غار څخه يې ښي لور ته ميلان کاوه، او کله چې ډوبيده او کيڼ لور ته يېدوی پريښودل او دوی د غار منځ کې يو ميدان کې پراته وو، دا د الله تعالی د نښو څخه دي."

﴿وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُودٌ ۚ وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ الْيَمِينِ وَذَاتَ الشِّمَالِ...﴾

"تا به فکر کاوه چې دوی ویښ دي خو دوی ویده وو او اړول مو دوی لره په ښي او کیڼ طرف باندې..." (قرآن کریم، سورة الکهف، ۱۷-۱۸: ۱۸)

د څلمیو ښي او کیڼ لور ته اوښتل راوښتل د لمر په کومک ترسره کېدل. بوټي د لمر رڼا لور ته راښکون له لارې یو خوا او بله خوا مخ اړوي چې ورته فوتوتروپیزم (photothropism) وايي. بوټي خپله تاوېږي تر څو د لمر رڼا لور ته موخه وکړي. نو دا حتماً د لمر رڼا لور ته راښکون وچې د څلمیو بدنونه په دومره اوږده موده کې په یو اړخ او بل اړخ اوختل. بله دا چې بوټي د لمر پلوشو څخه انرژي تولیدوي او دې ته فوتوسین تیسس (photosynthesis) وايي. حتماً همدا شان کومه عملیه د څلمیو په بدن کې ترسره کېده تر څو د اوږدې مودې خوب په ترځ کې د دوی د بدنونو حیاتي غړي ژوندي وساتل شي. یو اسلامي بانډه باید په فوتوتروپیزم او فوتوسین تیسس، دواړو عملیو کې مهارت ترلاسه کړي تر څو بانډه د لمر څخه د انرژۍ اخستلو له لارې په انرژۍ کې خودکفیله پاتې شي.

- سورة الکهف خبرداری راکوي چې د خوراک څښاک توکو کې باید سوچه والی وي، نو باید د کیمیاوي سرو، ژنتیک لاسوهل شوي خواړو، په شیدو او غوښه کې هورمونونو او داسې نورو څخه باید ډډه وکړو. د اسلامي بانډې څخه اضافي طبعي خواړه کېدای شي دباندې بازار کې وپلورل شي او په دې توګه د بانډې اقتصاد په پښو اودرول شي. د بازارموندنې لپاره یوه ښه طرح دا کېدای شي چې خلک د خوراک څښاک توکو او د صحت، جنسي توان یا نارینتوب تر منځ اړیکو څخه خبر شي. د سوچه او صحي خواړو پیدا کولو په ترځ کې به اسلامي بانډه دا په ډاګه کړي چېدوی ډېر هغه کارونه ترسره کولای شي چې باقي خلک یې ترسره کولو کې د ستونځو سره مخامخ دي. همدارنګ به اسلامي بانډه دا وړتیا څرګنده کړي چېدوی د شراب نوشۍ او د مخدره توکو د روږدتیا او په جنسي اخلاقو کې د زوال مخه نیولی شي او برسېره پر دې کورنۍ ثابته ساتلی شي او دا په یو داسې وخت کې چېد نړۍ نورو ټولنو کې کورنۍ د ړنګیدو په حالت کې دي.

- اسلامي بانډې لپاره دا هم اړینه ده چې یو بازارګۍ دې ولري او تر آخر حده پورې کوشش دې وشي چې بازارګۍ دې خودکفا او مستقل وساتل شي. دا بازارګۍ باید رښتینې پیسې (د سرو او سپینو زرو) پیسې استعمال کړي د دې په ځای چې د ستر بازار ساختګي کاغذي پیسې په کار راوړي. کله چې د کاغذي پیسو په بنسټ جوړ نړیوال پولي نظام د ړنګیدو په حالت کې وي نو په دې توګه به دا کوچنی بازار بیا هم په پښو ولاړ وي او پایښت به ولري. زه اټکل کوم چې د کاغذي پیسو په بنسټ جوړ نړیوال پولي نظام به هغه وخت ړنګ شي کله

چېاسرائیل خپله ستره جګړه پیل کړي تر څو د نیل سیند نه نیولې تر د فرات سیند پورې ټولې سیمې باندې خیټه واچوي. دا جګړه نن سبا کې پیلیدونکې ده. د اسلامي بانډې د بازارګي يو ځانګړتیا به دا وي چې د بانډې اقتصاد کې به شتمني تل په جریان کې وي. په دې توګه به د بانډې غریب تل د اړیانۍ په حالت کې نه وي او شتمن به تل شتمن نه وي. څرنګه چې د ربا (سود) هر ډول به په کلکه منع وي، نو تش په نامه اسلامي بانکونو ته به هیڅ اجازه نه وي چې په اسلامي بانډه کې سوداګري وکړي.

- یوهاسلامي بانډه باید هوډیالۍ هڅه وکړي چې د الاحسان لاره خپله کړي تر څو دننۍ روحاني بصیرت ومومي. پس د بانډې ژوند باید د ډېرې سادګۍ، تقوی او کلکوالي ژوند وي. شریعت باید په ټینګه اجراء شي. د تعلیم او تربیې په هر پړاو کې باید قرآن کریم په تعلیمي سستم کې د مرکزي زده کړې حیثیت ولري. د اسلامي بانډې ښوونځي به د نورو ټولنو د ښوونځیو په پرتله یو خاص امتیاز ترلاسه کړي. هغه دا چې د مسلمان ښوونځي زده کونکي به د یوې داسې مسلماني ټولنې تر څارنې او مرستې لاندې وي چې په ربښتیا سره به اسلامي ژوند ولري. یواځې دا ماشومان داسې تربیه او روزل کیدای شي چې سبا ربښتیني مسلمانان وګرځي.

- ټول هغه مسلمانان چې په یوه اسلامي بانډه کې ژوند کوي باید د یو *جماعت* او د یو *امیر* د مشرۍ لاندې راټول شي. امیر باید داسې څوک وي چې په دین پوهیږي او دین عملي کوي. هغه باید د شاوخوا نړۍ څخه هم باخبره وي. دا پروا نکوي که چیرې هغه عرب، افریقایي، ترک، هندوستانی، مالیزیایي او یا بل څوک وي، خو هغه باید دین د جماعت په غړو اجراء کړي او دوی باید د اَلسَّمعُ وَ الطَّعتُ (اوریدلو او منلو) غبرګون وښایي. په دې توګه به د اسلامي بانډې خپلمنځي استحکام، نظم او سمون په ځای پاتې شي.

- یوه اسلامي بانډهد حکومت نیولو پړاو کې د بنسټ په حیث باید استعمال نشي، په حکومت کودتا د اسلامي بانډې دنده نه ده. اسلام په دولت (جمهوري) باندې مسلط کیدای نشي او اسلامي خلافت بیرته نشي راژوندی کیدای تر هغې چې د جوج مأجوجو نړیوال نظام باقي وي. خو، د لرغوني خراسان سیمې څخه نیولې تر بیت المقدس پورې د ښکیلاک او ظلم په ضد وسلوال مقاومت باید هیڅ کله په ټپه ونديږي ځکه چې په دې کې د بالاخره بریالیتوب ژمنه شویده، چېمخکې په دې کتاب کې یېتذکره شویده.

- د اسلامي بانډې يواځينی هدف د مومنانو د ايمان ساتنه ده. نو بانډه کې د وسلو شتون بايد همدومره وي چې څومره د غلو، داړه مارانو او جنسي تيری کونکو په خلاف د دفاع لپاره ضروري وي. د حکومت په خلاف د جګړې ورتيا يوې بانډې لپاره ناشونې ده. برسيره پر دې هندوان، عيسويان او نورو ته به اجازه وي چې په بانډه کې ميشته شي خو په دې شرط چې‌دوی به اسلام سره دښمني نلري او دوی د بانډې چلند او قوانين په ځان ومني. په دې توګه به غيرمسلم خلک د شکونو او ګونګوسيو مخه ونيسي چې د بانډې سوليز او نه ګواښونکې خاصيت په اړه به راپورته کيږي. خو سره د دېچې بانډه به په وسلو پټه نه وي، خو بيا هم د ټولو اوسيدونکو خونديتوب او د اجتماعي امنيت لپاره بايد کومه لار پيدا کړي. دا بانډه بايد د زندان پشان نه وي چې په هره دروازه او کړکۍ کې د اوسپنې سيخان لګيدلي وي او يا په هر کور قيمتي د خطر زنګونه لګيدلي وي او يا ترينه ازغي لرونکي سيمان چاپيره وي. د بانډې امنيت بايد داسې وي چې يوه ښځه هم وکړای شي چې د شپې په وخت په خونديتوب يو ځای نه بل ځای ته لاړه شي. د اسلامي بانډې دا رنګ خونديتوب او امنيت به باقي ځوريدلې نړۍ ته يوه ستره سياسي ځرګندونه ورانديې کړي.

ټول هغه هدايات چې د قرآن کريم او سنتو څخه رابرسيره کيږي او کوم چې د کوچنيو اسلامي ټولنو د جوړولو لپاره بايد په کار راولو، بايد لومړی ترلاسه کړو او بيا يو منظم ترتيب ورته ورکړو. کټ مټ همدا رنګه دنده مولانا محمد فضل الرحمن انصاري په خپل کتاب کې سر ته رسولې ده چې کتاب يې دSocietyThe Qur'ānic Foundations and Structure of Muslim په نوم دی. په همدې توګه هغه د اسلامي روحانيت مفکوره هم په ډير زيار، احتياط او تفصيل سره څيړلې ده او دا رنګ يې هغه ګوته نيونکو ته ځواب ورکړای چې د کتاب د ليکلو په وخت لا برسيره شوي هم نه وو. خو روحانيت تر هغې نه ترلاسه کيږي تر څو چې د مخکې نه وجود کې د اخلاقي سوچه والي لپاره هڅه نه وي روانه. د مولانا انصاري د کتاب يوه بله مهمه لاسته راوړنه دا ده چې د اسلامي اخلاقي ارزښتونه ترتيب او تفصيل او ورسره شننې ته يې پکې ځای ورکړل شوی دی. همدا رنګ د تزکيې (يعنې اخلاقي سوچه والي) ترلاسه کولو لپاره پکې ښکلي هدايات او لارښوونې ځای په ځای شوي دي، او د دې په څنګ کې د ذکر لارې چارې هم پکې روښانه شوي دي.

دا نوموړی کتاب د اوسنۍ زمانې په طوفاني چپو کې د مسلمانانو لپاره د يو لارښود کتاب حيثيت لري. له دې حخه د مسلمانانو لپاره د يو لارښوونکې لايحې کار اخستل کيدای شي په تيره داسې وخت کې چې دوی په ليرې ځايونو کې د اسلامي بانډو جوړولو په تکل کې دي چې د جوج مأجوج نړيوال نظام سره هيڅ کوم ډول اړيکه ونلري او په دې توګه مسلمانان وکولای شي د نن زمانې بيدينه او خسا ټولنې څخه ځانونه اوباسي.

# اتم فصل

## پایلیزه

د دې کتاب د ليکلو شا ته مقصدونو څخه يو مقصد دا ديچې جوج مأجوجو په هکله غلطې مفکورې او افسانې له منځه يوسوچې د وخت تيريدو سره لکه د غنمې د ځالې پشان د خلکو په فکرونو کېنځېدلې دي. دې غلطو مفکورو دا بيخې د ناشونې تر حده ستونزمنه کړېچې سړی په دې موضوع پوره پوه شي.

| |
|---|
| د دې کتاب ليکلو يو بل هدف دا و چې د اسلام د مقدس دين هغه سيالانو سره سوال ځواب وکړو څوک چې وايي چې دوی د حق دين څښتنان دي. دا کتاب د اسلام دننه د بيلابيلو ډلو څخه د يو ځواب غوښتونکی هم دی په تيره هغه ډلې څخه کومې چې په ډېره ليوالتيا د هغو خلکو سره جګړې ته چمتو دي کوم چې د رښتينې اسلامي او روحاني (الاحسان) د لارې پيرويان دي. |

يهودي پوهنغونډال (JewishEncyclopedia) هم دا اړينه وګڼله چې په عربي ادبياتو کې د جوج مأجوج تذکره کېکړي شمير نورې د غنمې ځالې وراضافه کړي. څرنګه چې دا کتاب نور مخ په بشپړيدو دی، نو راځئ‌چې دا د خندا وړ د غنمې ځالې (مفکورې) سره شريکې کړو.

"دوی کوچني بدنونه لري، چې د انسان د بدن نيمايي اندازې ته رسيږي (په ياکوت ۱۱۳، Yakut i.113 کې بيا له دې څخه دنګ ذکر شوي دي). ډير تندخويه دي، دوی د نوکانو په ځای پنجې لري، د زمريانو پشان غاښونه او اوښانو ته ورته ژامې لري او دومره ويښتان لري چې ټول بدن يې پټوي. ددوي غوږونه چې يو طرف په ويښتو پټ دي، دومره ستر دي چېدوی د خوب په وخت په يو غوږ څملي او بل غوږ په ځان لکه د بړستن را اچوي. د دوی اصلي خوراک کبان دي چې په اعجازي توګه ورته ورکول کيږي. د دوی چلند لکه د ځناورو دی، او مسعودي خو يې د ځناورو له ذاته شميري. دوی به په ځمکه ورانی کاوه او هر شين بوټی به يې خوړ؛ او د همدې ورانکاری درولو لپاره دوی سره نژدې ميشته خلکو سکندر اعظم څخه غوښتنه وکړهچې يو ديوال جوړ کړي او دوی بند کړي. دا هم ويل کيږي چېدوی سړيخواره دي." (يهودي پوهنغونډال، جوج مأجوج په اړه د ايمل ج هرش او ماري مونتګومري مقاله) (Jewish Encyclopedia, Article on Gog and Magog by Emil G. Hirsh and Mary Montgomery)

دې کتاب کې داسې دلايل وړاندې شوي چې دا په اثبات رسوي چې جوج مأجوج د انسانانو څخه دي. دوی نړۍ ته ډير پخوا راپريښودل شوي دي، او د اروپايي صليبي جنګونو پيلولو سره يې خپله زر کلنه هڅه شروع کړې وه تر څو د بيت المقدس قريه (ښارګوټی) آزاد کړي او بني اسرائيل د ښارګوټي خپلولو په نيت بيرته هلته ستانه کړي. د دې هڅې تعقيبولو په ترڅ کې دوی خپله هغه دنده ترسره کړه کومه چې د قرآن کريم په سورة الانبياء کې ذکر شويده.

مونږ دا په ګوته کړې چې دغه عاملين يعنې جوج د غربي اروپا مرموزه يهودي-عيسوي ټلواله کې شتون لري، کومې چې په خپل وار د غربي سيکولر تمدن او د فرنګي-امريکي-اسرائيلي درې مخيزه اتحاد بنسټ

کیښنود. مونږ دا هم په ګوته کړې چې معمولین یعنې مأجوج د اوسنی زمانې روسیه کې شتون لري. قرآن کریم ډیر په کلکه مسلمانان د یهودي-عیسوي ټلوالې سره د هغه ډول اړیکو ټینګولو څخه منع کړي ګوم ډول اړیکې چې د سعودي عرب پاچاهۍ او د پاکستان لوړپوړو د امریکې او برتانیې سره ټینګې کړیدي. قرآن کریم د هغو خلکو په اړه چې د سعودي عرب رژیم او ورسره د نورې اسلامي نړۍ دولتونو په څیر چلند لري او د هغه عالمانو په اړه چې د دغو دولتونو ملاتړ کوي، په اړه وایيچېدوی د همدغې ټلوالې له ډلې څخه دي او نه د مسلمانانو د ټولنې څخه (قرآن کریم، سورة المائده، ۵:۵۱). خو، که چیرې روسیه د غربي یهودي-عیسوي ټلوالې یوه عضو نه وې ګرځیدلې، نو بیا مسلمانانو لپاره په دې کې ګوم بندیز نشته چېدوی سره د ترون اړیکه وساتي. دا ترون ممکن دی رابرسیره شي ځکه چې رسول اللهﷺپیشګویې کړې چې"تاسی به د روم سره اتحاد جوړوی".

رسول اللهﷺچې د قیامت د ورځې کومې نښې ذکر کړي دي د هغو څخه خورا ډیري د یهودي-عیسوي ټلوالې لخوا جوړ شوي غربي تمدن سره تړاو لري، د مثال په توګه: "ښځې به د سړو پشان جامې اغوندي" (او په دې توګه یو ښځینه اوښتون برسیره کیدنه چې ښځې یې تیرویستې چې په ټولنه کې د سړو ګردار خپل کړي)، "ښځې به جامې اغوندي خو بیا به هم بربنډې وي" (له دې څخه به یو جنسي اوښتون منځته راشي چې د ناروا جنسي اړیکو ډیروالی به پکې وي)، "خلک به د خرو پشان په ډاګه جماع کوي" (له دې کبله نن سبا د باپرده جماع په ځای خلک په ډاګه جماع خوښوي)،"سړي به د ښځو په څیر لباس کوي" (او د دې لپاره ږیره خریل ضروري ده)، "دجال به په یو خر ناست وي چې د وریځو پشان تیز سفر به کوي او غوږونه به یې پراخه غځیدلي وي" (یعنې د اوس زمانې الوتکه)؛ او داسې نورې نښې.

غربي تمدن د الهي امر له مخې د تاریخ په پړاو کې رابرسیره شو چې لومړی ټول بشریت خپلې غیږې ته راجذب کړي او بیا ټول بشریت سره ګډوډ او په یوه واحده بیدینه نړیواله ټولنه کېیې یوځای کړي. له هر زرو څخه ۹۹۹ وګړي به د دې نړیوالې ټولنې غړي وګرځي. د جوج مأجوجو لخوا پنځول شوې ګرده نړیواله ټولنه، چې هر څوک یې غیږې ته ورځغلي او کومې چې یوه بیدینه او خسا ژوندلاره خپله کړي، به بالاخره د جهنم په اور کې وغورځول شي.

اوسمهاله بیدینه غربي تمدن به (بې له ریښتیني مسلمانانو) د ټول بشریت د غولولو دنده په دې طریقه ترسره کړي چې دا به دعوه وکړي چې د انسان په تاریخ کې یو نوی بیدینه سحر راختلی چې لمر یې د ختیځ په ځای په لویدیځ کې ولاړ دی. مذهبي حق چې د ابراهیم، موسی، عیسی÷ او محمدﷺ لخوا نړۍ کې راپورته شوی وو، هغه به متروک او مرګونی وګڼل شي او د موزیم د کیښنودو به شي. خو، دا غربي لمرختل به باطله لمرختل وي چې د ریښتیني مسلمانانو لخوا به وپیژندل شي او په زغرده به رد شي.

یهودي-عیسوي ټلوالې د جوج مأجوجو د نړیوال نظام بنسټ هم کیښود چې د فلسطین د ازادولو سره یې یوه عجیبه لیوالتیا درلوده او همدې هدف لپاره یې صلیبي جګړې پیل کړې وې. دا نړیوال نظام بالاخره بریالی شو چې بنیاسرائیل یو ځل بیا فلسطین کې میشت کړي او وروسته د ۲۰۰۰ کلنې جلاوطنۍ څخه دا سیمه بیرته دوی ته وسپاري. دا نظام په ارض المقدس کې د اسرائیل مقدس دولت جوړولو کې هم بریالی شو او اوس د دې دولت د نړۍ زبرځواک ګرځولو لپاره چټکې هلې ځلې روانې دي. دا ټول عملونه یواځې د دې لپاره ترسره شو چې د الله تعالی لخوا تخلیق شوي یو ناوړه او شري مخلوق لپاره میدان ته د راکوځیدو زمینه برابره شي تر څو دا مخلوق یعنې دجال د بیت المقدس څخه په نړۍ واکمني وکړي او بیا اعلان وکړي چې زه مسیح یم.

خو قرآن کریم خبر راکوي چې الله تعالی به یوه ورځ د جوج مأجوجو تر منځ یوه ستره ښته منځته راولي. له دې څخه وروسته چې مونږ مأجوج د روسیې په حیث وپیژند، نو مونږ د راتلونکې سترې جګړې اټکل هم کولای شو په کومه کې چې جوج (فرنګي-امریکي-اسرائیلي غربي ټلواله) او مأجوج د یو بل سره لکه د موجونو پشان ټکر خوري (سورة الکهف، ۱۸:۹۹). د جګړې په نتیجه کې به نه یواځې دوی ځانونه تباه کړي بلکه، د شمالي امریکا او اروپا زیاترې برخې به هم ویجاړې شي او ظالم او کبرجناروپایي-یهودي دولت، اسرائیل، به بې دفاع پاتې شي. دې سترې ښتې ته دومره موده نه ده پاتې، ګومان دا دیچې د نن ورځې د ښوونځي زده کونکو په ژوند به دا پیښه منځته راشي.

په تیر فصل کې مونږ د جوج مأجوجو د راخوشې کیدو اغیزې څیړلي دي. تر ټولو بوږنونکې اغیزه یې دا ده چېد هر زرو کسانو څخه به ۹۹۹ د دوزخ په لور روان شي. په دې کې طبعاً یو ستر تعداد مسلمانان هم شامل دي. سربیره پر دې د رسول اللهﷺ هغه ډارونکې پیشګویې هم ذکر شوه چې پکې د عربانو تباهې بیان شوې او هغه وخت به ترسره کیږي کله چېخبث (لکه په ډاګه جماع او لوڅ پوڅ اوسیدل) په نړۍ غلبه ومومي. رسول اللهﷺ د خرو پشان د جماع پیشګویي کولو په وخت هم خبث ته ښکاره اشاره کړیوه.

د دې کتاب لوستونکو (په تیره مسلمانانو) ته دا خبرداری دی چې که چیرې دوی په یوې داسې ټولنه کې د ژوند شپې ورځې سبا کوي چې په دغه ډول خبث کې ډوبه وي (د مثال په توګه امریکه، برتانیه او نور اروپایي هیوادونه، وغیره) او یا د خبث خپلولو په تکل کې وي، نو دوی باید ځانونه له داسې خلکو څخه جلا کړي، کنې دوی به هم د هغه ۹۹۹ څخه وشمیرل شي او په هغه سزا کې به شریک وي ورسره کومه چې ورته سترګې په لار ده. څرنګه چې نبي محمدﷺ مخکې نه ویلي چې ښځې به تر ټولو وروسته دجال پسې روانې وي نو له دې څخه دا ښوونه راوځي چې ښځې به د دې خبث د لارې رهبرانې وي. له هم دې کبله او دې پس منظر ته اړوند مونږ په لیرې پرتو سیمو کې د اسلامي بانډو د جوړولو وړاندیز مخې ته ایښی دی.

د دې کتاب ليکلو يو بل هدف دا وچې د اسلام د مقدس دين هغه سيالانو سره سوال ځواب وکړو ځوک چېواپيچېدوی د حق دين ښتنان دي. دا کتاب د اسلام دننه د بيلابيلو ډلو څخه د يو ځواب غوښتونکی هم دی په تيره هغه ډلې کومې چې ډېر په ليوالتيا د هغو خلکو سره جګړې ته چمتو دي کوم چې د ربښتينې اسلامي او روحاني (الاحسان) لارې پيروېان دي.

روحانيت ته د رسيدلو هڅه له دې لپاره کيږي چې سړی نور (رڼا) تر لاسه کړي. صرف د هغه نور په کومک چې الله تعالی يې ورکوي، سړی کولای شي چې د اوس وخت عجيبې نړۍ په حقيقت پوه شي (که نه نو سړی پرې نه پوهيږي او نه څه ليدلی شي)، او يوازې داسې د رڼا خاوندان د اوسنۍ نړۍ واقعيت تشريح کولو توان لري او يوازې همدا خلک وړتيا لري چې په حق خپله دعوه په ثبوت ورسوي. دا کتاب چې د اسلام نظر وړاندې کوي، دا دعوه کوي چې د اوسنۍ نړۍ حقيقت يې په سمه توګه روښانه کړی دی، او د يوې داسې نړۍ حقيقت چې نن سبا پکې هغه پيښې په چټکۍ سره رابرسيره کيږي چې په بيت المقدس کې واقع کيدونکې پايلوبې سره مستقيم تړاو لري.په دې زمانه کې د رابرسيره کيدونکو پيښوسمې تشريح له ليارې، دا کتاب په نسبت د نورو مذاهبو په حق باندې د اسلام دعوه هم په اثبات رسوي.

دا ليکونکی د علم سره مينه لري، او د الله تعالی هغه بندګانو ته د درنښت او احترام په سترګه ګوري چا ته چې الله تعالی علم وربخښلی وي. د الله تعالی څخه هيله ده چې دا کتاب هم د علم د ډېروالي په بهير کې بسپنه وګرځي. آمين.

هغه مسلمانانو چې دا کتاب يې لوستلی وي او په دې کې وړاندې شوي شواهدو او دلايلو او ورسره د قرآن کريم او احاديثو تعبير او تفسير يې په زړونو کې ځای موندلی وي، نو دوی بايد کلک عظم ولري چې د نبي محمدﷺ ربښتيني پيروېان له ځانو څخه جوړ کړي د دې په ځای چې د جوج مأجوجو نړيوالې ټولنې پيروېان شي. دې نړيوالې ټولنې لا وختې د بشريت اکثريت څخه خپله زيانکاره غيرړه راچاپيره کړېده؛ چېسرېيره په هر څه په الله باندې د ايمان زيان دی پکې او بيا د نيک او صالحو عملونو.

ورپسې دا چې د اسلامي فرقو او غورځنګونو لکه د شيعه، احمديه، وهابي فرقه، تبليغي جماعت، د اسلامي عصريت غورځنګ او اشرافپرسته فرقه پاله صوفيزم، هغه غړي چې د دې کتاب په دلايلو يې قناعت ترلاسه کړی وي، بايد اوس په تنقيدي توګه د خپل فرقه پال اسلامي ګوند اعتبار او سموالي ته يو ځل بيا کتنه وکړي.

او وروستۍ دا چې د دکتور تمام ادي لخوا ليکل شوې غوره پيليزه کې وړاندې شوي نظريات تر ډېره حده په دې کتاب کې وړاندې شوي د ليکونکي د نظرياتو سره موافقت لري، خو د دواړو تر منځ په ځينې

مسئلو اختلاف هم وجود درلود. هيله دا ده چې دا اختلاف او ورسره دا ټول کتاب به يو تحريک وزيږوي چې دې موضوع باندې نور تحقيق او څيړنې ترسره کړي او د علم د پراختيا سبب وګرځي، انشاءالله.

# پای